# ښــځــګـلــي

لومړی ټوک

لیکوال

آصف بهاند

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: بښځګلې، لومړی ټوک

لیکوال: آصف بهاند،

د خپریدو نېټه: د ۲۰۲۰ کال نومبر

د خپریدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورټال

# اهدأ:

***د ژوند ملګرې ته مې، ناجیه جانې ته!***
***چې ټول عمر یې په ورین تندي او پراخې***
***حوصلې سره، په هره ستونزه کې اوږه راکړې***
***او هر ډول ساړه تاوده یې راسره زغملي دي.***
***(آصف بهاند)***

**موږ سره ښايي چې خپل نیمايي بدن (ښځې)؛ په خپله غوڅ نه کړو،**
**موږ باید د ښځو درناوی وکړو، د زدکړو او ښه ژوند زمینه**
**ورته برابره کړو، طبعي حقونه یې تر پښنو لاندې نه کړو،**
**دويمه درجه انسان یې ونه ګڼو او...**
**او په تشو خبرو سره د مارچ د**
**اتمې ورځې د لمانځلو پر ځای،**
**عملاً داسې څه وکړو چې**
**ښځه د ټولنې له خوا،**
**له بل کړای شوي**
**اور نه را وباسو.**

(آصف بهاند)

د مطالبو فهرست:


١ ـ مقدمه ٧ ام مخ

په بېلابېلو کلونو کې د ښځو د نړیوالې ورځې په پار زما لیکنې:

٢ ـ د ٢٠١٣ ام کال د مارچ اتمه:

ـ د مارچ اتمه، زموږ ګلپاڼې او د دوزخ اور ٩ ام مخ

٣ ـ د ٢٠١۴ ام کال مارچ اتمه:

ـ مبارک د مارچ اتمه ٢٠ ام مخ

۴ ـ د ٢٠١۵ ام کال مارچ اتمه:

ـ چیغې وهو د مارچ اتمه ده نن، څوک به یې واوري؟ ٢٣ ام مخ

۵ ـ د ٢٠١۶ ام کال مارچ اتمه:

ـ د مارچ اتمه او نیم میلیون کونډې ٢۶ ام مخ

۶ ـ د ٢٠١٨ ام کال مارچ اتمه:

ـ د مارچ اتمه او د ښځو ملامتیا، ٢٩ ام مخ

ـ فیمینیزم، زموږ ټولنه او د مارچ اتمه، ٣٢ ام مخ

ـ «ښځه یا په کور یا په ګور»، د ښځو له پاره تر ټولو خطرناک شعار، ٣۵ ام مخ

٧ ـ د ٢٠١٩ ام کال مارچ اتمه:

ـ سرښې د مارچ اتمه، ٣٨ ام مخ

ـ ښه ښځه؟ ۴٢ ام مخ

٨ ـ د ٢٠٢٠ ام کال مارچ اتمه:

ـ د بریالیو ښځو یوه غوره بېلګه: ظریفه غفار، ۴۴ ام مخ

ـ له ښځو سره د جنسي تېري تاوتریخوالی، ۴٧ ام مخ

ـ زه یوه ښځه یم، خو زما دریځ... د ښځې د زړه غږ، ۵٠ ام مخ

ـ په کلینک کې ښځینه ډاکتره شته؟ ۵۴ ام مخ

ـ د ښځو په برخه کې يو څو پوښتنې او څرګندونې، ۵۶ ام مخ
ـ د ښځو په باب زموږ جالب نظريات، ۵۸ ام مخ
۹ ـ فرخنده:
ـ بې دفاع فرخندې ته، ۶۲ ام مخ
ـ د فرخندې د وينو سره خالونه، د انسانيت پر لمن تور داغونه، ۶۳ ام مخ
ـ اول وهي بيا سوځوي مې، خلاصولای مې شئ؟ (د فرخندې لومړی تلين)، ۶۷ ام مخ
ـ د «تير په هير» په سيوري کې، هيره شوې فرخنده، ۶۹ ام مخ
ـ د اشرف المخلوقاتو استعفی (د فرخندې څلورم تلين)، ۷۱ ام مخ
ـ د فرخندې پنځم تلين او زموږ د ټولنې عدالت، ۷۴ ام مخ
۱۰ ـ ښځه، نارينه، د کورنۍ دوې متې او د ټولنې دوه وزرونه:
ـ د يوې ميرمنې له انتريو څخه څو ټکې ۷۵ ام مخ
۱۱ ـ دوه ماشومان، دوه مرګونه او دوه چلندونه ۷۹ ام مخ
۱۲ ـ يو ځل بيا د «ستايش» غميزه ۸۳ ام مخ
۱۳ ـ «زما مور هغه ده، چې تر ټوله ښه ده!» ۸۵ ام مخ
۱۴ ـ شپېته کلن، شپږ کلنه او انصاف ۸۷ ام مخ
۱۵ ـ شربت ګله:
ـ نورو ته شربت ګله، ځانته زهر ګله، ۹۰ ام مخ
ـ اروپايي همځولي ۹۴ ام مخ
۱۶ ـ لونې د زدکړو په لور، که نه... ۹۵ ام مخ
۱۷ ـ د «ستايش» په غميزه پسې د «بهارې»غميزه ۱۰۱ ام مخ
۱۸ ـ قيمتي جامې او وړې نسونه، ماشوم پلورنه، د يوې غميزې دوام ۱۰۳ ام مخ
۱۹ ـ «لعنت بر زنان استعمال کنندهٔ چيلک»؟؟؟ ۱۰۶ ام مخ
۲۰ ـ نجيبه ليمه:
ـ کوچنيان او د لـلو، لـلو «Lallo Lallo» کيسې، ۱۰۸ ام مخ
ـ لـلو، لـلو «Lallo Lallo» (د ماشومانو له پاره ځانګړې کيسې)، ۱۱۱ ام مخ
ـ زموږ په هېواد کې د للو ـ للو په شان کيسو تاريخي پس منظر ته يوه کتنه، ۱۱۵ ام مخ
ـ د ليمې له قلمه د دې کيسو د ليکلو پس منظر، ۱۱۹ ام مخ

ـ او اوس هم د للو للو دویمه برخه، ۱۲۰ ام مخ
ـ د «للو، للو» کیسو یو کلن سفر، لومړۍ کلیزه ۱۲۲ ام مخ
۲۱ ـ ثنا صافۍ:
ـ د تعلیم ډیوه، ۱۲۷ ام مخ
۲۲ ـ مریم امرخیله:
ـ د مریم امرخیلې غږ، ۱۳۸ ام مخ
ـ مریم و کلید های جادویی اش، ۱۴۱ ام مخ
ـ له «غمي» راديو سره د مريم امرخيلې يوه ځانګړې مركه، ۱۴۶ ام مخ
ـ په فيسبوک کې د مريم امرخيل نظريات، ۱۴۸ ام مخ
ـ د مريم امرخيل مقالي او نوري ليکني، ۱۵۱ ام مخ
ـ له قلم سره د مريم امرخيلي مرکه، ۱۵۴ ام مخ
۲۳ ـ د مهسا وژنه:
ـ او پر «مهسا» هم و نه رحمېدل، ۱۶۰ ام مخ
ـ د «مهسا» تبنتونه او وژنه، ۱۶۲ ام مخ
۲۴ ـ ريزه ګل:
ـ د ريزه ګل په حق کې څه وشول؟ ۱۶۸ ام مخ
۲۵ ـ د ستونزو او تيارو په منځ کې يوه رڼا، د يوه پلار هيله ۱۷۱ ام مخ
۲۶ ـ يوه بله نيکنامي؟ «افغانستان د نجونو تعليم لپاره څلورم ناوړه هېواد» ۱۷۵ ام مخ
۲۷ ـ کم سنه انتحاري، د ستونزې جرړې او حللارې ۱۷۹ ام مخ
۲۸ ـ د افغانستان ښووونيز نظام:
ـ جامعة الصالحات، اشرف المدارس يا د نوي نسل...؟ ۱۸۳ ام مخ
۲۹ ـ برازيلۍ او کابلۍ ۱۹۲ ام مخ
۳۰ ـ نظيره رسولي
ـ يوه برﻳا، يوه مبارکي او څو کامنتونه ۱۹۴ ام مخ
۳۱ ـ د ليکوال بيوګرافي ۱۹۷ ام مخ

## مقدمه:

نور څوک يې چې هر ډول انګيري، خو ما ته ميرمنې (ښځې) ګلپاڼې دي او د ظلمونو او تيريو په هغه چاپيريال کې چې زما د وطن، افغانستان ډيره سلنه ميرمنې جبراً راګير کړای شوې دي، د دوزخ اور يې ګنم، او زه نه غواړم چې هيڅ ښځه، په تيره افغان ميرمن د دغه اور په دايره کې راګير وي.

زموږ په ټولنه کې ډېر ځلي د مېرمنو ژوند له يوې کلمې نه د ناسم برداشت او داسې احساساتو د بريادی کندې ته غورځولی دی چې ډېره سلنه کارونکي يې په مانا هم نه پوهېږي، هغه د «غيرت» توری دی.

غيرت کېدای شي داسې تعريف شي:

له خپل ځان، کورنی، ناموس، کوڅې، کلي، ښار، شتمنی او وطن نه د دفاع کولو د احساساتو ټولګې ته غيرت ويل کېږي.

خو زموږ په ټولنه، په تېره په پښتنو کې په عملي ډول ليدل کېږي چې ډېره سلنه خلک غيرت دې ته وايي چې د ښځو هر اړخيزه ازادي له منځه وړي، له کور نه يې د باندې نه پرېښودلو ته، له زدکړو نه يې د محرومولو عمل ته غيرت وايي او په همدې لړ کې نجونو او ښځو ته ويل کېږي چې نارينه د هر څه حق ځکه لري چې د نجونو او ښځو ساتنه کوي، خو دا يې هېر دي چې د همدې نارينه لومړنی عملي ساتنه يوه ښځه (مور) کوي.

دا د يوې بهرنی مېرمنې د خولې خبره ده:

«د غيرت مسأله چې شي، نارينه (ورور، پلار، ميره، ليور...) ښځې ته وايي چې زه دې ساتنه کوم، خو دې ته يې پام نه وي چې هغې ښځې (مور) د همدې نارينه څومره او څنګه ساتنه کړې:

په نس کې،

په غيږ کې،

لاس نیولی.»

زموږ په ټولنه کې د ښځو د حقونو تر پښو لاندې کولو او له دوی سره د ترسره شوو ناخوالو داستان ډېر اوږد دی او ډېر څه باید پرې ولیکل شي. زما د مقالو په دې ټولګه کې زما ټولې هغه مقالې را ټولې شوې دې چې ما د نجونو او ښځو په باب لیکلې دي.

د ښځو په باب چې تر اوسه پورې ما څه لیکلي دي، دوې برخې لري:

ـ لومړی هغه برخه ده چې پر ښځو باندې د روان زورزیاتي انځور په کې شوی دی او د هغوی د حقونو د تر لاسه کولو په غرض لیکل شوې دي،

ـ په دویمه برخه کې ما پر هغو مېرمنو باندې بحث کړی دی، چې د افغانستان غوندې دودیزې ټولنې کې یې د ښځو د حقونو د تر لاسه کولو له پاره مبارزه کړې او د تعلیم عاملو په برخه کې یې دومره د قدر وړ خدمتونه کړي دي، چې اوس یې نومونه او کارنامې، د نوي نسل د روزلو په برخه کې د بېلګو په ډول په ویاړ سره یادېږي.

د ښځو او نجونو په باب د مقالو دې ټولګې ته ما د «ښځګلې» نوم خوښ کړ. دا ترکیب د لومړي ځل له پاره ما د استاد سعدالدین شپون په «و، نه و، یو شپون و» کتاب کې ولید،

(شپون سعدالدین، ونه و، یوشپون و، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ـ ۲۰۰۵ کال، ۱- ۱۰- ۱۱ او... مخونه.)

ډېر مې خوښ شو. استاد شپون د خپلو ښکلو ترکیب جوړولو په لړ کې د میرمنو له پاره د «ښځګلې» اصطلاح جوړه کړې او په شعوري ډول یې ښځو ته د درناوي له پاره کارولې ده. چې په رښتیا له میرمنوسره همدا سې یوه ښکلې کلمه ښایي.

ما هم د خپلو مقالو دې ټولګې ته ـ چې ټولې مقالې د مېرمنو یا ښځو په باب دي ـ د شپون صاحب همدا توری خوښ کړی او ټاکلی دی.

پوهندوی آصف بهاند

هیدرسلیف

ډنمارک

د دوه زره شلم کال د اګست میاشتې شپاړسمه نېټه

## په بېلابېلو کلونو کې د ښځو د نړيوالې ورځې په پار زما ليکنې:

د ۲۰۱۳ ام کال د مارچ اتمه:

# د مارچ اتمه، زموږ ګلپاڼې او د دوزخ اور

«د وطن پيغلې مې په غاړه وړي د اوښکو امېل
د پــاريس پـيـغلو ته غـمې لـه بــدخشانه رسي» (پير محمد کاروان)

نور څوک يې چې هر ډول انګيري، خو ما ته ميرمنې (ښځې) ګلپاڼې دي او د ظلمونو او تيريو په هغه چاپيريال کې چې زما د وطن، افغانستان ډېره سلنه ميرمنې جبراً راګيرکړای شوې دي، د دوزخ اور ګڼم، او زه نه غواړم چې هيڅ ښځه، په تيره افغان ميرمن د دغه اور په دايره کې راګير وي. استاد سعدالدين شپون د خپلو ښکلو ترکيب جوړونو په لړ کې د ميرمنو له پاره د«ښکځګلې» اصطلاح جوړه کړې او کارولې ده (شپون سعدالدين، ونه و، يوشپون و، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ــ ۲۰۰۵ کال، ۱- ۱۰- ۱۱ او... مخونه.) چې په رښتيا له ميرمنوسره همدا سې يوه ښکلې کلمه ښايي.

د ميلادي کال د مارچ د مياشتې اتمه نېټه، په نړيواله کچه، د ښځو د ورځې په نامه يادېږي. د دغې ورځې د لمانځلو په ترڅ کې، د نړی په ګوټ ـ ګوټ کې د ژوند په بيلا بيلو برخو کې د ښځو لاسته راوړنې په ښو سره يادېږي.

دا يوښکاره حقيقت دی چې په بيلا بيلو ټولنو او بيلابيلو هېـوادونو کې، د ښځو ژوند، د بيلابيلو قوانينو په چوکاټ کې، ژور توپيرونه سره لري. د همدغو توپيرونو په نظرکې نيولو سره دا ويلای شو چې په ټوله نړۍ کې په توپيرسره د ښځو ژوند له ګڼو ننګونوسره مخ دی.

دا ننګونې چې په نورو ټولنو کې څومره دي؟ ولې دي... او د حل لارې يې کومې دي؟ دا د هغو ټولنو په خلکو، ستونزو او امکاناتو پورې اړه لري؛ خو د افغانستان په ټولنه کې دا ستونزې دومره ډېرې، له ناورينه ډکې او څو اړخيزې دي چې، نه نوم ورته اېښودلای شو او نه هم سرحد ورته ټاکلی شو. ښه ده وويل شي چې:

**«آبې، ټوله بې»**

او يا هم د دې بل مشهور متل په څير:

**«يک مې ليدلې و، نه ماغزه وتلی»**

د ښځو په مقابل کې مې تاوتریخوالی او ستونزې لیدلې وې، نه داسې لکه د افغانستان په ټولنه او افغانانو کې.

او دا دی له دغو ټولو ستونزو سره ـ سره، موږ د مارچ اتمه بیا ـ بیا لمانځوو؛ ظاهراً په ویاړ، خو حقیقتاً په تظاهر او غولوني سره.

د هغه هېواد خلک د ښځې ورځ په ویاړ سره، په لوړو مصارفو سره لمانځي چې د هغه هېواد اکثریت میرمنې له ناتوانی پرلارې تلای نه شي، د خپل ځان او اولادونو د یوه وخت د خوراک ډوډی نه لري، د هغه هېواد خلک د ښځو ورځ لمانځي چې نجونې او ښځې له ډېر مجبوریت نه د اور لمبو ته پناه وړي، د هغه هېواد خلک د ښځو ورځ لمانځي، چیرته چې د ښځو او نجونو د وجود غوښې په انبورشکېږي، پزې، غوږونه او ژبې یې پرې کېږي او د سر ویښتان او نوکان یې ایستل کیږي، او د ادی د هغه هېواد خلک د ښځو ورځ لمانځي چې هلته هره ورځ د جنسي تیریو په لسګونه او سلګونه او ښایي په زرګونه پیښې ترسره کیږي، او...

نور چې هیڅ نه وي د چادرې یا بوقرې په نامه یو زندان خو په هر کور کې د ښځو له پاره په انتظار ولاړ وي. دا چې دا زندان (چادري) د چا د ذهن اختراع ده، هغه بېله خبره او جلا بحث دی، خو زه ورته د ښځو متحرک زندان وایم چې هرې خوا ته ښځه روانه وي، نو دا زندان لکه د انسان کړې ګناه، ورسره وي.

زما د وطن افغانستان قانون د هغه وطن د قانون په لیکه او پیروي جوړ شوی دی، په کوم ځای کې چې پارلمان ته تلونکو ښځو ته د فاحشې او تفالي خطاب کېږي. یو خوا د همدغه قانون له چوکاټه ځان او ټولنه خلاصولای نه شو، بل خوا د هغه قانون د موادو پرضد، شله یو چې د ښځو ورځ، د مارچ اتمه لمانځوو.

د مارچ د اتمې بنسټ ایښودونکو هم که د افغان میرمنې اوسنی حالت لیدلی وای، حیران به وو، چې دا سل کلنه مبارزه او تلاش څه مانا. له هغه نه راورسته د فمینیزم (Feminism) یا د ښځو د حقونو او آزادی د ترلاسه کولو غورځنګ (علي بابا يي غلامرضا، فرهنګ سیاسي آرش، انتشارات آشیان،۱۳۸۲،ص ص:۴۱۰- ۴۱۱)
د هڅو پایله څه وه؛ په دې باندې زما د وطن ډېری ښځې او د دوی د حقوقو ناقضین خبر هم نه دي. د دې ټولو غورځنګونو، ورځو او مناسبتونو سره ـ سره زما د ټولنې ښځې په فقر، رنځ، بیسوادی، ناپوهی او د منځنیو پیړیو د قوانینو په دایره کې ژوند کوي.

که سر په ګریوانه کې ښکته کړو او خپل عیب څخه د ولوو منځ جوړ نه کړو، نو اقرار باید وکړو چې د دې ټولو ستونزو جوړونکې او هستونکې تر ډېره حده موږ خپله یو. دا موږ په خپله یو چې لکه په خوله کې ژبه، کله یوخوا اوړو او کله بل خوا. د دې خبرې ښه ثبوت دا دی چې د انقلاب، تمدن، مترقیتوب او... مدعیانو به یو وخت د خلکو دروازې ډبولې چې:

ښځې، لونې، زامن او کورنی مو مارش او میتنګ ته راوباسئ چې زنده باد ووایي او... خو اوس په افغانستان کې دننه او حتی له افغانستان څخه د باندې همدغه ټیپ خلک غواړي چې ښځې د پنځه سوه کاله مخکې قوانینوپه سیوري کې ژوند وکړي او دا کارونه عملاً هلته او دلته لیدل کیږي چې دا ډول خلک غواړي حتی د اروپا د آزادې ټولنې په دایره کې هم ښځه د تورو تمبو ترشا بندې وساتي. دوی ته د ښځو حقونه، د ښځو آزادي او د مارچ اتمه د بهرنیانو دود او نامنلی عمل ښکاري.

او هلته په افغانستان کې دا دولس کاله د کرزي په واک کې را ټول شوي عجیب الخلقه څیرې په سپین سترګی او مهارت له بهرنیانو نه د ښځو د حقونو په نامه ډالر اخلي او بیا که چیرې په تلویزیون کې د سندرو په نامه کوم غږ واوریدل شي، د علماوو؟ په شورا کې ناست عالمیان

سترګي ورته برګي کا چي دا څه کوئ؟ بیا نو هرڅه بیرته د صفر ټکي ته ورګرځي، چي ترټولو ښه مثال يې د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې ښځو ته د مارچ د اتمي په وياړ د کرزي او د علماوو؟ د شورا تحفه وه.

د علماوو؟ شورا اعلاميه صادره کړي وه او په هغي اعلاميې کي يې ښځو او نجونو ته سپارښتنه کړې وه چي:

«د زدکړي په مرکزونو، دفترونو او نورو ټولنيزو ځايونو کې له نارينوو سره ناسته ولاړه و نه کړي او بايد د سفر پرمهال شرعي محرم ولري»

[http://www.bbc.co.uk/pashto/afghanistan/2012/03/120307_hh-karzai-olama-decision](http://www.bbc.co.uk/pashto/afghanistan/2012/03/120307_hh-karzai-olama-decision)...

او کرزي خان هم په نره توره د «خان هم دا کوي هم دا» د پاليسی له مخې، په شورا کې د راټولو ملايانو د فيصلي ننګه وکړه.

د مارچ د اتمي په نامه يا په هر نامه چي وي، د ښځو درناوی ښه او د قدر وړ کار دی، خو دې ته مو بايد پام وي چي نور خو لاڅه کوې، اَن نالوستي کليوال هم ترريوې اندازې په دې پوهېږي چي څنګه ځيني انسانان، خلک تېرباسي. همدغه د مارچ اتمه نېټه چي افغانان په افغانستان کې او يا د باندې له افغانستان څخه لمانځي، په ټوله مانا تشريفاتي بڼه لري. موږ ښځي تيرباسو، هغه هم د يو څو شېبوله پاره، چيرې يې راټولوو، په جګ آواز ورته وايو:

«ښځه داحترام وړ ده او...»

او کور ته چي ولاړو، بيا وهل ټکول، بيا بد رد ويل او د ښځي سپکاوی او د سپکو کلماتو په ويلو سره د هغې پر زخمونو باندې د مالګې دوړول.

دا خلک چي د مارچ اتمه په تظاهر سره لمانځي، د دوی د کلام تر شا دا جملې هم په تيزبينو سترګو سره ځيني سترګور لوستلای شي چي:

ـ ښځې دې وږې وي،

ـ ښځې دې مړې وي،

ـ ښځې دې بورې وي،

ـ ښځې دې وراړې وي،

ـ ښځې دې کونډې وي،

ـ ښځې دې بې عزته وي،

ـ ښځې دې پزپرې کړې، ګوتي او غاړه پرې کړې، نوکان او وېښتان ويستلي وي،

ـ ښځې دې بيسواده، ناپوه او له هرڅه ناخبره وي،

ـ ښځې دې...

ـ او ښځې دې ټول عمر د نارينه مزدوراني، فرمانبرداري او ترپښو، لاندي وي،

او د دې له پاره چي په دايمي ډول په واک پاتې شي، باد راوړي ډالر ترلاسه کړي نو:

د مارچ اتمه دې هم مبارک وي.

دا ټيپ خلک خو په هرډول چې وي خپل کار کوي، دا نور ښاغلي چې هسې د مود له پاره دا کار کوي، شعرونه لولي، مقالي اوروي، ستوني شکوي او بيانيي وړاندې کوي، هغه هم نه د ښځې د درناوي په خاطر، بلکي يوازې د دې ورځې په خاطر چغې وهي، خپل ستوني ځيري او د ښځو په ځای او بې ځايه صفتونه کوي، د ګلانو ګيډۍ ورته وړاندې کوي، رنګارنګ ډالۍ ورکوي او...

زما وړانديز، پر احساساتو نه، په سړه سينه داسې دی چې:

لطفاً دې دا کار نه کوي.

که په رښتيا دوی ښځې ته درناوی کوي، يوازې دې دا وکړي چې کله چې وروسته له کاره کور ته ځي، ښځه دې وهي نه، ښځې ته دې ښکنځلې نه کوي، بد او رکيک کلمات دې نه ورته استعمالوي، پلار او مور دې په سپکه نه وريادوي... او په پای کې کله چې يې د ميرمنې په لاسو تياره شوې ډوډۍ وخوړه، يوازې دې له يوې نرۍ موسکا سره دومره ورته ووايي:

مننه، خوندوره ډوډۍ وه.

د همدې جملې په اوريدو سره به د ښځې د ټولې ورځې ستړيا ورکه وي.

زما په اند د ښځو ښه عزت کول، هغوی د کور له زندان نه را ايستل دي،

سواد ورزده کول دي،

له خپلو حقوقو نه يې خبرول دي،

ښوونځي او پوهنځي ته پريښودل دي.

نړيوال دې هم بې شميره ډالر د واکدارو جيبونو ته د ښځو د حقوقو په نامه نه اچوي، هغه کسان چې د ښځو د حقونو ښکاره ناقضين دي، همدې بهرنيانو پر خلکو حاکمان کړي دي او د دوی په مرسته يې د خلکو او ښځو حقونه تر پښنو لاندې کړي دي. همدې امريکا راوستو واکدارانو د خلکو او ښځو پرستونوو باندې له درنوعسکري بوټانو سره قدم ايښی دی، دوی او امريکايان دې د مارچ اتمه نه راته لمانځي، همدا د ښځو د حقوقو د ناقضينو عسکري بوټ دې د ښځو او خلکو له ستوني لرې کړي.

د افغانستان خلک، په تيره د افغانستان مظلومې ښځې چغې وهي چې:

«له خير نه مو تير يو، سپي مو دروتړئ!»

د ښځو د ورځې لمانځل او د ښځو درناوی ښه دی، خو نه په داسې حالت کې چې زما د وطن ښځې د بې پايه او نه تماميدنکو بدمرغيو تردروندو پيټو لاندې زګيروي کوي او زه ورته و وايم چې د مارچ اتمه دې مبارک وي.

د ښځو د حقونو فعالين اکثراً په دې اند دي چې د مارچ اتمه زموږ د وطن د ښځو د غولولو له پاره يوه ورځ ده، دوی چې په دومره ناخوالو او غمونو کې ژوند کوي، ډېرې يې د نارينه د وهلو او ظلمونو په وجه شني او زخمي دي، بيا يې موږ د مارچ د اتمې په نامه صفتونه هم کوو؛ دا په حقيقت کې زموږ د هيواد د ښځو له پاره د ماتم ورځ ده. دا بايد ډېر په ځای وګڼل شي چې د بشري حقونو او د ښځو د حقونو ريښتيني غوښتونکې، فعالې او د هيواد پياوړې قلموالې ملالی موسی نظام د۲۰۱۲ کال د مارچ د اتمې له پاره خپلې ليکلې مقالې ته د«روز جهاني زن، روز ماتم براى زنان هميشه محروم افغان» سرليک وټاکه.

بله خبره دا ده چې که موږ غواړو د ښځې ژوند ښه شي او درناوی یې وشي، باید هغوی ته د سواد د زکړو زمینه برابره کړو، ښوونځي او پوهنځي ته د تګ زمینه دې ورته برابره کړای شي، چې په لومړي ګام کې د ژوند په مانا او بیا د خپلو حقونو په څرنګوالي باندې پوه شي.

موږ ټول عمر ښځې ته ویلي دي چې:

ـ مسوولیت لري، خو د صلاحیتونو په باب مو څه نه دي ورته ویلي،

ـ ټول عمر مو ښکنځلي ده، خو د هغې د نازوولو له پاره مو د خپل ژوند په قاموس کې یو توری ته ځای نه دی ورکړی،

ـ د هرڅه صلاحیت د نارینه دی، د ټولو ناخوالو مسؤله ښځه ده،

ـ په کورکې که د ګازو په ډبه کې ګاز خلاص شي او په لمپه کې تیل کم شي، د هغو پوښتنه هم له ښځې نه کوو.

که هغه ووایي چې:

«وا سړیه!
دا خو خوړل کېږي هم نه، چې ما به خوړلي وي.»

نو په ځواب کې ورته وایو چې:

«ولې احتیاط نه کوې؟»

په هیڅ خبره د ښځې غاړه د ملامتیا له طوقونو ډکوو. یو وړوکی مثال به یې دلته یاد کړم:

په ډیری کورونو کې لیدل شوي او اوریدل شوي دي چې نارینه په حق په جانب او وارخطا ډول چغې وهي:

«وا ښځې!

هغه آغه مې په آغه ایښی و، آغه څه سه؟»

دا یوه بې مفهومه مبهمه جمله ده، چې مقابل لوری (ښځه) په څلورلار کې دروي او په هیڅ نه پوهېږي، خو د نارینه هیله دا وي چې ښځه باید په ډېره لنډه شېبه کې په دې مبهمه جمله پوه شي، د نظر وړ شی پیدا کړي او په ډېر احترام یې په لاس کې ورکړي. له دې ټولو مبهماتو سره که ښځه وتوانیده چې دا کار ترسره هم کړي، بیا «د ناقص العقل» خطاب هم ورته کوو.

زموږ د ټولنې ډیری ښځې په دې لا خبرې هم نه دي چې د مارچ اتمه څه شی دی، خو موږ یې د تفنن او تصنع له پاره لمانځو. یو وار مې د امریکایي دیموکراسی د بادونو په دوره کې په سرکاري تلویزون کې دغه تصویرونه له دغو غږونو سره ولیدل او واوریدل:

ژونالسته د افغانستان د واکدار د ناستې ځای، د ارګ په دوه درې کیلومترۍ کې د وطني مهاجرینو کمپ (د قمبر څلور لارې کمپ) ته په احتیاط ورروانه وه، لکه ناوې په بسم الله قدم اخیست، چې ګلالي بوټان یې ککړ نه شي، له زړو شکیدلو بوجیونه جوړې کیږدۍ ډوله ځای ته رسېږي. یوه خواره بدمرغه مور چې درې څلور نیمه پټ ماشومان ورنه چاپیر وو، یو خوارنجوکی ماشوم یې په غېږ کې و او د همدې کیږدۍ ډوله ځای په دروازه کې د پټو په سرناسته وه، څېرې یې د زرهاوو غمونو کیسې کولې. نازولې سینګار کړې ژورنالسته چې د دې مظلومې ښځې په ژبه هم نه پوهیده، مایک ورنږدې کړ او هیله یې هم دا وه چې د بیوزلې ښځې له خولې دا جمله راوباسي چې: نن د مارچ اتمه ده او د ښځو ورځ ده او...

شما در باره هشتم مارچ چه گفتني دارین؟

ښځه په لړ قهر مایک پورې واهه او ورته وې ویل:

خوري داشی دې ایسته که، زه هشت مارچ نه پېژنم، زه خپلو ورو ماشومانو ته ډوډۍ او جامې غواړم.

له دې ښکاري چې زموږ د ټولنې ډیره سلنه ښځې دا ورځ او دا حق نه پیژني، دوی ته باید حقیقت ووایو او خپل حق یې ورکړو او دا د خبریدو له لارې، د سواد د زدکړې له لارې، د ښوونځي او پوهنځي له لارې کېږي، نه د تشو خبرو او تفنني محفلونو او بیانیو له لارې. دغه لنډکي طنز ته پاملرنه وکړئ چې زموږ د ټولنې ډیری میرمنې د مارچ اتمه څه ډول پیژني:«

## مارچ ځوومه خورده؟

د ودانۍ غټ تالار د تورو، سپینو او سرو ټکریو میرمنو په سراخیستی و. ډیرو یې په غېږو کې چادرۍ نیولې وې. ټولو د دریځ پرخوا کتل، څو تنو پرلپسې خبرې وکړې. د ډیرو ویناوالو غږونه له میرمنو سره د راغلیو ماشومانو په چیغوکې ورک شول. د مارچ اتمه یوازینی لفظ و چې د هر ویناوال د یوې نه، بلې خبرې په سرکې راته.

د غونډې له سرنه نیولې، ترپایه پورې ټولو ویناوالو یوه سل کلنه زړه کیسه تکراروله. خبریالانو نن په خپلو کامرو پسې اوږده لینزونه نښلولي وو او د کامرو تر چولو یې زړو او ځوانو ښځو ته په یوه سترګه کتل. د کامرو رڼا ګانو سترګې بریښولې. د بشر د حقوقو استازې وویل:

«د مارچ اتمه د ښځو د نړیوال پیوستون ورځ په نړیواله کچه د ټولنو د نابرابریو او بې عدالتیو پر وړاندې د ښځو د هڅو او حق غوښتنې زړور پاڅون او مقاومت محصول او د سیاسي، تاریخي او اجتماعي تنګ نظریو، ظلم او تاوتریخوالي پر وړاندې د ښځو د مبارزو او ځان تیریدنې یوه ستره نښه ده. نیکمرغه، بریالی او پیاوړې دې وي د مارچ اتمه، د ښځو د نړیوال پیوستون تاریخي ورځ، وسلام.»

د دې پرځای چې د وینا په پای ته رسیدلو یې چکچکې ووهل شي، راغلې ښځې یې د یوې داسې خبرې په تمه وې چې ورباندې وپوهېږي.

د غونډې په پای کې پر دریځ یوې ناستې میرمنې چې لوستې مالومیده د څنګ له ملګرې وپوښتل: (مارچ ځویمه خورده؟) ما ته یې هم پوښتنه را پیدا کړه. یوې سپین سرې ته مې وویل:«ادې ته مارچ پیژنې؟» له ځنډه پرته یې ځواب راکړ: «هو قربان یې شم زما خدای ښیلې میره یې هم مرید و» فکر کوم د مارچ د اتمې غونډې ته د مرچ آغا د تلین د لمانځلو په موخه راغلې وه.»

موږ له ښځو سره څه کوو، زموږ په ټولنه کې د ښځې دریځ څه ډول دی، نورې دنیا ته څه وایو، عملاً په څه لګیا یو، له ښځې او د هغې له ژوند سره تړلې نورې پوښتنې او حقایق چې زموږ د هیواد په ګوټ ـ ګوټ کې عملاً شتون لري، ډیر لږ په میډیا کې راځي.

یوه ورځ چې په خپل کور کې له مطالعې لږ ستړی شوم، تلویزیون ته مې سترګې واړولې، که ګورم د پیام افغان تلویزیون نشرات روان دي او د افغان میرمنو په درد یوه دردمنه افغانه اروپا میشته میرمن دنیا پُرکار خپله خپرونه وړاندې کوي. ورته ځیر شوم، دنیا پُرکا رله څو زوریدلوافغان میرمنوسره په افغانستان کې دننه ژوندۍ خبرې کړې وې او د هغوی د دردونو یو تصویر یې خلکو ته ښوده. د دې انټریو یو څو جملې دا دي چې د افغان زوریدلې، کړیدلې ښځې د رنځونو یو انځور یې ګڼلی شو. وګورئ:

ـ زهر خوردم، زهرهم مره نه کُشت...

ـ کاشکي خدا مره سنګ هست میکد، که مره ده دیوال مي ماندن...

ـ زه يې له خره سره بدلولم...

تاسوپاسنی جملو ته ښه فکر وکړئ. زه ګمان نه کوم چې په بل وطن او نورو خلکو کې دې داسي شوې وي. موږ بیا باکلتوره یو او د مارچ اتمه هم لمانځو.

بهرنیان هم په افغانستان کې د خپل نظامي حضور د حقانیت د ثابتولو له پاره، یوه موضوع چې د ښځو په اړوند، د دوی د مخالفینو تیری، ضعف یا اشتباه وي، دومره پسې تاووي، سره شاربې يې چې ته وا د افغان ښځو په حق کې یوازې دغه یو تیری او تاوتریخوالی شوی دی او بس. د همدې تبلیغاتو په لړ کې یوه پزپرې کړې مظلومه په لاس ورغله چې موږ هم وربانديې خواشیني یو، خو دوی د خپلو تبلیغاتو له پاره د هغې له عکسونو او ویدیوګانو نه دنیا ډکه کړه. دغسې پزې، غاړې او غوږونه په لومړي ګام کې په افغانستان کې د بوش جان؟ د نظامي عملیاتو د ملاتړو او په واک کې د دوی د ناستو استازو له خوا غوڅ شوي دي، خو د دوی میډیا یو وارهم یو سپین شانتې ونه کړ.

په کابل کې کومې نجلۍ په توپ پسې مندې غوندې نه وې کړې، کور دننه او د باندې د دوی د میډیا خولې شکېدلې چې د نجونو د فوتبال ټیمونه جوړشوي دي او د فوتبال د دې ټیمونوپه باب مفصل او پرله پسې تبلیغات کېږي؛ خو په دې نا خبره دي او یا خبر دي، نه یې برالا کوي چې د فوتبال دغه لوبې او سیالۍ هره شپه د افغانستان په څومره کورونو کې رواني وي. په دې سیالیو کې ښځې او نارینه دواړه برخه اخلي، یوازې په دې توپیر چې د فوتبال په کورنیو سیالیو کې ښځه د شوټ کولو حق نه لري، د منډې حق هم نه لري، یوازې باید د توپ رول ولوبوي، حتی د غږ ایستلو حق هم نه لري. د فوتبال په دې لوبه کې د افغانانو نوښت دا دی چې په لوبه کې وخت قید نه دی، لوبه هغه وخت خلاصیدای شي چې اصلي فوتبالست (نارینه) یا ستړی شي او یا یې په اصطلاح زړه یخ شي. د دې لوبو فکري پرودیوسران د امریکایي دیموکراسۍ افغان ملاتړي دي او ډیرځلې د لوبو مرکزي رول هم دوی خپله لوبوي؛ خو نه کورنۍ او نه هم بهرنۍ رسنۍ د دوی د لوبو ګزارش وړاندې کولی شي.

دغه راز په ویبسایټونو او نورو خپرونو کې چې له ښځو سره د تاوتریخوالي له سلګونو پېښو نه یوازې د ګوتو په شمار یو څو پېښې ثبتیږي اوخپریږي، په هغه هم یا څوک سرنه ګروي او یا وایي چې زموږ له لاسه څه نه کېږي. زه به دلته د هغو مسایلو یوازې ځینې سرلیکونه د نمونې په ډول یاد کړم، چې یوازې د۲۰۱۲کال په اوږدو کې په میډیا کې زما له نظره تېر شوي دي. وبه ګورو چې څومره یې زموږ له پاره ویاړ او څومره یې زموږ له پاره د شرم او خپګان باعث کېږي:

۱- کانادا: افغان کورنۍ د خپلو لوڼو په وژنې پره وخيژوله (بي بي سي پښتو)،
۲- افغانستان کې د سوځیدنې پیښې دوه برابره شوي (بي بي سي پښتو)،
۳- امریکا کې دوو افغان میرمنو ته د جرأت جایزه ورکړل شوه (بي بي سي پښتو)،
۴- په کندز کې یوه سړي خپله ښځه د لور د زیږولو په خاطر ووژله (تاند)،
۵- کندوز: پولیسو پر یوې نجلۍ ډله ایز جنسي تیری کړیدی (لراوبر)،
۶- کونړ کې د یوې پيغلې سرپرې شوی (بي بي سي پښتو)،
۷- په هلمند کې یوه پلار خپلې دوې لوڼې ووژلې (تاند)،
۸- استفاده ابزاري از زن براى انتحار(هشت صبح)،
۹ـ شصت مورد «قتل ناموسي» در شش ماه اخير( هشت صبح)،

۱۰- یوه پولیس خپله ښځه له کوره بهر د کارکولو پرسر ووژله (تاند)،
۱۱- په افغانستان کې معتاد ماشومان (دویچه ویله، پښتو)،
۱۲- پلار خپله نه کلنه لور پلوري (TKG,Pashto)،
۱۳- بي وزلې میرمنې خپل ځان او دوه ماشومان ووژل (خبریال)،
۱۴- تریاک مسکن زنان بدخشان (هشت صبح)،
۱۵- تجاوزبردختر ۱۵ساله در ریاست امور زنان (VOA)،
۱۶- میره به مې لومړی ترلم او بیا به یې سخته وهلم (بي بي سي پښتو)،
۱۷- ګناه مې دا ده چې خدای ښځه پیدا کړې یم (تاند)،
۱۸-افغانستان کې په ښځو د تشدد پیښې څلور چنده زیاتې شوې دي (VOA)،
۱۹- زن حق ګپ زدن ندارد (آریایي)،
۲۰- افغانستان د ښځو له پاره خطرناک هیواد دی (بي بي سي پښتو)،
۲۱- هرات: ناوې ځان ته اور ورته کړی (بي بي سي پښتو)،

او په سل ګونې او زر ګونې نورې پیښې، په ټولوکې که (۲۰۰۵) سلنه زموږ له پاره د ویاړ په ډول یادې شي، له هغې ډلې نه افغان میرمنوته د جایزې او مډال ورکول:

ـ پوهندوی شیما غفوري ته د آلمان د فدرالي جمهوریت د خدمت مډال (۸)
ـ دوو افغان مېرمنو ته په امریکا کې د هغوی د جرأت له پاره د جایزې ورکول (۹)
نور نو...

زموږ له پاره د شرم خبره ده چې په یوویشتمه پیړی کې لا په بېلابېلو نومونو د خپلو «ښکځګلو» ګلپاڼو میرمنو، خویندو، میندو او لوڼوغوږونه، پزې، ژبې او ګوتې پرې کوو، ویښتان او نوکان یې باسو.

په دې هم نه شرمېږو چې اول د خپل جنسي هوس د سړولو له پاره ښځې سره هم بستره کېږو، هغه بارداره کېږي او بیا یې په وهلو ټکولو غوجل کې بندي کوو، هلته دومره موده پاتې وي چې ماشوم یې همالته په طویله کې دنیا ته راځي. که زموږ د هوس له دې ثمر نه کوم کاتب د تذکرې یا بل ډول سند د لیکلو په وخت کې پوښتنه وکړي چې د زېږېدو ځای دې ووایه، هغه ماشوم چې زموږ وینه یې په رګونوکې جاري ده څه به وایي؟ خامخا وایي چې:

دزیږیدو ځای: غوجل.

موږ په یویشتمه پیړی کې، د پرمختللي تکنالوژۍ په عصرکې، د هغه وطن اوسیدونکي یو او د هغې ټولنې غړي یو، په کوم ځای کې چې د لور زېږول ګناه ګڼل کېږي او هغه مور چې لور زېږوي، مکافات یې مرګ دی. دا زموږ په منځ کې یو ځل نه، دوه ځلې نه، درې ځلې هم نه، په لسګونو او ښایي په سلګونو ځلې تکرارشوي وي.

موږباید د مارچ د اتمې د لمانځلو په باب فکر و نه کړو، باید له ښځو سره د تاوتریخوالي پر دلایلو او د هغو د مخنیوي په باب فکر وکړو. زموږ د ټولنې ډېری میرمنو ته د مارچ د اتمې لمانځل مطرح او مهم نه دي، مهم ورته دا دي چې ښځګه ورسره د روان زورزیاتي مخنیوی وشي، ښځګه ورته د انسان په سترګه وکتل شي.
زموږ د ټولنې ډېری ښځې ښځګه چې د مارچ د اتمې په مانا، ارزښت او څرنګوالي نه پوهېږي، دغه راز په دې هم نه پوهېږي چې د ښځو په مقابل کې تاوتریخوالی څه شي ته ویل کېږي. د خدای د کلام په هیڅ ځای کې نه دي راغلي چې له ښځو سره دې تاوتریخوالی وشي، خو ښځو ته ویل شوي دي چې هرڅه چې درپېښېږي دا به د خدای رضا وي او دوی هم د بېسوادۍ او نه خبرتیا په وجه دا منلي ده او هر ډول تاوتریخوالي ته یې د خدای د رضا په نامه اوږه ورکړې ده او د کورنۍ د عزت او غیرت؟ په خاطر د ژوند ترپایه چوپه خوله ناستې وي، د تاوتریخوالي

ټول ډولونه د مېړه یا نارینه حق ګڼي. په دې هم نه پوهېږي چې یوازې وهل ټکول تاوتریخوالی نه دی، بلکې له وهلو ټکولو پرته ټولې هغه لارې چارې چې د ښځو د زورولو له پاره کارېږي، هغه ته تاوتریخوالی ویل کېږي. ښځو سره په اړیکو او راشه درشه کې زورزیاتی؛ له بیلابیلو لارو رواني زورزیاتی، اقتصادي زورزیاتی، جنسي زورزیاتی او... زورزیاتی؛ دا ټول د تاوتریخوالي او زورزیاتي بیلابیل ډولونه دي او باید له ممکنه وخت او امکاناتو نه په استفادې سره ښځې ورباندې پوه کړای شي. یا په غږیزه بڼه مخامخ یا د رادیو له لارې، یا د تصویرونو (ویدیوګانو) د ښودلو له لارې، یا د مطالعې او لکچرونو له لارې، باید ښځه خپل حق وپیژني او هغه ترلاسه کړي، ټول عمر دې د نارینه پرې په غاړه لکه څاروي ژوند نه کوي.

د ښځو د حقونو غږ د ډېرو قربانیو په ورکولو سره، په خپله ښځو هم اوچت کړی دی، نارینه سره له دې چې د دې ناروا مجریان هم دي، خو بیا یې هم د ښځو په دفاع کې خپل غږونه اوچت کړي دي، حقایق یې ویلي دي او د دوی د برحقه حقوقو دفاع یې کړې ده. دلته به زه د هنرمند لیکوال مطیع الله عابد، چې زه ورته د معاصر مسجع نثر پیاوړی لیکوال وایم، هغه ښکلی کالم رانقل کړم، چې په ډېره هنرمندانه، خو تنده ژبه یې د ښځو مظلومیت انځور کړی دی او دا یې ښودلي دي چې له افغان میرمنو سره هغه څه چې باید ونه شي، هغه ورسره کېږي. هرڅه ورته د ګناه په هنداره کې ښودل کېږي، حتی ثوابونه یې هم ګناه ګڼل کېږي.

مطیع الله عابد په دې کالم کې په دقیق او سنجیده استدلا ل سره د ښځو مظلومیت، مقاومت، شجاعت، حقانیت انځور کړی دی او حقایقو ته یې اشاره کړې ده، د ناکردو او نادودو عاملین یې په ښه کړي او د هغوی تظاهر یې په ګوته کړی دی، د حق او باطل ترمنځ یې په هنرمندانه ډول جوتي او ځیرې کرښې ایستلي دي، دا یې ښودلي دي چې د پلارواکۍ او ناپوهۍ په دایره کې د ښځې ټول ثوابونه او ښه عملونه په ګناه بدل شوي او ناحق و ناروا یې د ظلم بوت پرستونې اېښودل شوی دی.

ده دا ښودلې ده چې افغانان خپلې لوڼې او خویندې کتاب ښوونځي او پوهنځي ته نه پرېږدي، خو کله چې په دوبۍ او کراچۍ کې د عرب یا عجم مزدور شي، بیا نو سهار د هغوی خویندې لوڼې ښوونځي او پوهنځي ته او ماښام یې کوم کلب ته رسوي. ده له درد او خواشینۍ نه په ډکو الفاظو دا تریخ واقعیت ویلی دی چې:

ولې؟

ــ هره ګناه د ښځې او هر ثواب  دنارینه دی،

ــ غوړه برخه د ورور او سپوره مړۍ د خور شي،

ــ د لور پیدا کېدل غم ګڼل کېږي او د زوی پیدا کېدل اختر،

ــ د چا په پښو کې چې خدای جنت ایښی دی، نارینه وو  هغوی ته له دې دنیا نه دوزخ جوړ کړی دی.

ــ او...

او نور ترخه واقعیتونه چې هر څومره خبرې پرې وشي، لا به کم وي چې څنګه عابد صاحب د ښځو د ګناهونو او ثوابونو تقابل په ترخه ژبه لیکلی دی.

او دا هم د افغان میرمنو د ګناهونو او ثوابونو هغه تصویر چې ښاغلي مطیع الله عابد په هنرمندانه ډول له خپل ذهن نه د خپل پیاوړي قلم په واسطه را ایستلی دی. زه یې دلته کټ مټ رانقلوم:«

## دا ګناه ده

بیا یو درز شو، بیا د ملالی مکتب په بارودو کې وسوزید. ملالی بیا غږ کړو چې هله زما مکتب چا وسوزه.

هلته خو زما د دینیاتو کتابچې وې،

د پاک قرآن سیپارې وې.

توبه خدایه توبه، دا ګناهکار څوک دي، دا ګناه چا وکړه؟

خو ملالۍ ته غوږ ته غږ شو چې:

مکتب سوزول ګناه نه وي،

مکتب ته تلل ګناه ده،

د جینکو سبق ویل ګناه ده،

مکتب د پاره د کوره وتل ګناه ده،

په خپله خوښه واده کول ګناه ده،

په میراث کې له ورونو نه د حق غوښتل ګناه ده،

او میره که هر څه کوي، کوي به یې،

خو د ښځې په ډکه خوله خندل ګناه ده.

خو ملالۍ حیرانه ده چې د ګناه او ثواب دا حساب، د شرم او بې شرمۍ دا کتاب بنده ګانو ته چا ورکړی دی؟ عجب قانون دی. یو خالص مخ ښکاره کول ګناه یادېږي. خو په دې ښکلي مخ، د خدای په لاس جوړ شوي تخلیق تیزاب شیندل، ثواب بلل کېږي. مکتب ته د جلۍ تلل ولې بې شرمي شي او نارینه ډاکټر ته لور خور ښکاره کول څنګه مردانګي شي؟

د ولور د پاره د جینکو ودونه کوي، پردي بې ریشان هلکان ګڼوي؛ د دوی ژوند او د هغوی خوند او خپل ځنکدن خرابوي.

ملالۍ تراوسه په دې منطق پوه نه شوه چې د دې د کلي کوځې، ځوانان دلته خپله لور- خور کتاب او مکتب ته نه پرېږدي، وای چې دا ګناه ده، خو بیا چې همدا ځوانان د کلي او کور نه لرې کراچۍ کې یا دوبۍ کې مساپر شي، د کوم میمن یا د عرب د موټر ډرایور شي، نو بیا هرسهار د هغو پیغلې لوڼې مکتب ته او ماښام کلب ته رسوي؛ خو دا جرأت نه شي کولی چې ورته ووایي:

مه ځئ، مکتب ته مه ځئ، دا ګناه ده.

هره ګناه چې د ښځو او هرثواب د سړو شي،

هرمعروف چې د هلکانو او هرمنکر چې د جینکو شي،

غوړه برخه د ورور او سپوره د خورشي،

د لور په پیدا کیدو محرم او د زوی په پیدا کیدو اختر شي،

هغه قام به څنګه ښاد او بختورشي.

د چا په پښو کې چې خدای جنت ایښی دی، هغوی په دې دنیا په دوزخ کې ژوند کوي، د چا په برکت چې پلار ته د جنت دروازې خلاصېږي، هغه په خپله د پلار کور کې بندیواني دي.

مصیبتونه، نفرتونه او لعنتونه به ولې نه وربېږي چې سحرګله مخ سوزیدلې په بغلان کې، عایشه بي پزې په ارزګان کې، په وینو رنګ ځانګه آماج په کابل جان کې او زهرو کې بې خوده ماه ګل په تخارستان کې پرته وي. خومره کمزوري دي دا بریتور، دا خیټور او دا د پردو نوکر چې خپله خور د خپل مکتب د خونې نه، د پردو د روغتون خونې ته رسوي. هلته ورته د جهان کامرې ولاړې وي او دوی یې مخې ته پرتې وي.عکسونه (یې) اخلي. لعنت په داسي غیرت او داسې غیرتي چې د خپلې خور د سره څادر اخلي او خپل مخ نه یې تاووي.

هغه غیرتیان چې د جینکو په جامه به یې تیزاب شیندل، نن خپله د هغو په جامو کې ځان پټوي. نن د آدم هغه زامن چې مکتب ته د جینکو تلل یې ګناه ګڼله، نن د سولې جرګه کې د هوا عالم نورستاني سره او ولسي جرګه کې د هما سلطاني سره ناست دي. شرم اوس چرته دی چې حنا رباني ته لاس په سینه درېږي. غیرت مو هغه وخت څه شي چې دوبۍ کې درته «سونولعل» ګډېږي او ستاسو پیسې پرې وربېږي. نرتوب مو هغه وخت چرته ورکیده چې د بېنظیرې په یوه اشاره به پارلمان کې ښکته پورته او سنګر کې مخکې وروسته کېدلئ. **د بېنظیرې په واک کې ثواب او بخت زمینې په ساز کې درته ګناه چا دربښودلي وه؟**

ملالۍ هم دا وايي چې آخر دا ټوله ګناه د پښتنو په وطن کې ولې لیدل کېږي. ولې دا نور بل قرآن لري که څنګه؟ که همدا یو مبارک کلام وي، چې د ملالۍ بابا یې سهار مابنام لولي، دی مقدسو پاڼو کې هغه پاڼه چرته ورکه ده چې وايي:

علم په ښځې او نر باندې فرض دی.

خو افسوس دلته نه څوک د ملالۍ نعرې اوري او نه د خدای سیپارې مني. د خدای په نوم د ناهید پلار وژل کېږي، خو بیا چې ناهید د خدای په نوم سوال کوي، نو په کېبل وهل کېږي، چې څه کور ته څه، دلته مه درېږه.دا ګناه ده.

خو ناهید د بنده په ځای خالق ته سوال کوي چې:

یه خدایه دې ګناه ته دې یوازې زه پیدا کړې یم، دا حساب به یوازې له ما سره کېږي، دا عظیم کتاب دې یوازې زما د پاره نازل کړی دی. یا الله ما پوه کړه چې انسان یوازې دا ځوان دی، که د ده تر لختو لاندې دا زما ځان هم دی. زما ګناه داه ده چې دا انسان مې زېږولی، نو که دا ګناه وي، نو سوال درته کوم، زارۍ درته کوم:

که زما وجود شرم، ګناه او بې غیرتي وي؛ نور نو ښځه ذات مه پیدا کوه. پرېږده چې دا شته تولې ووژني، وې سوزوي او حلالې یې کړي. بیا به دا نران، دا باتوران پوه شي چې ګناه چا کې ده او ثواب څه ته وايي؟

http://taand.com/index.php?mod=article&cat=مطیع الله عابد=article=33165

دغه دی د افغان میرمنې ژوند او د هغې د ژوند هغه عیني واقعیتونه چې یا د نورو له خوا راباندې تپل شوي دي، او یا زموږ د خپل ذهن او رواني ناروغیو زیږنده دي؛ په لوی لاس مو د خپل ژوند ښکلا او بقا، خپلې ګلپاڼې، خپلې میرمنې، خپلې خوېندې، میندې، لوڼې او خپلې

«ښځګلي» د دوزخ په سره اور کې اچولي دي او په سپین سترګۍ سره د ښځو ورځ لمانځو، د مارچ اتمه لمانځوو، دغه مو د عیني ژوند یو تریخ واقعیت دی.

خبرې ډېرې پای یې نه شته
زه به په پای کې دغه تریخ جام ګوټومه

د مثبتو او منفي عجیبو پېښو د پېښېدو په وخت کې به روهي صاحب به ویل:

«افغانستان د استـثـنـأتو وطن دی، دلته هرڅه پـېښـېـدونکي دي.»

د هغې ورځې په تمه چې بیا داسې یو څه پیښ شي چې د افغان میرمنو دا ګناهونه په ثواب بدل شي او دوی له دایمي اسارت نه راخلاصې شي.

د ۲۰۱۴ ام کال مارچ اتمه:

## مبارک د مارچ اتمه

هرکال چې د ښځې ورځ، د مور ورځ او یا په ښځو پورې اړوند بله کومه ورځ رارسیږي او یادیږي، ما ته د غولولو، تیرایستلو او پرښځو باندې د ترسره شوو او روانو ظلمونو د انځورولو له پاره د لغاتو لښکر راروان وي او راته وایي چې دا دی موږ تیاریو، موږ وکاروه، د دې موجود (ښځګلي) دغه اوسنی حالت ورباندې انځور کړه او...

له نن نه پخوا، ما ترخپلې وسې پورې د ښځو له پاره په بیلابیلو پلمو او مناسبتونو، شعرونه او مقالې لیکلي او خپاره کړي دي. دغو نږدې تیرو کلونوکې یې دوې نمونې دا دي:

[http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/naimi_a_aula_gulona_swazi.pdf](http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/naimi_a_aula_gulona_swazi.pdf)

[https://tolafghan.com/posts/27143](https://tolafghan.com/posts/27143)

خو نور د ښځو په باب له څه ویلو او پردوی باندې د روانو ظلمونو له لیدلو او انځورلو نه ستړی یم، شرمیږم او...

هرځلې چې په چاپي او انځوریزو خپرونو، ویبپاڼو او یا د مخکتاب په پاڼوکې:

ـ په روزګان کې د پزېرې کړې عایشې،

ـ په بغلان کې د نوکانو او ویښتانو ایستلې او په انبورسره د بدن د غوښو شکیدلې سحرګلې،

ـ په کندز کې د ژبېرې کړې منیژې،

ـ په کونړ کې د غاړې پرې شوې شبانې،

ـ په هرات کې د شونډ پرې کړې ستارې،

ـ د افغانستان په بیلابیلو سیمو، په تیره هرات کې د لسګونو ځوانو ښځو او نجونو ځان سوځوني،

ـ او...



د قرباني شوو ښځو او نجونو خبرونه لولم او انځورونه یې ګورم: داسې شرمېږم چې غواړم پاس تو کړم چې لاړې مې بیرته پرخپل مخ راولوېږي. هرځلې مې چې د یادو ښځو او نجونو انځورونه ترسترګو کېږي، سترګې ورنه اړوم، ښکته ګورم او د شرم خولې راباندې راماتېږي،

د یوه نارینه په توګه،

د یوه افغان په توګه،

د یوه انسان په توګه،

داسې فشار راباندې راځي لکه چې څوک غرونه راته پرسر باروي او تردې فشارلاندې ځان هیڅ راته ښکاري.

چیرې مې د چا د مخکتا ب پاڼې سره اړولې چې د څووم ځل له پاره د پزپرې کړې عایشې، پزپرې کړی انځور په مخه راغی. سخت حالت راباندې مستولي شو، داسې مې انګېرل چې په مځکه ننوزم او...

د هماغې شیبې حالت مې د یو آزاد شعر په قالب کې، پرښځو باندې د افغاني ظلم په دایره کې د یوې راګیرافغان میرمنې د زړه د تل غږ په ډول، د کلماتو په جامه کې انځور کړی دی او د ادی د سږني ۲۰۱۴ کال د مارچ د اتمې په پلمه یې خپروم:

## مبارک د مارچ اتمه؟

چا څه وکړل، چا ونه کړل

که و بد او که یې ښه کړل

زه بې څه کړم، اوس یې وکړل

چا مې غوښې په انبور

چا غوږونه په بیاتي

چا هم پزه په چاړه

چا هم شونډې په چاکو
چا ويښتان منګول کې يوړل
چا هم ګوتې رانه پرې کړې
چا لاسونه چا هم متې وريبلې
چا هم پښې په تبرګې
چا بندونه رانه غوڅ کړل
چا مې غاړه، چا مې مراندو
او رګونو کې لو ګډ کړ
چا بدله په ځاوري کړم
چا پولغو هم له غوايې کړم
چا هم خرڅه په پردي کړم
چا هم زهر د ژبې راکړل
او چا...
بل څوک نه و،
نه دښمن او نه پردي وو
دا مې خپل، دا مې عزيز د خپل کاله و
يا مې ورور، يا مې هم پلار او يا ميړه و
بيا به کوم يو، په کوم مخ پاس راته ګوري
بيا به کوم په کومو سترګو راته وايي:
چې خورجانې
او مورجانې
ښځې جانې!
دا ګل واخله، دا ګل ستا دی
د مور ورځ
د ښځې ورځ دې مبارک شه!؟؟؟

د ۲۰۱۵ ام کال مارچ اتمه:

# چیغې وهو د مارچ اتمه ده نن

## څوک به یې واوري؟

بیا د مارچ اتمه ده، د ښځو نړیواله ورځ، قلموالو او فرهنګیانو به چا قلمونه تیره کړي وي او چا به ګوتې تکره کړې وي، ، سپین کاغذونه به یې کوټه کړي وي، یا به یې په خپلو کمپیوترونو کې یوه ځانګړې صفحه پرانیستي وي چې د ښځو له پاره، د مارچ د اتمې په پار یو څه ولیکي او په لوړه غاړه ځانته قناعت ورکړي چې دا دی ما خو د ښځو د نړیوالې ورځې په ویاړ یو څه ولیکل، خپل حق مې ادا کړ، نور نو دنیا ګل ګلزار ده، هر څه سم دي، ښځې هم په همدې مقالو له غم او رنځ نه خلاصې او آزادې شوې او...

زه هم له دغې یادې ډلې نه مثتثنا نه یم. بیخي همدغسې یو شی یم، خو زما توپیر له ځینو سره په دې کې دی چې یو خو د دې ورځو د لمانځلو شوقي نه یم، د عمل پلوې یم او بل دا چې زه له نورو سره د خپل نظر توپیر په دې کې وینم چې هر کله مې ویلي او اوس هم وایم چې:

**دوستانو!**

**ـ د مارچ اتمه مه لمانځۍ، چې کور ته لاړئ، ښځې ته ښکنځل مه کوئ،**

**ـ د کور او ژوند د هرې ملامتیا پیټی د ښځو پر اوږو مه باروئ،**

**ـ په ښځو نمایشي فوټبال مه کوئ، لږ انساني آزادي ورکړئ،**

تیر کال هم په همدې ورځ ما دې موضوع ته همداسې اشاره کړې وه:

«هرکال چې د ښځې ورځ، د مور ورځ او یا په ښځو پورې اړوند بله کومه ورځ رارسېږي او یادېږي، ما ته د غولولو، تیرایستلو او پر ښځو باندې د ترسره شوو او روانو ظلمونو د انځورولو له پاره د لغاتو لښکر را روان وي او راته وایي چې دا دی مونږ تیار یو، مونږ وکاروه، د دې موجود «ښځګلي» دغه اوسنی حالت ورباندې انځورکړه او ..»

زه یې داسې انګېرم چې په دې یوه کال کې چې تیر شو (د ۲۰۱۴ کال د مارچ له اتمې تر نن پورې) مونږ نه یوازې د ښځو د حقونو په برخه کوم مثبت بدلون نه دی راوستی، بلکې که څه پټ نه کړو او په ربښتیا له ښځو سره خپل کړه میدان راو باسو ، نو ښکاره به شي چې له نورو وختو نه په دې تیر یوه کال کې زمونږ د بدو کړو تله نوره هم درنه شوې ده او هغه څه مو کړي دي چې اوس یې خپله هم بیرته ویلای او یادولای نه شو.

میډیا ته که لږ سر ورښکاره کړئ، له ښځو سره د شوو بدو کړو تله دومره درنه ده چې ښه یې په سلنه کې نه راځي. څو مثالونه یا سرلیکونه او مثالونه به یې وګورو، بیا دې هر څوک خپله قضاوت ته کیني چې موږ څومره له ښځو سره ښه کړي او څومره مو بد کړي دي.

خپلو کړو ته په کتو سره، آیا موږ حق لرو چې ووایو:

افغان میرمنو او ښځو!

د مارچ اتمه، د ښځو نړیواله ورځ دې درته مبارکه وي!

نه،

زما له خوا خو نه ده،

موږ دا حق نه لرو چې ښځو ته دا توري د درناوي په توګه وکاروو. ښځه به وايي چې:

له دې مبارکۍ نه دې زه تیره یم، وهه مې مه، ښکنځلې مه راته کوه، مور پلار مې په بده مه یادوه او...

زموږ په ټولنه کې تریخ واقعیت دا دی چې ټول پوهیږي چې موږ له ښځې پیدا شوي یو، زموږ د ناتوانۍ، ځوانۍ، زړبودۍ او هر ډول حالت خدمت، د مور، خور وریندار او میرمنې په نامه، همدې ښځې کړی دی او کوي یې خو...

که د اولاد څیره هسې لږ ستړې او نیولې ښکاره شي، د مور زړه ورسره ستړی وی او نیولی وي، ریږدي چې اولاد ته یې څه ور پیښ دي؟ او...

خو له دې ټولو خبرو سره ـ سره، ښځې ته د دویم لاس موجود په سترګه کتل کیږي او د «ښځه یا په کور یا په ګور» مسأله که په خوله ونه وایو، د ذهن په دهلیزونو کې خو مو دغه ایدیا شپیلۍ غږوي. دا ځکه چې دا ایدیا مو له ټولنې نه اخیستې ده او په همدې فکري دایره کې را لوی شوي یو. په همدغه حساس ځای کې دی چې د ښځې په برخه کې روڼ اندي او مسؤل قلموال باید له دې فکري دایرې ووته د باندې کیږدي او و وايي: نه، نه ښځه په کور او نه ښځه په ګور، بلکې ښځه د ژوند ملګرې او مور، بیا نو که کور هم وي د خدای رضا به وي او که ګور هم وي د خدای رضا به وي، او د خدای دا رضا به نه یوازې د ښځې له پاره وي، بلکې د نر او ښځې دواړو له پاره به وي.

که یې د تیر کال د مارچ له اتمې نه را ونیسي بیا تر دې مارچ پورې او لکه د چا خبره تول او ترازو یې کړې، هغه نصیحتونه، عذرونه، توصیې، انتقادونه او... چې تیر کال په همدې ورځ شوي وو ، که له ښځو سره خپل چلن د هغو په آیینه کې وګورو، نه یوازې دا چې د افغان ښځې په عیني ژوندانه کې د ښېګڼې پر لوري بدلون نه دی راغلی، بلکې منفي اړخ یې غوړیدلی او چاق شوی دی.
د نړۍ په ټولو برخو کې د دنیا څه نا روا او ظلم چې دی، د افغان ښځو په برخه لیکل شوی دی. کیدای شي شل سلنه د میډیا دایرې ته رسیدلي وي او نور یا عمداً او یا د نا پوهۍ او بې خبرۍ له وجې او یا د ځان سانسورۍ له مخې د میډیا له ستوني نه وي را وتلي او د ښځو په حق کې په سل ګونو زره نا رواوې پټې پاتې وي. زه به یې یو وارې بیا څو بیلګې در په یاد کړم، ستاسو خوښه چې ملامتوئ مې او سلامتوئ مې:

ـ د پغمان ډله ایز جنسي تیری (بي بي سي)،

ـ پر پنځه کلنې نجلۍ جنسي تیری (بي بي سي)،

ـ پر خپلې لور باندې جنسي تيری (روهي)،

ـ جسد بی سر زن جوان از غرب کابل پيدا شد (ګران افغانستان)،

ـ دايکندي کې سړي د خپلې ښځې پزه پرې کړې (بي بي سي)،

ـ مردی در ولايت بغلان لب های خانمش را بريد (ګران افغانستان)،

ـ مردی در ولايت هرات ، همسرش را با بيل کشت (ګران افغانستان)،

او په سلګونو داسې نور بېلګې.

زموږ په هېواد کې چې له ښځو سره څه شوي او څه کېږي، هر څوک له خپلې کړکۍ ورته ګوري. څوک يې ملامتيا د ټولنې په وروسته پاتېوالي وراچوي او څوک يې د جګړې اور او باد ته سپاري، خو يو نمونه له يوه بل هېواد نه:

په لويديځ کې که يو نارينه يوې ښځې ته لاس ور واچوي، نو له سختې سزا سره مخامخيدای شي. د ۲۰۱۴ کال د اګست په اولسمه نېټه ميډيا د يوې پيښې رپوټ خپور کړ چې يوه پاکستاني يوې ښځې ته په لاس اچولو اوه کاله د زندان سزا ور په برخه شوه.

«د بريټانيا په ستوک انډ ترينټ ستفود شاير ښار کې يوې محکمې دا پاکستانی په دې خاطر په ۷ کاله کوټه قلفي بند محکوم کړ چې يوې نجلۍ ته يې لاس اچولی و.

د پاکستان د ګوجرات دغه ۳۱ کلن ځوان ته دومره سخته سزا په دې خاطر ورکړای شوه، چې ده د سږ کال په اپريل مياشت کې په يوه کلب کې د يوې شپاړس کلنې نجلۍ د ښکلولو او دوه ځلې هغې ته د لاس اچولو هڅه کړې وه.»

د ښځو د حقونو په ځای کيدل او مراعاتيدل، نه د ښځو وزارت په جوړولو کېږي او نه هم د کومې بلې چوکۍ په ورکولو. زه يې داسې انګېرم چې د ښځو د حقونو مراعاتېدل او احترام لومړی له يوه شخص نه پيل کېږي، بيا له کورنۍ نه او بيا همدغسې وړاندې تر ټولنې پورې.

تر څو چې موږ د ښځو پر وړاندې خپل فکري لوری بدل نه کړو او په ذهن او ضمير کې ښځه و نه پيژنو، نه د ښځې مقام پيژندلای شو او نه يې درناوی کولای شو.
د افغانستان په ټولنه کې پر ښځو باندې تيری، ناروا او ظلمونه په هيڅ ډول تورو او کلماتو نه شي بيانيدلای.

د ۲۰۱۶ ام کال مارچ اتمه:

## د مارچ اتمه او نیم میلیون کونډې

بیا د مارچ اتمه ده، د دوه زره شپاړسم (۲۰۱۶) کال د مارچ اتمه، بیا د ښځو په حق کې زړه سوی را پارېږي، ګوتې ښوري، قلمونه او کمپیوترونه کارېږي، خو د ښځو په باب څه ولیکل شي او د ښځو د درناوي په نامه د کاغذ یا کمپیوتر خو پاڼې توري کړای شي؛ خو ګټه یې چا ته څومره ده او په ځانګړي ډول ښځو ته څه ورکوي او...؟

دلته خبره یوازې پر افغانانو او افغان ښځو باندې را څرخي، نه په نورو خلکو او نورو ټولنو باندې. نن سبا زموږ پر ټولنه او خلکو باندې داسې حالت برلاسی شوی دی چې هر څه سر چپه شوي دي، بد په ښو او ښه به بدو اوښتي دي، تحصیل کړي او هوښیار وګړي یا تر پښو لاندې دي او یا شړل شوي دي او بې سوېې بې تحصیله او د ټیټې سوېې خلک په واک دي، شته من دي او د هر ډول صلاحیت لرونکي دي او دا خبره ډیر ښه د افغانانو په ژوند صدق کوي:

«ښه په بد را ته بـدل شول،
بد پر سر را ته انبار شول»

پر افغانانو باندې د همدې پاسني حالت د حاکمیدو پر بنا نوره دنیا کې ښځه د قدر وړ، خو زموږ په ټولنه او خلکو کې بې قدره او هغه څه چې باید ورسره وشي، نه یوازې نه کېږي، بلکې د هغه پر ضد عمل ورسره کېږي، د نازولو پر ځای سکونډل کېږي، چیچل کېږي او د قدر دانی پر ځای یې پزې، غوږونه او شونډې پرې کېږي، که پر هغو باندې هم د ځینو زړونه یخ نه شول، د ثواب ګټلو په نامه یې سنګساروي، له هغه نه وړاندې د جزا ورکولو یو بل ریزرف هم ورته لري، بیا یې نو د ملک د باچا، د ملک د وزیر او د ملک د ساتونکي (پولیس) د دفترونو په دوه سوه مترۍ، درې سوه مترۍ او پنځه سوه مترۍ کې، نر غونډې اول کوفته ورنه جوړې او بیا یې په نا کړې ګناه د اور لمبو ته سپاري.

د ښځو د حقونو غوښتونکو او خوا خوږو په تېـرو کلونو او تیرو مارچونو کې چې څومره د ښځو د ژوند د ښه کیدو او د حقونو د تر لاسه کولو له پاره چغې کړې او قلمونه یې چلولي دي، هر څه یې ویلي او لیکلي دي، ټول سر چپه شوي دي، څومره چې د ښځو د حقونو چغې وهل شوي دي، تر هغه زیات د ښځو حقونه تر پښو لاندې شوي دي، آن تر دې چې د انسان په سترګه لا نه ورته کتل کېږي او...

د پاسنیو دلایلو پر بنا باید د اعتراف په دود وویل شي چې: موږ د ښځو له پاره هیڅ هم نه دي کړي. د ښځو د حقونو د اِعادې چغې وهو، خو عملاً هېڅ هم نه کوو او حتی د هغه پر ضد عمل نه، عملونه کوو او همدا اوس هم دا کار او دا عمل روان دی.
په دا تیر یوه کال کې یې ښې بیلګې:

د فرخندې کباب شوی بدن او رټل شوې ارواح،

د سنګسار په نامه د رخشانې په تیږو ټوټې ټوټې بدن او مروره اروح،

د ریزه ګل غوڅه کړای شوې پزه،










او...
دا او دې ته ورته د زړه داغونه:

چې يې ويلای نه شم،

ډېرې خبرې مې په زړه،

څرګندولای نه شم

دا خو هغه بېلګې دي چې مېډيا تر خلکو پورې رسولې دي، په کلو، باندو او لرو پرتو سيمو کې به څومره فرخندې، څومره رخشانې او څومره ريزه ګلانې وي چې د غيرت، قبيلوي او مذهبي دودونو تر پردې لاندې يې غړونه ټپ کړای شوي دي، د هغوی سلګی، چغې او آهونه د هوا په څپو کې اوس هم د خدای دربار ته ور روان دي او...

د مارچ اتمه پر ځای پرېږدئ، دغو حالاتو ته په کتو سره څه باید وویل شي او څه باید ولیکل شي. آیا نړیواله ټولنه سترګې نه لري؟ نه یې ویني چې پر افغان میرمنو څه تېرېږي؟ نه یې ویني چې څه روان دي؟

د نړیوالي ټولنې ټولې هغه مرستې چې په افغانستان کې د دیمو کراسی او د ښځو د حقونو د پر ځای کولو په نامه شوي دي او کېږي، له هغو نه هغه چا استفاده کړې او کوي یې چې ټول عمر یې د ښځو حقونه تر پښو لاندې کړي دي او د دیموکراسی پرضد ولاړ دي.

فرخنده چا و وهله، چا وسوځوله او د ګور د تیارو میلمنه یې کړه؟ آیا د همدې خلکو په استازولی د حکومت د یو وزارت مرستیالې چې خپله هم ښځه وه د فرخندې د سوځولو عمل تایید نه کړ او... د فرخندې سوځونکي او د هغوی د عمل تاییدونکي اوس هم سرې سترګې ګرځي او واکداران د دیموګراسی او د ښځو د حقونو په نامه را روانو پیسو باندې مزې کوي.

**اوس به راشو د «نیم میلیون کونډو» کیسې ته:**

د ۲۰۱۵ کال د جون په در ویشتمه نیټه، بي بي سي پښتو او بي بي سي فارسي وېبپاڼو د کونډو د نړیوالي ورځې په مناسبت، دې ستونزو ته په پام سره د افغانستان د کونډو د شمیر او د هغوی د ستونزو په باب مطالب خپاره کړل، یو څو جملې یې دا دي:

«د کار او ټولنیزو چارو وزارت: د ۵ سوه زرو کونډو نومونه ثبت دي»
«د افغانستان د کار او ټولنیزو چارو وزارت سره پنځه لکه کونډې ښځې ثبت شوي دي.»

«به اساس آمار وزارت کار ۵۰۰ هزار بیوه در سراسر افغانستان وجود دارند که همه آنها تقریبا زیر خط فقر زندگی می کنند. دولت تنها ۳۰ درصد آنها را حمایت غیر مستقیم می کند. که آن هم کافی نیست و کار گسترده تر می‌طلبد.»

نیم میلیون کونډې، د افغانستان د یوې رسمي مرجع له لوري تایید شوی او خپور شوی رقم دی. دا ثبت شوی شمیر دی چې زما له پاره د منلو وړ نه دی.

د خپلې ټولنې رواني ستونزو، پخوانی قبیلوي چوکاټ او مذهبي قوانینو، ستونزو او د ټولنې او خلکو وروسته پاتېوالي ته په کتو سره ویلای شم چې دا شمیره به له دې هم څو ځلې ډېره ځکه وي چې ډېری کونډې لا د حکومتي او دولتي ادارو دروازه باندې هم نه دي ورننوتي او د هغوی د کورنی نارینه غړي (میره، کاکا، ماما، وررور، لیور، خُسر او...) سر کاري ځایونو ته د ښځو، په تیره بیا د کونډو میرمنو ورتګ، د ځان له پاره کسر شان، بې غیرتي او پیغور ګڼي او د همدغو پیغورونو؟ او غیرتونو؟ له کبله یې لا له کوره د باندې هم نه پرېږدي.

زه یې داسي انګېرم چې د دې ټولو نا خوالو په زغملو سره زموږ د ټولنې ښځې له تیرې نه هم کلکې دي چې ټول عمر دې نا خوالو او نا دودو ته ټینګې دي. له کوم نا وړه حالت سره چې زموږ په ټولنه کې میرمني مخامخ دي، که بر عکس نارینه ورسره مخ وای، نو څه به یې کړي وای. نارینه ځان ته د خلورو ښځو کولو حق ورکوي، خو ښځه حق نه لري چې له کوره هم و وزي، که یې چا ته پاس وکتل، د وژل کیدو تر بریده چلن ورسره کېږي. یو وخت مې چېرې د «لاییه یوسفزی» په نامه د یوې پښتنې پیغلې په یوه انټریو کې د سوال ځواب په لړ کې دا جمله تر سترګو شوه:

«که ښځو هم ناموسي وژني کولې یو نارینه به هم ژوندی نه وای پاتې»

د دې جملې یوه مانا دا ده چې که د ژوند ملګري سره د جنسي جفا سزا وژل وي ـ لکه نارینه ګان چې ښځې په دې تور وژني ـ نو ډیر نارینه به سر به نیست وای. او دا یو عیني واقعیت

دی چې زموږ په ټولنه کې نارینه د هر څه کولو توان او حق لري، خو ښځه باید د تنفس اجازه هم له نارینه نه وغواړي.

د ښځې مقام ته درناوی، د ښځو د ورځې په نامه، د مارچ اتمې ته درناوی او د دې ورځې له لمانځلو سره زه موافق یم او درناوی یې کوم، خو لکه ټل دا وایم چې موږ د کال له درې سوه پنځه شپیتو ورځو نه درې سوه څلور شپیته ورځې د ښځو او میرمنو بې احترامي کوو، ښکنځلې ورته کوو، حقونه نه یې تر پښو لاندې کوو، خو د کال په همدې یوه ورځ د مارچ د اتمې په نامه، بیا د ښځو د درناوي او د ښځو د حقونو په نامه دومره چیغې وهو، چې ستوني مو شکېږي.

که کومه ښځه داسې و وایې چې یوازې په دې یوه ورځ کې یو یا دوه ساعته احترام او توصیف او یوې نیمې ډالۍ نه مو تیر، د پلار مور ښکنځلې مه را ته کوئ، وهۍ ټکوئ مې مه، یعنې: (له خیر نه مو بیزار، سپي مو در وتړئ)؛ بیا به د نارینه وو ځواب څه وي؟ ښکاره خبره ده چې زموږ په ټولنه کې هماغه یو ځواب لري.

د ۲۰۱۸ ام کال مارچ اتمه لومړی مقاله:

# د مارچ اتمه او د ښځو ملامتیا

له بده شامته چې زموږ په ټولنه کې د ښځې دریځ او موقعیت په داسې ځای کې ولاړ دی چې، پر ښځو باندې د نورو ستونزو او فشارونو تر څنګ، تر ټولو لوی فشار دا دی چې په کورني ژوند، له کوره د باندې، په دفتري کارونو او... کې که هر ډول لویه یا وړه ستونزه رامنځ ته شي، د ملامتیا پیټی د ښځو پر اوږو وربارېږي. مثلاً که په کور کې یو ماشوم یا کوچنی کوم منفي څه وکړي، د ملامتیا لومړنې توري د ښځو پرخوا ور رغړي، لومړنی جمله یې ښځو ته ور حواله کېږي چې:

ـ دا ستا اولاد دی،

ـ دا ستا تربیه ده،

ـ دا ستا کارونه دي او...

دغسې یې په هر کار او هر کور کې درواخلئ حتی چې که اولاد هم د کورنی او نارینه په خوښه و نه زیږي یعنې که هلک نه وي، ملامتیا یې د ښځې د غاړې طوق ګڼل کېږي.

اوس چې د یوویشتمې پیړۍ د ۲۰۱۸ کال مارچ دی او په ډیرو ځایونو کې د مارچ د اتمې ډولونه غږول کیږي، که په ریښتیا ښځو ته درناوی کوئ، راځئ د دې هشت مارچ له لمانځلو

او رنګولو او د هر چا په مخکې د اېښودلو له معاملې نه تېر شئ، که مو مېندو، خويندو او مېرمنو ته درناوی کوئ، د هرې ملامتيا غاړکی، ښځو ته مه ور په غاړه کوئ.

د همدې پالیسی د ښه تطبيق له پاره به دوې بېلګې وړاندې کړم، که په همدې هم عمل وکړو او په خپل شخصي ژوند او له مېرمنو سره په چلند کې يې په نظر کې وساتو، ډېر درناوی به مو مېرمنو ته کړی وي:

محمود سعيد د۲۰۱۷ ام کال د نومبر په نه ويشتمه په خپله فيسبوک پاڼه کې داسې وليکل:

«د خپل وطن ښځې په وړو خبرو مه ملامتوئ!

د خپل وطن ښځې په وړو خبرو مه ملامتوئ؛ دوی مظلومې دي. دا چې نن په هغې او دغې ملنډې وهئ؛ يوه شېبه ځان د هغوی په دريځ کې تصور کړئ. زما باور دی که تاسي د هغوی پر ځای وای او په هغسې چاپېريال کې لوی شوي وای؛ ممکن اوس به د ميليونونو نورو په شان د کور يا ګور مېرمن وای. د زېږېدو له ورځې د نر او ښځې پر وړاندې زموږ د خلکو چلند وارزوئ.

د زوی په زېږېدنه د خوښی ډزې کوو، شيرنی وېشو، ختمونه کوو؛ سندرې وايو؛ زيري کوو؛ ډالی وېشو؛ د نامه اېښودلو جشن جوړوو خو د لور د زېږېدو په يادونه شرمېږو؛ تر څو اونيو بېنومه وي؛ بدبختي يې ګڼو او مور يې د خواښې او مېړه د غضب لايقه ګڼو. زوی له ماشومتوبه د کور واکدار، ميراثخور، او د کور د نجونو شپون ګڼو، خو لور د کور يا ګور ګڼو او ښوونځی ته تګ يې کفر ګڼو. هغه چې لږ نېکمرغه دي او ښوونځي ته د تګ چانس لري؛ په کوڅه او بازار کې يې لنډه‌غر په سترګو کې خوري؛ د تېښتونو، بدنامۍ او په بدو کې د ورکولو له کيسو به څه درته ووايم.

د منځنۍ ګذارې په کور کې غوړ خوراک د زوی وي؛ ښه ډالۍ د زوی وي؛ تر ټولو نازولی زوی وي. يوازې زوی وي چې د چکر وهلو، ملګرو راوستلو، جېبخرڅۍ، مبايل ګرځولو، کمپيوټر درلودلو او... حق لري. لونو ته ايله د مېړه په کور کې د چوپړ کولو لپاره پخلی ورزده کړي؛ جامې ومينځي او بوټونه رنګ کړي.

په داسې يوه ټولنه کې هره باسواده مېرمن اتله ده.»

دغه راز ښاغلي نعمان دوست د ۲۰۱۸ ام کال د فبرورۍ په شپږمه نېټه په خپله فيسبوک پاڼه کې يوې حياتي موضوع ته په اشارې سره، زموږ په ټولنه کې د ښځو دريځ او هغوی باندې د ملامتيا باروړلو موضوع ته داسې ليکلي دي:

«چين د جنسي غريزې د اشباع لپاره کومه وسيله جوړه کړې، ځينوا ځوانانو ورته په فيسبوک کې ښه په شوق کمپاين وکړ. ښه يې وکړل.

خو پوښتنه دا ده چې که چين د مصنوعي نجلۍ پر ځای، هلک جوړ کړی وای او کومې نجلۍ يې يوازې خبر خپور کړی وای، ايا چا به معاف کړې وه؟ بې حياء او فتنه ذات به يې نه وه ګڼلې؟ آن د کفر تر سرحده به يې نه وه رسولې؟ که وس يې رسيدلی وای، درنه سزا به يې نه وه ورکړې؟

دلته ولې (په خاصو او حساسو مواردو کې) جرم هغه نا مشروع عمل ته ويل کيږي چې يوازې د ښځينه جنس لخوا تر سره شي؟

تر هغې چې له نا مشروع عمل ښځه پرته د جنسیت له په پام کې نیولو، کرکه ونشي؛ نو پایله به یې د تخار پېښه وي. چې مشکوکه نجلۍ په عام منظر کې په بې رحمۍ ووهل شوه خو د مقابل جنس درک نه و. دا کیسې بار ـ بار تکرار شوي او تکراریږي به.

او بیا د فتنې ټیک به هم د ښځې پر ټنده همداسې زانګي.

خو،

اصلي خبره دا ده چې:

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبْنَ»

اوس نو دغو دوو مثالونو ته په کتو سره، له موږ سره ښایي چې په عملي ډول د ښځو له پاره یو څه وکړو.

زه خو وایم چې د افغانستان د ښځو له پاره تر ټولو ښه ورځ او ښه هشت مارچ به هغه وي چې:

ــ ملامتي یې نه کړو،

ــ وې نه وهو،

ــ د پلار مور ښکنځلې ورته ونه کړو،

ــ کله یې چې یوه مړۍ ډوډۍ درته کېښوده، ورته ووایاست چې خوندوره وه،

ــ او...



د ۲۰۱۸ ام کال مارچ اتمه، دویمه مقاله:

## فیمینیزم، زموږ ټولنه او د مارچ اتمه

**موږ سره ښايي چې خپل نيمايي بدن (ښځې) په خپله غوڅ نه کړو،**

**موږ باید د ښځو درناوی وکړو، د زدکړو او ښه ژوند زمینه**

**ورته برابره کړو، طبعي حقونه يې تر پښنو لاندې نه کړو،**

**دویمه درجه انسان يې ونه ګڼو او...**

**او په تشو خبرو سره د مارچ د**

**اتمې ورځې د لمانځلو پر ځای،**

**عملاً داسې څه وکړو چې**

**ښځه د ټولنې له خوا،**

**له بل کړای شوي**

**اور نه را وباسو.**

(آصف بهاند)

زموږ په هیواد کې د ښځو پلوي کول او یا د ښځو له حقونو څخه د دفاع په سنګر کې درېدل، یو وخت ګناه ګڼل کېده. اوس هم د فیمینیزم (هغه لار او هغه نهضت چې د ښځو او نارینه وو د حقونو برابري غواړي) د کلمې په اورېدو سره، ښايي د ځینو په فکر د کفر دایرې ته شاملیدل وانګیرل شي.

ټولنه دومره وروسته پاتې ده چې د «ایزم» کلمه اوس هم کله نا کله له کفر سره مساوي ګڼل کیږي. د یوه مشر فرهنګي د خولې خبره ده چې ما ته يې مخامخ کړې ده، هغه وفرمایل:

«هیله را نه وشوه چې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په ماستري پروګرام کې د «ادبي مکتبونه» په نامه یو مضمون تدریس کړم. په لومړی ورځ چې ټولګي ته ورغلم، له پیژندګلوی نه وروسته مې د کورس د شاملینو د مطالعې د کچې، د پوهېدو د څرنګوالي او د سویې د مالومولو په غرض څو پوښتنې له دوی نه وکړې. یو زلمی مې و پوښت:

تاسو د «ایزم» په مانا څنګه پوهېږئ؟

هغه په ځواب کې راته وویل:

استاده دا خو ډېره ساده پوښتنه ده، ځواب یې دی:

«ایزم» یعني کفر، هغه څوک چې اسلام نه مني لکه مارکسیزم، لیننیزم او...»

چې په یوه ټولنه کې د لوړو زکړو زدکړیال چې د لیسانس په کچه یې زدکړې کړی وي، د ماستري ډګري په تر لاسه کولو پسي راوتلی وي او داسي سویه او فکر ولري، نو له هغو خلکو نه یې څه ګیله ده چې نه یې ښونځی لیدلی وي او نه سواد ولري؟

اوس که سړی د مارچ د اتمي په پار دې ټیپ خلکو سره د ښځو پر حقونو غږېږي او د فیمینیزم نهضت ورسره مطرح کړي، هغه به څه وایي؟

سره له دې چې نن سبا په ټولنه کې د څلورم ځواک (میډیا) پر مټ دومره کار شوی دی چې پرته له ډاره، په ازاده فضا کې د فیمینیزم په باب بحثونه کېږي. پوښتني مطرح کیږي او ځوابونه ورته ویل کېږي، خو د دې بحثونو له راپورونو هم ښکاري چې لا د زکړي (تحصیل کړي) قشر عکس العمل په ځای او سم نه دی. دا یې یوه بیلګه ده چې په همدې لنډو ورځو کې پېښه شوې ده:«

«فیمینیسم»؛ استاد هوسا او «انسان» مجله:

تېره پنجشنبه، استاد امان الله هوسا، په روشنګرۍ کې، پر «فیمینیسم» لکچر ورانديې کړ؛ نن د انسان مجلې پنځمه ګڼه چاپ شوه چې غونده «ښځې» یا هم ویلای شو «فیمینیسم» ته ځانګړې شوې ده.

کله چې په روشنګرۍ کې، پر فیمینیسم د بحث خبرتیا خپره شوه نو د کوڅې و بازار فیسبوکوال خو پرېږده، د لیسانس او ماسترۍ تر کچې اکاډمیک کادرونه، د پوهنتون استادان او مشهور لیکوالان یې، د ګاټه ښکنځلو تر بریده، عکس العمل ته را وپارول؛ زه هک - پک وم چې د دوی د سوء تفاهم د لرې کولو او د دغه انساني مفهوم د توضیح لپاره، په څنګه لهجه او کوم میتود وضاحت ورکړم، ځکه زموږ دا عادت دی چې خپله خبره مو وکړه بیا په مشکله د هغې نقد یا مخالف نظر ته غوږ نیسو؛ که مو د چا د نظر په وړاندې، نظر څرګند کړ نو مسئله، د حل پر ځای، نوره هم را څخه پیچل کیږي؛ دا چې دلته چا «فیمینیسم» نه پېژاند او پر هغه یې زموږ بحث له ملي خیانت، آن کفر سره مترادف ګڼلو نو له ډېرې هېښتیا چوپ پاته شوم، ځکه پوهېدم چې کله یې پر دغه مفهوم مازې د بحث اجازه نه راکوله نو د هغه د توضیح خو یې ښخي نه را کوله؛ بل سوال راته دا وو چې د سوچه ښکنځلو جواب سړی څنګه ور کولای شي؟»

دلته به زه د مارچ د اتمي د درناوي په پار د خپل یو دوست له پاڼي نه همداسي یو سوال ځواب را واخلم:

«ګڼو ښځپالو (فیمینیستو) پوښتلي، چې څنګه کړای شو، په افغاني ټولنه کې د ښځو په اړه د دوهمه درجه انسان فکر او دود بدل کړو؟

لومړی، په افغانستان کې یوازې ښځې نه، بلکې هر بې ټوپکه او بې پیسو انسان دوهمه درجه موجود ګڼل کیږي. دلته باید کار له انسانپالنې ( عقلاني هیومانیزم) څخه راپیل شي او هغه داسې، چې د محرومیت ځپلي افغان انسان د خیټې او انساني ژوند د شرایطو غم وخورو.

دوهم، د ښځو ټولنیز، فرهنګي او سیاسي دریځ تر هغو نه شو بدلولای، چې هغوی په نس مړې، په تن پټې، د کار و زده کړو خاوندانې نه شي. د تمدن تاریخ ښیي، چې په بشري ټولنه کې د ښځو ونډه هغه مهال زیاته شوې ده، چې دوی په تولید کې د ونډې څښتنې شوې دي. په افغانستان کې تولید په نشت شمار دی او د ښځو ونډه خو بیخي ترنشته هم ورهاخوا ده.

درېیم، د ښځو په اړه فرهنګي لیدلود یوازې په رسنیو او رسمي ستېژونو کې نه شو بدلولای، تر هغو چې یې په زړونو او ذهنونو کې بدل نه کړو. موږ د ځلوېښت کلنې جګړې په اوږدو کې ګڼ انساني ارزښتونه او له هغو څخه عاطفه بایللې، تر څو اخلاقي، انساني او فرهنګي ارزښتونه بیا ونه مومو یا یې ونه رغوو، د ښځو، بلکې د (انسان) په اړه مو شته ناانساني تفکر او تصور نه شي بدلیدلای.

له معنوي پلوه ټولنه له تاداوه ویجاړه ده، تر ښځمنو یا نرینه وو وړاندې (انسان) وژغورئ، خپلو حقونو ته د ښځو د رسېدلو ضمانت زه درکوم.»

زما د فرهنګي دوست په پاسنی لیکنه کې زموږ په ټولنه کې د ښځو دریځ، ستونزې او د حللارې په لنډه توګه توضیح شوې دي، که وکولای شو چې په نسبي ډول یې تطبیق کړو ډیره به ښه وي چې د ښه والي په لور مو یو ګام اوچت کړی وي؛ خو موږ په ټولنه کې په تیره د ښځو د ژوندانه په برخه کې بیشمیره ستونزې لرو او لیدل کېږي چې په دې اور کې تر ټولو لومړی ښځه سوزي.

په همدې لنډو ورځو کې د بي بي سي له لوري په یوه خپره شوې مقاله کې په زغرده ویل شوي دي چې: افغانستان د میندو له پاره د نړۍ تر ټولو نا وړه او بد هیواد دی. هلته ویل شوي دي:

**«افغانستان از بدترین کشورها برای مادران در جهان است. آمار مرگ و میر مادران هنگام زایمان در این کشور از هر ۱۰۰ هزار زن به ۸۰۰ تا ۱۲۰۰ نفر می‌رسد...»**

اوس چې دومره ستونزې او جنجالونه لرو، موږ باید څه وکړو؟

موږ سره ښایي چې خپل نیمایي بدن (ښځې) په خپله غوځ نه کړو، موږ باید د ښځو درناوی وکړو، د زدکړو او ښه ژوند زمینه ورته برابره کړو، طبعي حقونه یې تر پښو لاندې نه کړو، دویمه درجه انسان یې ونه ګڼو او...

او په تښو خبرو سره د مارچ د اتمې ورځې د لمانځلو پر ځای، عملاً داسې څه وکړو چې ښځه د ټولنې له خوا، له بل کړای شوي اور نه را وباسو.



د ۲۰۱۸ ام کال مارچ اتمه، دریمه مقاله:

# «ښځه یا په کور یا په ګور»

## د ښځو له پاره تر ټولو خطرناک شعار

دا یوه جمله یا لنډ شعار «ښځه یا په کور یا په ګور» کیدای شي تر یوه مسلح لښکر نه هم خطر ناک وي، ځکه چې دې شعار پرته له مصرف نه په میلونونو خلک او لا ټول وطن د تباهی کندي ته ورپورې وهلی دی. کله چې د «ښځه یا په کور یا په ګور» د شعار په دایره کې مور بیسواده وي:

ـ خپل ماشوم،

ـ خپل کوچني،

ـ خپلي کورنی،

ـ او...

ته به څنګه پام وکړي، د خپل هیواد راتلونکی نسل به په کومه روحیه رالویوي او څنګه به یې روزي؟




له بده شامته زموږ په ټولنه کې ډېر منفي دود دستور موجود دی چې له ډېرې مودې راپه دیخوا د خلکو په عیني ژوندانه باندې حاکم دی او تقریباً د یوه غیرمدون قانون حیثیت لري چې یو په کې د «ښځه یا په کور یا په ګور» شعار دی.

«ښځه یا په کور یا په ګور» د ډېره سلنه افغانانو په عملي ژوند باندې یو حاکم ذهنیت دی، په تیره پر پښتنو کورنیو او پښتني سیمو باندې، دا ذهنیت داسې حاکم شویدی چې دا شعار کله، کله د زدکړو او با سواده اشخاصو له ژبې نه هم اوریدل کېږي.

کله چې په افغانستان کې د ټوپکیانو اوسپنیزه شپیلۍ سُر شوه، د «ښځه یا په کور یا په ګور» شعار ته عملي جامه ورواغوستل شوه. د دې شعار پلویانو او ټوپکي پتنګانو، په هر نامه چې وسله پر اوږه اړولې وه، د نورو منفي کارونو او ناخوالو تر څنګه یې د «ښځه یا په کور یا په ګور» شعار د خپلې ټوپکي پالیسی نه جلا کیدونکې برخه ګرځولې وه او د دې شعار تطبیقول یې ثواب ګڼل.

اوس که د ځلوېښت کلنې جګړې په موده کې د «ښځه یا په کور یا په ګور» د شعار په سیوري کې د هغو نجونو او میرمنو شمېر چې له کوره د وتلو اجازه نه ده ورکړل شوې او بیسواده پاتې دي، وسنجول شي، څومره به وي؟

کیدای شي په اټکلي ډول وویل شي چې:

د همدې ثواب ګڼلو په دایره کې زموږ د هېواد په لکونو او میلونونو نجونې او ښځې د سواد او زدکړو له نعمت څخه بې برخې پاتې شوې دي.

یو شاعر او قلموال دوست په خپله فیسبوکپاڼه کې څو ورځې مخکې د همدې شعار اړوند یادونه کړې وه او د خپلې لنډې لیکنې په وروستیو جملو کې یې په طنز ډوله کلماتو لیکلي وو چې د همدې شعار رامنځ ته کونکو او تطبیق کونکي اوس د خپل شعار پر خلاف له ښځو سره په چلن کې ټول هغه څه کوي چې پخوا یې کبیره ګناه ګڼله او اوس د مبارکې دیموکراسی؟ په دایره کې ښایي ثواب ورته ښکاره شي.

دا هم د عبدالهادي هادي لنډ مطلب چې د ۲۰۱۸ ام کال د فبرورۍ په اته ویشتمه نېټه یې په خپله فیسبوک پاڼه کې لیکلی و:

«مولانا قیام الدین کشاف، غیرت بهیر او انجنیر امین غتې جهادي ګرګې دي. دوی کلونه کلونه د ښځه په کور یا په ګور نارې وهلې، په تیرو ځلوېښتو کلونو کې د ډېرو کورنیو جنګې د دوی او د دوی د ډلو د فتواوو او تهدیدونو له کبله بېسواده پاتې شوي، د دوی او د دوی د ډلو تر کنترول لاندې سیمو کې د جنګو د ښوونځیو پیلول له کفر سره مترادف وو او که چا دا شوق کړی وای نو په پڅه چاړه یې حلالول .دوی د ښځو غږ، د ښځو د بوټونو د ټکا اورېدل، د ښځو لوڅ مخ او په ټولنه کې فعال حضور کفر ګاڼه.

خو نن، او نن الحمدالله دوی تر دې کچې را رسیدلي چې ښځو ته لاس ورکوي، څنګ کې یې کینوي، حضور یې مني، خبره یې اوري او له ښځو پرته غونډې نیمګړې بولي.

موږ په تیرو پنځلسو کلونو کې دغومره مزل کړیدی، موږ دغومره پرمختګ کړی او موږ دغومره تغیر منلی دی!!!

همدې ته د نن او پرون توپیر وایي، همدې ته تحول او پرمختګ وایي!

بالاخره موږ دا ومنله چې ټولنیز پرمختګ او تغیر د ښځو له فعال حضور نه پرته ناممکن دی. هغوی چې وایي په تیرو کلونو کې هیڅ هم نه دي شوي، نو د دې ستر تحول نه به څنګه سترګې پټوي؟»

له ښځو سره په چلن کې د «ښځه یا په کور یا په ګور» د پالیسی د پیروانو بدلون کیدای شي چې د بي بي دیموکراسي؟ د توري لمنې تر پردې لاندې د مقام یا شنو کاغذونو د تر لاسه کولو

په خاطر وي، که داسي نه وي ، نو تاسو کولای شئ یو ځل د دوی شخصي ژوند مطالعه کړئ او په سترګو یي عملاً ووینئ چي له میرمنو سره د دوی او د «ښځه یا په کور یا په ګور» شعار د نورو پیروانو برخورد څنګه دی.

د «ښځه یا په کور یا په ګور» د شعار تاثیرات دومره قوي وو او اوس هم دي چي د ټوپکي ډلو مشران اوس هم د ښځو د ازادی او دیموکراسی په نامه د بهرنیانو ډالرو ته بوجی نیولي دي، خو په عمل کي د ښځو آزادی ته د فحشا خطاب کوي.

**دا یوه جمله یا لنډ شعار «ښځه یا په کور یا په ګور» کیدای شي تر یوه مسلح لښکر نه هم خطر ناک وي، ځکه چي دې شعار پرته له مصرف نه په میلونونو خلک او لا ټول وطن د تباهی کندې ته ورپورې وهلی دی. کله چي د «ښځه یا په کور یا په ګور» د شعار په دایره کي مور بیسواده وي:**

**ـ خپل ماشوم،**

**ـ خپل کوچني،**

**ـ خپلي کورنی،**

**ـ او...**

**ته به څنګه پام وکړي، د خپل هیواد راتلونکی نسل به په کومه روحیه رالویوي او څنګه به یي روزي؟**

د دغو دلایلو له مخي په زغرده ویلای شو چي د «ښځه یا په کور یا په ګور» شعار، ټولو خلکو او ټولني له پاره خطرناکه شعار دی، په تیره د ښځو له پاره تر ټولو خطرناک او تباه کونکی شعار دی.



## د ۲۰۱۹ ام کال مارچ اتمه، لومړی مقاله:

# سږنی د مارچ اتمه

# (۲۰۱۹)

**کـلـه غوټـه کړي ترې پوزه، کله سر**
**کـلـه سترګه، کـلـه خولـه، کـلـه نـظر**

**آیا تاسو د فرخندې د نازک بدن سوځېدو لمبې او شپېبې هیرولای شئ؟**

ښايي ځینو ته به درواغجن ښکاره شم چې ما د دې مقالې او یاداشتونو په لیکلو، تولولو او سره برابرولو باندې یو کال وخت لګولی وي.

ما خو نه غوښتل چې سږ د مارچ د اتمې، د ښځو د نړیوالې ورځې په باب څه ولیکم، له میډیا څخه د ښځو د ډېر بد او لا بد حالت په باب مې په تېر یوه کال کې یو څو دردونکي ـ سوځونکي او اور لګونکي سرلیکونه، شعرونه، ځیني جملې او پروګرافونه را اخیستي دي چې په تېر یوه کال کې زموږ په ټولنه کې د ښځو د حالت ځرنګوالی بیانوي.

دلته یې یو څو بېلګې وړاندې کوم، نور تاسو پوه شه او تحلیل، پوهیدنه او اخیستنه مو:

**کـلـه غوټـه کړي ترې پوزه، کله سر**
**کـلـه سترګه، کـلـه خولـه، کـلـه نـظر**

**کـلـه لـوټـه یې په تـیـږو بـاندې وژني**
**کـلـه و شـیـنـدي تـیـزاب یـې پـــه بـشـر**

**کـلـه خاورو کـې یې خښه کړي ژوندۍ**
**کـلـه ولـي یـې بـې هـېـڅ څـه بـرېـټـور**

**"ړنـګـه"! ړنـګـه کـيـسه د افـغان ښـځې**
**یــاده بـــده ده پـــه کـــور او پـــه ممبر**

(سلیم ړنـګ)

**«له زندانه خوشې کېدونکې کندهارۍ بندیانې 'ځای نه لري'»**
بي بي سي

«تاند - په کندهار کې د بشري حقونو فعالان وايي، په دې ولایت کې يو شمېر ښځې بنديانې د محکومیت د دورې له پای ته رسېدو وروسته نه غواړي چې له محبسه ووځي.

دوی وايي چې دا ښځې د دې لپاره له محبس څخه وتل نه غواړي چې د اوسېدو لپاره سرپناه نه لري.»



دا څومره دردونکي ده چې د ټولنې اکثريت نارينه له جنسي پلوه لکه لېوان داسي وي، ښځه چې له زندانه خوشې شي، کورنۍ، ځای، سرپناه او آدرس ونه لري. که مو داسي ښځه خپله خور، لور، مور... وي، څنګه به وي.

د مارچ اتمه، زما د وطن د ښځو حال، له زندان څخه نه وزي چې د ورتګ پته او ځای نه لري او د نوري نړۍ ښځې:

**«چهار زنی که چهره فیزیک را عوض کردند»**
(بي بی سی)

**«په بدخشان کې له يوې ښځې سر پرې شوی'»**

«... وسله والو مخالفينو شاوخوا د شپې دولس بجې د دې ښځې کور ته تللي او د هغې سر يې پرې کړی.»
بي بي سي

مدينه هادي خپل غږ داسي جګوي:

**«زن ها را از رقصیدن منع کردند**

**از آواز خواندن**

**از عاشقی کردن**

**بوسیدن**

**خندیدن**

**زن ها در پیله های خود فرو رفتند**

**و از تنهایی بسیار**

**شاعر شدند**

**و در شعرهایشان**

**وحشیانه رقصیدند**

**آواز خواندند**

**عشق ورزیدند**

**بوسیدند**

**اما خنده نه!!**

**فقط گریستند...**

**(؟؟؟)»**

madina hadi

محمد یار یار په خپلو دوو پوستونو کې خپل غږ داسي جګ کړی دی:«

**زموږ ښځه او زموږ خره:**

دا د ځینو روښنفکرانو مطلق درواغ او په مایلونو له حقیقت څخه لرې ادعا ده چې موږ خپلې ښځې د خرو او غواوو په څېر خرڅوو، بلکې د خور یا لور او حیواناتو د خرڅلاو تر منځ مو ځمکه و آسمان فرق دی، داسې چې:

موږ غوا، خره، بزه، مېږه، چرګه یا بل ژوی، اول ډېر ښه ساتو چې ښه تکړه و ښه ښایسته تیار شي، بیا یې په زښت احتیاط سره ګنج ته بیایو چې پر لاړ کومه صدمه ور و نه رسیږي او د خریدارانو سترګه ښه سمه ورته را واوړي او بیا پر بله ځنې وا نه وړي؛ موږ هله ډېر خوښ یو چې د خومره ډېرو نندارچیانو توجه را جلب کړو؛ خو تورسرې؟

لور یا خور مو بیا په ځان نه وي خبره، چا یې پلو هم نه وي لیدلی چې سرپرستانو یې په بازار کې سودا کړې وي.

اوس نو تاسو و انصاف! دا بېخي لوی توپیر نه دی؟

**زموږ ښځه او زموږ منطق:**

موږ ډېر غیرتمن یو؛ موږ نه شرق منو، نه غرب؛ موږ هر هغه کار کوو چې د نورې دنیا پر ضد وي او په دې توګه دنیا ته درنې ضربې ور کوو، مثلاً:

کله چې نوره نړی د ښځو د حقونو خبره کوي نو موږ یې پر ضد، د خپلو ښځو حقونه پایمالوو.

کله چې غرب ښځو ته د احترام ږغ پورته کوي نو موږ یې په مقابل کې، تر آخر حده، خپله ښځه سپکوو.

کله چې متمدنه دنیا د نر او ښځې د مساوات شعار ور کوي نو موږ ور سره د سخت حساسیت له امله، له نر سره برابرې خو څه کوې، آن ځپله ښځه د ځمکې په غېږه ور ولو او د خاورې خمیروو یې.

کله چې جهان ښځې ته تعلیم ضروري ګڼي نو موږ باید خپله ښځه د جهل په تر ګردو ګاټه تورتم کې ډوبه کړو.

او دا ډول منطق مو بیا هله، په دې ادعا سره اوج ته رسېږي چې د اسلام مبارک دین خو ښځو ته ټول حقوق ور کړي؛ اوس سوال دا دی چې ایا زموږ د ښځو روان وضعیت، د هغو حقونو څرګندوی دی چې اسلام ور کړي، که نه، لا نه دي ور کړه شوي او تر دې وروسته یې باید زموږ د مبارک دین مطابق ور کړو؟»



**د ښځو نړیواله ورځ دې بختوره وي؟**

## د ۲۰۱۹ ام کال مارچ اتمه، دویمه مقاله:

# ښه ښځه؟

### د مارچ اتمه

اوس د یویشتمي پېړۍ د ۲۰۱۹ ام کال د مارچ د اتمي تیتې په درشل کې یو، یعنې د علم او تکنالوژۍ د تر ټولو وروستۍ لاسته راوړنو په تر لاسه شوي فصل کې ژوند کوو او دا د بشریت د میلیونونو کلونو د تجاربو د لویې زیرمي په پایله کې، دا لاسته راوړنې تر لاسه شوې دي.

خو زموږ ټولنه او زموږ د خلکو ډېره سلنه له فکري پلوه په سلګونو کلونو پخوا زمانو کې ژوند کوي او خپل ژوند، کړه وړه، د هغې زماني د قوانینو په چوکاټ کې ترسره کوي. له هغې ډلې نه ښځه او له ښځو سره د چلن مسأله. اوس هم دا ډله خلک ښځې ته د مریې او مینځې په سترګو ګوري او لکه د یو علام په څیر یې کاروي.

خو نوی نسل له ډېرو نیمګړتیاوو سره ـ سره دې مسایلو ته په انتقادي نظر کتلي دي او تل یې په یوه بڼه د نقد په تله کې اچولي دي.

په همدې موضوع پورې اړوند مې په فیسبوک کې یوه طنز ډوله لیکنه له نظره تېره شوه چې کټ مټ زما د بحث موضوع یې د انتقادي طنز په قالب کې انځور کړې ده.

دا طنز ډوله لیکنه ډېره سلنه په افغانستان کې، په تېره پښتني کورنیو کې دود او حاکم قانون دی چې ښځه دې د کور ټول کارونه تر سره کوي ، خو د سپین په اندازه د څه ویلو حق نه لري. زه یې همداسي د پښتني ټولنې یو ترخه واقعیت په توګه د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت را اخلم او له تاسو درنو لوستونکو سره یې شریکوم:

«ښه ښځه (!) پهٔ پښتني ټولنه کې

ښځه دې د کور پهٔ څلورو دیوالونو کې بنده وي، درسته ورځ دې د ماشین غوندې کار کوي، شکایت دې نهٔ کوي، د خپل خاوند دې داسې خدمت کوي لکه غلام چې د خپل بادار اطاعت کوي، عصري زده کړې دې نه کوي چې افکار یې خرابیږي، په خوراک، څښاک او لباس کې دې د خاوند خوښې او نهٔ خوښې ته پهٔ پام وکړي، د خاوند له اجازې پرته دې د دوستانو په غم، وادونو، اخترونو، څلویښتې او کلیزو کې دې برخه نه اخلي، په لوړ غږ دې نه خاندي، که د خاوند یې خوښه نه وه، ان نفلي عبادت هم نه شي کولای، خاوند حق لري چې ښځې ته سپک او بد رد ووایي، ختی چې وهلی یې شي، خو ښځه دې د مېړه په وړاندې د لوړې خبرې خیال

ام په فکر کې نه راوړي، که د خاوند يې لۀ ښځې سره تريخ چلند کاوه، هغه دې پرې صبر وکړي، ځکه پۀ دې سره يې زيات اجرونه پۀ برخه کيږي، ښځه حق نه لري، چې له خپل خاوند څخه د هغه د معاش او مصرف پوښتنه وکړي، ښځه نشي کولای چې پۀ کورنۍ کې د کورنيو ستونزو او مسالو پۀ اړه پريکړه وکړي، ښځه دې پۀ هر حالت کې د خاوند د خوشالۍ خيال وساتي، د ده پۀ درد او خپګان دې ځان پوه کړي، پروا نۀ کوي، چې د هغې احساسات، عواطف او ارمانونه خاورې کيږي يا نۀ، او لنډه دا، چې ښځې دنده د ډوډۍ پخول، د جامو ګنډل، اوتو کول، لوښي مينځل، د ماشومانو زيږول او پالل، د خواښې او خسر حکمونه منل، د هغوی خواړه او درمل پۀ وخت برابرول، د ليورنو ستمونه او پيغورنه منل او ...»



## د ۲۰۲۰ ام کال مارچ اتمه، لومړۍ مقاله:

# د بریالیو ښځو یوه غوره بېلګه

## ظریفه غفار



بیا د مارچ اتمه را نږدې ده او د دې ورځې د موافقینو او مخالفینو له لوري به نظریات وړاندې کېږي او په منځ کې به بیا افغان مېړمنې ګوته په غاښ ولاړې وي او د ککرې په ګومبزه کې به یې دا جملې ښکته پورته کېږي:

«له خیره مو تېر، سپي مو در وتړئ!»

د مارچ د اتمې تر لمانځلو موږ در تېرې یو، موږ مه ښکنځئ او زموږ ډېر لومړني حقونه مراعات کړئ، موږ ته حد اقل د انسان په سترګه وګورې!»

د تېر کال (۲۰۱۹) د مارچ له اتمې نه بیا د سږ (۲۰۲۰) د مارچ تر اتمې پورې زماني واټن ته که ځغلنده نظر وشي، لیدل کېږي چې زموږ په ټولنه کې د ښځو په ژوند کې لږ مثبت او ډېرمنفي مسایل پېښ شوي دي، له لوړو ژورو تېرې شوې، سرې تودې پرې راغلي، له ناکامیو سره لاس ګرېوان شوې دي، خو بریاوې هم ور په برخه شوې دي او په دې لړ کې افغان مېرمنو او د هغوي د حقونو د احقاق پلوي نارینوو په خپل ټول توان سره، د ښځو د انساني کرامت پر ځای کولو او د هغوي د حقونو د ترلاسه کولو له پاره مبارزه کړې ده. د دې مبارزو پایلې کله هیله ښونکې او کله هم داسې تیاره وې چې لکه توره شپه چې د رڼا له پاره یوه ډېوه هم نه وي.

هر کال چې د مارچ اتمه را نږدې شي، زه د دې ورځې او د ښځو د درناوي په پار خپل یادداشتونه، راټول کړي مواد او ورسره خپل برداشتونه او نظریات د څو مقالو په ترڅ کې خپروم. د سږ کال لومړنی مقاله مې د مېرمنو په بریا باندې پیل کوم:

**بریالۍ مېرمنې:**

موږ په خپله ټولنه کې له ستونزو سره مخ ښځې ډېرې لرو، خو بریالۍ بېلګې هم لرو چې لا په نړیواله کچه د ستاینې او د نورو له پاره د یادونې او بېلګې په ډول د ورپېژندلو وړ دي. همداسې مېرمنې باید د نورو د تشویق له پاره، هر کله معرفي کړای شي چې یوه په کې ظریفه غفار ده.

بریالۍ مېرمنې زما له نظره هغه مېرمنې دي چې زموږ د ټولنې له ټولو قیوداتو سره ـ سره په تورو تیارو کې یې د خپلې مبارزې ډېوه بله ساتلې او د هغې ډېوې په رڼا کې د خپل سر منزل پر لور رواني وي. داسې مېرمنې به ډېرې وي، خو په هغو کې ما ته دا نومونه ډېر ځلېدونکي او رانه دي:

**ثنا ساپی،**

**مریم امرخیل،**

**نجیبه لیمه،**

**ظریفه غفار.**

ما پخوا د ثنا ساپی، نجیبه لیمه او مریم امر خېلې پر ژوند، مبارزو او بریالیو کارنامو څو مقالې لیکلې او خپرې کړې مې دي.

ظریفه غفار بله هغه بریالۍ مېرمن ده چې نوم یې د سلو بریالیو مېرمنو په لست کې راغی. دا هغه بریالۍ مېرمن ده چې د کارونو په یادولو سره یې نورو مېرمنو ته دا پیام رسېدای شي چې ظریفه غفار په هر ډول شرایطو کې کار او مبارزه کړې ده. تر ټولو ستره مبارزه یې دا وه زدکړې یې تر لوړې کچې پورې وکړې، دنده یې پیدا کړه او په ښځتوب سره د هغو نارینوو په مقابل کې ودرېده چې یوه بریالۍ ماموره او یوه بریالۍ ښارواله یې خپل کارته او خپل دفتر ته نه پرېښوده چې ته ښځه یې او...

خو دا په وسپنیز هوډ او ټینګاره سره څو پرلپسې میاشتې د هغو په مقابل کې ودرېده، تر څو یې خپل حق تر لاسه کړ، خپل دفتر ته ننوته، په زړورتیا سره یې خپل کار پیل کړ او په ټینګ عزم سره یې دا ثابته کړه چې یوه ښځه د نارینوو له یوې لویې ډلې سره څنګه مبارزه کولای شي.

کله چې ظریفه غفار وروسته تر ډېرو ستونزو او مخالفتونو خپل کار د میدان ښار د ښاروالۍ په توګه پیل کړ، دا د خبرونو سرخط شوه او میډیا په لرې او نږدې ځایونو کې ډېر څه ولیکل چې څو بېلګې یې دا دي:

– بي بي سي: ظريفه غفاري؛ د بي بي سي د ۱۰۰ پياوړو ښځو په لېست کې،

– بی بی سی: صد زن بی بی سي؛ ظريفه غفاری، شهرداری در 'ميدان' خشم و خطر،

– تاند: د ميدان وردګو ښاروالې د نړۍ ۵۰ بانفوذه ښځو لېست کې راغله،

– بی بی سی: ظريفه غفاری؛ اداره یک شهر در سایه نگاه مردسالارانه،

– بي بي سي: د ميدان ښار ښاروالې پر خپل کار او ستونزو غږېدلې.

دا د ظريفه غفار زدکړې او مبارزه وه چې دې د ښاروالۍ پوست خپل کړ، که نه په دې ټولنه کې ښځه او دا ځوکۍ؟؟؟

د همدې مقالې د ليکلو په شيبو کې د ظريفه غفار د بلې برېا په باب بي بي سي يو رپوټ خپور کړ چې:

«د ميدان ښار ښاروالې ظريفه غفار د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د سږکال زړورو ښځو جايزې ګټونکې اعلان شوې ده.»

که موږ د ظريفې ژوند، زدکړو له کار او وطن او خلکو سره د مينې کچې ته وګورو، پر دې باوري کېږو چې ښځې ناقص العقلې نه، بلکې د پوره عقل او استعداد خاوندانې دي چې که د زدکړو زمينه ورته برابره شي او د يو عادي انسان د حقونو په دايره کې خپل حق ورکړل شي؛ نو داسې څه کولای شي لکه ظريفې چې وکړل او اوس هم په هماغه متانت کار کوي او مخ په بره روانه ده.

ظريفه غفار او کړې کارونه او مبارزه يې د نورو ښځينوو له پاره الهام ښونکې دي، ځکه د بي بي سي د سلو پياوړو ښځو په لست کې يې نوم راوړل شوی دی. د ظريفې همدې مثبتو کارونو، نورې مېړمنې او نجونې د زدکړو له پاره هڅولې دي او له ستونزو سره د مبارزې لار يې ورته ښودلې ده.

**د ښځو نړيواله ورځ دې مبارک وي!**

## د مارچ اتمه د ۲۰۲۰ کال دویمه مقاله

# له ښځو سره د جنسي تېري تاوتریخوالی

د ښځو د حقونو یو پلوي، په افغانستان غونډې ټولنه کې د ښځو د ځایځایګي یا موقف په باب ډېر ښه ویلي دي:

«په دې هېـواد کې تر ټولو سخته دنده ښځینتوب دی. له چم ګاونډ نیولې بیا تر بازار او دفتر پورې به د هر سړي سپُی سترګې درپسې وي، ښار نده سمه د لېوانو دره ده...»

استاد محمد تنها




په افغانستان کې د ښځو د ستونزو په فهرست کې یوه تر ټولو مهمه او خطرناکه ستونزه، پر نجونو او مېرمنو باندې جنسي تیری دی. له کلونو را په دېخوا بیلابیل خلک، قلموال، ګنشمیر

سازمانونه او د ښځو د حقونو پلویان، د دي ستري ستونزو د ناوړو پایلو د تشریح تر څنګه، دي ستونزي ته حلاری پیدا کړي او مسؤلو اشخاصو او مراجعو ته يې وړاندي کړي دي، خو نه یوازې چا نه اورېدلي او نه يې عملي کړي دي؛ بلکې کله داسي هم شوي دي چې قانون تطبیقونکو او خلکو ساتونکو هم پر ښځو چنسي تیری کړی دی.

دغه خبر د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر پر دویمه په میډیا کې سر ښکاره کړ:
«تجاوز جنسی فرمانده پولیس بر یک سرباز زن در دایکندی:

مومنه کربلایی، زنی که در فرماندهی پولیس ولسوالی کجرانِ دایکندی سرباز است میگوید، محمدخان بلوچ، فرمانده پولیس این ولسوالی بر وی تجاوز جنسی کرده است...»

په یوه بل رپوټ کې داسي راغلي دي چې پر یوې خدمتګارې یعني پر یوې قابلې باندې جنسي تیری شوی دی. د دې رپوټ په یوه برخه کې داسي راغلي دي:

«یو شمېر نامسؤولو وسلوالو کسانو پر یوه کلینیک تر برید وروسته، پر یوې قابلې ډله ییز جنسي تېری کړی وو.

د روی دو اب ولسوال خال محمد خازي وايي، د پېښې په تړاو نیول شوي تورن کسان د قابلې لخوا پېژندل شوي چې د روی دوی اب اوسېدونکي دي:

"یو شمېر نامسؤولو وسلوالو کسانو درې ورځې وړاندې د شپې لخوا پر یوه کلینک برید کړی و. بریدګرو په کلینیک کې د حاضرو دوو قابلو چې یوه يې میندواوره هم وه، تر وهلو وروسته، پر یوې قابلې ډله ییز جنسي تېری کړی دی. د پېښې په تړاو ۹ کسان نیول شوي چې ۶ یې د جرم اصلي عاملین او پاتې درې هغه يې د جرم شریکان دي."»

دغه راز هر کال په نړیواله کچه کله چې د هېوادونو د کړنو (ښېګڼو او بد ګڼو) لستونه خپرېږي، له بده شامته چې زموږ هېواد په ډېر بد حالت په کې ښودل کېږي. په همدې اړوند د یوې مېډیا دغه سرلیک ته پام وکړئ:

«افغانستان در صدر فهرست خطرناکترین کشورهای جهان برای زنان.»

د دې رپوټ په یوه برخه کې داسي راغلي دي:

«مجله «نشنال جئوگرافیک» فهرست امنترین و خطرناکترین کشورهای جهان برای زنان را به نشر رسانده است.

به گزارش سپوتنیک، مجله امریکایی «نشنال جئوگرافیک» به همکاری انستیتوت امور زنان، صلح و امنیت جرج تاون و انستیتوت مطالعات جهانی اسلو پس از بررسی اوضاع زنان در ۱۶۷ کشور جهان به این نتیجه رسیدند که سوریه، افغانستان و یمن خطرناکترین کشورهای جهان برای زنان میباشند.

فهرست متذکره با نظر داشت سه شاخص اصلی – مشارکت زنان در زندگی سیاسی، اقتصادی و اجتماعی، امنیت و عدالت – ترتیب شده است.

بر بنیاد گزارش، کشورهای ناروی، سوئیس، فنلاند، دنمارک و ایسلند به ترتیب مقام اول تا پنجم فهرست امن ترین کشورهای جهان برای زنان را کسب نمودند.

روسیه و یونان در رده پنجاهم و اوکراین در رده ۱۰۵ فهرست یادشده قرار دارند.»

پر ښځو باندي د جنسي تېري د ستونزې بل اړخ دا دی چې هم پر يوې مظلومې مېرمنې جنسي تيری شوی وي او هم د خپلې کورنۍ د نارينه غړو له لوري نه يوازې دا چې ښکنځل کيږي، وهل کېږي؛ حتی داسې هم شوي دي چې نارينه د غيرت؟ د پر ځای کولو په پار همدا مظلومه ښځه وژني او ژوند ورنه اخلي.

کومه پديده؟ چې د غيرت؟ په نامه زموږ په ټولنه کې پېژندل شوې او منل شوې ده او پيروي يې هم کوو، د همدې غيرت د سيورې په دايره کې مو د خپلې کورنۍ، قوم او لا ټول هېواد نيم بدن غوڅ کړی دی او دا شعار ډېرو خلکو منلی او تطبيق کړی هم دی چې ښځه د کور له پاره پيدا ده او يو مقفی شعار هم ډېر ځلې په قلقلو سره تکرارېږي چې: «ښځه يا په کور، يا په گور!»

ځيني خلک چې د غيرت تر چتر لاندې هر کله دا شعار تکراروي او وايي چې د ښځو د ساتنې او سمبالولو دنده او مسؤليت يوازې نارينوو ته ورله غاړې دی، دوی ته بايد وويل شي چې:

تاسو ته يوازې د غيرت؟ وچ توری يا کلمه درپاتې ده، نور مو هر څه له لاسه ورکړي دي او د همدې غيرت تر سيورې لاندې مو نه يوازې د يو چا ازادي سلب کړې، بلکې د خپل نارينتوب ډېر عيبونه مو هم د غيرت په وربځو کې پټ کړي دي او ځانونه له مسؤليتونو خلاصوئ.

**له دې ټولو خبرو سره ـ سره دې د ښځو نړيواله ورځ مبارکه وي!**

## د مارچ اتمه د ۲۰۲۰ کال دریمه مقاله

## زه یوه ښځه یم، خو زما دریځ...

### د ښځې د زړه غبر

زموږ پر ټولنه باندې د نامریي حاکم قانون په دایره کې د ښځې دریځ باندې، یوازې ښځې او هغه کسان پوهېږي چې د دوی درد حس کولی شي او په دې رنځ او درد کې ځان ورسره شریک ګڼي.

که نارینتوب یوه ښېګڼه وګڼو، ایا تر اوسه چا فکر کړی دی چې د دې ښېګڼې سلنه په نارینوو کې ډېره ده او که په ښځینوو کې؟

دا لاندې څو کرښې د یوې ښځې د زړه خبرې دي چې ما راژباړلې دي. په دې څو جملو کې لیدل کېږي چې زموږ په ټولنه کې د ښځو په برخه کې حاکم قانون او په دې قانون کې د ښځو دریځ څنګه دی. دا متن په افغانستان کې پر ښځو باندې د یو نامریي قانون د حاکمیت انځور دی:

دا هم را ژباړل شوی متن:

**«زه یوه ښځه یم،**

**مېړه مې کولای شي څلور ځلې ځانته نکاح وکړي،**

**ویښتان مې ما دوزخ ته بیایي او د بدن خوشبویي مې، د نارینه ګانو، جنت ته د تګ په لاره کې خندونه پیښوي...**

**هیڅ محکمه زما رایې ته ارزښت نه ورکوي،**

**که نارینه زه طلاق کړم، غیرتمن ګڼل کېږي، او که زه د طلاق غوښتنه وکړم، وایي چې: زوړند سر مې ولې جګ شوی...**

زما د لور د واده له پاره، زما اجازې ته اړتيا نه شته، خو د پلار اجازه يې اړينه ده...

دواړه د باندې له کوره کار کوو، هغه تر کار وروسته کور ته راځي چې دمه شي، خو زه چې کور ته راځم بايد د دې له پاره کار وکړم څو د هغه د ارامتيا شرايط برابر کړم،

زه يوه ښځه يم،

نارينه حق لري چې ما ته راوګوري، خو که په ناغوښتي ډول هم زما سترګې ورواوړي، ناولې او پليده شمېرل کېږم،

زه يوه ښځه يم، له ټولو محدوديتونو او ناخوالو سره ـ سره بيا هم يوه ښځه يم،

آيا تېروتنه زما په پيداکونه کې ده؟ يا د هغه ځای په موقعيت کې چې زه په کې لويه شوې يم؟ خپل کتاب بدل کړم، که د خپل هېواد د نارينوو فکر...

يا د خپلې خونې په کونج کې ځان بنديوان کړم،

نه پوهېږم،

نه پوهېږم، زه په بد ځای کې زېږېدلې يمه،

يا په بد وخت کې زېږېدلې يمه،

د پالنې حق ستا له پاره،

د زېږون درد زما په برخه،

کورنی نوم او وياړ ستا په برخه،

د کورنۍ زحمت زما په برخه،

د کور سند ستا په نامه،

د کور بېګار زما دنده،

څلور نکاوې ستا په برخه،

د مينې افسوس او ارمان زما په برخه،

د سنګسار حکم زما له پاره،

هوس ستا له پاره،

پرهېز او پاکلمني زما له پاره،

دا وو د ښځو او نارينوو تر منځ د حقونو برابروالی... ښځې د غږ اوچتولو حق نه لري!!!،

مېرمنې غلې ومره، چې حتی تر مړينې وروسته دې څوک عکس هم د فاتحې په اعلان کې نه پرېږدي،

زما نوم ښځه ده...

يو وخت به دې ژوندۍ ښخوولم،

او کله به دې په تيږو ويشتلم،

کله مې ضعیفه بولې،

کله هم تر ټیکري لاندې...

او زه تر هر نارینه هم ښه نارینه یم، حتی تر تا هم،

کله چې بد چلن کوې او چغې وهې،

او زه ستا د عزت د ساتنې په پار،

کړکۍ ترمه،

هغه وخت چې پر ما د ماشوم زېږېدنې دردونه زور کوي،

او ته پلار کېږې...

او و یې منه،

چې زه تر تا ښه نارینه یم،

هغه شیبه چې په تکسي کې،

خپل ځنګون زما پر ځنګانه سولوې،

او زه خپل ځان راټولوم،

او ورو وایم: «وروره هیله ده غلی شې!»

او بیا هم زه تر تا ښه نارینه یم،

هغه شیبه چې موټر زما تر څنګ دروې،

او راته وایې چې په څو؟

او زه مخ درنه اړوم...

او ته نه پوهېږې چې زړه مې،

څنګه ژاړي... ډېر کلک،

ستا له ناروغ فکر نه لرې...

او ته یې ومنه چې هماغه شیبه،

بیخي هماغه شیبه،

زه تر تا ښه نارینه یم،

ښځې مینه وزېږوله...

او ته نوم ورته ټاکې!

ښځه درد ګالي...

او ته په دې چُرت کې یې چې:

**چې ماشوم جلی نه وي!!!**

**ښځه بېخوبۍ ګالي...**

**او ته په خوب کې جنتي حورې ګورې!!**

**ښځه زېږون کوي او مور کېږي،**

**او هر چېرې پوښتنه کېږي:**

**د پلار نوم؟»**

**له دې ټولو خبرو سره ـ سره دې د ښځو نړیواله ورځ مبارکه وي!**



## د مارچ اتمه د ۲۰۲۰ کال څلورمه مقاله

# په کلينک کې ښځينه ډاکتره شته؟



زموږ ډېری نارينه، چې ځان ډېر غيرتي هم ورته ښکاري، کله چې خپل ښځينه ناروغ کلينک يا روغتون ته ورسوي، پر ژبه يې دا پوښتنه جاري وي:

ښځينه ډاکتر شته؟

نو وه کاکا!

وه ماما!

وه پلاره!

وه وروره!

وه شاغليه!

ته چې خپله خور ـ لور ښوونځي او پوهنځي ته نه لېږې او ليک لوست او تعليم ته يې نه يې پرېږدې، ښځينه ډاکتره به له کومه شي، ښځينه ډاکتره خو له اسمانه نه را اوري چې تياره به ستا د ښځينه ناروغ د درملنې له پاره ناسته وي.

زموږ د ټولنې ډېره سلنه خلک له دې حقايقو سره تر اوسه پورې ډېر واټن لري چې پوه شي:

ـ ښځه د نارينه نيم بدن دی،

ـ ښځه مور ده،

ـ ښځه خور ده،

ښځه لور ده،

ـ ښځه د کور ډیوه ده،

ـ ښځه د نارینه د الوت ځواکمن وزردی.

که پوهېدای، نو له ښځو سره به یې بې شمېره ظلمونه نه کول او دا شعار به یې سرلیک نه و چې:

«ښځه یاپه کور یا په ګور»

خبره دا ده چې هر کال د مارچ پر اتمه دا ستونزې او نیمګړتیاوې په نننه کېږي او خبرې وربانديې کېږي، خو ډېر ژر بېرته هېرېـږي. دلته دا پوښتنه باید مطرح شي چې:

تر څه وخت پورې به زموږ خلک ښځې په بېلابېلو نومونو له تعلیم نه لرې ساتي، هم به پر ښځو ظلم کوي، هم پر ځان او هم پر نویو نسلونو باندې؟

تر څو چې ښځې تعلیم و نه کړي او د نارینوو د نیمايي بدن او یو وزر په توګه و نه منل شي، دغه به مو حال وي چې په ټول کلي او لا ټول ولایت کې به یو ښځینه طبي کارکونکې نه لرو.

ځیني نارینه د خپل غیرت د اصولو پر ځای کولو په دایره کې، ښځه له هر څه لرې ساتي، خو په دې نه پوهېږي چې له هر څه نه د ښځې لرې ساتل تر ټولو ډېر ضرر د ده مبارک غیرت؟ ته هم رسوي، چې تر ټولو ښه بېلګه یې د غیرتي په کلي کور کې د ښځینه نرسې، ډاکترې او روغتیا پالې د نشتوالي په صورت کې، غیرتي کاکا خپله ناروغه ښځینه پردي ملک ته بیا یې او پردي نارنیه ډاکتر ته یې د معاینې له پاره پرمیز خملولې وي.

د ښځو پر خوار حالت باندې یوه زړه سواندي فرهنګي دوست (Latif Yad) دا څو کرښې په خپله فیسبوکپانه کې د یو تریخ حقیقت په ډول لیکلې وې، ښایي د خپلو سترګو لیدلی حال یې وي او یا به یې غیرتیانو ته د یوه خنجر ډوله طنز په ډول وړاندې کړی وي:

«سورګل کاکا رو غتیا یي کلینیک ته راننوت او لس کلنه لور یې سخته ناروغه وه.

ویې پوښتل:دلته ښځینه ډاکټره شته؟

نارینه ډاکتر هلته ولاړ و اوورته یې وویل:

کاکا لونې دې ښوونځي ته ځي؟

سورګل کاکا ورته ځواب ورکړ چې: نه.

نارینه ډاکټر ځواب ورکړ:

چې ښوونځي ته نه ځي، نو موږ به دلته ښځینه ډاکټره له کومه ورته پیدا کړو؟»

**د ښځو نړیواله ورځ دې مبارکه وي!**

## د مارچ اتمه د ۲۰۲۰ کال پنځمه مقاله

# د ښځو په برخه کې یو څو پوښتنې او ځرګندونې



د ښځو په برخه کې دغه لاندې څو مطالب هغه واقعیتونه دي چې زموږ په ټولنه کې په عیني ډول موجود دي. پر دې حقایقو که هر څومره خاورې واړول شي، بیا هم سر راواوچتوي او فریادونه یې تر آسمانونو رسېږي. کېدی شي ځینې خلک به دې واقعیتونو ته توجې ولري، خو ځینې داسې پوښتنې هم شته چې زموږ په ټولنه کې نه یوازې توجې کېدای نه شي، بلکې له تریخوالي سره، یوازې ښځو ته ورله غاړې کېږي، کار به نارینه کړی وي، خو د ملامتیا بار ښځې پر اوږو وړي.

په هره پېښه کې چې څوک ووژل شي یا ټپي شي، لومړنی متضرر ښځه ده. دا یې یوه بېلګه ده:
«د ننګرهار د هسکې مینې په قتل عام کې ښځه له دریو اړوخونو متضرره شوې وه چې هم کونډه شوه، هم بوره شوه او هم یتیمه. یعنې پلار یې، مېړه یې او زوی یې وژل شوي دي.»
شواهدو ښودلې ده چې په نړۍ کې له خطره ډکې آزموینې لومړی پر ښځو باندې تطبیق شوې دي. دغه څو جملې یوه افغان فزیک پوه د خپلو مطالعاتو په پایله کې لیکلې دي:

«د نړۍ لمړی موټر آلماني کارل بنز جوړ کړ خو لمړی ځل یې مېرمنې بیرتا بنز وچلول، د نړۍ لمړۍ ایکسرې دستګاه آلماني ولیام رونتګن جوړه کړه خو لمړی انځور یې د خپلې مېرمنې

بیرتا رونتګن د لاس واخیست، همداسي سلګونه نوري اختراع ګاني لمړی نارینه وکړې خو پر ځان باندې د آزمایښت کولو جرئت نه لرلو له امله یې مېرمنو دي خطر ته اوړه ورکړه او د ملګري کامیابولو لپاره یې پر خپل ژوند باندې قمار وواهه ځکه خو وایي چې د هر نارینه د کامیابي تر شا د یوې مېرمنې لاس دی.

زمونږ افغان نارینه او مېرمنو ستونزه دا ده چي یوازې مو دومره اورېدلي چي ښځه ناقص العقله او سړي ظالمان دي خو د دې مسئلې تر شا اصلي کیسه چې یو له بل سره د مینې او تعهد نه شتون خبره ده ټولو له پامه غورځولې...»

د ښځي او نر غیر قانوني جنسي اړیکي په هر مذهب او قانون کي ګناه ګڼل کېږي، په اسلام کي یې زنا بولي او کبیره ګناه ده، په داسي یوه پېښه کي هم د ملامتیا ګوتي تر ډېرو پورې ښځي ته ور اړول کېږي، د دغي پوښتني ځواب څوک ویلای شي:

د ښځي او نر غیر قانوني جنسي اړیکي ته زنا ویل کېږی، په دې معامله کي:

ـ ښځي ته د «فاحشي» خطاب کېږي،

ـ که یې اولاد وشو، ارمونی (حرامي) بلل کېږي،

ـ نارینه باید په څه نامه یاد شي؟

زمونږ په ټولنه کي داسي هم شته:

**«بله عجیبه:**

شپه ورځ به د دیموکراسی او د ښځو د حقونو د چیغو ډول ته ګډیږي، خو د خپلي ښځینه وو نوم به د مرګ په اعلامیه کي هم نه لیکي.»

**ښایي د دې شمېر خلکو پالیسي داسي وي:**

د ښځو ازادي غواړو، خو د نورو لپاره نه د خپلي لور او خور لپاره. د ښځو مساوات غواړو، خو کله چي ښځي په لوړو دندو وګمارل شي بیا بغاري وهو.
یا دا ده چي د دیموکراسی په مفهوم نه پوهیږو جاهلان یو او یا دا چي جک وهي هسي د ولس په سترګو کي خاورې شیندل غواړي.»
دا پوښتني او څرګندوني چي هر څومره راټولوې، نه خلاصېږي، همدا زمونږ د ټولني نیمګړتیاوې دي، په داسي ټولنه کي به ښځي څه حال ولري، نو ښځه اړ ده چي ووایي:
زما ورځ مه لمانځئ، یوه مهرباني وکړئ چي ما مه ښکنځئ او څه چي واقعیت وي، هغه ووایئ!!

**له دې ټولو خبرو سره ـ سره دې د ښځو نړیواله ورځ مبارکه وي!**

د مارچ اتمه د ۲۰۲۰ کال شپږمه مقاله

# د ښځو په باب زموږ جالب نظريات

**موږ 'نارينه' به د ښځو (مور، خور، ميرمن، لور) پرته، د 'ټولنيزه ونې' داسی 'پرۍ کړي منډان واوسوو چې هيڅ پسرلي به مو شين نشي کړی.**

**(سيد سليمان اشنا)**

يو خو زموږ پر ټولنه باندې حاکم عام نظر دی چې په هره تله کې يې وتلي، ښځه په کې خواره ده، د ژوند او فعايت دايره يې تنګه او د نارينه وو په لاس کې ده؛ خو د کلونو ـ کلونو مبارزو په پايله کې اوس داسې لاسته راوړنې هم شته چې ځينې خلک په مستند ډول دا ليکي چې که د تاريخ پاڼو ته لږ په دقت وليدل شي، نو پته به ولګي چې ښځو څه کړي او نارينه وو څه کړي دي؟

ـ ځوک د هوښيارتيا له مخې کارونه ښنګه پرمخ بيايي؟

ـ په ټولنيز ژوند کې د ښځې دريځ څه ډول دی او څه کوي؟

ـ موږ چې د ښځو ورځ لمانځو تر ډېرې سلنې پورې لفاظي ده او د لمانځلو له ځای نه لږ لرې زموږ پر افغان مېرمنو باندې بل ډول حالت تېرېږي؟

او...

دلته د خو تنو بادرده افغان قلموالو مستند د سترګو ليدلي حال را اخلم، ودې ليدل شي چې چا څه کړي او د ښځو حال څه ډول دی:

د ښځو د هوښيارتيا يوه وړه مستنده خاطره:

«څه کم درې کاله کيږي چې له پوهنې وزارت سره دنده اجرا کوم، په دې دومره موده کې مې ترټولو ډېر خوند نن له خپلې دندې اخيستی. ځکه زياتره وخت مې د ښوونځيو د ښوونيز بهير کمزوری حالت سخت زوروي.

خو نن يوې داسې لېسې ته تللی وم چې په ټول افغانستان کې معياري ترينه لېسه وه. باور وکړئ په لومړي ځل مې داسې احساسوله چې د افغانستان نه بلکې د نورې پرمختللې نړۍ کوم ښوونځي ته ننوتلی يم. فزيک، کيميا او بيولوژي مضمونونو لپاره يې جلاجلا لابراتوارنه درلودل، بشپړ

معیاري روزنتون یې درلود، د معلولینو لپاره جلا ټولګي په نظر کې نیول شوي وو، هر درېیم درسي ساعت وروسته زده کوونکي د پینځلسو دقیقو لپاره ارام کولو ته یوې ځانګړې خونې ته بېول کېدل او تر ټولو جالبه یې لا دا وه چې دې لیسې نهه کلن ستراتیژیک پلان درلود.

د دې ټولو نوښتونو او بریاوو تر شا یو سړی هم نه و، بلکې دا هر څه د ښځو لخوا رهبري کېدل چې موږ ورته ناقص العقله وایو، موږ یې د کور او ګور بولو او موږ ځانونه ډېر اوچت ترې ګڼو.

زما تر ځنګ ولاړه مېرمن د همدې لیسې (سردار کابلي د نجونو لیسې) تدریسي معاونه او ورپسې دویمه یې مدیره ده.

دا دواړه په رنګ دومره ښکلي نه دي خو زړونه یې ډېر پاک دي او له ملي احساس نه ډکه وطني وینه یې په رګونو کې چلیږي.

درود دې وي په داسې قهرمانو ښځو!

که رښتیا ستایل کیږي نو دا دواړه د سرو زرو په مدالونو ارزي.»



دا یې هم یو بله بېلګه:

«اسلام وایي ښځه مور، خور، وریندار، مېرمنه آبرو عزت ده، افغانیت او پښتو وایی ښځه ناموس ده چې لیدله مو سترګی کښته اچوی لار بدلوی. انسانیت وایی چې ښځه نیمه برخه د بدن ده لاس یی نیسئ، تاسې هغوی او هغوی تاسې بشپړوي.

مونږ دومره سپک بې اسلامه، بې دینه، بې عزته، بیغیرته، بې پښتو او بې انسانیته شوی یو چې:

یوه ورځ مو تیزاب پرې وپاشل،

بله ورځ مو سینې ترې پرې کړې،

بله ورځ موله مکریانو راوغورځولي،

بله ورځ مو په لښتو ووهلي،

بله ورځ مو اور ورته واچولې،

بله ورځ مو په بدیو کې ورکړې،

بله ورځ مو په فیسبوک او رسنیو کی ښکنځلې ورته وکړې،

او اوس یی روژه په خوله او په مرمیو یی ولو.

مورِ چا او ولې د دومره بیغیرته او سپي کړو؟ ...»

یو بل د نظر خاوند په زړورتیا دغه حقایق سره راټول کړي دي، چې ښایي د ځواب یې ځوک نه وي:

«افغانه ښځه:

نه يې د ګندومک تړون لاسلیک کړی، نه يې د ولس پر سینه د ډیورنډ کرښه ایستلې،

نه يې انګریز راوستی، نه د سرو یرغلګرو په ټانګ کې سپره راغلې،

نه يې داوود شهید کړی، نه يې د ترکي پر خوله بالښت ایښی دی،

نه يې ګوډ ملا ولي بللی،

نه يې ړوند ملا راوستی،

نه يې ډاکټر نجیب الله په دار ځړول،

نه يې په یوه شپه پر کابل څوارلس سوه راکټونه ویشتي،

نه يې د "غټو غټو" بمونو باران غوښتی،

نه يې د پنجشېر او بدخشان غمي پاریس ته لېږلي،

نه يې د شمال زرغونه باغونه اره کړي،

نه يې تور پنجاب د کابل پر تخت کښېنولی،

نه يې د جومات حرامیان ستایلي.

نارینه دي د ستایلو لپاره ښځه په ځان پورې نه تړي چې اول یې مور، خور او مېرمن بولي، بیا یې ستاینه کوي.

ښځه ملالی ده، ښځه زرغونه ده، ښځه نازو ده، ښځه سپینه ادې ده، ښځه ثریا ده، ښځه ناهید ده، ښځه ښځه ده.

نارینه که پزه درلودای، د ښځې پزه به یې نه غوڅوله

نارینه که پزه درلودای، ښځې ته به یې د مارچ د اتمې مبارکي نه ورکولای،

زه بخښنه غواړم، ښځو ته د دغې ورځې د مبارکی پزه نه لرم.»

سید شاه سقیم

سید سلیمان آشنا دا مطلب د ۲۰۱۸ کال د مارچ د اتمې له پاره یې لیکلی و:

«ښځه د نر روزونکي، پالونکي او د هويت معرفي کوونکي ده!

د طبعيي زوکړې سربيره، ښځه هغه شخص دی چې د کورنۍ، خپلوانو، کليوالو او هيوادوالو په منځ کې د نارينه د عزت ساتنې، شخصيت ساتنې، فرهنګ ساتنې او اجتماعي موقف په جوړولو کې لمړی او لوی نقش لري.

ښځې د مور، ميرمن، خور، ښينې، خواښې، ورندار، عمه، خاله او د نژدې خپلوانو په رشته کې، د نارينه سره د متقابل نقش په پاللو کې د خوراک، صفايې، خونې او کور نظافت، تهذيب او ادابو زده کولو او د کورنې چاپيرېال روابطو ساتلو کې، نارينه ته نه جبرانيدونکی خدمت کوي.

د نارينه د ماشومتوب تربيه، روزنه او پالنه د دی سبب کيږي چې # نر څه ډول اجتماعي حيثيت پيدا کړي او څنګه د استاد، عالم، جمهور رئيس، رهبر، پاچا، وزير، سپهسالار، آمير يا سپاهي درجه واخلي.

د نارينه سرښندنه، شجاعت او مبارزه د مور د هغو شيدو ورکولو نتيجه ده چې په تورتمونو کې د خپلې بی خوبۍ، کړاو، اجتماعي بی عدالتۍ او سختيو کې د خپل اولاد (په ځانګړې توګه افغاني فرهنګ کې د نر ماشوم) د پالنې او سالمې روزنې ته د عبادت هومره لمړی توب ورکوي.

شايد زه تر ډيره د خپل فاميل له نظره په ثبوت دا ادعا وکړم چې مور مې زما په پالنه څومره سختې تيری کړې، خويندو مې څومره په مينه او محبت نازولی يم، ميرمن مې څومره په عزت او حرمت ساتلو ته زيار ايستلی او لونو مې څومره د بې وطنۍ او بوازيتوب په وخت ډاډ او د زړه قوت رابخښلی.

خو دا د بشري ټولنې لوی حقيقت دی چې مطمين يم ستاسو د هر يو (نارينه) سره همدا مهرباني او اجتماعي او وړيا سخاوت شوې دی. مونږ 'نارينه' به د ښځو (مور، خور، ميرمن، لور) پرته، د 'ټولنېزه ونې' داسی 'پری کړي مېډان واوسوو چې هيڅ پسرلي به مو شين نشي کړې.
د # ښځو دی ژوند، هستي، مينه، رحمت، خدمت، سهار، غرمه، ماښام، ورځ، اونۍ، مياشت، کال او ټول شتون مبارک وي!»

د افغان ښځو په برخه کې دغسې عيني حقايق او نظريات شته، که يې څوک وايي او که يې څوک پټوي؛ خو دغه حقايق لکه اوبه دنې او پاکې اوبه چې خپله لار پيدا کوي او د چينې په ډول رنې راوزي، د افغان ښځو په باب، به دغه حقايق يو ورځ د ټولو خلکو مخته راووزي او په عملي ډول به تطبيق هم شي.

**د ښځو نړيواله ورځ دې مبارکه وي!**

# فرخنده:

د افغانستان په اوسني تاریخ کې تر ټولو مظلومه مېرمن ښایي فرخنده وي چې په ناکړې ګناه لومړی کړم ـ کړم شوه، بیا ترموټر لاندې شوه او بیا یې په وینو لړلی وجود باندې اور بل کړای شو، لوخړې او لمبې یې اسمان ته ور وختلې؛ فریاد یې نه شاه واورېد، نه ګدا؛ نه یې زمیني قانون پوښتنه وکړه او نه هم اسماني قانون، اوس په کابل کې یوازې آسمایي واټ او آسمایي غر د فرخندې پر غمېزه باندې غمېږي او ژاړي، خو د دوو پښو لرونکي موجودات او اشرف المخلوقات یې...

ما (آصف بهاند) فرخنده د وژلو او سېځلو له شېبې نه تر نن پورې نه ده هېره کړې او هر کال یې په یوازې تن تلین ته یو څه لیکم او خپروم یې.

ټول هغه څه چې ما د فرخندې د وهلو او سوځلو په پار دا څو کاله لیکلي دي، دلته مې د «فرخنده» تر سر لیک لاندې راټول کړي دي او تاسو درنو لوستونکو ته یې په یوه ځای وړاندې کوم:

بې دفاع فرخندې ته

## عرض

آهای !!!

د لوړو کلو خلکو،

غږ مې در رسي که نه؟

دغه دی چغي وهم

وژني مې،

وهي مې،

سوځوي مې

خلاصولای مې شئ؟؟؟

۲۰۱۵/۰۳/۲۰
هیدرسلیف،
ډنمارک

# د فرخندې د وینو سره خالونه

## د انسانیت پر لمن تور داغونه

د فرخندې د وینو په بیه،

د فرخندې د کباب شوي بدن په بیه،

او د فرخندې د ژوند په قیمت سره د ټولنې چیز فهمه خلک باید پوه شي چې زموږ د ټولنې فکري سطحه په کومه پوړۍ کې ده. د فرخندې د وینو هر سور څاڅکی زموږ د ټولنې د انسانیت پر تندي باندې تور داغ دی.

زموږ په جګړې ځپلې، فقر او نا پوهۍ کې را ایسار او جاهلانو په خپل لاس نیولې ټولنه کې له هر انسان سره، له ښځو سره او بیا له فرخندې سره د شوي ظلم مسأله هر با درده، با درکه انسان او افغان دردمن کړی دی. هر چا په خپل وار سره د خپلو سترګو او خپل ذهن له کړکۍ څخه دې ظلم او دې غمیزې ته په کتو، خپل احساسات او نظریات څرګند کړي دي.

هوښیار خلک او هوښیارې بیدارې ټولنې هغه دي چې د منفي پېښو او غمیزو د پېښېدو مخنیوی، مخکې له مخکې وکړي، ځکه چې د منفي عمل له تر سره کېدو او د غمیزې له رامنځ ته کېدو وروسته افسوس کول او لاس ټکول هیڅ درد نه دوا کوي.

د فرخندې د وهلو، کشولو، بام ته خیژولو، بیرته را غوځولو، موټر لاندې کولو، سوځولو او کباب کولو نه وروسته د افسوس او ارمان کولو پر ځای باید دا پوښتنې مطرح شي:

**ـ دا حالت، دې ټولنې ته څه وخت له چا سره راغی؟**

**ـ د وحشت او جهالت دا قانون پر دې ټولنې او پر دې خلکو چا، څنګه حاکم او جاري کړ؟**

دا دی فرخنده د دې وحشت او جاهلانو ښکار شوه او که یې غم ونه خوړل شي، سبا ته د نورو فرخندو وار هم په مخ کې دی.

زه دا سمه نه بولم چې میډیا ولیکل او وویل:

«... نن د فرخندې مړی د سلګونو تنو په ګډون خاورو ته وسپارل شو...»

که لږ انصاف يې کړی وای، بايد ليکلی او ويلي يې وای چې:

د فرخندې د نازک سوځول شوي بدن سکاره خاورو ته وسپارل شول.

اصلي خبره دا ده چې فرخنده نه ده مړه، فرخنده خاورو ته نه ده سپارل شوې، بلکې لکه د سميع حامد خبره:

«فرخنده نه خښوو،

فرخنده کرو»

او د فرخندې د نازک بدن په وينو لړلي ټوټې د وروسته پاتې خرافي جاهلې ټولنې د نا پوهۍ په اور پخې شوې او دا پوخ شوی تخم وکرل شو، نا څاپه يې د ظلمونو په همدې پسرلی کې غوټۍ وکړې، غوټۍ يې وغوړيدې او په غوړيدو سره يې د پوهې او نا پوهۍ، د خرافاتو او علم په منځ کې د بريد کرښه را کش کړه او د ظلم له اور نه د راټوکيدلو ګلانو هره پاڼه يې د نا پوهۍ، نارو ا او ظلم ستوني ته تيره تيغ شو او دا تيره تيغ به تر ډيرو پورې د نا پوهۍ او ظلمونو مخ کې د سپر په څير ولاړ وي.

د علم، ټکنالوژۍ او پوهې په دې عصر کې چې زه په خپل هيواد کې له داسې پيښو او غميزو خبرېږم، زه شرمېږم چې ځانته انسان ووايم، ځانته افغان ووايم او ځان ته د داسې کسانو هېوادوال ووايم چې انسان ته، هغه څوک چې د مځکې په کره کې ، د خدای خليفه ګڼل شوی، هغه د ثواب او جنت ته تلو په خاطر ووهې، ووژني، په واټونو او لارو کې يې لکه مرداره راکش کړي او بيا يې د اور په لمبو کې وسوځوي.

ما په کابل کې سترګې غړولي دي، ما د خدای نور د لومړي ځل له پاره په کابل کې ليدلی دی، ما په کابل کې خاپوړې کړې دي، زما ماشومتوب، کوچنيتوب، ځواني زدکړې، ويرونه، خوښۍ او... هر څه په کابل کې تېر شوي دي، خو اوس له بده شامته د دې ليدل هم را په برخه شول چې زما په زېږنتون کې زما په وړکتون کې، زما په ښوونځي او پوهنځي کې او زما د خوښيو او... په ښې کې، د تاندو ځوانو ځانګو د سوځولو دود هم رامنځته شو او په دې ډول يې د کابليانو له وړکتون نه نيولې تر پوهنتون پورې ښې نه وحشتتون جوړ کړ.

بودا دوه زره پنځه سوه کاله پخوا په خپلو زرينو اصولو کې ويلي وو:

**«ځان له ځانداره نه اخستل»**

ښايي د همدې زرين اصل پر بنا يې د ځارويو وژل، حلالول او خوړل منع کړي وي، خو موږ د يوويشتمې پيړۍ په پنځلسم کال کې د انسانانو له غوښو نه کباب جوړو او په مقابل کې د ثواب تمه هم لرو.

دا ده زموږ تمه کول،

دا دی زموږ کباب پخول،

او دا دی زموږ ثواب ګټل.

د فرخندې په وژلو او سوځولو سره يو ځل بيا نړيوالو ته وښودل شوه چې افغانان له فکري پلوه په کوم عصر کې ژوند کوي. په دې عمل سره دا ثابته شوه چې په افغانستان کې ځينې خلک

ژوند ـ چي الهی نعمت دی ـ نه غواړي، د ژوند او تمدن پر لیکه نه، بلکي پر ضد یې روان دي.

څو ورځي مخکي د مارچ اتمه وه د ښځي په صفـتـونو مو ستوني ورته وشکول، خو په همدې مارچ کي چي لا خلاصه نه ده، ځینو ښاغلو؟؟؟ هېـوادوالو مو یوه ښځه اول ووهله، ویښتان یې د ثواب له پاره پرې وشکول، وینې یې پرې وبهولې، و یې وژله بیا یې د خدای دنده خپله تر سره کړه، دوزخ یې په همدې دنیا ورته ورغاوه او دا یې په کي وسیځله.

په خپله خدای هم د ټولو ګنهکارانو له پاره تر آخرته صبر کوي، خو موږ... موږ پر ځان څه نوم کېږدو؟

وړي نه یو، خواره په «برغولي» غواړو.

توره مو وکړه ، د خدای خلیفه، او یو نازک بدن مو د تکفیر په تور په اور کي وسیځه، د خدای کار ته موږ بدې ووهلې، د هغه کار موږ په دې دنیا سر ته ورساوه. دا په خپله تکفیر دی چي د خدای په واک او اختیار کي موږ ځان شریک ګڼو.

که قرآن سوځوونه کفر وي او عاملین یې په اور کي د سوځیدو لایق وي، نو راشئ دا پوښتنه مطرح کړو چي:

آ د جهاد؟ په نامه یې چي ښارونو ته راکټونه را شړل، ښوونځي یې سوځول، کورونو ته یې اور آچاوه،

آ د جهادي ټوپکیانو خپلمنځي جګړې او...

آیا په هغو کي به په لکونو ټوکه قرآنونه نه وي سو ځیدلي؟ میدیا یې په سل ګوني ځلي ویدیو ګاني خپرې کړې. د هغو تر سره شوو اعمالو ځیني عاملین چي تر خاورو لاندې شوي، زیارتونه ورباندې جوړ دي عبادت یې کېږي او ځیني عاملین یې چي ژوندي دي اوس هم برند او سرې سترګي ګرځي او فتواوې صادروي، په واک کي هم ناست دي او واک ترتله خپل میراثي حق بولي. په قرآن کي بم ځا پر ځای کړای شو، و چول شو، د هغه په وسیله قرآن او د خدای خلیفه دواړه ټوټې ـ ټوټې او د اور خوراک شول او...

ولي د غه د اسلام او قرآن جاهل مدافعین هغو ته څه نه وايي چي په لکونو ټوکه قرآنونه یې وسوځول او د خدای خلیفه یې هره ورځ واژه او اوس یې هم په مرګ صرفه نه کوي، او یوه ښځه په نه سوځولو باندې اول وژل کېږي او بیا یې مړی سوځول کېږي، واه، واه زنده باد...

«زه یې په لیـدلو او ویـلو ګنـهکار شومـه
نور یې په کـولو او عمل باندې ښاغلي دي»

دا د نا پوهی او خرافاتو خبیثه اروح چي اوس زموږ پر ټولني باندې حکومت کوي، د دغو غیر انساني اعمالو په لیدلو سره باید دا پوښتنه مطرح شي چي دا د وحشت قانون دې ټولني ته چا راوړل، دا د وحشت قانون څنګه پر دې ټولني او خلکو باندې حاکم کړای شو؟ او څنګه اوس دا تاو تریخوالی په دود او کلتور باندې بدل شوي دي؟

«که شپه تیاره ده، منې په شمار دي.» هر څه ښکاره دي، موږ ځان نه ورباندې پوه کوو.

څه ترخه واقیعتونه چي زموږ په ټولنه او خلکو کي په عیني ډول لیدل کیږي او له بده مرغه حاکم هم دي؛ له دې نه د خلاصون له پاره قلموالو سره، روڼ اندو سره او وطن دوستو او انسان

دوستو سیاستوالو سره ښایي چې د نوي نسل روزلو ته د متمدني نړۍ د منل شوو علمي اصولو په چوکاټ کې جدي او له پخوا نه نوره پسې جدي پاملرنه وکړي.

د دې نسل ډېره سلنه خو په داسې فکري نا روغیوو اخته شوې ده چې بیرته یې له دې ناروغي رغول او خلاصول یا ډېر ستونزمن دي او یا نا شوني. ښه دا ده چې خپله ټوله پاملرنه نوي نسل او د هغوی روزلو ته ور واړوو او خپله شتمني او انرژي په هغه چا باندې مصرف کړو چې یو څه ترې جوړیدای شي، نه په هغه چا چې لکه سړه اوسپنه نه بدلیدونکي دي. موږ باید ځان پوه کړو چې لاس تر زنې او د بل چا په تمه کیناستل، «د سړې اوسپنې خوشې ټکول دي»

دلته یو ځل بیا خپله هغه خبره په تکرار سره را اخلم چې څو ورځې مخکې مې په خپله فیسبوک پاڼه کې د فرخندې د وژلو او سوځولو د غمیزې له پاره لیکلې وه:

د فرخندې د وینو په بیه،

د فرخندې د کباب شوي بدن په بیه،

او د فرخندې د ژوند په قیمت سره د ټولنې چیز فهمه خلک باید پوه شي چې زموږ د ټولنې فکري سطحه په کومه پوړۍ کې ده. د فرخندې د وینو هر سور څاڅکی زموږ د ټولنې د انسانیت پر تندي باندې تور داغ دی.

# اول وهي بيا سوځوي مې،

## خلاصولای مې شئ؟

## (د فرخندې لومړی تلين)

دا دی بيا نوی کال را روان دی، خو غمونه او دردونه هم پخواني په کور، کلي او ذهن کې را ته ناست دي او هم له هر پسرلي سره او لا هرې شيبې سره نوي را شنه کېږي، را ټوکېږي او را لوېږي. نوی کال به لمانځل کېږي، خو د کابل سين پر ديوالونو او د اندرابي واټ د پاسه او د ټولو با احساسه او چيز فهمه خلکو د ذهن په واټونو او ديوالونو باندې، د فرخندې د وينو سره داغونه، پر ما، پر تا، پر عدالت، پر شريعت، پر دولت، پر ملت او پر... باندې اوس هم خاندي.

د فرخندې د وينو هر داغ ژبه لري او هره ژبه په لوړ غږ باندې د ټولو په آدرس ناري وهي:

ستاسو د وطن د عدالت په تله کې او ستاسو د وطن د شريعت په دايره کې زما د قاتلينو محکمه تر کوم ځای پورې ورسيده؟؟؟

د فرخندې د وژلو په لومړۍ، دويمه او دريمه ورځ باندې مې د خپل احساس او د زړه خبره يو څو فيسبوکي جملو، دوو شعرونو او يوې مقالې په ترڅ کې څرګند او يو شعر او يوه مقاله مې هماغه وخت خپاره کړل. خپل لومړنی احساس مې د خپلې ټولنې او خلکو د فکري او عملي برخورد په باب په خپله فيسبوک پاڼه کې داسې وليکه:

«د فرخندې د وينو په بيه،

د فرخندې د کباب شوي بدن په بيه،

او د فرخندې د ژوند په قيمت سره د ټولنې چيز فهمه خلک بايد پوه شي چې زموږ د ټولنې فکري سطحه په کومه پوړۍ کې ده،

د فرخندې د وينو هر سور څاڅکی زموږ د ټولنې د انسانيت پر تندي باندې تور داغ دی.»

بيا مې تر دې عنوان لاندې يو شعر او يوه هم مقاله_چې سر ليک داسې و:«د فرخندې د وينو سره داغونه، د انسانيت پر لمن تور داغونه» خپاره کړل.

په کوم هیواد او ځای کې چې فرخنده وسوځول شوه او کومو خلکو چې فرخنده وسوځوله، د هغوی له نظره اسرايليان کافر، يهود او مباح الدم دي، خو چیری کوم اسراییلی، یو فلسطیني ځوان ته د خپلمنځي تضادونو په حساب اور اچولی و، او همدې يهود، همدې کافر او همدې مباح الدم په خپله محکمه کې د اسرايلي اور اچونکي له پاره د عمري بند سزا منظور کړه، اما د فرخندې مسلمان سوځونکي ته د اسلامي محکمې له خوا تر اوسه چا هيڅ هم نه دي ويلي او سرې سترګې ګرځي.

مورږ فرهنګيان نه جنګيالي لرو او نه هم وژونکي ټوپکوال، د فرهنګيانو لښکر او وسله فکر دی، قلم دی، غږ دی، موزيک دی رنګ دی او...

يوه شاعر(سميع حامد) د فرخندې او رخشانې له پاره خپل غږ اوچت کړ او يوه سندر غاړي له موزيک سره هغه زمزمه کړ، په دې ډول:

«در خيابان ناله فرخنده ها

در بيا بان زجه رخشانه ها...

داد از اين نا مرد ها

فرياد از اين نا مرد ها...»

په يوه لنډ آزاد شعر کې مې د فرخندې وروستۍ غوښتنه او وروستی غږ چيرته لرې د نورو کلو د خلکو په آدرس ورلیږلی و. د دې کلي (د مځکې ګُره) خلکو خو يې غږ باندې غوږ و نه ګراوه، د نورو لرو کلو په آدرس مې غږ ورمسيژ کړ، نه پوهېږم چې هلته به هم چا اوريدلی وي که نه؟

اوس هم زه د خپل ذهن په پراخه بيديا کې د فرخندې په وينو سور بدن او کړم، کړم اندامونه ګورم چې د خپلو ضاربانو پر جهالت پورې په کرس ـ کړس خاندي، خو د دې خندا د څپو په حاشيه کې مې يې هغه مظلومانه چيغې مې هم په تت ډول تر غوږو کېږي چې د مرګ په شېبو کې يې هغه چا پسې غږ کاوه، چې هيڅ نه و. فرخندې لکه اوبو اخيستی چې ځګ ته هم د خلاصون په تمه لاس اچوي، د بچيدو په هيله د چيغو په لړ کې له اشرف المخلوقاتو نه او د خدايتعالی د پورې کلي له مخلوقاتو نه د مرستې غوښتنه کوله، خو چا يې غږ وانورېده.

هغو ليوانو چې د فرخندې په نامه زمونږ د وطن يوه تنکۍ هوسۍ وداړله او د خپل وحشي طبيعت له ارضا وروسته يې بيا وسوځوله؛ اوس هم د نورو هوسيو د داړلو له پاره په کمين کې پراته دي؛ خو فرخنده او نورې هوسۍ...

# د «تیر په هیر» په سیوري کې، هیره شوې فرخنده

د فرخندې د وینو هر داغ ژبه لري او هره ژبه په لوړ غږ باندې د ټولو په آدرس ناري وهي:

ستاسو د وطن د عدالت په تله کې او ستاسو د وطن د شریعت په دایره کې زما د قاتلینو محکمه تر کوم ځای پورې ورسیده؟؟؟

د فرخندې د وینو هر سور ښاخکی زموږ د ټولنې د انسانیت پر تندې باندې تور داغ دی.

د کابل په اندرابي نومې واټ کې، د کابل سین په یوه څنډه کې، د یوې افغاني پیغلې پر نازکو اندامونو د وحشت برید وشو، په خپلو وینو کې یې ولمبوله، بیا یې د جهالت په اور کې داسې کباب کړه چې هډې، هډ یې ورته په دود بدل کړ. موږ ډیر بې حافظې خلک یو. په پیل کې دومره احساسات ښیو چې نه په کوم لوښې کې ځایږي او نه هم د کوم احساس او عاطفې په دایره کې؛ خو د یو څه مودې په تیریدو سره یې داسې هیروو، لکه هیڅ چې پیښ شوي هم نه وي.
په هغو ډیرو جدي موضوعاتو کې چې، زموږ ټولنې او خلکو په پیل کې ډیر ژر او احساساتي عکس العمل ورته وښود، یو هم د فرخندې وهل، وژل او سوځول و، خو له بده شامته چې همداسې یې ډیر ژر هیره هم کړه. دا دی اوس فرخنده د ټولو هیره ده او که د ځینو په یاد هم وي او څه ورته ولیکي؛ د هغوی خبره او لیکل داسې بې ارزښته ګڼل کېږي، لکه د لیونیو انسانانو د خبرو په څیر.

په هر صورت دا دی بیا هغې ورځې ته نږدې یو چې فرخنده یې د واکدارانو د واک د مانیو په څو سوه متری کې لومړی ووهله، ټپي یې کړه او بیا یې په نیم ژواندي بڼه اور ورته واچاوه او داسې یې په اور باندې وآلیله چې د لاندې پسونه هم هغسې نه الیل کېږي.

د فرخندې په کبابیدو او الیل کیدو باندې چغې، بغارې، شور، واویلا، اوښکې او... تر سره شول؛ خو چارواکو نه یوازې وانوریدل، بلکې ځینو لا د فرخندې د سوځولو د موجه ښودلو له پاره په میډیا کې خپل دلایل هم وړاندې کړل.

اوس د فرخندې د سوزولو پېښه او دوسیه داسې هیره ده، لکه هیڅ چې څه پـېښ شوي هم نه وي؛ خو یوازې د یوې ډلې خلکو په یاد ده چې د کابل په سیند کې د فرخندې د سوځولو په ځای کې د هغې په نامه د یادګارې واړه ځلې تر پیک لاندې د مخداراتو په ښکلو سره هلته شپه ورځ داسې پراته وي، لکه د فرخندې په ویر چې اخته وي.

هغه نشیان چې د شپې تیرولو له پاره ځای ونه لري، بیا د کابل په اندرابي واټ کې د فرخندې د سوځولو یا کباب کولو په ځای کې تر هغه پیک لاندې پناه اخلي چې د فرخندې د نازک بدن د سوځولو په پار جوړ کړای شوی دی.

ما د یو افغان په توګه او د یو قلموال په توګه په دې برخه کې خپل مکلفیت ادا کړی دی په هماغو شیبو کې چې دا پیښه وشوه، ما خپل غږ جګ کړ، بیا مې یو مقاله خپره کړه، بیا مې د

فرخندې له پاره خپل لیکلي شعرونه خپاره کړل او هر کال مې د دې د تلین په یاد یو څه لیکلي دي.

د فرخندې په لومړي تلین کې ما خپل غبرګ داسې اوچت کړ:

**«دا دی بیا نوی کال را روان دی، خو غمونه او دردونه هم پخواني په کور، کلي او ذهن کې را ته ناست دي او هم له هر پسرلي سره او لا هرې شېبې سره نوي را شنه کیږي، را ټوکیږي او را لویږي. نوی کال به لمانځل کیږي، خو د کابل سین پر دیوالونو او د اندرابي واټ د پاسه او د ټولو با احساسه او چیز فهمه خلکو د ذهن په واټونو او دیوالونو باندې، د فرخندې د وینو سره داغونه، پر ما، پر تا، پر عدالت، پر شریعت، پر دولت، پر ملت او پر... باندې اوس هم خاندي.**

**د فرخندې د وینو هر داغ ژبه لري او هره ژبه په لوړ غږ باندې د ټولو په آدرس ناري وهي: ستاسو د وطن د عدالت په تله کې او ستاسو د وطن د شریعت په دایره کې زما د قاتلینو محکمه تر کوم ځای پورې ورسیده؟؟؟ د فرخندې د وژلو په لومړی، دویمه او دریمه ورځ باندې مې د خپل احساس او د زړه خبره یو څو فیسبوکي جملو، دوو شعرونو او یوې مقالې په ترڅ کې څرګند او یو شعر او یوه مقاله مې هماغه وخت خپاره کړل.**

**خپل لومړنی احساس مې د خپلې ټولنې او خلکو د فکري او عملي برخورد په باب په خپله فیسبوک پاڼه کې داسې ولیکه:**

**د فرخندې د وینو په بیه، د فرخندې د کباب شوي بدن په بیه، او د فرخندې د ژوند په قیمت سره د ټولنې چیز فهمه خلک باید پوه شي چې زموږ د ټولنې فکري سطحه په کومه پوړی کې ده. د فرخندې د وینو هر سور څاڅکی زموږ د ټولنې د انسانیت پر تندي باندې تور داغ دی.»**

او دا دی سږ مې د فرخندې د غمیزې په پار دا څو کرښې ولیکلې، نور نو...



# د اشرف المخلوقاتو استعفی

## (د فرخندې ځلورم تلین)



ځلور کاله مخکې، د کابل په زړه کې د ټوپکي او تنظيمي خپلسرو ايله جاريانو د دويم نسل استازو د خپلو مشرانو د لاربښوونو په رڼا کې، فرخنده د ناکړې ګناه د تناره په اور کې داسې کباب کړه چې د نازک بدن د لمبو تاو يې اوس هم د هر د با احساسه انسان بدن، روح او روان په عذابوي.
عاملين يې اوس هم د «ما جهاد کديم، ما مقامت کديم» د شعار په دايره کې ژوندي سرې ګرځي او د وياړونو؟ او شملو، د وطن په دېرشو ميليونو استازو کې يې د پوښتنې يو تن هم نه شته.

هغه څه چې له فرخندې سره وشول، نه يوازې زموږ ټولنې ته، لا نړيوالو ته هم پېغور او تور داغ ګڼل کېږي او بده يې لا دا چې لکه نورې دېرې غميزې دا هم د هېرېدو کندې ته ورنږدې شوې موضوع ګڼل کېږي.

د آليل شوې فرخندې،

د کاباب کړای شوې فرخندې،

د لولپه شوې فرخندې،

او د لمبو او لوګو په وزرو هوا ته تللې فرخندې:

د څلورم تلین په درناوي او د دې غمیزې د نه هېرېدو په خاطر، د پېښې په باب د بېلګې په ډول د ځینو زړه سواندو او چیز فهمه هېوادوالو یو څو هغه نظریات را اخلم چې د فرخندې د وهلو او سوځلو په پار یې په هماغه وخت کې لیکلي دي:

محب زغم:

«ګډه استعفا

د لوی الله ج سپېڅلي دربار ته

یا الله !

تا موږ له ختو جوړ کړو، خو اشرف المخلوقات دې راته وواېه. ستا ملایکو اعتراض وکړ خو تا موږ پر ځمکه خپل خلیفه وټاکه.

خو موږ وحشي شوو. موږ ستا هغه مخلوقات ووژل چې ته پرې نازېدې.

د چا مری مو پرې کړې،

څوک مو په ځانمرګو بریدونو ووژل،

پر چا مو بمونه وغورځول،

او ها بله ورخ مو یوه مېرمن په مرګ ووهله.

تا انسان ته کرامت ورکړی، خو موږ ورنه کرامت واخیست. ستا د بنده مړي ته مو اور ورته کړ.

اوس چې ګورو موږ نه اشرف المخلوقات یو، نه ستا د خلیفه توب لایق.

ښایي هماغه ستا د ملایکو خبره به ربښتیا وه.

نو

پاکه خدایه!

زموږ استعفا ومنه، نور دا شرم نه شو زغملای. زموږ پر ځای داسې مخلوق خپل خلیفه کړه چې په قدر یې پوه شي.

په خوار درنښت

بني ادمان»

عبدالغفور لیوال:

«رواني لوړه، د اوږدې زماني لپاره د تاوتریخوالي حاکمیت، د عاطفي تشه او د اخلاقو بې ارزښته کېدل (انسانخوري) رامنځته کولای شي. وېرېږم یو مهال په افغانستان کې د انسانانو له خوا د انسانانو خوړل رواج نه شي.

دې برید ته نږدې شوي یو، (عاطفه) څه وخت راستنوئ؟»

لطیف بهاند:

«بې له مبارکۍ،

(د ۱۳۹۴ کال لومړۍ ورځ)

تر هغه چې: جګړه، جګړه مار، جهالت، جنایت، جاني، جرم، جنون، جیزګر، جاسوس، جاسوسی...

ځنګلي قوانین او فتواوې... جناب... او تر ټولو اصلي... چې پر دې خاورې لاسبري وي او دا په ټیارو محکوم شوي او اسیر شوي وګړي، هغه په خوښی او نغارو مني... د نوروز، اختر او جشنونو لمنه ورټوله ګڼئ.

په دوو تېرو ورځو کې مې غزل تکرارونکې او تېرې ژبې، یوازې همدا توري تکرارول. او د دې پوښتنې پر وړاندې چې هر چېرې رانه کېده، بیا خاموشه پاتې وه:

ـ په کابل کې رښتیا، ښځې ژوندۍ سوځي؟

په هر حال، توري او کلمات ګنګ شوي دي...»

هوکې په افغانستان کې یو ځل بیا لمر تور شو (پروین پژواک)،

یوه شاعره او ژوندۍ میرمن د یوې مړې او په اور سوې میرمن په باب څه ښه لیکي:

پروین پژواک:

«امروز در ساعتی که امکان دیدن کسوف بود، بیرون رفتم.

زنبور دیدم،

پروانه دیدم،

درخت پرجوانه دیدم،

اولین گلهای خودروی را میان سبزه دیدم،

برگ لاله دیدم اما کسوف را ندیدم.

شاید خورشید گرفتگی همین چهرۀ خونین فرخنده است که صفحات ما افغانها را در فیس بوک پر کرده است.

بلی در افغانستان دیروز بار دیگر خورشید سیاه شد!»

# د فرخندې پنځم تلین او زموږ د ټولنې عدالت

له نن څخه پنځه کاله وړاندې یوه معصومه جلۍ او یوه پاکه مېرمن، زموږ د ټولنې د څو تنو حیوان صفته او ځیرونکو انسانانو له خوا، د ټوپکي قانون په توره دایره کې لومړی په لغتو او سوکانو ووهل شوه، بیا د ناکړې ګناه په تور سنګسار شوه، په خپلو وینو ولمبول شوه، تر موټر لاندې شوه او بیا ژوندۍ وسوځول شوه؛ خو تر نن پورې یې زموږ د ټولنې د هېڅ قانون له مخې پوښتنه ونه شوه، ځکه چې پر دې ټولنې د وحشت قانون حاکم دی. فرخنده په وحشت ووهل شوه، په وحشت وسوځول شوه او په وحشت سره هېره کړای شوه؛ خو د خلکو او تاریخ نه هېره ده او نه به یې هېره کړي.

دا جلۍ فرخنده نومېده او د ښار په تر ټولو مرکزي سیمه کې، د امنیتي ځواکونو تر مخې ژوندۍ په اور کې کباب کړای شوه. **فرخنده زموږ د ټولنې د مظلومیت په یوه سمبول بدله شوې ده.**

دا شعر په هماغه وخت کې ما د فرخندې له آدرسه د... په پته لیکلی او خپور کړی و، دا دی سږ یې هم د فرخندې د غږ په توګه د هغې د پنځم تلین په پار خپروم:

**عرض:**

**آهای!!!**

**د لوړو کلو خلکو!**

**غږ مې در رسي که نه؟**

**دغه دی چغې وهم:**

**وژني مې،**

**وهي مې،**

**سوځوي مې،**

**خلاصولای مې شئ؟؟؟**

۲۰۱۵/۰۳/۲۰
هیدرسلیف
ډنمارک

## ښځه، نارینه

### د کورنۍ دوې متې او د ټولنې دوه وزرونه

### (د یوې میرمنې له انټریو څخه څو ټکي)

**د غیرت مسأله چې شي، نارینه (ورور، پلار، میړه، لیور...)**

**ښځې ته وایي چې زه دې ساتنه کوم،**

**خو دې ته یې پام نه وي**

**چې هغې ښځې (مور) د**

**همدې نارینه څومره**

**او څنګه ساتنه کړې:**

**په نس کې،**

**په غیږ کې،**

**لاس نیولی.**



د ښځو او نارینه وو په باب دا لاندې جملې چې تاسو به يې ولولئ، د هغې انتریو يوه برخه ده چې د بالیود د سینما یو سوپرستار عامر خان له یوې هندې میرمنې (Kamla Bhasin) سره «په ټولنه او کورنۍ کې د میرمنو د دریځ او کړو وړو په باب» تر سره کړې وه. څنګه چې دا انتریو زموږ د وطن د میرمنو له ژوند او شرایطو سره اړخ لګوي، ومې پتیله چې دا به له اردو ژبې نه پښتو ته راژباړم او په یوه ځانګړې وخت کې به يې درنو لوستونکو سره شریکوم.

ما ټوله انتریو نه ده ژباړلې او لا د پوښتنو متن مې هم نه دی ژباړلی، یوازې مې د ځواب ورکونکې میرمنې (Kamla Bhasin) د ځوابونو هغه برخې راژباړلې دي چې د نارینه وو د برلاسي او د ښځو د محکومیت حالت بیانوي.

کله مې چې یاده انتریو را وژباړله، ډېره موده زما د نورو نیم کاره کاغذونو په منځ کې را نه ورکه وه، بیا چې په مخه راغلله، نو د خپراوي له پاره يې مناسبه ورځ نه وه، بیا يې ټیپـول او خپرول پاتې او هېر شول.

دا دی سږ مې د ۲۰۱۸ ام کال د مارچ د اتمې په پلمه هغه پاڼې را پیدا کړې، ټیپ مې کړې او اوس يې تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم.

ما ټوله انتریو نه ده ژباړلې، یوازې مې د هغې میرمنې (Kamla Bhasin) د ځوابونو هغه برخې چې زموږ د ټولنې او افغان میرمنو، په ځانګړې ډول پښتنې میرمنو له ژوند او عینې ستونزو سره اړخ لګوي، را ژباړلې دي.

دا هم د انتریو د ځینو برخو ژباړه:

«یو نارینه په خپل آمر باندې لاس نه جګوي، لاس پر هغه چا جګیږي چې موږ هغه له ځانه ټیټ او کمزوری ګڼو، یعنې ښځه»

د غیرت مسأله چې شي، نارینه (ورور، پلار، میړه، لیور...) ښځې ته وایي چې زه دې ساتنه کوم، خو دې ته يې پام نه وي چې هغې ښځې (مور) د همدې نارینه ځومره او څنګه ساتنه کړې:

په نس کې،

په غیږ کې،

لاس نیولی.

زموږ په کلچر کې کله چې ښځه او نارینه واده وکړي، نارینه ته خاوند وايي. نارینه د ښځې ټول واک په خپل لاس کې لري او زموږ په ژبه کې عام نوم همدا د مېړه یا خاوند توری دی؛ نو چې داسې ده، هغه (مېړه ـ خاوند) ښځه:

ـ وهلی شي،

ـ وژلی شي،

ـ خرڅولی شي،

ـ هر څه وربانډې کولای شي او...

نو دلته دی چې دا فکر رامنځ ته کیږي چې باید فکر (د نارنه وو او ښځینه وو) بدل کړای شي. لومړی باید د نارینه وو فکر بدل کړای شي، ځکه چې، د مثال له پاره:

ـ وهل څوک کوي؟

ـ وار څوک کوي؟

نارینه.

وهل او تاوتریخوالی داسې نه ده چې ذاتاً باید په نارینه کې لکه وینه موجود وي، او که کوم نارینه وهل نه کوي، یا کوم نارینه مثلاً د خپلې مور یا ښځې په مرګ وژاړي، نو دا نارینتوب نه دی.

نارینه حق لري چې د هر څه په باب وغږېږي، خو د خپلو نیمګړتیاوو او کمزورتیاوو په باب هیڅ کله څه نه وایي او لا په خوله یې هم نه راوړي. ځکه چې د نارینتوب یوه علامه دا ده چې باید نارینه کمزوری نه وي؛ چې همدا د نارینه وو لویه نقیصه ده.

کله چې یوه ښځه وهل کېږي، ولې یې هغه زغمي، په تیره بیا په وروسته پاتې ټولنو کې. له کومې کوهی یا ویالې یا تل نه چې نارینه اوبه څښي، له هغه ځای نه ښځې هم اوبه څښي؛ نو باید دواړه پوښتی وي، مګر دا تحقیر او ټیټوالی ښځو ته وړیه برخه شوی چې ځان کمزوری او ټیټ ګڼي او په ارامتیا سره دا ظلم، تیری او وهل پر ځان باندې زغمي.

په هره ټولنه کې برابر ـ نابرابر، پرمختللي ـ وروسته پاتې، چې ولیدل شي؛ ښځې تر نارینه وو ډیر کار کوي. وګورئ په هر کور کې څوک ناوخته ځملي او څوک تر ټولو مخکې پاڅېږي.

ځینې خلک او ځینې ټولنې یې داسې انګیري چې نارینه کار کوي، پیسې ګټي او کورنۍ چلوي؛ ځکه حق لري چې وهل وکړي او په کورنۍ او ښځې واک ولري.

خبره داسې ده چې په متمدنه نړۍ کې داسې نه ده، که وي هم په وروسته پاتې ټولنو کې به وي.

چې نارینه پیسې ګټي، نو دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې ماشومان پیسې نه خوري، ډوډۍ خوري. پیسې نه خوړل کېږي، ډوډۍ خوړل کېږي. ډوډۍ څوک برابروي؟

د ماشومانو او کورنۍ خوب خو پر پیسو د پاسه نه کېږي، پر بستره باندې کیږي. دا څوک برابروي؟ څوک یې مینځي او...

همدا ښځه ده چې له پیسو نه ډوډۍ جوړوي، بستر جوړوي، کالي جوړوي، آرامتیا راولي.

نو دلته ده چې که دې حقیقت ته نظر وشي، ښځه او نارینه د کورنۍ دوې متې دي، د ټولنې دوه وزرونه دي، فعاله اړابې یې ګڼلای شو او کله چې دوی دواړه یو بل ته مټ ورکړي، نو له کورنۍ نه نیولې، بیا تر ټولنې او نړۍ پورې هر څه به ښه وي.

بله خبره دا ده چې د همدې ښځې هلې ځلې دي چې نارینه ته د بلې ورځې د کار کولو او پیسو ګټلو ځواک وربښي.

ماښام نارینه ستړی کور ته راځي، د خپل کار ځای نه خوابدی، اعصاب خرابه او سپک شوی راځي، دا ښځه ده چې په خپل کار او ښه چلند سره هغه د سبا د کار جوګه کوي. ډوډۍ ورته برابروي، مینه ورکوي او سبا ته د تګ په وخت کې یې هر څه ورته برابر ایښي وي چې هغه په ډاډه زړه او له سمې انرژۍ سره بیا کار ته ځي.

اوس نو فکر وکړئ چې د ښځې له مرستې نه پرته یو نارینه:

ـ ناکام دی که نه؟

ـ کار کولای شي که نه؟

ـ ژوند کولای شي که نه؟

د نارینه او ښځي په منځ کي اصلاً کومه جګړه نه شته، جګړه د دوی د فکرونو په منځ کي ده، چي هر یو ځان ښه ګڼي او ځان لوړ ګڼي؛ نو دلته ده چي د دواړو په منځ کي باید برابري وي.

کله چي په کورنیو کي برابري نه وي، ریښتیني مینه امکان نه لري. نو د ریښتیني میني د رامنځ ته کیدو له پاره باید داسي وشي چي:

نارینه کور ته راوستل شي او ښځي بهر ته ولېږل شي.

که د میندو او پلرونو په منځ کي ریښتیني مینه او برابري وي، بیا د هغوی دویم، دریم او بیا... نسلونه سم روزل کېږي او سمه برابري رامنځته کېږي.»

درانه لوستونکي که د بشپړې انټریو د لیدلو هیله لري، دا لاندي یې په یوتیوب کي لینک دی:

https://www.youtube.com/watch?v=q91lBm9uAjM

# دوه ماشومان، دوه مړګونه او دوه چلندونه

د تهران د ښار په څنډو کې د ورامین په سیمه کې  شپږ کلنه افغان ماشومه «ستایش» تښتول کېږي، بیا وربانديې جنسي تیری کېږي، بیا وژل کېږي او بیا وربانديې  تیزاب پاشل کېږي.

دې عمل ته څه نوم کېښودل کیدای شي او څه ډول توجې کیدای شي؟

د ټولو ملي، سیمه ایزو او نړیوالو قوانینو په رڼا کې، باید دغو خبرو ته پام وشي:

ـ له دې پیښې سره د ایراني چارواکو چلند،

ـ د ایراني مقاماتو، میډیا او زموږ د هیواد د ایران پلوو او پر ایران مینو اشخاصو او آدرسونو پټه خوله،

ـ زموږ د عامو خلکو هر اړخیزه بیوسي،

ـ او د افغانستان د دولت د فکري او جسمي معلولو او معیبو چارواکو بې غوري.

لږې نه په همدې زماني وخت کې د افغان ماشوم له غمیزې څو ورځې وروسته یو ایرانی شپږ کلن ماشوم د ایران په زنجان نومي ښار کې څاه ته لوېږي، مړ کیږي، قضایي مقامات د هغه ښار ښاروال او څو تنه نور مسولین لومړی برطرفه او بیا توقیف کوي، خو د افغان وژل شوي ماشوم کورنی او خپلوان د دوی په اصطلاح «تحسن» ته هم نه پرېښودل کېږي او د سپن په اندازه غږ جګولو حق هم نه ورکول کیږي.

وا، وا قانون؟،

وا، وا جمهوري اسلامي؟،

برادري او هم کیشي او هم زباني او نور هم هم...

همدې دوو چلندونو ته کوم نوم باید ورکړل شي؟

زه خو یې داسې ګنم چې:

دا لومړی زموږ د تندي تور داغ دی چې په خپله نا پوهی مو په خپل وطن کې اور بل کړی، ځینې په کې سوځو، ځینې ورنه تښتیدلي یو او د نورو لږې او نږدې مسلمانو او نا مسلمانو خیرات ته ناست یو، په پټه خوله یې هر تیري او نا روا ته زغي ـ زغي ګورو،

بیا د ټول بشریت پر تندي باندې داغ دی چې د دموکراسۍ بې بي؟ تر تور تیکري او اوږدې تور لمنې تر تور سیوري لاندې د دیموکراسۍ او عدالت په نامه د همداسې هیوادونو لکه ایران سره چې له بشري حقونو نه د سر غړاوي، د مطبوعاتو د آزادی د زندی کولو او اعدامونو سر

لاری هیواد ګڼل کېږي، ترونونه لاسلیکوي چې هر عمل یې د بشریت او دیموکراسی پر ضد دي، خو نړیوال بیا هم پټه خوله رڼي - رڼي ور ته ګوري.

په ایران کې، په یوه وخت کې، د یوه قانون؟ د حاکمیت په دایره کې دوو ماشومانو ته، د ژوند د امکاناتو د برابرولو پر ځای مرګ ور ډالی کېږي.

چیرې چې دا پېښه را منځ ته شوې، هغه جغرافیایي سیمه اوس د «جمهوري اسلامي ایران» په نامه سره یادېږي. په دې «جمهوري اسلامي؟» کې ظاهراً انسان یو انسان، اسلام یو اسلام، قانون یو قانون، خو نظریات او چلندونه بیل او توپیري دي.

دا کیسه لکه ډراماتیکه چې وي، دواړه پیښې په «جمهوري اسلامي ایران» کې پیښې شوې دي، دا ماشومان ډیر ګډ وجوهات لري:

ـ دواړه قربانیان ماشومان دي،

ـ دواړه قربانیان مسلمانان دي،

ـ دواړه قربانیان د یوه پیغمبر امتیان دي،

ـ دواړه قربانیان د یوه سن درلودونکي یعني شپږ کلن دي،

د دې ګډو وجوهاتو تر څنګه یې یکي یوازینی توپیر دا دی چې لومړنی قرباني (ستایش) افغانه ده او بل قربانی ایرانی دی؛ خو د وژل کیدو داستان او جریان ته یې که پام وشي، د لومړني قرباني (ستایش) په پیښه کې له سر نه تر پای پورې یو پاینټ انساني عدالت نه لیدل کېږي او بله پیښه چې ولوستل شي ډیر څه په کې مبهم دي، خو بیا هم د ایراني څاه ته لویدلي ماشوم د مرګ په خاطر د هغه ښار ښاروال او ځینې لوړ پوړې چارواکي بر طرفه او توقیفېږي.

د افغان ماشومي د دوسیې په برخه کې د ایراني مقاماتو دریغ انتظار کول او پایلي ته د کومي هیلي درلودل بې ثمره دی، د هغوی دریغ روښانه دی او هغه له هر اړخیز تعصب نه کار اخستل دي.

دا چې په ایران کې د ننه، ایرانیان افغانانو ته کوم نومونه او اصطلاحات کاروي، هغه ډیرو هغو ایرانیانو او افغانانو ته مالوم دي چې دا نومونه، لقبونه او اصطلاحات کاروي او اوري یې او د پیغور بار یې افغانان پر اوږو باندې وړي. کله چې ایرانیان د نړیوالو تر نظارت لاندې خبرو ته کیني، بیا د ښه ګاونډیتوب؟، اسلامي اُخُوت؟، همژبتوب؟، میلمه پالنې؟ او... لغاتونه او اصطلاحات کاروي، خو هغو پټو او ښکاره عملونو او نظرونو ته یې چې دوی د افغانستان او افغانانو په حق کې کړي او ویلي دي؛ ولیدل شي، هر یو یې چې ګورې او یا اورې، نو د زړا او چیغو وړ دي:

ګاونډه څه شی به دې یاد کړم
چې نـــا کـــردې یـــادوم ژړا راځـیـنـه

نوره نړی دې پر خپل ځای وي چې ایرانیانو هلته څه انډوخر جوړ کړی دی، یوازې د افغانستان او افغانانو په حق کې د ایراني مقاماتو او ځینو ایرانیانو د کړو ناکردو لست که ولیکل شي، ښایي له سلګونو او زرګونو مخونو نه به واوړي. زه به یې دلته د «ستایش» د غمیزې په اړوند د څو هغو غیر انساني کړنو او نا کردو یوازې سر لیکونه ولیکم، چې میډیا ته رسیدلي او ثبت شوي دي، دا چې څومره یې د ایراني استخباراتو په وسیله پټ شوي، تر خاور لاندې شوي او هیر شوي دي، هغه یوازې خدای ته مالوم دي او هغه چا ته چې ور باندې تیر شوي او عملي شوي دي.

درانه لوستونکي کولای شي چي یوازې د په نښه شوو کلماتو په کلیک کولو سره د مطلب یا راپور تفصیل ته مراجعه وکړي:

ـ د ویکیلکس اسناد ښیي چې ایران په نړۍ کې د مخدره توکو تر ټولو لوی قاچاق وړونکی هیواد دی،

ـ په نړیواله کچه د ایراني مقاماتو د ډیرو غولونو، چلونو او فریبونو په پایله کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یوې مرستیالي (وندی شرمن) په ۲۰۱۳ کال کې و ویل چې د ایرانیانو په ډي اِن اِی (DNA) کې دروغ او غولونه نغښتي ده،

ـ د «کمیته امداد خمیني» تر سر لیک لاندې په ښکاره ډول د افغانستان په عقیدوي، سیاسي، او فرهنګي چارو کې مداخله او لاسوهنه،

ـ د ایران په بیلابیلو ځایونو له هغې ډلې نه د «فارس» په ایالت کې افغانانو ته د نقلیه وسایلو او خوراکي موادو په خرڅولو باندې بندیز،

ـ په ایران کې افغانان د سنت په طریقه له لمونځ کولو نه منع کېږي،

ـ ایراني مقامات غواړي د سنیانو وژل جاري وساتي،

ـ ایران په ښکاره او پټه، یا دوی خپله یا په افغانستان کې دننه د خپلو معاشخورو لاسپوڅو له لارې پر افغانستان باندې فرهنګي یرغل کړی دی. په افغان جرمن ویبپاڼه کې د ښاغلي سراج وهاج مقالې او راغلي اسناد یې د ګواهي یوه ځنده ده،

ـ دا یو وار نه، څو ځلې میډیا ویلي دي «ایران د افغانانو مړي د دوی پر کورنیو پلوري» او عملاً پر هغو کورنیو تطبیق شوي دي چې عزیزان یې هلته اعدام یا وژل شوي دي او بیا یې مړي د پیسو په بدل کې ور سپارلي دي (ایراني اسلامي اخوت؟)،

ـ ایراني مقامات د ایران شل میلیوني اهل تسنن له ټولو سیاسي او مذهبي حقونو بې برخې کړي دي او د دویمي درجې اتباعو په سترګه ور ته ګوري،

ـ ایراني سیاسیونو او آخوندانو له افغانستان څخه د قُم او دیوبند د جګړې ډګر جوړ کړی،

ـ ایراني سیاسیونو او اخوندانو له افغانستان څخه د استخباراتي جګړې او له هغه نه وړاندې د تودې او مسلح جګړې ډګر هم جوړ کړی دی،

ـ سني مذهبه افغانان په ایران کې هیڅ ډول دیني آزادي نه لري، ټول لمنځونه، په تیره د اختر لمونځونه په پټه ادا کوي،

ـ افغان نا اهله مقامات د ایرانیانو په نومونو واټونه نوموي، خو په مقابل کې ایراني واکداران زموږ په نا کړې او یا نا مالومې ګناه وژل شوي او اعدام کړای شوي مړي پر موږ په پیسو خرڅوي،

ـ هغه څه چې آخوندي رژیم او آخوندان له افغانانو سره کوي، لکه:

تفریحي پارکونو او د لمبلو ځاینو ته د افغانانو نه پریښودل، له قانوني اسنادو سره ـ سره له څو ولایتونو نه د افغانو شړل، افغانانو ته د صحي خدماتو ممانعت، ترانسپورتي مسولینو ته د افغانانو د نه لېږد امر، ښوونځیو ته له تګ نه د افغان ماشومانو منع کول او...

په ایران کي د ننه، د افغانانو په حق کي د دغسي کارونو سر ته رسولو ته، د اوسنیو اصطلاحاتو له مخي څه نوم غوره کیدای شي؟ ښاغلي قیس کبیر په ۲۰۱۲ کال کي دا نا خوالي د یوي اوږدي مقالي په ترځ کي یو په یو شمیرلي او څیړلي او د اپارتاید له رژیم سره یي ورته ګڼلي دي،

ـ ایراني آخوندان د ایراني استخباراتو په مټ، په لوړ و مصارفو سره د «کمیته امداد خمیني» په چوکاټ کي، د افغانانو په منځ کي شرر، فتنه، نفاق او بدمرغي ویشي،
ـ ایراني مقامات په خپله د خپلو سیاسي او نظامي موخو له پاره هره دروازه ټکوي، نه کفر پرېږدي، نه اسلام او نه یهود، دوی په ظاهره وایي چي د اسراییلو دښمنان دي، مګر میډیا داسي اسناد او فلمونه خپاره کړل چي ایران له اسراییلو سره پټي اړیکي لري،
ـ د افغانستان په جګړو کي د ایران «سپاه پاسداران» په مستقیمه او غیر مستقیم ډول لاسوهنه او مداخله کوي،
ـ په ایران کي د اسلامي جمهوریت په سیوري کي د افغانانو توهین، تحقیر او ربړونه ورځ تر بلي مخ په زیاتیدو ده،
ـ د ایران اوسنی ژوندي آخوندان په خپله خوله اعتراف کوي چي په شپیتمه لسیزه کي د ځای پر ځای اعدامونو امر په خپله خمیني صادر کړی و. د ایران یو آخوند چارواکی داسي اعتراف کوي:
«امام معطل نمی کرد، در جا اعدام می کرد.»
او ور پسي په ډیر جرأت سره وایي:
«دبیر شورای نگهبان حکومت اسلامی ایران اعتراف کرد که اعدامهای دهه 60 بدون محاکمه و زیر نظر شخص خمینی اجرا می شده است.»
ـ کله چي ایرانیان افغانان په یوه لوی یا واړه جرم او یا هم په کومي هسي خبري ونیسي، ځای یي زندان او په نصیب کي یي د دار پړی دی او بیا یي مړي بیرته پر افغانانو خرڅوي، خو د «ستایش» په حق کي د کړي جنایت په وخت کي، افغان مقاماتو د مخدره موادو د قاچاق په تور ېنځه ایراني بندیان له زندان نه آزاد کړل (ښه ګاونډیتوب، همکیشتوب، همژبتوب او نور توبونه...)،
ـ میډیا څو ځلي اسناد او شاهدان وړاندي کړي دي چي د ایران «سپاه پاسداران» له بیلابیلو لارو نه په استفادي سره، آن د خمیني له واکمنۍ نه نیولې د بشار اسد د واکدارۍ تر ساتلو پوري، افغانان اړباسي چي د ایراني استخباراتو له پلان سره سم په جګړو کي ګډون وکړي. تر ټولو تازه شواهد بي بي سي د ۲۰۱۶ کال د اپریل پر شلمه په یوه تحلیلي رپوټ کي وړاندي کړل،
ـ ټوله نړۍ چغي وهي چي ایران او ایراني مقامات او ایراني سیاسیون، په ایران کي، په سیمه او نړۍ کي تر ټولو بد او منفي سیاست پرمخ بیایي، خو ایراني چارواکي په سپین سترګی سره چغي وهي چي دوی حق په جانبه دي، ښه بیلګه یي د ۲۰۱۶ کال په شلمه نیټه د بي پولي رپوټ ورکونکو ګزارش دی. هغوی ویلي دي چي ایران په ټوله نړۍ کي هغه هیواد دی چي د مطبوعاتو آزادي یي ځپلې ده او مخنیوی یي ورته کړی دی،او...

د اوس له پاره دا غمیزه پای نه لري...

## یو ځل بیا د «ستایش» غمیزه

د ۲۰۱۶ کال اپریل په اولسمه نیټه د آخوندي رژیم د ټیکه دارانو تر ږیرې لاندې، د تهران د ښار په څنډو کې د ورامین په سیمه کې «ستایش» نومې افغان ماشومه د آخوندي رژیم د وحشي بچیانو د شهوت ښکار کېږي او بیا وژل کېږي.

ستایش یې له ټول معصومیته سره ووژله او د آخوندي رژیم استازو، د ستایش خپلوان او د هغوی نور خواخوږي افغانان سپین ایسټلو ته هم پرېنښودل؛ په همدې وخت او همدې هیواد کې یو ایرانی شپېږ کلن ماشوم د ایران په زنجان نومي ښار کې څاه ته لوېږي، مړ کیږي، قضایي مقامات د هغه ښار ښاروال او څو تنه نور مسولین لومړی بر طرفه او بیا توقیف کوي. لکه چې آخوندي تفاوت همدومره وي.

هغه وخت په دې ډول د ستایش پر وژلو او دوسیه باندې خاورې واړول شوې، اوس څه پېښ دي چې بیا آخوندي رژیم د ځان بر حقه ښوولو له پاره او د عدالت د پلې کولو په نامه ډمامې را پیل کړي دي چې د ستایش قاتل دوه ځلې په مرګ محکوم شو.

څومره افغانان چې په ایران کې په دار ځړول کیږي، نه نوي (۹۹) سلنه باندې د مخدره توکو د کار و بار تور لګول شوی دی او مړي یې بیا بیرته د هغوی پر کورنیو خرڅول کیږي. دا دوسیې او نور هغه ظلمونه چې د ایران په جغرافیاي محدوده کې د افغانانو په حق کې شوي او کیږي، په کوم عدالت کې به وڅیړل شي؟؟؟

افغان چارواکي خو یې هسې هم په فکر کې نه دي. په کابل کې ناست واکداران هغه کارونه کوي چې باید و یې نه کړي، د شمالي کوریا د اتمي آزموینو غندنه کوي او...

و سریه! ستا یې په کوریا څه او ستا یې د هغوی پر اتمي آزموینو څه غرض؟ خپل کور کې دې توره سپې لنګه ده، په زرګونو بچي یې خلکو ته غاپي او خولې ور اچوي، د تورې سپې کونګري دروټړئ.

په ایران کې هر افغان ته یو وار نه، په سل ګونو لا زرګونو ځلې د «آشغال» خطاب شوی او کېږي، خو هماغه «اشغال» چې بیا په کوم بل هیواد کې د خپل استعداد او لیاقت له مخې کوم مقام ته ورسېږي، بیا دوی سوانح، تذکرې او اسناد ورته جوړوي چې دا ایرانی دی، که هیڅ نه وي دا خو وایي چې دا په ایران کې زېږیدلی دی، خو دا یې تر څنګه نه وایي چې دغه په ایران

کي زبېږيدلی يا زبېږيدلي او د هغه يا هغي کورنۍ څو ځلي او په څه ډول د «افغان اشغال» په نامه، په زوره له ايران نه شړل شوي دي چې غوره مثال يي د کانادا په کابينه کي مريم منصف نومې افغانه ده.

دا چي اوس د ستايش قاتل ايراني آخوندان دوه ځلي په اعدام محکوموي، له دې به دوی څه موخه لري، زه خو نه ورباندې پوهېږم.

هغه وخت چي د «ستايش» په حق کي دا ستره نا روا تر سره شوه او دا ستره غميزه رامنځته شوه، ما د يوې مقالي په ترڅ کي موضوع د پنځه ويشت (۲۵) مآخذونو په ښودلو سره په مستند ډول وڅيړله او د ۲۰۱۶ کال د اپريل په دوه ويشتمه نېټه مې د «دوه ماشومان، دوه مرګونه او دوه چلندونه» تر سر ليک لاندې خپره کړه، درانه لوستونکي کولای شي زما ياده مقاله په لاندې لينک کي ولولي:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_dwa_mashoman_dwa_margona.pdf

## «زما مور هغه ده، چې تر ټوله ښه ده!»

## د مور د ورځې په پار

موږ افغانانو باندې د جګړې سونامي، له شمیره وتلې نورې سونامیګانې راوستي دي چې اوس هم په کې ډوب یو، لاس پښې په کې وهو او ځان له دې خپل لاس جوړ کړو سونامي ګانو څخه نه شو خلاصولای:

**ـ د جګړې سونامي،**

**ـ د لوږې سونامي،**

**ـ د بې باورۍ سونامي،**

**ـ د بې سوادۍ سونامي،**

**ـ د نا پوهۍ سونامي ...**

ـ او په پای کې د مځکې د ګرې تر ټولو ښکلي او مقدس موجود، یعنې ښځې ته، مور ته د نه درناوي سونامي.

په دې سونامي ګانو کې له راګیر کیدو سره ـ سره به مور یاده کړو. زه فکر کوم چې د مور ورځ خو باید هره شیبه وي، هر ساعت او هره ورځ وي؛ دا په دې چې دا یاد، د هغه چا له پاره دی چې د هغې له برکته موږ یو، هغه څوک چې، که زموږ په زړه کې د مینې او عاطفې یوه زره هم وي، نو باني او مولد به یې همدا مور وي.

د مور د ورځې له پاره به زه د مور او مور ولۍ په باب د لیف تولستوی یو څو جملې را واخلم. دا جملې چیرې د هغې ماشومې له خولې را وتلې دي چې خپله مور یې له سترګو پناه شوې وه او د هغې لټون یې کاوه. د تولستوی دا خبرې ښاغلي اجمل روهي په هنرمندانه ډول ژباړلې دي:«

## د مور د ورځې له پاره

## څوک تر ټوله ښه ده؟

## لیکوال: ل. ن. تولستوی

## ژ: اجمل روهي

په کوڅه کې، د بیروبار په منځ کې، ماشومه ورکه شوې وه. منډې او چیغې وهي، مور لټوي. خلک له ماشومې پوښتي:

«مور دې څوک ده و، جینۍ؟»

ماشومه په داسې حال کې چې اوښکې یې بهېږي، په ځواب کې وایي:

«نو تاسې په دې نه پوهیږئ؟ زما مور هغه ده، چې تر ټوله ښه ده».



# شپېـتـه کلن، شپـږ کلنه او انصاف

## «تیر په هیره»

د «تیر په هیره» منفي اړخ تر مثبت دا ډیر دی. هغه څوک چې غواړي له مسولیت نه ځان وژغوري، نو د «تیر په هیره» توري سمدلاسه مقابل لوري ته مخکې ږدي. پر شپـږ کلني باندې جنسي تیری او اوس د «تیر په هیره» د مفهوم په رڼا کې هر څه باندې خاورې اړول شوي دي.

زه نه پوهېږم چې زموږ له هېـواد، ټولنې او خلکو نه څه شی جوړ شوي دي، هغه څه تر سره کېږي چې باید و نه شي، هغه څه تر سره کېږي چې په اوریدو یا لیدو یې د انسان پر بدن وېښتان درېږي، هغه څه تر سره کېږي چې په هیڅ دین او قانون کې نه شته او نه باید وي؛ خو زموږ په ټولنه کې تر سره کېږي.

تر دې نه هم جالبه دا چې د څو ورځو په تېـرېـدو سره هغه موضوع داسې هیره شي، یا داسې هیره کړای شي، لکه هېڅ شی چې لا پیښ شوي هم نه وي. که دولت لږ څه شرم او حیا مخ ته ودروي، نو د موضوع د څېـړلو تر عنوان لاندې یو هیأت و ټاکي، څه موده وروسته پلاوی هم ورک شي، موضوع هم پسې هیره شي، داسې لکه چې پاڼه هم نه وي ښوریدلې، لکه د چا خبره:

**«نه خر وهلی، نه لښته ماته»**

څه موده مخکې په میډیا که لکه نا څاپي باران یو دم د یو خبر باران وشو چې پر یوې کم سنې ماشومې باندې کوم جګ سني عام سړي که کوم ملا جنسي تیری کړی، که یې نکاح کړې او **تر ټولو ژړونکې او خندونکې یې لا دا چې د دې کار عامل ادعا کړې چې دا جلی ده ته د ډالۍ په توګه د دم و دعا په مقابل کې د هغې د مور پلار له خوا ور ښښل شوې ده.** پر دې ماشومې باندې جنسي تیری تر هر نامه لاندې چې وي د ښنلو او توجې وړ نه دی.

جنسي تیری له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاو تریخوالي تر ټولو منفي او لویه برخه جوړوي او له بده مرغه چې د ټوپکي واکدارۍ په دایره او موده کې دا په یو عام دود باندې بدل شوی دی.

په دې برخه کې له بېلابېلو منابعو څخه دغو څو خبرونو ته پام وکړئ:

ــ له یوې ۶ کلنې ماشومې سره د ۴۰ یا ۵۰ کلن سړي نکاح،

ـ ازدواج ملای 50 سالهٔ هراتی با دختر 5 ساله غوری،

ـ افغان ملا د ۶ کلنې نجلۍ سره د واده په تور نیول شوی،

ـ ملایی که با کودک شش ساله ازدواج کرده بود بازداشت شد،

ـ بازداشت یک ملا دعا خوان به جرم روابط جنسی با دختر شش ساله،

ـ محکومیت مرد ۴۲ ساله به هفت سال زندان به جرم ازدواج با دختر ۶ ساله افغان.

په میډیا کې د همدې خبرونو له خپریدو سره هممهاله، یو فرهنګي په خپله فیسبوک پاڼه کې په ډانګ پیلي ډول ولیکل:

«معذرت غواړم ژورنالستو حضراتو، په هرات کې له شپږ کلنې ماشومې سره د شپېته کلن سپینږیري نکاح خبر نه، بلکې دود دی. د خبر وړتیا هغه حادثه لري چې یو ځل، استثنائي، یا غیرعادي پیښېږي. ښکاره او مشهور مثال یې هماغه دی چې وایي که سپی انسان وداړي، خبر نه دی، ځکه سپی انسان داړي، خو که انسان سپی وداړه، خبر دی، ځکه چې دا کار غیر معمولي دی.

له بده مرغه، د کم سنو نجونو واده زموږ د فرهنګ عادي برخه او زموږ د قانون د تایید وړ دی او زموږ ملا صاحبان خو یې نکاح هم په خپله تړي او خون یې هم اخلي.

شرعاً ښځه د خپل ځان مالکه ده، او د دې له رضائیت پرته نکاح باطلېږي او د سمي نکاح په نه شتون کې د داسې ښځې او مېړه هره شپه یو ځای کېدل نه یواځې زنا، بلکې زنا بالجبر، او په ننني اصطلاح، جنسي تېری دی، خو دا چې خوارې افغانانې له خپل حق څخه ناخبره دي، اکثره دا ډول حالت خپل نصیب ګڼي، نه یواځې دا چې شکایت نه کوي، خپله ژړا او اوښکې پټوي او پر خپلو ارمانونو او خواهشاتو خاورې اړوي، بلکې همدا عقده یې په عقیده هم اوړي او د خپلو لونو او اولادونو په برخه کې هم ورته پرېکړې کوي. که په دې اعتبار و وایو، د نا خوښې نکاح هره بستره یوه انحصاري رنډی خانه ده، خو څوک د دې خبرې د کولو جرأت نه لري...»

دا زموږ حال دی چې یا یې د غیرت په نامه د کور بندیوانه کوو، یا یې په وهلو ټکولو داسې حد ته رسوو چې نور نه د خبرو وي نه د کار او بیا د لیونتوب نوم پرې ږدو او وایو چې د خدای رضا به همداسې وي، یا جنسي تیری پرې کوو او که بل څه نه، اور خو شته چې په کې وې سوځوو.

داسې ښکارې چې د دې ټیپ خلکو د شهوت تنده اوس په ۱۴ کلنو او اتلس کلنو نه ماتېږي، د هغه له پاره یې اوس تر هغو د ټیټ سن ماشومانو ته مخه کړې ده چې د شهوت تنده ور باندې ماته کړي.

که د دې ماشومې مور پلار او یا په اصطلاح مېړه سواد، پوهه او انساني بصیرت درلودلای، د ښوونځي او پوهنځي په دروازه ننوتلي وای، دا کار نه کیده.

په دې پېښه کې سړی یا فاعل ادعا کوي چې دا نجلۍ د ده ملکیت دی او د دم او دعا په بدل کې دا نجلۍ ده ته تحفه او ډالۍ شوې ده. کله چې د فاعل دلایل واوریدل شي، بیا د ماشومې د مور پلار خبرو ته کینو او بیا د ۲۰۱۶ کال ټولو پرمختګونو او د تکنالوژۍ او انساني ژوند دې پوړیو ته وګورو او بیا یې د دې خلکو له اعمالو او تفکر سره مقایسه کړو؛ د انسان په وجود باندې ویښته درېږي.

زما له نظره له یوې خوا که اصلي ملامت د دې پیښې عاملین، د جلۍ کورنۍ او ښاغلی دعا خوان؟ دي؛ نو له بلې خوا باید دا پوښتنه هم په جدي ډول مطرح شي چې پر دغې ټولنې دا حالت چا راوست او دا وحشت چا ورباندې خپور او حاکم کړ او نور ډېر داسې ولې، ولې؟

دا حالت له همدې ځناورو او د دوی له تور او غیر انساني طرز تفکر سره راغی، چې د افغانانو له عقیدوی طرز تفکر یا اسلام سره نیم پاینت اړخ هم نه لګوي، همدا تنظیمي ټوپکي واکداري وه چې د غنیمت په نامه هر څه په لاس ور تلل، نو خپل یې ګڼل، حتی د خلکو ناموس. په دې ډول دا او دې ته ورته وحشت پر ټولنې باندې د همدې تنظیمي جهادي اوصولو په رڼا کې پر ټولنې باندې حاکم شو، چې نن یې ثمر د ټولو خلکو ستوني او ژوند ور تریخ کړی دی او دا هر څه د بې سوادی، نا پوهۍ او پر ټولنه باندې د تیارې د غوړیدو په پایله کې زمو وطن او خلکو ته ور په برخه شوي دي.

کوم چا له ډېر درد نه په خپل فیسبوک کې داسې لیکلي وو:

«این هم عکس سید عبدالکریم مرد پنجاه ساله که مجرم به ازدواج با دختری شش ساله به نام "سیبد بی بی" است.

به جان عزیزترین هایم قسم اگر من قدرت در صدور حکم مجازات را در دوایر قضایی کشور داشتم، حکم عقیم کردن چنین مرد هایی را صادر می کردم»

په رښتیا له موږ نه قزاقان هم ښه دي، هغوی یو قانون تصویب کړ چې پر ماشومانو متجاوزین باید خصي کړای شي، خو زموږ په هېـواد کې د ټوپکي پالیسی په دایره کې نازول کېږي.

## شربت ګله:

### نورو ته شربت ګله
### ځانته زهر ګله

**«ما نن يو ځل بيا د شربت ګلې عکس ته په ځير ځير، کتل د**
**هغې په سترګو کې پيغورروو، دا پيغور د هغو ټولو قامونو**
**په نوم وو چې د هغې کور يې د جنګ په لمبو کې**
**وسيزه او هغه يې د پيښورپه لارو کوڅو**
**کې بې نومه اوبې نښانه پريښوده.»**

(شاهين بونيرى)



له هغې ورځې نه چې نشنل جغرافيک مجلې د شربت ګلې عکس چاپ کړ، ډيرو کورنيو او بهرنيو قلموالو د شربت ګلې او د هغې د عکس په باب ليکنې وکړې. زه هم کله، کله دې ته

هڅيدلی يم چې څه وليکم، خو د ليکنو او نظرياتو د ډيروالي په وجه به د شربت ګلي په باب خپله سوژه او يا د ليکني موضوع را ته پيکه ښکاره شوه او بيا به ور نه تېر شوم؛ خو اوس پر شربتې باندې خپلو سترګو او خپل شهرت، د سياسي حالاتو په کش و ګير کې داسې څه راوستل چې خوږه شربته يې د زندان تيارو ته ور پورې وهله.

زه به د شربتې په باب د رنګارنګ نظرياتو، راپورونو او مقالو په اړو دوړ کې خپله هغه کيسه وليکم چې ما چيرې او څنګه د شربتې همدا مشهور عکس وليد:

د ۲۰۰۰ ام کال دسمبر و چې د مهاجرتونو د ډيرو سترياوو په پای کې ډنمارک ته ورسيدم، نوم مې لکه د چا خبره په پنسل وليکل شو. د ډنمارک د کوپنهاګن د مهاجرو له مرکزي کمپ نه يوه بل واړه کمپ ته چې د ډنمارک په شمال کې، د فريدريکس هاون (frederikshavn) ښار کې پروت و، ولېږل شوم.

نا مالومې راتلونکې او د تر ډنمارک پورې د رارسيدو خواريو، داسې ستړی کړی وم چې درې ورځې له کمپ نه د باندې و نه وتلم. په ټکي ډنمارکي نه پوهېدم، نه لاره را مالومه وه، نه کوڅه او نه هم ښار.

درې ورځې وروسته مې له يوه افغان سره له بلديدو سره سم، له هغه نه هيله وکړه چې:

ته خو به لږ بلد وې، که ما سره مرسته وکړې!

هغه و ويل چې سمه ده، څه درته وکړم؟

ما ورنه هيله وکړه چې له ما سره يو وار تر ښاره پورې لاړ شه، که په دې ښار کې کتابتون وي، هغه را وښيه. هغه په ډېرې مهربانۍ را ته ويل در ځه!

کله چې ښار ته ورسيدو، له ما سره تللي آشنا يوه ودانۍ را وښوده او را ته وې ويل چې:

دا د همدې ښار کتابتون دی.

چې په دروازه ور ننوتم، که ګورم چې شربت ګله ولاړه ده.

دا غلې او بيځانه ولاړه وه، خو سترګو يې خبرې کولې، زه يې هم په خبرو پوهيدم چې دا په سترګو کې څه راته وايي. مخامخ ورته ودريدم، شربتې ما ته کتل او ما هم دې ته کتل، تا به ويل چې د ميدانښار د دادل درې د کوم کلي په يوې تنګې کوڅې کې په مخه راغلې ده. ما غوښتل چې څه ورته ووايم، خو چې پام مو شو زه تش کاغذ ته ولاړ وم. دا د شربت ګلې تر ټولو لوی چاپ شوی عکس و.

را سره راغلي آشنا راته غږ کړل چې راځه کنه چې له کتابتون نه د استفادې له پاره دې نوم راجستر کړو!

ما ويل چې دا جلۍ افغانه ده.

هغه را ته کړل:

چې آشنا د افغاني عکس به څوک دلته بندوي، راځه چې ځو او...

په تلو ـ تلو کې مې بيا هم د سترګو له کونجونو ورته کتل او د زړه په خزان شوي بڼ کې مې له توندو بادونو سره دې لنډۍ غږ کاوه:

## ته دي د سترګو شربت راکړه
## زه د هجرت تورو تیارو ځبلی یمه

کلونه واوښتل او اوس ټول په دې پوهېږي چې د مهاجرت په سره اور کې اوسیدل څومره ګران دي او شربت ګلې د ماشومتوب له څو کلونو پرته، نور ټول د سره انګار په همدې بټۍ کې تیر کړل. ماشومه وه، پیغله شوه، میرمن شوه او بیا مور شوه. د شربت ګلې نوم، د شربت ګلې عکس او بیا په عکس کې یې جادویي سترګې د ټولې نړۍ او ټولو هیوادوالو له پاره د خواږه شربت یو جام شو؛ خو په خپله د دې له پاره او د دې د کورنۍ له پاره د زهرو جام شو او د زهرو دغه جام پاکستاني استخباراتو لومړی پر دې، بیا یې پر کورنۍ او بیا په ټولو افغانانو باندې وچیکه.

د سیاسي ناندریو په لړ کې دا دی پاکستاني استخباراتو نه بله لاره ورکه ده اوس مو له خوږ ګوتې نه نیسي او لکه لیوني سپي هرې خوا ته خولې اچوي، لکه زخمي مار په هرڅه باندې خوله لګوي او په هر ډول چې وي افغان باید و زورول شي، د زوورولو نوی چم یې د شربتې نیول او بندي کول دي او...

د شربتې د نیولو او بندي کولو په باب ګڼو قلموالو خپل نظریات او تآثرات څرګند کړي دي، خو په ټولو لیکنو کې د شاهین بونیري«ما له د سترګو تاوان راکړه» لیکنه زما خوښه شوې ده چې په ښکلي هنري انداز سره یې د موضوع حق ادا کړی دی او د د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په شپاړسمه نېټه یې په تاند کې خپره شوې ده . زه یې دلته د افغان جرمن آنلاین له درنو لوستونکو سره شریکوم:

«دیرش کاله جنګ، ۱۵ لکه مړي، ۳۵ لکه مهاجرین ــ دا د افغانستان کیسه ده ــ او هم دا د شربت ګلې د ژوند کیسه ده!

د هغې مور پلار د شورویانو په بمبارۍ کې ووژل شول ــ کور او کلي یې وران شو ــ لا ډیره ماشومه وه چې د خپلې نیا سره په یخه یخنۍ او واورو کې په دنګو دنګو غرونو راواوړیده ــ او په پاکستان کې مهاجره شوه.

هغې له قدرت ډیرې ښایسته او له غروره ډکې سترګې ورکړې وې ــ خو جنګ او مهاجرت ورپکې ویره او وحشتونه وکړل.

په پیښور کې د کډوالو په کیمپ کې دیره شوه ــ د دې ساده پښتنې لپاره ماضي تریخ او مستقبل بې باوره وو.

هغې د خپل خوار و زار ژوند کیسه یې په خپل زړه کې پټه ساتلې وه خو سترګو ورسره وفا ونکړه ــ د هغې شنې سترګې ښایسته هم وې او زورورې هم ــ خو د هغې شونډې وچې او مخ غمژن وو.

د هغې یو تصویر هغه د یوې مهاجرې نه؛ مونالیزا؛ جوړه کړې وه ــ دغه یو تصویر د هغې د خاورې د جلال تصویر هم وو او د جمال هم ــ دغه تصویر د درد تصویر هم وو ــ او د ارمان هم.

دا تصویر په مجلو او ورځپاڼو کې خپور شو ـ په فریمونو کې ځای شو او د نړۍ د پرمختللو ښارونو کورونو، دفترونو او بازارونو ته ورسید. هر څو که د شربت ګلې د خپل ژوند هیڅ قیمت نه وو، خو د هغې تصویر په ملیونو کې وپلورل شو ــ د کارپوریټ دنیا د ظلم انداز هم ډیره عجیبه وي.

د هغې تصوير د زماني په زړه کي ځای شو خو هغه هيره شوه. ډير کالونه وروسته خبر راغی چي شربت ګله واده شوې ده او د خپلو بچو سره د غرونو په لمن کې په خپل کلي کې ژوند کوي.

او چي په دويم ځل د هغې تصوير مخې ته راغي نو هغه وخت ځيلي وه خو د هغې سترګې هم هغه شان تاندې او تپاندې وې.

افغانان له دا زوړ جنګ د وحشته نه وو بهر شوي چي يو نوي جنګ په خپلو پنجو کې ګير کړل — يو ځل بيا جنګي جازونه اوچت شول — او اسمان سور شو . شربت ګله سره د خپلو ماشومانو د تورې بوږې د غرونو نه بيا د سرپناه په لټون کې پيښور ته راورسيده — بيا مهاجره شوه ـ په خپل کور کې مهاجره!

نن د پاکستان ميډيا راپور ورکړ چي شربت ګله د جعلي شناختي کارډ جوړولو په تور ونيول شوه — او د پوښتنو ګروېږنو لپاره پوليسو ته په لاس ورکړل شوه.

**ما نن يو ځل بيا د شربت ګلې عکس ته په ځير ځير کتل ـ د هغې په سترګو کې پيغور وو ـ دا پيغور د هغه ټولو قامونو په نوم وو چې د هغې کور يې د جنګ په لمبو کې وسيزه او هغه يې د پيښور په لارو کوڅو کې بې نومه او بې نښانه پريښوده.»**

پای

# اروپايي همځولې

د نړۍ په ډېرو ښارونو کې، د ګڼو مناسبتو په پار په ننداړتونونو کې د شربت ګلې دا مشهور عکس ننداژې ته وړاندې شوی دی. په لاندې عکس کې يوه ښځه ليدل کېږي، چې ښايي همځولې به يې وي، د شربتې د عکس ننداړې ته ولاړه ده او په زړه کې ورته وايي: «آخ چې تــه زما، زمــوږ واى شـربت ګلې!»

ما (اصف بهاند) د عکس په ليدو سره دا څلوريځه ورته وليکله:

## اروپايي همځولې

آخ چې تــه زما، زمــوږ واى شـربت ګلې!
روح دې وسه، هـډ دې وسه، غـربــت ګلې

دواړه سـترګې دې د دوه عـالـم کيسې کړي
ژوند دې ټول تېر په وسواس او هيبت، ګلې

۲۰۱۹/۰۱/۰۸
هېدرسليف
ډنمارک



## لونې د زدکړو په لور، که نه...

په دې ورځو کې د افغانستان په بریښنايي میډیا کې د ګڼو بدو او منفي خبرونو او راپورنو تر څنګ، يو ښه او مثبت خبر هم تر سترګو کيده، چې سرليک يې داسې و:

«د خوست د موسي خېلو ولسوالي مشرانو د نجونو د تعلیم مخنیوونکو ته جریمه وټاکله»



دا ډير ښه خبر او نظر دی، چې ښخوا هم په يادې سيمې يا شا و خوا سيمو کې خلکو دغسې پريکړه کړې وه چې: هغه کورنۍ چې د نجونو د تعليم مخه نيسي، بايد جريمه شي؛ خو زه ډاډه يم چې ډېری کورنۍ به د يادې جرماني د ورکړې توان هم نه لري، چې وروسته بيا نوري ستونزې رامنځ ته کوي.

د دې خبر په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

«تاند- د خوست د موسی خېلو ولسوالۍ اوسیدونکو په یوه قومي جرګه کې پرېکړه کړې چې که چا د نجونو د زده کړو مخه ونیوله، پنځه زره افغانۍ به قوم ته جریمه ورکوي.

د منګلو مشرانو دا پرېکړه تېره اوونۍ په یوه قومي جرګه کې وکړه.

د منګلو د قوم په دې جرګه کې، چې د موسی خېلو د ځایي چاروکو په بلنه جوړه شوې وه، د نجونو د جبري زده کړو په پرېکړه قومي مشرانو او سپین ږیرو لاسلیکونه کړي او د خوست د پوهنې له ادارې یې غوښتي چې په یاده لیرې پرته ولسوالۍ کې نجونو او هلکانو ته د زده کړو وړ شرایط برابر کړي...

د خوست د پوهنې ریاست چاروکو ویلي چې د موسي خېل ولسوالي د قومي مشرانو له پرېکړې وروسته به دې ولسوالۍ ته پام زیات کړي.

د دوی په وینا د خلکو د همکارۍ په صورت کې د پوهنې وزارت لا ډېره مرسته کړلی شي...»

دغه ربښتیاني قومي مشران دي چې داسې او دې ورته پریکړې کوي چې مثبت تاثیرات یې ټولو راتلونکو نسلونو کې محسوس وي او نه هیریدونکي مثبتې پایلې لرلی شي.

زما له نظره په دې برخه کې د خلکو او دولتي اړوند مسؤلو ادارو د ګډې همکارۍ تر څنګ باید د دې په باب هم پریکړه کونکي فکر وکړي چې هغه څوک چې د ربښتنې زدکړې په خاطر نه، بلکې د جریمي له ډاره خپلې لونې ښونځي ته لېږي، د دا داسې کورنیو په باب هم پاملرنه وشي چې دوی باید له رواني پلوه چمتو کړای شي چې نه یوازې د نجونو، بلکې د هیڅ کوچني د زدکړو مخه ونه نیسي.



کیدای شي ځیني کورنۍ د اقتصادي ستونزو له مخې خپله لور ی یا لوڼې ښوونځي ته و نه لیږي.حکومت باید داسې پلانونه طرحه کړي چې د زدکونکو د اقتصادي ستونزو د رفع کولو په خاطر شاګردانو ته خوراکي یا نقدي تشویقي بستې یا ډالۍ په نظر کې ونیول شي. او دا کومه نوې خبره نه ده، پخوا هم د افغانستان په ښونځیو کې تشویقي بستې ورکول کیدې لکه وچې شودې، وچې هګۍ، کله ـ کله وړه او نور غذایي مواد.

که دا کار نه وي، ښایي ځیني کورنۍ داسې استدلال وکړي چې: زما دا یوه لور ده خس راټولوي، څو وزې او میږې دې هغه پیایي، د کور کارونه کوي؛ دا هم چې ښونځي ته ولېږم، نو بیا...



په هر صورت دې پریکړې ته به په ښه نظر وګورو او هیله چې له دې وروسته د هیواد په هره سیمه کې دې ته ورته مثبتې پریکړې وشي. هیله ده داسې و نه شي لکه د دولت د نورو پریکړې په څېر چې پریکړې کېږي، پر یخ یې لیکي، سره لمر ته یې ږدي او...

د دې ښې او مثبتې پریکړې له ښه والي سره، زه په دې ډارېږم چې د افغانانو د افراط او تفریط په سلسله کې د دې په مقابل اړخ کې بله داسې پریکړه ونه شي چې د هرې کورنۍ کوچنۍ که د ښونځي پر لار تر سترګو شو، هغه ته به د مرګ تر پولې سزا ورکول کېږي.

کومې ډلې ټپلې چې همدا اوس په افغانسمتان کې د واک پر ګدۍ ناست دي، مخکې له واک نه، کله چې په مسلحانه اپوزیشن دریځ کې وو، د ښونځیو سوزول او د ښونکو حلالول یې ثواب ګڼل، خو اوس چې دوی په واک کې دي، هماغه د دوی کارونه اوسنی مسلح اپوزیشن تکراروي، نو دا نه یوازې ثواب نه ګڼل کېږي، بلکې غیر شرعي او ضد بشري ګڼل کېږي او نور داسې ډیر مثالونه.

بله خبره دا ده چې باید په ځیر ولیدل شي او فکر پرې وشي چې همدا اوس د هیواد د دریګونو قواوو واک د څه ډول خلکو په لاس کې دی:

ــ څومره زدکړې لري؟

ــ د دریګونو قواوو په هر ټیټ، منځوي یا لوړ مقام کې چې واک لري، د هغه وړتیا ورسره شته که نه؟

ــ په پای کې د هیواد د ابادولو او نوي نسل د روزلو په برخه کې څه ډول فکر کوي؟

که زه د دریګونو قواوو د دندو او مسولیتونو په باب څه ولیکم، خبره به له مقالې، کتاب او کتابونو نه هم واوړي. یو لنډ خو ډیر هنرمندانه مثال به یې زه دلته راوړم چې زما یوه فیسبوکي ملګرې د ۲۰۱۶ کال د جون په یولسمه نېټه په طنز ډوله ژبه داسې حقیقت لیکلی چې له خندا به دې بېوډې ورته ونیسي او د اوښکو په تویولو به دې اوښکې وچې شي.

زما یو نالیدلي فیسبوکي اشنا دغه څو جملې د پارلمان د وکیلانو په باب لیکلي وې چې د مالیې له وزیر څخه څه غوښتنې لري. په هغه وخت کې ما دا څو جملې کاپي کړې او سر لیک مې ورته وټاکه:

«د دایکندي وکیل، د کندهار وکیل»

اوس هغه جملې دلته د مثال له پاره رانقلوم:

«ټاپه وهل یې پر تاسو،

په کابل کې د مالیې وزیر ته د ډایکنډي وکیل د پوهنتون جوړولو پیشنهاد ور وړي، د پنجشېر وکیل د روغتون درخواست کوي، د کاپیسا وکیل د سړک پخولو ږغ پورته کوي، د پروان وکیل د برېښنا د پایو د لا ټینګښت ټینګار کوي...

خو د لوی کندهار وکیل د تر حساب تېرو مساجدو او جامع ګانو سره، سره د بلې جامع د جوړولو آمر ځني اخلي! دې ته اوس په کوم نظر ګورئ؟

زموږ اولنۍ اړتیا څه ده؟ خبر یاست چې په ټول اروزګان کې څو مکتبونه او پوهنتونونه لرئ؟

د روغتون کیسه خو یې در معلومه ده، چې لږ درنه پېښنه وسي زخمیان د کندهار مېرویس روغتون ته راځغلوي...

دین یې دام دئ د دنیا په لار کې ایښئ
پرې را اړوي وحشیان د مـخـلـوقـات

«رحمان بابا»

په افغانستان کې د نجونو د تعليم له پاره رسمي او دولتي هڅې شوې دي، خو پايله يې کله محسوسه او کله به لا درکه وه. حتی داسي هم شوي چې افغانستان د نجونو له پاره تر ټولو خطرناک هيواد بښودل شوی دی.

بي بي سي د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر کې يو راپور خپور کړ چې سر ليک يې داسې و:

«افغانستان د نجونو تعليم لپاره څلورم ناوړه هېواد»

د دې سر ليک او رپوټ له لوستلو سره سم مې د **«يوه بله نيکنامي؟»** تر سرليک لاندې يوه مقاله وليکله او سمدلاسه مې خپره کړه.

د دې مقالې په يوه برخه کې ما (آصف بهاند) داسې ليکلي دي:

«څو ورځې مخکې (۱۱/۱۰/۲۰۱۷) د «نجونو نړيواله ورځ» ورځ ولمانځل شوه او زمو ميډيا هم لږ و ډير ونډه په کې واخيسته. ځينو هسې ياده کړه، ځينو په ښو تورو سره د نجونو د قدرداني له پاره يو څه وليکل، يوه نيمه مقاله خپره شوه، د نجونو د ژوند د خرابوالي په باب ګزارشونه... او ځينو لا وليکل چې دا ورځ بيا له کومه شوه.

په هر ډول چې و، د نجونو په باب يو غږ اوچت شو او يو ځل بيا د هيوادوالو او نړيوالو تر غوږونو پورې دا خبر او دا چيغه ورسول شوه چې په افغانستان کې د نجونو ژوند له هره اړخه خراب او تريخ دی او ډيره سلنه له تعليم، ښوونځي او پوهنځي نه لرې دي.

د نجونو د ورځې د لمانځلو په لړ کې داسې تاييد شوې او نا تاييد شوې ارقام هم وړاندې شول چې د دوو ميليونو په شا و خوا کې نجونې ښونځي ته د تګ له حق نه محرومې دي او د دې محروميت تر څنګه د تاوتريخوالي له ظالمانه ډولونو سره هم مخ دي. که ښوونځي ته لاړې هم شي، اويا سلنه نجونې په لږ لوړ سن او لږ جګ ټولګي کې نه پرېښودل کېږي چې ښوونځي ته ادامه ورکړي؛ د دغو عيني ستونزو سره، سره د ښوونې او روزنې وزارت هم په ټاکلي وخت د نجونو ورځ ولمانځله.

وروسته له دې چې په ميډيا کې د نجونو د ورځې درز دروز لږ غلی شو، بي بي سي داسې يو رپوټ خپور کړ چې هر بادرکه او با احساسه انسان ته ټکان ورکوي...

د بي بي سي په ياد راپور کې افغانستان د هغو هيوادونو په ډله کې څلورم ښودل شوی دی چې نجونې په کې د تعليم نا وړه حالت لري...

د نړۍ په هر ګوټ کې چې يو منفي لست خپرېږي، له بده مرغه چې افغانستان په کې وي او دا دی اوس مو په دې لست کې هم توره کړې، څلورم يو او دا په هيڅ وجه پټيدای هم نه شي.

ملامتيا چا ته ور له غاړې ده، دا هم څوک نه مني، که ثابته هم شي چې ډيره سلنه موږ خپله افغانان ملامت يو، بيا خو جنګ او د جګړې نوم شته چې پړه ور له غاړې کړو او ځانونه سپيني کوترې معرفي کړو، خو هغه شېبه مو هيره وي چې د غيرت، شرم او ځينو نورو دلايلو له مخې خور، لور وهو ټکوو او دې ته يې اړ باسو چې له ښونځي څخه لاس په سر او د کور بنديوانه شي، ښونځي ته د هغې (نجلۍ) په نه تګ چې څومره نورې ستونزې را ولاړېږي، هغه مو هيرې وي.

پخوا ما په خپلو مقالو کې د نورو ولایتونو مثالونه ورکړي و، خو همدا اوس په میډیا کې داسې خبرونه راځي چې لا د ننګرهار غوندې فرهنګپاله ولایت کې هم په څلورو ولسوالیو کې یوه ښځینه فارغه نه شته. دغه رپوټ ته پاملرنه وکړئ:
«د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست چارواکي وایي، چې د دغه ولایت په څلورو ولسوالیو کې تر اوسه یوه جلۍ هم له دولسم ټولګي فارغه شوې نه ده.

د پوهنې ځای ناستي رییس سید عیسی سادات سلام وطندار ته وویل، چې په یو شمېر ولسوالیو کې ان ځینې کورنۍ خپلې لونې له شپږم ټولګي پورته زده‌کړو ته نه پرېږدي.

د پوهنې رییس وایي، چې **دورباباً، اچین، نازیان او لالپوره** ولسوالیو کې د دولسم ټولګي یوه فارغه هم نه لري.»

دا چې په نړیواله کچه د افغانستان نوم په هغه لست کې په څلورمه شمیره کې درول شوی چې د نجونو د تعلیم له پاره نا وړه حالت لري، (دا هم ځانته دلایل لري)...

کېدای شي د تعلیم د مسالې په برخه کې د ځینو قلموالو هڅې، د ځینو دولتي مقاماتو (اشرف غني روان کال د ښونې او روزنې کال اعلان کړ) او د ځینو نا دولتي ټولنو (قلملار ټولنه، ویسا ورونه، چې د تعلیمي انقلاب لړ ۍ یې همدا اوس د هیواد په بیلا بیلو برخو کې روانه ده) د هڅو تاثیرات به وي، یا په عیني ژوندانه کې د شته نیمګړتیاوو او اړتیاوو درک او ورباندې پوهیدنه او ورسره د خلکو د پوهې او مالوماتو کچه دومره لوړه شوې چې اوس د نجونو د تعلیم مخه نیونکي کورنۍ په جرمانو محکومېږي.

## د «ستایش» په غمیزه پسې د «بهارې»غمیزه

په همدې نږدې ورځو کې یو ځل بیا په ایران کې له افغانانو سره یو بل ستر جنایت تر سره شوی دی. همدا نن بي بي سي پښتو او بي بي سي فارسي دا خبر ورکړ چې د ایران په اصفهان په ښار کې پر یوې پنځه کلنې افغان ماشومې جنسي تیری شوی دی. ماشومه له لارې تښتول شوې جنسي تیری وربانديې شوی او بیا نیم ژواندې چېرې غورځول شوې ده.

د بي بي سي په ریوټ کې راغلي دي:

«د ایران په اصفهان ښار کې پر یوې افغان ماشومې نجلۍ جنسي تېری شوی دی. د ایران د بېړنیو پېښو د اداري رییس رضا جعفري د ایلنا خبري اژنس ته ویلي، دغې افغان ماشومې د خپل کور مخې ته لوبې کولې چې تښتول شوې او څو ساعته وروسته په یوه کندواله ځای کې موندل شوې ده.

ښاغلی جعفري وايي دغه ماشومه اوس له روغتون رخصت شوې ده.

په تهران کې د افغان سفارت د پېښو مسوول مسعود فریادي له رسنيو سره په خبرو کې پر دغې ماشومې د جنسي تېري پخلی کړی او وايي دغه پېښه د ایران د پولیسو او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنر تر څېړنې لاندې ده.

د ښاغلی فریادي په وینا تراوسه په دغه پېښه کې ښکېل کسان نه دي نیول شوي.

د دغې نجلۍ یو خپلوان چې له ایرانه بهر ژوند کوي بي بي سي ته ویلي، دا پېښه د سې شنبې په ورځ (۹ غبرګولي) په اصفهان ښار کې هغه مهال شوې چې دغه نجلۍ د ډوډۍ اخیستو لپاره له کوره وتلې وه.

دغه کس چې نه غواړي نوم یې واخیستل شي وايي، پر موټر سایکل سپاره کس نجلۍ تښتولې او جنسي تېری یې پرې کړی دی.

دی وايي، وروسته د نجلۍ کورنۍ د اصفهان پولیسو ته خبر ورکړی او روغتون ته لېږدول شوې وه.

څو ورځې وړاندې، پر ټولنیزو رسنیو د یوې پنځه کلنې افغان ماشومې چې ویل کېږي جنسي تېری پرې شوی خبر لاس په لاس کېده، خو هېڅ کومې کره سرچینې دغه خبر نه دی تایید کړی.»

دا پېښه په ایران کې لومړی پېښه نه ده چې پر افغان ماشومانو باندې جنسي تیری کېږي، په ۲۰۱۶ کال کې هم پر یوې بلې افغان ماشومې باندې چې ستایش نومیده، جنسي تیری شوی و.

په هغه وخت کې هم ما خپل غږ اوچت کړ او دوې مقالې مې وربانديې ولیکلې. په لومړنۍ مقاله (دوه ماشومان، دوه مرګونه او دوه چلندونه) کې مې داسې لیکلي وو:

«د تهران د ښار په څنډو کې د ورامین په سیمه کې شپږ کلنه افغان ماشومه (ستایش) تښتول کیږي، بیا ور باندې جنسي تیری کیږي، بیا وژل کیږي او بیا وربانديې تیزاب پاشل کیږي .دې

عمل ته څه نوم کېښودل کېدای شي او څه ډول توجې کېدای شي؟ د ټولو ملي، سیمه ایزو او نړیوالو قوانینو په رڼا کې، باید دغو خبرو ته پام وشي:

ــ له دې پېښې سره د ایراني چارواکو چلند،

ــ د ایراني مقاماتو، میډیا او زموږ د هیواد د ایران پلوو او پر ایران مینو اشخاصو او آدرسونو پټه خوله،

ــ زموږ د عامو خلکو هر اړخیزه بېوسي،

ــ او د افغانستان د دولت د فکري او جسمي معلولو او معیبو چارواکو بې غوري.

لږ نه په همدې زماني وخت کې د افغان ماشوم له غمیزې څو ورځې وروسته یو ایرانی شپږ کلن ماشوم د ایران په زنجان نومي ښار کې ځاه ته لوېږي، مړ کېږي، قضایي مقامات د هغه ښار ښاروال او څو تنه نور مسولین لومړی بر طرفه او بیا توقیف کوي، خو د افغان وژل شوي ماشوم کورنی او خپلوان د دوی په اصطلاح «تحسن» ته هم نه پرېښودل کېږي او د سپن په اندازه غږ جګولو حق هم نه ورکول کېږي .وا،وا قانون؟، وا، وا جمهوري اسلامي؟، برادري او هم کیشي او هم زباني او نور هم همدې دوو چلندونو ته کوم نوم ورکړل شي؟

او دویمه مقاله چې «د ستایش غمیزه» عنوان مې ورکړی و. د هغې مقالې په یوه برخه کې بیا داسې راغلي دي:

«د ۲۰۱۶ کال اپریل په اولسمه نیټه د آخوندي رژیم د ټیکه دارانو تر ږیرې لاندې، د تهران د ښار په څنډو کې د ورامین په سیمه کې «ستایش» نومې افغان ماشومه د آخوندي رژیم د وحشي بچیانو د شهوت ښکار کېږي او بیا وژل کېږي .ستایش یې له ټول معصومیته سره ووژله او د آخوندي رژیم استازو، د ستایش خپلوان او د هغوی نور خوا خوږي افغانان سپن ایستلو ته هم پرې نه ښودل؛ په همدې وخت او همدې هیواد کې یو ایرانی شپږ کلن ماشوم د ایران په زنجان نومي ښار کې ځاه ته لوېږي، مړ کېږي، قضایي مقامات د هغه ښار ښاروال او څو تنه نور مسولین لومړی بر طرفه او بیا توقیف کوي. لکه چې آخوندي تفاوت همدومره وي .هغه وخت په دې ډول د ستایش پر وژلو او دوسیه باندې خاورې واړول شوې، اوس څه پېښ دي چې بیا آخوندي رژیم د ځان بر حقه ښوولو له پاره او د عدالت د پلي کولو په نامه ډمامې را پیل کړې دي چې د ستایش قاتل دوه ځلې په مرګ محکوم شو .څومره افغانان چې په ایران کې په دار ځړول کېږي، نه نوي (۹۹) سلنه باندې د مخدره توکو د کار و بار تور لګول شوی دی او مړي یې بیا بیرته د هغوی پر کورنیو خرڅول کېږي.

دا دوسیي او نور هغه ظلمونه چې د ایران په جغرافیاي محدوده کې د افغانانو په حق کې شوي او کېږي، په کوم عدالت کې به وڅېړل شي؟؟؟ افغان چارواکي خو یې هسې هم په فکر کې نه دي. په کابل کې ناست واکداران هغه کارونه کوي چې باید و یې نه کړي، د شمالي کوریا د اتمي آزموینو غندنه کوي او...

و سریه! ستا یې په کوریا څه او ستا یې د هغوی پر اتمي آزموینو څه غرض؟ خپل کور کې دې توره سپېلنګه ده، په زرګونو بچي یې خلکو ته غاپي او خولې ور اچوي، د تورې سپې کونګري در و ترېځ...»

دلته ما د تیرې او اوسنۍ پېښې یو لنډکی ګزارش برابر کړ، اوس به بیا ولیدل شي چې د کابل مسؤلین څه کوي او د تهران مسؤلین د اسلامي رژیم د عدالت په سیوري کې څه اجرآت کوي.

# قیمتي جامې او وړي نسونه

## ماشوم پلورنه، د یوې غمیزې دوام

«تاند» په یوه نوي رپوټ کې د یوې بلې غمیزې یادونه کړې ده. دا ځل د طبیعت قهر او جبر دی او دا قهر او جبر چې د «اشرف المخلوقات» له ظلمونو سره یو ځای شي، بله بلا ورنه جوړېږي، داسې بلا چې لیدل خو یې لا څه کوې چې لوستل یې هم د انسان پر بدن وېښته سیخوي. دا څو جملې د تاند د راپور یوه برخه ده:

> **«سي این این تلویزیون په هرات کې د وچکالۍ له کبله د بادغیس له ګنو بې ځایه شویو کورنیو سره خبرې کړي دي.**
>
> **د هغوی په منځ کې یوه هم اکیله (عاقله) ده چې یوه سړي د خپل لس کلن زوی لپاره په ۳ زره ډالره اخیستې ده.**
>
> **د نیویارک پوسټ ورځپاڼې د راپور له مخې، د بادغیس د بې ځایه شویو په منځ کې یوې بلې مور خپله ۴ کلنه لور پر یوه ۲۰ کلن سړي د دې لپاره پلورلې چې پور پرې کړي.**
>
> **خو د اکیلې مور مرمرینه وایي چې د خپل زړه ټوټه پلوري.**
>
> **مرمرینه وایي، لورکۍ یې نه پوهېږي چې پلورل شوې ده:**
>
> **«دا په ځان خبره نه ده ، ځنګه به پوی شي؟ دا ماشومه ده. خو ما بله چاره نه لرله. که ژاړي یا خاندي، باید لاړه شي. څوک به د خپل زړه ټوټه وپلوري مګر دا چې ناچاره وي؟»**

دا پاسنۍ څو جملې د زړه سوی له بریده وړاندې، اور را اچوي، لمبه کوي مې او زه یې د افغان غمیزې یو بل څپرکي ګڼم. په اوسني وخت کې یې د نورو پیغورونو او تورو داغونو تر څنګ، یو لوی پیغور او تور داغ ځکه ګڼم چې:

**ـ د یوېشتمي پېړۍ په ۲۰۱۸ کال کې موږ نه يو توانېدلي چې حد اقل د خلکو نسونه ماړه کړو،**

**ـ دولتي واکداران مو، د همدې وړو له پاره په رالېږل شوو پيسو داسي جامي او موټر اخلي او کاروي يي چي خيرات ورکونکو لا په خوب کې هم نه دي ليدلي،**

**ـ او...**

ځينو روڼ اندو او قلموالو د ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل د ښې پالنې او روزنې په پار، د ماشومانو او کوچنيانو د سواد او په نوي بڼه د روزلو غم کاوه؛ اوس دا دی همدې ماشومانو ته د يوې مرۍ ډوډۍ د ترلاسه کولو له پاره ميندې پلرونه هغوی ځکه خرڅوي چې د کورنۍ پاتې غړي له مرګه وژغوري.

ماشوم پلورنه ستره غميزه او د مجبوريت انتها ده. زما يادونه او سترګو ليدلی حال داسې وايي چې د ماشوم پلورنې دود زموږ په هېواد کې پخوا هم تېر شوی، خو نه په دې بڼه. زما د ياد بيلګه يي ورګرځي د څلويښتمي لسيزې پای او يا د پنځوسمي لسيزې پيل ته چې په غور ولايت کې د وچکالۍ په وجه د هغو سيمو خلک شاوخوا ولاياتو ته کډه شوي او سر يي ان تر کابله هم رسيدلی و.

هغه وخت هم له غور نه کډه شويو خلکو خپل ماشومان يا خرڅول او يايي پرته له پيسو، يوازې د ژوندي پاتې کېدو په پار خلکو ته ورکول.

هغه وخت زه (آصف بهاند) په محمود طرزي ليسه کې زده کونکی وم، د همدې مهاجرو څو ډلې د دارالامان د بڼ په شنو چمنونو کې اړولي وو. دا مهاجر وچکالۍ دومره ځپلي وو چې د دارالامان مانۍ په بڼ کې يي له رڼو اوبو ډکو ويالو او شنو چمنو ته جنت ويلې.

زموږ پلرنی کور د کابل د چهاردهي په دهمرادخان نومي کلي کې و. داسې هم وشول چې زموږ د کور دروازه وټکول شوه، که ګورو د همدې مهاجرو له ډلې نه يو مجبور پلار ولاړ و او ويل يي چې دا ماشوم خرڅوم. زما پلار هغه سړی وپوښته چې ته ولې دا ماشوم خرڅوې؟

هغه وويل:

«ما سره يي نور د مړولو توان نه شته، په پيسو يي واخلئ، د ژوندي پاتې کېدو له پاره يي وړيا هم درکوم او...»

او اوس تاريخ د افغانستان پر ستيژ باندې، دا غميزه بيا په تکرار سره ښيي او لوبغاړي يي هم بيا په تکرار سره د هماغي سيمي خلک دي؛ خو توپير يي دا دی چې په پخوا وختو کې به دولتي مشرانو په ريښتيا د همدې په نس وږو له پاره ګدايي کوله او يوه، يوه مرۍ به يي د وږو تر خولې پورې رسوله؛ اوسنيو مشرانو ته د خيرات پيسې تر کوره رارسول کيږي، خو مسؤلين نه يوازې د خيرات پيسې تر خيرات خورو پورې نه رسوي، بلکې خپله يي کاروي او زيرمه کوي يې، تر خيرات ورکونکو نه ښکلي جامي او ښکلي موټر پرې اخلي او له ټولو مدرنو امکاناتو سره، ښکلي ودانۍ پرې جوړوي او بيا د ودانۍ پر پاسنۍ برخه ليکي:

**هذا من فضل ربي**






خرخـوي يـې رهـبـران پـه سوداګرو
خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو

## «لعنت بر زنان استعمال کنندهٔ چپلک»؟؟؟

### د ترقی او پرمختګ لوړې پوړی؟

### د یویشتمې پېړی د ۲۰۱۸ کال کشفیات؟

### په نوي عصر کې د افغان مېرمنې دریځ


دوازده زن لعنتی
۳

فهرست

لعنت بربیرون آینده بدون اجازهٔ شوهر ........ ۲
شوهر را خفه گذاشتن وپرواه نکردن سبب لعنت است ........ ۳
زن خودراآرایش نموده ازخانه برآمدن ذریعهٔ لعنت است ........ ۵
لعنت برزنان زیارت کنندهٔ قبور ........ ۶
زن گرفتارلعنت کیست؟ ........ ۹
لعنت فرشتگان برزن انجام ندهندهٔ ضرورت شوهر ........ ۱۱
لعنت برمردوزن ازدواج نه کننده ........ ۱۳
لعنت برزنان استعال کنندهٔ چپلک ........ ۱۴
لعنت برزنان پوشنده لباس زنگوله دار ........ ۱۵
لعنت برزنان گیریه کننده برمرده ........ ۱۶
لعنت برزن بهانه گیرنده برای شوهر ........ ۱۸
لعنت برزن پاره کنندهٔ گریوان فریاد کننده ........ ۲۰

بیا هم د فیسبوک د عجایبو بڼ، داسې څه به ننداری ته وړاندې کړي چې له خندا به دې بېوډې ورته وچوي او له ژړا به دې د سترګو اوښکې ورته وچې شي.

کوم چا په خپل نوي اثر کې ـ چې یوازې د فهرست عکس یې د فیسبوک ماما له برکته ننداري ته وړاندې شوی دی ـ نوې مرغلرې سره پېیلي دي چې زه هیله لرم د نوبل راتلونکې جایزه هم وګټي.

زما د فیسبوک پاڼې دانشمند ملګري ډاکتر صاحب بهیج عثماني د یاد عکس له پاره د طنز په ډول دا جمله لیکلې ده:

«دا په یوویشتمه پېړی کې زموږ د علمي پلټنو او څېړنو یوه بېلګه ده.»

یو بل چا هم له ډېره قهره یوازې یوه جمله ورته لیکلې ده، په دې ډول:

«نمیدانم نویسنده این کتاب مادر دارد یا نه...؟»

د دې کتاب له ارشاداتو څخه:

**«لعنت بر زنان استعمال کنندهٔ چپلک،**

**لعنت بر زنان پوشندهٔ لباس زنګوله دار،**

**لعنت بر زن بهانه ګیرنده برای شوهر...»**

زه به نوره تبصره نه کوم، یوازې دومره وایم چې دا عصر وګوره او زموږ د ټولنې د ځینو غړو د پوهې او نظر څرنګوالي ته وګوره چې ښځې ته له کومو عینکو ګوري. دا په اوسني عصر کې زموږ د ښځو دریځ دی.

تاسو په عکس کې ټولې راغلي جملې خو ځلې ولولئ او بیا خپله قضاوت وکړئ!

ځینې خوشباوره خلک بیا وایي چې:

**اوس خلک بیداره شو ي دي!**

**دا زموږ د خلکو د بیداری یوه بېلګه ده.**

## نجيبه ليمه:

# کوچنيان او د للو، للو «Lallo Lallo» کيسې

## (د ماشومانو له پاره د نجيبه ليمه ځانګړې کيسې)



**د نجيبه لېمه پېژندنه:**

ما چې د نجيبه ليمه په بيوګرافی پسې لټه پيل کړه، په ويکيپيډيا کې د دې په باب مالومات په مخه راغی چې زه يې لنډيز دلته وړاندې کوم:

«نجيبه لېمه د بي بي سي پښتو راډيو يوه خبرياله او ويانده ده. نوموړې په لندن کې د خبريالی په ځانګه کې زده کړې کړي او له ډېرو کلونو نه راپدېخوا د بي بي سي پښتو راډيو کارکوونکې ده.

اغلې نجيبه ليمه په ۱۳۴۷ لمريز کال د قوس يا ليندی پر نه ويشتمه (۲۹) نېټه د کابل په ښار کې د ډاکټر صالح محمد زيري په کور کې سترګې دې نړی ته پرانستې.

**زده کړې:**

د ښوونځي لمړنۍ زده کړې يې په کابل کې تر سره کړې او لوړې زده کړې يې د مسکو په دولتي پوهنتون کې کړي. په ۱۹۹۰ ز. کال کې د ژورناليزم په څانګه کې د ماسټرۍ برياليک تر لاسه کړ.

**دندې:**

لمړۍ دنده يې په ۱۹۹۱ کې په باختراژانس کې وه . د ۱۹۹۲ ز. کال د مې په مياشت کې د بي بي سي د فارسي او پښتو څانګو سره په کار پيل کړی او تر همدې دمه يې د بي بي سي د پښتو، فارسي، روسي او انګليسي څانګو سره د وياندې او خبريالي په توګه کار کړی. د بې بې سي راډيو سره د اغلي نجيبې د کار ځينې بېلګې په دې توګه په ګوته کولای شو:

د ماشومانو له پاره راډيويي داستانونه او د خيالي کرکټر "خړکی سويکې"جوړونه،
د راډيويي لنډو کيسو ليکنه. په دغه لړۍ کې يې تر سلو ډېرې کېسې ليکلې او د خيالي کرکټرې "خړکی" سره يې ثبت کړي. د دغو کيسو يوه ټولګه په ۲۰۰۰ کال کې په پېښور کې چاپ شوې ده.

**د بي بي سي مرکچي:**

نجيبې لېمې د بي بي سي راډيو لپاره د مرکچي په توګه دنده هم ترسره کړې او په دې توګه د يو شمېر مخورو سره يې مرکې ترسره کړي:

ـ په ۱۹۹۷د طالبانو د واکمنۍ پر محال په جلال آباد کې د ختيځ زون له مسول ملا نيازی سره مخامخ مرکه.

ـ د ۲۰۰۱ زکال داکتوبر پر (۹) د برتانيا د لمړي وزير تونی بلير سره د "ډاونينګ سټريټ" په ماني کې مخامخ مرکه،

ـ د ۲۰۰۱ ز کال د نوومبر په مياشت کې د امريکا د ولسمشر د وياند ډيک چيني سره په سپينه مانۍ کې مرکه .

ـ همدا ډول يې د طالبانو د مشر ملا محمد عمر اخوند په ګډون د حامد کرزی او نورو افغان لوړ پوړو دولتی چارواکو سره مرکې د يادولو وړ دي.

رسمي سفرونه:

په ۱۹۹۷کال کې يې د پښتونخوا د کوټې او پېښور ښارونو ته سفر وکړ او د پښتنو ښځو د رواني ناروغيو په اړه يې د راديويي پروګرامونو يوه ځانګړې لړۍ جوړه کړه. د همدې راډيويي خپروني څخه دا دردونکې پايله اخيستل کېده چي په ډېرو پېښو کې د مېرمنو د عقلي او عصبي ناروغيو درملنه د روغتوني درملني پرځای په زيارتونو کې کيدی. د همدې سفر په ترځ کې يې جلال اباد ته هم سفر وکړ او د يوشمير طالبو مشرانو سره يې مرکې هم وکړې .

اغلي نجبې د يوې فعالې او پېژندل شوې ژورناليستې په توګه د افغانستان په اړوند په يو شمير نړيوالو کنفرانسونو کې ګډون کړی:

ـ په ۱۹۷۱ ز کال په ژنو کښې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونوکنفرانس،

ـ په ۲۰۰۱ ز کال يې کابل ته کاري سفر کړی،

ـ په ۲۰۰۱ ز کال د توکيو په ښار کې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو نړيوال کنفرانس،

ــ په ۲۰۰۳ او ۲۰۰٦ کلونو کی په روم کې د افغانستان د قانون جوړولو نړیوالو غونډو کې ګډون.

د نړۍ په یو شمېر هیوادونو کې د کنفرانس د جوړونکي او ویناوالي په توګه سفرونه:

ــ په ۲۰۱۳ ز کال کی په هانګ کانګ کې د چینایي ژبې د کنفرانس جوړول،

ــ په ۲۰۱۴ ز کال کی د چین ګوانجو ایالت ته د چیني ژبې او ژورنالیزم کنفرانس،

ــ په ۲۰۱۴ ز کال د بي بي سي د اکاډیمي د هندی ویبپاڼې د جوړولو له پاره هغه هیواد ته سفر،

له ۲۰۰۸ ز کال نه تر همدا نن پورې د بې بې سی اکاډمي د هغو ژبو له پاره د ځانګړو ویبسایټونو د جوړولو کار پیل کړ چې بي بي سي خپرونې پرې لري. اغلې نجیبه وایي:

د دغه کار له پاره مې استدلال دا و چې د بي بي سي خبریالان په خپله مورنۍ ژبه خبرونه لیکي او وړاندې کوي یې، ځکه نو اړینه ده چې د دغو ژبو د ملاتړ ځانګړې ویبپاڼې جوړې سی. بي بي سي اکاډمی د پښتو تر څنګ اوس مهال د ۲٦ نورو ژبو ویبپاڼې لری. اغلې نجیبه لیمه له ۲۰۰۸ تر اوسه د بي بي سي اکاډمي د ژورنالیزم په پوهنځۍ کې د نړیوالو ویبپاڼو مسولیت پر غاړه لري.

**ستاینه او هڅونه:**

تر اوسه اغلې نجیبه لیمه درې ځله ستایل شوېده:

ــ په ۲۰۰۱ ز کال کښې د توني بلېر د مرکې وروسته د راډیو سونی ډالۍ."Sony Award"

ــ د ۲۰۱۰ ز کال د اګست ۱۹ مه په سویډن کښې د دوستۍ فرهنګی ټولنې د مشرتابه لخوا ستاینلیک،

ــ په ۲۰۱۴ کال کی په لندن کې د مسلکي افغانانو له خوا ډالۍ.

اغلې نجیبې لیمې په ۱۹۹۱ ز، کال انګلستان ته کډواله شوه. د واده ثمره یې دوې لوڼې دي، اوس د خپلې کورنۍ سره یو ځای په لندن کې ژوندکوي.»

نجیبه لیمه له ډېر پخوا نه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د کیسو لیکل پیل کړي و، خو د ۲۰۱۷ ام کال په دسمبر کې یې په بي بي سي کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د ځانګړو کیسو پیلیدل، د نوي نسل د روزلو او مورنۍ ژبې د ساتلو او پاللو په برخه کې، د دې د فعالیتونو په ډله کې داسې نوی باب دی چې د نه هیریدو او د ډېر قدر وړ کار دی. ما (آصف بهاند) د دې کیسو د ارزښت او د نجیبې د کار د قدرداني په پار په هماغه وخت کې لاندې مقاله ورته ولیکله:

# لـلو، لـلو

# «LalloLallo»

## (د ماشومانو له پاره ځانګړې کیسې)

«للو، للو، للو

خوب دې درسي په لیمو

زرغونه ده ښه نجلی

ده تر ټولو ګلالی

خبرې نه کوي بیدیږي

سبا ګل غوندې ویښیږي

للو، للو، للو

خوب دې درسي په لیمو»

د ۲۰۱۷ کال د دسمبر په اتمه نیټه د بي بي سي له خوا په پښتو ژبه د ماشومانو له پاره د ځانګړو کیسو خپرېدل پیل شول. په دې باب بي بي سي پښتو داسې ولیکل:

«سر له ننه هره جمعه به تر راتلونکو ۱۰ اوونیو پورې له بي بي سي د للو للو په نامه ماشومانو لپاره ځانګړې کیسې خپرېږی.

د کیسو دغه لړی له بي بي سي پښتو او دغه راز افغانستان کې له شمشاد ټلویزیون او پاکستان کې له مشرق ټلویزیونونو کتلی شئ.

دغه لومړنی ګڼه د زرغونې او شاپیرۍ کیسه ده.»

دا یو ډېر اړین، په ځای او ښه عمل دی. زه د خپلې مقالې په پیل کې، د نوي نسل د روزلو د نهضت د یو لاروي او پلوي په توګه د دې پروګرام له جوړونکو، لیکونکو او خپرونکو نه مننه کوم، په ځانګړې ډول له آغلې «نجیبه لیمه» نه بیا، بیا مننه کوم چې دا کیسې لیکې او د ماشومانو او کوچنیانو له پاره یې، د دوی له خوښې سره سم په خپل خواږه غږ کې اوروي.

کله چې په میډیا کې د دې خپروني لومړني خبرونه راښکاره شول، زه ډېر خوشاله شوم، سمدلاسه په دې باب د یوې مقالې د لیکلو فکر راته پیدا شو، نو مې په لومړي سر کې دغه جملات ولیکل:

په دې نږدې وختونو کې د بي بي سي پښتو له لوري د ماشومانو له پاره د کیسو ځانګړې خپرونه « للو، للو (LalloLallo) د ماشومانو له پاره ځانګړې کیسې» پیل کیدونکې ده. د دې پروګرام په مسؤلینو کې د پښتو آنلاین مشر اسمعیل میاخیل او د بي بي سي اکاډمۍ نړیوالو پانو مشرې نجیبې لیمې نومونه یاد شوي دي.

د دې زیرې له خپریدو سره سم، د نوي نسل د روزلو ځینو پلویانو چې شمیر یې بیخي لږ دي خپل نظریات څرګند کړل. د څو تنو نظریات را اخلم:
کریمه نعیمي داسې ولیکل:«

<<للو للو>>
د کوچینانو لپاره کیسې چې نجیبې لیمې لیکي او وړاندې کوي یې - نن د بي بي سي تر خبري خپروني وروسته پر شمشاد 📺 تلویزیون : په کوچینانو یې لیدل مه هېروئ👨‍👩‍👧👨‍👩‍👧 .»

بیا ثنا ساپی داسې ولیکل:

«که خپل بچي او په کور کې ماشومان لرئ دا کیسې پرې ګورئ. نجیبه جانې پرې ډېره خواري کړې ده🙏👏👌 .
#تعلیم_فرض_دی ☮ #LiterateAfg»

په خپله نجیبه لیمه هم له بي بي سي سره په مرکه کې وویل او هم یې په خپله فیسبوک پانه کې د دې کیسو په باب ولیکل:

«للو للو، د ماشومانو لپاره د بي بي سي پښتو ځانګړې کیسې
هر جمعه پر بي بي سي پښتو پانو، شمشاد او مشرق تلویزیون»
# LalloLallo#للوللو#PashtoChildrenStories
ډیر ژر له بي بي سي نه.

**د کوچنیانو له پاره د کیسو نوې لړۍ:**

Starting soon! A new series of bedtime stories for children on BBC Pashto, Online and TV.»

د دې پروګرام او د دې کیسو د شکل او محتوا په باب د بي بي سي او د دې کیسو ځینو مسؤلینو خپل نظریات داسې څرګند کړي دي:

«د بي بي سي افغان څانګې مشره مینه بکتاش یې په اړه وایي:

زموږ دغه نوې لړۍ د ماشومانو لپاره ده او هدف یې دا دی، چې دوی ترې خوند واخلي او زده کړه وکړي. دغه راز دا کیسې د ماشومانو د مینډو او پلرونو لپاره هم دي، چې هیلمن یوو زموږ خپروني په فعاله توګه وګوري، واوري او له محتوا یې برخمنې شي.

د دې پروژې مشر او د بي بي سي پښتو ډیجټل څانګې ایډیټر اسمعیل میاخیل په دې اړه وایي:

پښتو ژبه کې د ماشومانو لپاره د دغه ډول مطالبو لړوالی له ورایه لیدل کېږي. له دغې نوې لړۍ سره چې په انځوریز او ویډیویي بڼې په زړه پورې کیسې په کې وړاندې کېږي، موږ هغو نویو مخاطبینو ته رسېږو چې له دغه ډول موادو لږ برخمن دي. د للو للو لړۍ کیسې په اسانه، روانه او پسته ژبه ویل شوې دي. دغه کیسې نجیبې لیمې لیکلې چې د بي بي سي اکاډمۍ نړیوالو

وېبپاڼو ایډیټره ده او له بي بي سي سره یې پښتو برخه کې د ژورنالیستي په توګه دنده پیل کړې وه.

په دغو کیسو کې د ربړتینولی، په لارو کوڅو کې د خوندیتوب لاربښوونو، لاس مینځلو او غاښونو پاکولو اهمیت په هکله خبرې شوې او دا له ماشومانو سره مرسته کوي، چې خپل شاوخوا چاپېریال ښه وپېژني.

د کیسو لپاره انځورونه کابل مېشتي ځواني انځورګرې نسیمې محمدي کښلي دي، دغو خوځنده تصویرونو د کیسې ویلو پر مهال د نجیبي ګرد چاپېره داسي چاپېریال جوړ کړی چې د ماشومانو لپاره خوندور او زړه وړونکی دی.»

د جګړې د سونامي او له هغې سونامي د رازېږدلو ناخوالو په دایره کې، زموږ د ټولنې د ډېرې وګړو، په تېره ماشومانو او کوچنیانو د ذهن په هر کونج او پیچومي کې، د وینې په هر څاڅکي کې، په کتلو او حرکاتو کې یې او لا په هر تنفس کې یې، تاوتریخوالی، وهل ټکول، وژل، د وسلي کارول، ویر او... له ورایه ښکاریږي او احساسیږي.

د ټولو خلکو او په تېره ماشومانو او کوچنیانو له ذهن نه د دغو شیانو توږل، پاکول او لرې کول یوې ستري عاطفي ته اړتیا لري او دا عاطفه یوازې د ادبیاتو له لارې کیدای شي چې ماشوم ته، کوچني ته او نوي نسل ته ور ډالی شي.

**اوس چې بي بي سي د ماشومانو له پاره د کیسو ویلو او وړاندې کولو دا لړی پیل کړې ده، ډېر امید دی چې دا هیله به پوره کوي او په معنوي لحاظ به د افغان ماشوم عاطفي لاسنیوی کوي.**

او س چې د یوویشتمي پیړۍ د دویمي لسیزې په نیمایي کې د تکنالوژۍ له دومره امکاناتو سره ژوند کوو، نولازمه ده چې هغه قلموال چې د کوچنیانو د ادبیاتو په باب فکر کوي او څه تخلیقوي، داسي څه دې ولیکي چې هغه د کوچنیانو له پاره د درک او پوهیدو وړ وي، یعني ساده او د هغوی په ژبه لیکل ورته وکړي.

هغه لیکوال او شاعران چې کوچنیانو ته څه لیکي، باید د کوچنیانو دنیا ته ور ننوزي، ځان هلته احساس کړي، کوچنی درک کړي او بیا د هغه له غوښتنو سره سم قلم وچلوي او داسي څه ورته ولیکي چې کوچني ته د اوسنی زماني له غوښتنو او پوښتنو سره سم څه ورکړي، هغه څه ورکړي چې د کوچني په راتلونکي ژوند کې له هغه سره د لاربنود په ډول مرسته وکړي.

ما ولیدل او ګورم یې، له هغې ورځې چې زه په ښه او بد پوه شوی یم، له هغې ورځې مې چې قلم چلول زده کړي دي، په تیره بیا له هغې ورځې مې چې د کوچنیانو په باب، د هغوی د روزنې په باب او د هغوی د دنیا او ادبیاتو په باب فکر کړی؛ موږ ډېر وخت او امکانات له لاسه ورکړي دي چې اوس یې په ارزښت پوه خلک، حسرت او افسوس کوي، خو تش حسرت او افسوس کول څه ګټه نه کوي. موږ باید له اوسنیو امکاناتو او ټولو تجربو څخه استفادې وکړو، په خپله کورنۍ او ټولنه کې ماشومان او کوچنیان وپیژنو، د هغوی روان او دنیا درک کړو او د نوي زمان له غوښتنو سره سم هغوی ته د کوچنیانو د ادبیاتو په نامه داسي څه ولیکو چې کوچنی د خیال او هوس له نړۍ نه ورو- ورو را وباسو او د ده په ژوند کې د راتلونکي نړۍ نه یې خبر کړو.

موږ باید له کوچنیانو سره په خپل چلن کې ژور بدلون راولوو. په ډېری افغان کورنیو کې ماشومان په ډار او تهدید ویده کولو ته اړ ایستل کیږي، چې دا د هغه په ذهن او راتلونکي ژوند باندې ژور منفي اثر برېباسي. هغه ته باید د خوب په وخت کې کیسې وویل شي یا ولوستل شي، خو زموږ په ټولنه کې ډېری کورنۍ د خراب اقتصاد له کبله، د سواد د نشتوالي په وجه او د نه

پوهیدنې په خاطر، پر ماشوم باندې د خوب په وخت کې نه یوازې پټکې کوي، بلکې د راتلونکې ورځې د جبري فزیکي کار او نویو ستونزو یادونه هم ورته کوي او کوچنی د ستونزو له یوه درانه بار، روحي فشار، تشویش او ډار سره ویده کیږي.

په پرمخ تللو هیوادونو کې د ماشوم د پالنې، روزنې، خوب خوراک او هر څه له پاره امکانات برابر دي او له پروګرام سره سم تطبیقیږي هم. په دې دلیل چې د ټولنې د پوهې کچه او د کورنیو او میندو پلرونو د پوهې سطحه لوړه ده. کوچنی پیژني درک کوي یې او هر هغه څه چې ورته اړین دي، هغسې یې ورته برابروي او هماغسې ورسره کوي، خو زموږ په هېواد کې او زموږ په ټولنه کې په دې برخه کې یا قوانین نه شته او که کوم قانون وي هم، هغه څوک نه تطبیقوي او زموږ د ټولنې ماشوم ته او بیا زموږ د ټولنې کوچني او تنکي زلمي ته د پرمخ تللو ټولنو د امکاناتو دوه درې یا پنځه سلنه هم نه وي برابر، پر ټولنه باندې د ډیر پخواني حاکم کلچر په دایره کې ماشوم او کوچنی د ژوند په داسې یو مجبور او تنګ چاپیریال کې را ګیر کیږي چې کوچنی له فزیکي او رواني پلوه د تباهۍ کندې ته ورپورې وهل کیږي.

په دغسې یو منفي او بد چاپیریال کې د کوچني د جسمي ودې مخه نیول کیږي، د ذهني جوړښت تهداب یې خرابیږي او د هغه د راتلونکي ژوند د تباهۍ بنسټ اېښودل کیږي. کله چې کوچنی په دغسې یو جسمي او ذهني خراب حالت کې لوی شي چې د هغه د کوچنیتوب د حق دوه سلنه هم ور نه کړل شي، بیا نو هیڅ څوک حق نه لري چې له هغه نه د مثبت عمل او کومې ښیګڼې تمه ولري. نه مور ـ پلار، نه کورنۍ او نه هم ټولنه.

په هغو هېوادونو کې چې د ماشومانو اوکوچنیانو په ارزښت پوهیږي، کوچني ته او د هغو ادبیاتو ته دومره پاملرنه شوې چې د نوې تکنالوژۍ د نویو امکاناتو په چوکاټ کې، که په کمپیوټر کې یوازې ولیکل شي:«د کوچنیانو ادبیات» او کلیک شي، د کوچنیانو له پاره په سل ګونو او لا زر ګونو کیسې او شعرونه تر لاسه کیدای شي. په یادو هیوادونو کې د کوچنیانو په مورنۍ ژبه په سل ګونو کارټوني فلمونه او نور امکانات شته دي.

دا ټول د دې ګواهي ورکوي چې په هغو ټولنو کې ماشوم، کوچنی او د هغو نړۍ او روان پیژندل شوي او درناوی یې کیږي، د پالنې او روزنې لازم چاپیریال ورته برابریږي، د هغوی له عمر او غوښتنو سره سم اړین کتابونه، کیسې او فلمونه ورته برابریږي. دا په حقیقت کې د هغو ټولنو هغه پانګونه ده چې راتلونکو نسلونو او راتلونکو ټولنو له پاره یې کوي. سم یې روزي چې په راتلونکي کې یو سالم او روغ کارګر، پوه انجنیر، سم ښوونکی، زیرک طبیب ... او په وطن او خلکو مین رهبر ولري.

**اوس چې بي بي سي پښتو د ماشومانو له پاره د کیسو دا لړلی پیل کړې ده، هیله ده چې د هغوی د کیسو او پروګرامونو د وړاندې کولو له لارې د یادو ښیګڼو څو سلنه زموږ د ټولنې ماشومانو ته ور په برخه شي.**

«للو، للو، للو

خوب دې درسي په لیمو

زرغونه ده ښه نجلۍ

ده تر ټولو ګلالۍ

خبرې نه کوي بیدیږي

سبا ګل غونډې ویښیږي

للو، للو، للو

خوب دې درسي په ليمو»

**زموږ په هېواد کې د للو ـ للو په شان کيسو تاريخي پس منظر ته يوه کتنه:**

پخوا له دې چې په افغانستان کې جګړه او له جګړې نه را زېږېدلي سونامي ګانې پيل شي، د کوچنيانو ادبياتو ته د هغه وخت د پوهې او امکاناتو په چوکاټ کې پاملرنه شوې وه. کوچنيانو خپروني درلودې، کيسې او شعرونه ورته چاپېدل، ځانګړې مجلې يې درلودې او په راډيو افغانستان کې د کوچنيانو په نامه مطالب خپرېدل او د کوچنيانو د روزلو په نامه ټاکلې وخت ورته ځانګړی شوی و.

زما د خپل تنکي ژلميتوب وخت په ياد دی چې راډيو د کوچنيانو د پروګرام نه علاوه، ماښام مهال د ماشومانو د ويده کېدو په وخت کې د ماشومانو په ژبه، په ډېر خوږ او مهربانه انداز سره د پنځو دقيقو له پاره د کوچنيانو د آرامه ويده کېدو په غرض يوه کيسه خپروله او زه خپله سره له دې چې د کوچنيتوب دوره مې نوره پای ته رسيدلې وه، خو دې کيسو دومره خوند راکاوه چې ما به ټول کارونه پرېښودل او د ماشومانو او کوچنيانو په ډله کې به ورته ناست وم، غوږ به مې ورته نيوه او حتی د هغو کيسو په فکر او خيال کې به ويده کېدمه، خو اوس...

د ظاهر خان او داود خان د واکمنۍ په وخت کې، په هماغه وروسته پاتې زمانه کې او د ډېرو لږو امکاناتو نه په استفادې سره د کوچنيانو غم تر يوې اندازې خوړل کېده. يعني هېر نه وو، خو د سرو، شنو، سپينو او اوس لا تورو بادونو له را الوتلو سره سم د کوچنيانو له پاره هغه پروګرامونه، فکرونه او پلانونه لاړل په اوبو لاهو شول.

د کوچنيانو پروګرامونه لا څه کوې چې خپله کوچنيانو باندې څه راغلل او څه به وربانديې راشي. د ادبياتو اوروزني غم خو نه شته چې نه شته، د يوې مړۍ ډوډۍ او ژوندي پاتې کېدو سوال يې را مخته شوی دی.

ما (آصف بهاند) د کوچنيانو د ادبياتو په باب په خپل يو اثر (د کوچنيانو ادبيات، دويم ټوک، ۳۲ ـ ۳۴ مخونه) کې د يوې اوږدې څېړنې په **پايله** کې ليکلي دي چې:

د ظاهر شاه او دواود خان د واکدارۍ په زمانه کې د کوچنيانو له پاره ټاکلې چاپي خپروني او په راډيو کې د کوچنيانو له پاره له ټاکلی پروګرام نه علاوه، ماښامنۍ کيسې اورول کېدې. پخوا يې زما د کار کوونکو نومونه لا په ياد وو، خو اوس مې يوازې د آغلې **ستاره اميني** نوم په ياد ده، هغه هم بل چا را په ياد کړ.

کله مې چې د کوچنيانو د ادبياتو د مقالو پر همدې لړۍ او همدې برخې باندې څېړنه کوله، د ستاره اميني نوم مې هم هېر شوی و، نو مې لطيف لالا (ډوکتور لطيف بهاند) ته په چت کې وليکل:

سلامونه، پخوا له انقلاب نه په راډيو کې يوه ميرمن وه چې د ماښام له خوا به يې د پنځو د قيقو له پاره ماشومانو ته، د ماشومانو په ژبه د خوب په وخت کې کيسې کولې، هغه څه نوميده؟
لالا بيرته راته داسې وليکل:

«سلامونه ، يوه خو ستاره اميني وه او لږ بوډۍ زليخا فخري. له هېواد دوسته هم وپوښته. هغه کله، کله د ماشومانو خپروني ته ورته.»

بیا مې پر کاره فرهنګي، ښاغلي یوسف هیواد دوست سره د تیلیفون له لارې دا موضوع مطرح کړه او وریاده مې کړه چې د ستاره اميني کیسه کول دې په یاد دي که نه؟



هیواد دوست صاحب لطف وکړ او له ستاره اميني نه ور وړاندې یې څه نور خلک هم را یاد کړل او په دې باب یې مفصل ځواب را کړ. لنډیز یې په دې ډول دی:

«په ۱۳۴۶ او ۱۳۴۷ کلونو کې:

ـ د سالار زي په نامه څوک و چې د ماشومانو له پاره به یې کیسې کولې،

ـ بله میرمن ظریفه نومیده چې د وړو له پاره به یې نصیحت ډوله کیسې او نکلونه برابرول او اورول،

ـ وروسته بیا کاکا منجاني را پیدا شو چې همدا اوسنی مرزا قلم یا استاد امان اشکریز دی چې د ماشومانو په ژبه به یې دوی ته خوږې کیسې کولې،

ـ بیا د ویاند په نامه هم چا کیسې کولې،

ـ بیا بل څوک راغی چې طوطاخیل نومیده او همدا د کوچنیانو پروګرام یې چلاوه،

ـ وروسته بیا صایمه مقصودي راغله او څه موده یې دا پروګرام وچلاوه،

ـ بیا همدا ستاره اميني راغله او ښایسته ډیره موده یې په ډیره ښه وجه د ماشومانو د کیسو پروګرام پر مخ بیوه،

ـ له ستارې نه وروسته بیا خپله ماشومانو ته وخت برابر شو او تمثیل به یې کاوه او په خپل غږ او هڅو سره یې د کوچنیانو د خوښې وړ مطالب برابرول او خپریده به.»

وروسته له هغه چې په وطن کې د ټوپک شپیلی سُر شوه، نو لکه سونامي چې راغلي وو هر څه ګډوډ شول چې تر یوې اندازې یې ما جریان د کوچنیانو ادبیات دویم ټوک کې لیکلی دی.

وروسته له هغه چې په ۱۹۹۲ ام کال کې زه له خپلې کورنۍ سره د وطن پریښودلو ته اړ شوم، نو مې د کوچنیانو بد حالت ته په پام سره او د نوي نسل د روزلو د نهضت د بیا خوځولو په غرض د یو لړ مقالو لیکل پیل کړل او چې بیا ډنمارک ته را ورسیدم او لکه د چا خبره لړه مې دمه جوړه شوه، نو د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزلو په نیامت مې خپله مطالعه او خپل لیکل سم منظم کړل چې د پایلو یوه برخه یې د کوچنیانو ادبیات دویم ټوک دی.

اوس چې د بي بي سي درنو همکارانو دا سلسله راپیل کړه، نو زما د هیلو یو بله غوټۍ هم وغوړیده، خو له ډیرو ښیګنو سره دې نه یوازې د بي بي سي د همکارانو دې ستونزې ته پام وي چې د دوی خواري او غږ د افغانستان تر ټولو ماشومانو او کوچنیانو پورې نه رسیږي، او د دې په باب بیا فکر کول په کار دی. زه فکر کوم چې په راډیو او تلویزیون کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د کیسو ویل له ډیرو اړخونو نه تر کتاب ښه دي او د دې پروګرام د لیکونکو، او مسؤلینو پام دغو ټکو ته را اړوم:

ـ ښه لار مو انتخاب کړې چې دا کیسې په وړیا ډول پرته له مصرف نه تر ماشومانو او کوچنیانو پورې رسیږي،

ـ که سواد ولري که یې ونه لري، هغوی په پښتو باندې پوهیږي او د کیسه ویونکي مطلب اخیستلای شي،

ـ مهمه دا ده چې داسې مواد او کیسې ورته برابرې کړای شي چې له یوې خوا هغوی ته په زړه پورې وي له بلې خوا د جګړې، کرکې او نفرت بوی او فکر د هغوی د ککرې له دایرې نه وباسي،

ـ او دا کار داسې کیدای شي چې کیسې د معلوماتي اړخ تر څنګ باید ډیر عاطفي اړخ هم ولري یعنې ډیره عاطفه په کې نغښتې وي،

ـ دا مسأله ډیره سلنه میندو پلرونو پورې اړه لري چې ماشومان او کوچنیان د راډیو له اوریدلو سره او د تلویزیون له لیدلو سره عادت کړي، په تیره د دې کیسو له اوریدلو سره یې بلد کړي او ارزښت یې ورته بیان کړي،

ـ هغه ماشومان او کوچنیان چې د تلویزیون د لیدلو امکانات نه لري، باید د بي بي سي د کیسو دا لړۍ د محلي راډیو ګانو له څپو نه، له ځانګړو توضیحاتو سره مل خپاره شي.

څنګه چې پاس یادونه وشوه د ماشومانو له پاره د کیسو د دې لړۍ لومړنۍ کیسه «زرغونه او ښاپیرۍ» نومیږي چې د ۲۰۱۷ کال د دسمبر په اتمه نیټه خپره شوه. په دې کیسه کې ماشومانو ته د عاطفي مسایلو تر څنګ د ریښتیا ویلو او له مور پلار سره د ښو اړیکو یو لوی درس نغښتی دی. او نجیبه لیمه یې هم په داسې ماشومانه انداز او د ماشومانو په ژبه وایي چې هر ماشوم فکر کوي چې نجیبه هم ماشومه ده او له دوی سره ډیره صمیمي ملګرې هم ده.

د کیسې په پای کې داسې ښکلي منظوم جملات راوړل شوي دي چې ماشوم په ډیر آرام ډول ورسره ویده کیدای شي. دا شعر ډوله جملات د ښاپیرۍ له خوا ماشومې زرغونې ته داسې ویل کیږي:

«للو، للو، للو

خوب دې درسي په ليمو

زرغونه ده ښه نجلی

ده تر ټولو ګلالی

خبرې نه کوي بيديرې

سبا ګل غوندې ويښيږي

للو، للو، للو

خوب دې درسي په ليمو»



زه فکر کوم چې نجيبه ليمه د ستاره اميني او زليخا فخري ځايناستې ده او له نوي تکنالوژۍ او نويو امکاناتو سره او د همدې امکاناتو پر مټ په هر کور کې او د هر ماشوم په څنګ کې ناسته ده او ماشومانو ته کيسې کوي.

دا ماشوم ته پاملرنه ده،

دا کوچني ته پاملرنه ده،

دا نوي نسل ته پاملرنه ده،

او دا د وطن راتلونکي ته پاملرنه ده.

د ليمې قلم، غږ او فکر دې تل تاند او مهربانه وي چې زموږ ماشومان، زموږ کوچنيان او زموږ نوی نسل په نوې بڼه، تاند او ښيرازه ورروزي.

په پای کې زما هيله دا ده چې د للو ـ للو د پروګرام مسؤلين بايد د بي بي سي له ټولو امکاناتو نه په استفادې سره، چې د دوی په واک کې دي، د دې کيسو لړلی وِغځوي او د نورو ليکوالو له ليکنو، تجربو او ټولو لاس لرلو امکاناتو څخه دې، د افغان ماشوم او افغان کوچني په روزلو کې خپله انساني او افغاني دنده تر سره کړي.

**د ليمي له قلمه د دې کيسو د ليکلو پس منظر:**

بيبـو، بيبـو ښـايسـتـه ده
دا د مــور د زړه ټــوټـه ده
خپـل غــاښـونــه بـــرسوي
غـــاښ له درده، ځان ساتي
بيبـوګـکـه اوس بيديـــړي
سبا ګل غـــوندې ويښيږي
لـــلــو،لـــلـــو، لـــلـــو
خوب دې درسي پــــه ليمو




مخکې له دې چې زه په اصل مطلب پيل وکړم، د دې خبرې يادول راته اړين دي چې د للو - للو په لومړی برخه کې د «زموږ په هيواد کې د داسې کيسو تاريخي پس منظر ته يوه کتنه» تر سر ليک لاندې د دې کيسو پر لومړنيو تومنو غږيدلې وم. هلته مې دا موضوع هيره شوه چې دلته يې يادم:

په پخوانيو وختو کې به په ځينو کورنيو کې د کورنۍ مشرانو د ماخوستن له خوا ځينې کيسې کولې لکه: آدم خان درخانۍ، شرين فرهاد، بودرۍ جماله، او...

او کله ـ کله به يې د ديوانو او پيريانو ډارونکي کيسې هم کولې. دا کيسې به کله، کله دومره ډارونکې وې چې تر کيسو وروسته به ماشومان له ډآره له کوټې نه هم نه شواى وتلی چې په دې صورت کې د دې کيسو له ګټې نه تاوان ډير و او له رواني پلوه به يې ماشومانو ته ضربه ور رسوله.

## او اوس هم د للو للو دويمه برخه:




د للو ـ للو لومړی او دويمه برخه چې ما وليدلي او د زړه په غوږ مې واوريدې، دا کيسې په خورا دقت او نوې بڼه د ماشومانو او کوچنيانو له روحيې او غوښتنوسره سمې ليکل شوې دي. دا چې نجيبي لېمي ځنګه د ماشومانو کيسو ليکلو ته مخه کړه دې په خپله د دې کيسو د ليکلو د انګيزې په باب په ډېره هنري او ښکلې بڼه داسې ليکلي دي:

«له خړکۍ تر للوللو:

د خړکی د کيسو نه وروسته چې ١٦ کاله مخکې مې ليکلې په منظمو ليکنو کې اوږده وقفه راغلې وه، ځان ته مې ليکلې خو د خپرېدو کار يې پاته و.

زه د د بي بي سي پښتو انلاين مشر اسماعيل مياخېل نه مننديه يم چې د کيسو د ليکلو غږ يې راباندې وکړ.

مياخېل صاحب د تل په شانې د نوښت په ډګر کې تر مونږ تولو دمخه دی، هغه راته د ټلويزيوني ستډيو، نوې ډيزاين، پر ډيجيټلې نړۍ او ټلويزيون د خپرېدو او وروسته د کتاب انځور مخ ته کېښود، د ده د الوتنو کچ او ليوالتيا چې مې وليده نو ما هم ورته تکل وکړ.

يو وار بيا مې هغه لمبه را په زړه شوه کله چې مې خړکی ته کيسې پېل کولې، هغه وخت دوو پېښو پر ما خورا سخت اغيز کړی و.

### ځنګه مې خړکی ته پام شو؟

په کابل کې د ١٩٩٠ کلونو د کورنيو جګړو پر مهال مې خو کوچنيانو ته کتل، زه په دوهم پوړ کې ولاړه وم او د ځلورو پنځو کلونو کوچنيانو لاندې د بلاک مخ ته لوبې کولې. دوې مندې وهلې، خندل يې او يو بل يې پورې وهل، خو چې غوږ مې ورته ونيوی نو د دوې خبرې د ماشومانو په شان وې، د سوځېدلي ټوټه شوي کابل جګړو د دوې خبرې هم اغېزمنې کړې وې.

د دوي په منځ کي یو ځلور کلن هلک پروت و، د همدغه عمر نجلۍ ناري وهلي " ژوندی به پاته شی، امبولانس راوغواړئ".

بل کوچني هلک بیا ویل" ډېره وینه یي نه ده توي شوې، که خدای کول پاته به شي." او بیا بله نجلۍ د امبولانس په شان د "تیو تیو" په غږ کې راغله.

دوهمه خاطره مي د بلوچستان د سرانانو د کمپ ده، د افغان کډوالو یوې کوټي ته ننوتم، څلور پینځه کوچنیان مي شاوخوا ولاړ وو، د دوي ویښتان د لمر په شان ځلېدل، بس په ټوله کوټه کي هم دغه رنګ و، د دوي مخونه لاسونه د یخ له امله نسوارې رنګه خیړ نیولی و، کالي یي شلېدلي او خیرن وو، شاو خوا په کوټه کي هر څه خړ پړ وو، د دغو کوچنیانو د شنو سترګو له پاره په دې کوټه کي رنګ نه و، هم هلته مي دا هیله را وټوکېدله چي کاشکي رنګه کتابونه راسره وای کاشکي د کوچنیانو کیسي راسره وای.

لندن ته له را رستنېدو وروسته مي د کوچنیانو کیسي پیل کړې.

نن ورځ که په افغانستان او پښتونخوا کي په پښتو ژبه خبري رسنیو، او تلویزیونونو پرمختګ کړې خو په پښتو ژبه د ماشومانو له پاره د لیکنو ډېره اړتیا لیدل کیږي.

هیله لرم د "للو للو" دغه لړۍ تر کوچنیانو ورسېږي. د کیسو انځورګره مي د کابل یوه ۱۹ کلنه نسیمه محمدي ده چي زما کرکټرونو ته یي په خورا مینه مخونه ورکړی. د میندو او پلرونو نه مو هیله دا ده چي د کوچنیانو غبرګون په ویډیویي توګه تر مونږ راورسوي، چي د راتلونکو لیکنو پر مهال یي په پام کي ونیسو».

د للو ـ للو په دویمه برخه کي لیمي د بیزوګۍ کیسه د ماشومانو او کوچنیانو په ژبه او د دوی له دنیاګۍ سره برابره او په ماهرانه ډول یي ماشومانو او کوچنیانو ته په خطاب کي ویلي هم ده.

په دې کیسه کي د میندو پلرونو او ماشومانو په منځ کي د باور موضوع چي د ورو په راتلونکي ژوند کي ډېره د ارزښت وړ موضوع بلل کېږي، مطرح شوې او دغه راز د پاکوالي په برخه کې د غاښونو ساتل او مخکي له خوبه د غاښونو برسول هم مطرح شوي دي. بیبو یا وړه بیزوګۍ چي د غاښونو د نه ساتلو او نه پاکولو په منفي پایلو باندې پوهېږي، بیا نو د ډاکټر او مور خبرې مني او غاښونه پاکوي او ساتني ته یي تل پام کوي، نو مور هم په ډېرې مهربانۍ سره، له خوبه مخکي دا ترانه ورته وایي:

بیبو، بیبو ښایسته ده

دا د مور د زړه ټوټه ده

خپل غاښونه برسوي

غاښ له درده، ځان ساتي

بیبوګکه اوس بیدیږي

سبا ګل غوندې ویښیږي

للو،للو، للو

خوب دې درسي په لیمو

د للو ـ للو د کیسو په پیل کې لیمي او بي بي سي ویلي وو چې څه لنډه موده به دا کیسي په امتحاني بڼه خپرېږي، خو ښایي د ښو پایلو او د خلکو د غوښتنې له مخې نوري هم پسي وغځېدې او کله چې یې خبره یوه کال ته ورسېده، لیمي او بي بي سي هم څه یادوني پرې وکړې، خو ما د دې ډېرې ښې سلسلې د لا تشویق په پار د «للو، للو» کیسو یو کلن سفر تر سر لیک لاندې بیا یوه مقاله ورته ولیکله او په تاند او افغام جرمن آنلاین کې مې خپره کړه. دلته یې هم بشپړ متن را اخلم:

## د «للو، للو» کیسو یو کلن سفر

## لـلو، لـلو

## «LalloLallo»

## (د ماشومانو له پاره ځانګړې کیسې)

## لومړی کلیزه




په بي بي سي پښتو کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د کیسو ځانګړې خپرونه «للو، للو» که یو ماشوم وګڼو، نو دا دی یو کلن شو. په دې یوه کال کې یې له خاپوړو نه په مینې سره لاس ونیول شو، پر پښو ودرید، قدم یې واخیست او د لیمي په بې پایه هڅو او خواریو سره (په ځانګړې سبک لیکلو او په یو استثنایي ستایل لوستلو) یې د څو کلونو مزل، په یوه کال کې وواهه او د دې یو کال په اوږدو کې یې بېشمیره ملګري، دوستان او خواخوږي پیدا کړل.

ما آصف بهاند د نوي نسل د روزلو د يو پلوي په توګه او د کوچنيانو د ادبياتو د يو خدمتګار په ډول يو کال مخکې د «للو، للو» خپروني په هماغه پيل کې، د دې پروګرام د مهم والي او په ځانګړي ډول د ليکني او بيا د کيسو د ويلو او وړاندې کولو د ستايل په باب يوه اوږده مقاله وليکله چې په درېيو:

ـ لومړی،

ـ دويمه،

ـ دريمه.

برخو کې مې خپره کړه.

ما لا په هماغه پيل کې د کيسو پر مهموالي باندې او تر ماشومانو او کوچنيانو پورې يې د رسولو پر موضوع ټينګار کړی و.

اوس چې د «للو، للو» د کيسو د ليکلو، وړاندې کولو او تر ماشومانو او کوچنيانو پورې يې د رسولو يو کال پوره شو او لړی يې په لا برياليي ډول روانه ده؛ زما له پاره ډېر د خوښی او وياړ ځای دی چې، په نوې بڼه د ماشومانو او کوچنيانو د روزلو له پاره يو شمير خلک په ټينګار سره ولاړ دي.

زه د بي بي سي له ټولو هغو کارکونو مننه کوم چې دا لړۍ يې پيل او تر دې ځايه پورې را ورسوله. زما هيله دا ده چې دا نيک کار به نور هم وغځوي، له ليمې نه بيا ـ بيا مننه کوم چې په پراخې حوصلې سره د دې کيسو ليکلو باندې او پر موضوعاتو باندې يې په نوې بڼه فکر کوي او په ځانګړي ډول يې وړاندې کوي.

د «للو، للو» د لومړی کليزې په درناوي ثنا ساپۍ له ليمې سره غږېدلې ده. ثنا جاني په فيسبوک پاڼه کې داسې ليکلي دي:

«د ماشومانو لپاره د للو للو کيسو د خپرولو يو کال پوره کېږي. دا کيسې نجيبه ليمې ليکلې نن مو فېسبوک لايف کې مېلمنه ده. پوښتنې راسره شريکې کړئ.»

ياده انټريو ما په ويډيويي بڼه وليدله، بيا مې مهم ټکي ورنه را يادداشت او ټيپ کړل، لنډيز يې دا دی:«

ثنا: د کيسو په باب غبرګونونه څنګه وو؟

ليمه: ما ته تر ټولو ښه غبرګون د ماشومانو و.

د يو ماشوم خور خط را استولی و او ويلي يې و چې زه په اسمان کې پر ټولو فرشتو ګران يم، د يوې نوم ليمه دی او هغه ما ته هر جمعه کيسې وايي،

ما ته ډېره مهمه ده چې کيسه ماشوم ته ورسېږي او ماشوم يې واوري،
يو چا راته وويل چې کله بيا ځلي خپلو کوچنيانو ته دا کيسې کوو، کوچنيان وايي چې داسې يې ووايه لکه ليمه يې چې وايي.

ثنا: تاسو تقريبا شل کاله مخکې د «خړکۍ» په نامه يو پروګرام پرمخ بيوه، آيا دا اوسنی کيسې د «خړکۍ» ادامه ده، که څنګه؟

لیمه: د اوسنیو کیسو په پیل کې د پروګرام پرودیوسر مانه هیله وکړه چې د کوچنیاو له پاره د تیر په څیر کیسې ولیکم، ما ورته وویل چې هغه وختونه بیل وو،

د دې کیسو او د هغو کیسو توپیر په دې کې دی چې هغه کیسې ما لس کلنو ته لیکلې او دا کیسې پنځه کلنو ته په نظر کې نیول شوي دي. دا هیجان نه راولي، دا د شپې کیسې دي، دا باید ماشوم ته ارامتیا ورکړي، ځکه چې د خوب د وخت له پاره دي، په لنډه ډول ویلی شم چې دا کیسې تقریباً د هغو کیسو دوام دی.

ثنا: په کیسو کې څه ډول مسایل یادوئ؟

لیمه: څلور موضوعګانو ته ما پاملرنه کړې ده:

۱ ـ روغتیا،

۲ ـ د ځینو اړینو قوانینو یادونه لکه: ترافیکي قوانین،

۳ ـ د تعلیم مسآله،

۴ ـ اخلاقي مسایل لکه: پر خوار باندې مه خانده، له خلکو سره مرسته کوه او...

ثنا: دا کیسې  د کومو عمرونو له پاره دي؟

لیمه: خپرونه خو د پنځه کلنو له پاره په پام کې نیول شوې ده، خو کوم نظرونه چې ما ته راغلي له هغو نه پوه شوم چې حتی لس کلن یې هم اوري. د هغه له پاره هڅه کوم چې تر پنځه کلن د لوړ عمر کوچنیان هم په پام کې ولرم.

ثنا: کوم چا پوښتنه را لیږلې وه چې: ایا کیسې مو خپلې دي که یې له کوم کتاب څخه را اخلئ؟

لیمه: کیسې مې خپلې دي.

ثنا: تر اوسه مو څو کیسې لیکلې دي؟

لیمه: تر اوسه مې شپیته کیسې لیکلې دي چې دري پنځوس یې خپرې شوې دي.

ثنا: آیا دا کیسې د کتاب په بڼه هم لیکئ؟

لیمه: هو د کتاب په بڼه یې هم برابروم او کار مې پیل کړی دی.

ثنا: ایا په راتلونکې کې تاسو پلان لرئ چې ځیني تاریخي مسایل کیسو ته ور داخل کړئ لکه د میوندي ملالې کیسه، د نازو انا کیسه؟

لیمه: هو، دا کار کوم، خو زما هیله دا ده چې که وکولای شم یو وخت پښتو کارتوني فلمونه جوړ کړو ځکه چې کله چې د نورو کارتوني فلمونه پښتو ته راژباړل کېږي، هغه بل محیط دی، ستا د پښتو محیط نه دی، ماشوم یې سم نه شي درک کولای.
او...»

دا کیسې مې لکه یو ماشوم، له پیل نه تر اوسه ـ هغسې چې په تانده ځوانۍ کې مې له راډیو افغانستان څخه د ستاره امیني له خولې د ماشومانو کیسې اورېدلې ـ نه یوازې اورېدلې او لیدلې دي، بلکې له پیل نه تر اوسه مې د هرې کیسې سرلیک او لینک د خپلو راتلونکو څېړنو له پاره په جلا ځای کې خوندي کړي دی. دغه یې څو بېلګې دي:

لو لو: د ورانګي ښاپیرۍ کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45450678

لو لو: د موږک کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45526056

لو لو: د باز کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45609083

لو لو: د سويي کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45687213

لو لو: د غابښونو مینځل
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45946834

لو لو: ژړانو چنګاښ
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45998760

لو لو: د زرلښتي کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-46075313

لو لو: له ناروغ ښکه ځان وساتو
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-46240052

---

د ټولو کیسو منځپانګه زموږ د ټولني د غوښتنو له مخي پر هغو مسایلو راڅرخي چي ورځنی اړتیا ده، لکه: تعلیم، اخلاق، روزنیز مسایل او...

زه د نوي نسل د روزلو د نهضت د یو ټینګ پلوي او د ماشومانو او کوچنیانو د ادبیاتو د خدمتګار په حیث د ځان له لوري، د خپلي کورنی او ټولو هغو قلموالو چي د ماشومانو او کوچنیانو له پاره عملاً فعال دي، په استازولی لیمي جاني او همکارانو ته يي، د دي بریالي انساني مسؤلیت د تر سره کولو په پار مبارکي وایم او د لا بریالیتوبونو هیله ورته کوم.

په دي زیري باندي زښت ډیر خوشاله شوم چي دا کیسي نوري هم غځېږي او هیله مي پیدا شوه چي پښتنو ماشومانو او کوچنیانو ته د دوی په ژبي او د دوی له روان سره برابر، د کیسي ویلو یو ادرس شته.

دا هم د «للو، للو» په یوي کیسي کي د ماشومانو او کوچنیانو په روحیي او ذوق برابر یو شعر:

بیبو، بیبو ښایسته ده
دا د مور د زړه ټوټه ده

خپل غاښونه برسوي
غاښ له درده، ځان ساتي

بیبوګکه اوس بیدیږي

سبا ګل غونډې ويښيږي

لــــلـــو،لـــلـــو، لـــــلـــو
خوب دې درسي پـه لـيمو

د «للو، للو» لومړی کلیزه دې بختوره وي!

د دې کیسو د لا غوړېدو او غځېدو په هیله!



## ثنا صافی:

## ثنا صافی

## د تعلیم ډیوه



### ثنا ساپی د تعلیم مور ده!

### ثنا ساپی د تعلیم د لارې قهرمانه ده!

په افغانستان کې د ورستیو څلورو لسیزو د ستونزو هر اړخ ته چې نظر واچول شي، د رامنځته کیدو عوامل او منفي پایلې یې موږ ته وایي چې د تعلیم نشتوالی د ټولو ستونزو د رامنځته کیدو مور او لامل ده. نو پر دې بنا د هر ډول تحلیل پایله دا وایي چې په افغانستان کې یو ژور تعلیمي بدلون ته اړتیا لیدل کیږي.

ډیری روڼ اندي په دې فکر دي چې څو په ټولنه او خلکو کې بنیادي فکري بدلون را منځته نه شي، په ټولنه او عیني عملي ژوند کې د مثبت بدلون تمه یو نا سم کار دی. په مثبت لوري د

خلکو د ژوند د هر اړخیز بدلون له پاره یوازینی لار تعلیم دی، د همدې دلیل له مخې باید په تعلیم او زدکړه باندې ډېر ټینګار وشي، که ډېر په ابتدایي بڼه هم وي.

څنګه چې لیدل کېږي د پاسنی انساني هیلي د پوره کیدو له پاره په عملي او نظري ډول یو شمیر فرهنګیانو له اوږدې مودې را په دې خوا هلې ځلې پیل کړې دي او هر کله یې خپل نظریات د رسنیو، بیلابیلو مجالسو، لکچرونو مقالو او کتابونو د لیکلو له لارې د نورو تر غوږونو او سترګو پورې رسولي دي، په دې لاره کې به ډېرو آغلو او ښاغلو هلې ځلې کړې وي، چې یوه په کې تر نورو ډېره عملاً فعاله ثنا ساپی ده.

د تعلیم د نظریې د عامیدو له پاره په دې مقاله کې د اوس له پاره زه یوازې د ثنا ساپی پر فعالیتونو لنډې خبرې کوم.

زه په دې عقیده یم چې په متمدنه بڼه د نوې ټولنې جوړول یوازې د نوي نسل په نوې او متمدنې روزنې سره ممکن کیدای شي؛ د همدې له پاره مې له پخوا نه دا هوډ وکړ چې د نوي نسل په روزنې پسې به متې را نغاړم، تبلیغ به ورته کوم، خپله به عملاً دا کار کوم، مقالې او کتابونه به ور ته لیکم او...

په همدې لړ کې مې لومړی «د کوچنیانو ادبیات» تر سر لیک لاندې کتاب ولیکه چې په ۱۳۶۶ کال په کابل کې چاپ شو، بیا مې د مهاجرت په چاپېریال کې نور هم د نوي نسل د روزلو اړتیا او کمبود احساس کړ، نو مې د «پردی چاپیریال او د نوي نسل روزنه» تر سرلیک لاندې د مقالو د لیکلو او خپرولو سلسله له ۱۹۹۴ کال نه را په دې خوا پیل کړه چې تر اوسه دوام لري، بیا مې د نوي نسل د نوې روزنې په موخه د مطالعې د دود د عامیدو په غرض د مقالو بله لړۍ را پیل کړه چې تر اوسه پورې دوام لري، وروسته له هغه مې بیا هم د نوي نسل د روزلو په موخه د کوچنیانو د ادبیاتو د مقالو سلسله بیرته را پیل کړه او ټولې هغه منابع، آدرسونه او اشخاص چې د ماشومانو او کوچنیانو د روزلو او د کوچنیانو د ادبیاتو له پاره کار کوي، د لاس لرلو موادو له مخې په مستند ډول، له خپلو نظریاتو سره یو ځای معرفي کړې او د خلکو د لا پوهاوي او د یادو قلموالو او آدرسونو د تشویق له پاره مې مقالې ولیکلې چې دا سلسله اوس هم دوام لري.

بیا مې هوډ وکړ چې د هغو ښاغلو او آغلو په باب یو څه ولیکم چې زما په شان د نوې ټولنې د جوړیدو په موخه له هر څه نه تعلیم ته ډیر ارزښت ور کوي، چې د ځینو دلایلو په وجه مې تر ډیرو پورې دا کار ونه کړ، خو د ۲۰۱۶ کال د جولای په ۲۳ مه نیټه مې په فیسبوک کې د ثنا صافی دا توري تر سترګو شول:

«یوه دوست دا راسره شریک کړل:

"یو فیسبوکوال لیکلي: یو ملا د جمعې پر ورځ خطبه کې ویل چې تعلیم په نر او ښځه فرض دی. یو دوه فیسبوکیان ورته ناست وو. یو بل ته یې وویل: ته اوس دې د ثنا ساپی بچې ته ګوره#تعلیم_فرض_دی» ".

د دې جملو په لیدلو او لوستلو سره اړ وتم چې د ثنا صافی او د ثنا ډوله خلکو، چې د تعلیم د عامیدو په سلسله کې د نوي نسل د نوې روزنې له پاره هلې ځلې کوي، ملا ور وتړم، نو دا دی تر ټولو مخکې د ثنا ساپی د فعالیتونو او نظریاتو په پیژندلو او معرفي باندې پیل کوم او له هر څه مخکې وایم:

زه چې د هر فرهنګي او قلموال د فعالیتونو په باب څه لیکم، هڅه کوم چې د لومړي لاس موادو د تر لاسه کولو له پاره په خپله له شخص سره اړیکي ټینګې کړم، خو د دې کرښو د لیکلو له پاره مې په دې خاطر له ثنا ساپی نه د مالوماتو غوښتنه ونه کړه چې ښایي ثنا نوره د افغانانو له

په ځای او بې ځایه ایمیلونو، ټیلیفونونو، پوستونو او مخامخ یا پسي شا خبرو نه سترې شوې وي، که ما هم د دې په پته د یو ایمل له لارې څه ورته لیکلي وای یا مې د مالوماتو غوښتنه کړې وای، دې به څه فکر کړی وای؛ د همدې دلیل له مخې مې پر خپلو را ټولو کړو موادو تکیه وکړه، خپلې تبصرې، تجربې او نظریات مې ور سره ګډ کړل او دا دی ستاسو لوستلو ته یې وړاندې کوم:



کله چې ما د ثنا ساپی په بیوګرافي پسې ګوګل ته مراجعه وکړه، یوازې دغه جمله یې په لاس راکړه:

«**ثنا ساپی** ( *په انګرېزي* (Sana Safi : د بي بي سي راډيو د پښتو څانګې خبریاله او ویانده ده.»

خو زما د مالوماتو له مخې ثنا ساپی د کار تر څنګه په زدکړو هم بوخته ده. پخوا له دې چې ثنا ساپی د لوړو زدکړو له پاره بهر ته لاړه شي، په مشرقي کې یې په کومه راډیو کې د ویاندې په ډول کار کړی دی، دا چې څنګه دې ته په بهر کې د لوړو زدکړو چانس ور په برخه شوی دی، هغه بیله کیسه ده چې زه نه یم ورباندې خبر، خو کله چې بهر ته روانېږي د هغې شیبې یا هغې ورځې خاطره، په خپله ثنا داسې لیکلې ده:

«د ۲۰۰۷ کال نومبر یو سوړ سهار و. کورنۍ سره مې مخه ښه وکړه. د کابل هوايي ډګر ته روانه شوم. لندن ته تړې تلم. د مور سترګو کې مې اوښکې وې. په دې نه چې زه تړې تلم. په دې چې خدای خبر کله به مې بیا ویني. هغه وخت د ټولو افغانانو دا حال و. له نا باورۍ ډک حالت. د هوايي ډګر پر لور سړکونه اوبو نیولي وو. داسې ته وا ټول کابل کې سېلاب راغلی وي. ډېر باران شوی و.

داړه یم، زما په شان تاسې هم ورسره آشنا یاست. ما د ژوند لومړي ۱۸ کلونه افغانستان کې تېر کړي: ۱۹۸۰ مه لسیزه د کمونیزم واکمنۍ کې (چې ډېر لږ څه یې اوس را ته په یاد دي)، د ۱۹۹۰لسیزې کورنۍ جګړه (چې تر اوسه مې ځوروي) او طالبان چې ماشومتوب یې را نه واخیست.

ساعتونه مې پر سړک تېر شول. بلاخره هوايي ډګر ته ورسېدم او نورو مساپرو سره يوځای شوم. الوتکه کې مې له څوکی کابل ته وروستی ځل وکتل. وروستی څيز چې مې وليد د هوايي ډګر شاوخوا په واورو پوښلي غرونه وو. يوازې، له ډېرو لړو کالو او پيسو سره پردي هېواد ته روانه وم. لندن ته. هغه ځای چې نه دوست، آشنا او نه مې خپل پکې پېژاند.»

زه ثنا ساپۍ ډيره نه پيژنم، خو څومره مې چې د ميډيا په بيلابيلو برخو کې د دې فرهنګي هلې ځلې له نظره تيرې شوې دي، د هغو له مخې د دې فرهنګي فعاليتونه زه د اوس له پاره په دغو برخو ويشم:

ــ د لنډيو کيسو ليکواله ثنا ساپۍ،

ــ ژورنالسته ثنا ساپۍ،

ــ مدني فعاله ثنا ساپۍ،

ــ او د نوي نسل د روزلو د نهضت يوه فعاله غړې ثنا ساپۍ.

ثنا ساپۍ د عملي ژورناليستي کار تر څنګ له يوه عملي مدني فعاله هم ده او په خپلو ليکنو او پوستونو سره، خپلو ملګرو او مخاطبينو ته خپل پيامونه ليږي، له بلې خوا د لنډو کيسو ليکواله هم ده او ښايسته ډيرې لنډې کيسې يې هم ليکلې دي. د څو خپرو شو لنډوکيسو سرليکونه او پتې يې دا دي:

ــ ميلمستيا (لنډه کيسه)،

ــ مساپر (لنډه کيسه)،

ــ وخت (لنډه کيسه)،

ــ حيا عزت (لنډه کيسه)،

ــ د ښځو ورځ (لنډه کيسه).

ثنا د خپلو لنډو کيسو يوه ټولګه خپره کړې ده چې «د تېمز له غاړې» نوميږي:



ما ته يې تر اوسه د لنډو کيسو دا ټولګه په لاس نه ده راغلې، خو څو لنډې کيسې يې چې خوري وري په بيلابيلو ځايونو کې په مخه راغلې دي، لوستلې مې دي او په هغو کې له ورايه ښکاري چې ثنا څنګه خپله ټولنه او د خپلې ټولنې او خلکو دردونه او ستونزې انځوروي. د ثنا ساپۍ د کيسو او د نثر په باب په تاند کې د همدې ټولګې (د ټېمز له غاړې) د چاپيدو په پلمه داسې راغلي وو:

«د کيسه ليکوالې او خبريالې ثنا ساپۍ د لنډو کيسو لومړۍ ټولګه د سالنګ کتاب خپروونکي له لوري چاپ شوه.

دغه کتاب د ټېمز له غاړې نومېږي چې ټولټال ۲۰ کيسې پکې راغلې دي او ۸۸ مخونه لري.

ثنا ساپۍ په کيسو کې خپله لاره لري او ډېرې کيسې يې د افغانستان د ټولنيزو ناخوالو را سپړلو او له هغو څخه را ولاړېدونکو ستونزو ته ځانګړې کړې دي.

څنګه چې آغلې ساپۍ په هلمند، کندهار او ننګرهار کې ژوند کړی دی له همدې کبله يې کيسې هم د دې هېواد د ډېرو سيمو د خلکو، په تېره بيا ښځو ژوند ښه منعکسوي.

په يو شمېر کيسو کې يې کلتوري مسايلو په تېره بيا په لرې پرتو سيمو او نالوستو ټولنو کې د ښځو ژوند ته پام کړی دی چې په دې توګه د کتاب ارزښت نور هم زيات شوی دی...»

د ثنا ساپۍ د لنډو کيسو دا ټولګه ما ته په لاس نه ده راغلې چې له دې زيات څه پرې و وايم. که د ثنا ساپۍ نورې څېړنيزې يا تخليقي ليکنې چاپ شوې او خپرې شوې يا چيرې پر ليکه شوې وي او ما يې يادونه نه وي کړې، دا زما نيګړتيا ده او زه همدا اوس ښښنه غواړم.

تر هغه ځايه چې په عملي ژورناليزم کې ما د ثنا کارونه، په ځانګړي ډول په تلويزيون کې ويډيويي ليدلې او تعقيب کړي ده، دا ډېر بريالۍ ده، دومره بريالۍ چې زما له اټکل او اميد نه هم لا لوړه. که يې د همدې کارونو د ليدلو هيله لرئ، يوه وروستۍ بيلګه يې ما دلته را خوندي کړې ده، په دې لينک باندې کليک وکړئ، وې ګورئ او بيا قضاوت پرې وکړئ.

د دې د دومره فرهنګي فعالتونو سره، سره د دې پر ځای چې خپل هيوادوال يې وياړ پرې وکړي او د نورو نجونو او ميرمنو له پاره يې د يو مثال په ډول معرفي کړي، په توهين وزمه ډول يو بله ته وايي:

**«ته اوس دې د ثنا ساپۍ بچې ته ګوره»**

زما د مالوماتو له مخې ثنا تر اوسه واده نه دی کړی چې بچې ولري، خو ځينو بې مسؤليته ځوانانو د تمسخر په ډول، بل هغه چا ته چې د ثنا د تعليم د لارې له پاره يې يوه جمله له خولې را وتلې ده، د ثنا د بچې خطاب کړی دی: (ته اوس دې د ثنا ساپۍ بچې ته ګوره).

دوی ته بايد و ويل شي: له هغه وخته چې ثنا ساپۍ د خلکو او وطن د پرمختګ او نيکمرغی له پاره د تعليم لار غوره کړې ده او د تعليم د عاميدو له پاره يې مبارزه، کار او تبليغ پيل کړی دی، که چا اوريدلې وي او عمل يې پرې کړی وي، زه هغه ټول د ثنا معنوي بچيان ګڼم دغه ځوانان او نور خلک يې چې هر ډول انګيري، هغه د دوی کار دی.

زموږ ځينې هيواد وال، د دې پر ځای چې پر ثنا ساپۍ وياړ وکړي او ځان او کورنی ته يې د نمونې په ډول سر مشق وګرځوي چې څنګه يوه وره نجلۍ په يوازې ځان د علم او پوهې په حاصلولو پسې بدې وهي او داسې ځان کاميابوي چې د نورو هيوادونو ټوليکيوال او همکاران يې ورته حيران وي؛ دوی ورته لګيا دي چې: سر دې پټ کړه او موږ غيرت لرو او موږ دا لرو او هغه لرو او...

د ثنا ساپۍ په وینا، دا په ټولنیزو رسنیو کې څلور سوه زره ملګري لري، یعنې څلور سوه زره خولې ور خلاصې دي چې څومره به ښې خبرې ورته کوي او څومره به د غیرت؟ تر نامه لاندې څه او څه ورته لیکي او وایي، خو دا لکه غر ورته ولاړه ده او په پراخه حوصله یې ښه هم ښه ګڼي او بدو ته یې هم استدلال وړاندې کوي. دا د ثنا د استدلال یوه بېلګه ده:

«که زه کله د خلکو د ناسم چلند په اړه لیکنه کوم دلیل یې دا نه دی چې ټول افغانان همداسې دي. له لاندینیو څو تبصرو وروسته بېخي ډېر د ملاتړ، تشویق، انسان دوستۍ او مینې پیغامونه راغلل. د ټولو دې کور ودان وي. زه ټل وایم او بیا یې هم وایم. زما په دې څه باندې۴۰۰ زرو ملګرو کې یې ښایي ۵ زره سخت دریځه، له خولې سپک، بې منطقه او هغسې کسان وي چې د پرمختګ ضد دي. دا نور ټول هغه څه غواړي چې د خپلو خلکو خیر یې پکې دی. نو د ښو تله مو تل درنه وه او ده. د څو کسانو سپکاوی مو باید د خپلې ټولنې د بدو دودونو او اړخونو له نقده او ورته د حل له لټولو را ونه ګرځوي#تعلیم .»

ثنا ساپۍ د یوې ژورنالستې په توګه پراخه حوصله او زغم لري، خو دا پراخه حوصله او زغم خو داسې نه وي لکه د بکوا دښته، د بکوا دښته به هم سر او پای لري، مګر د ثنا ساپۍ حوصله تر هغې هم ډېره ده، خو کله، کله ځینو لیکنو او پیامونو ته بیا د ثنا ساپۍ څه چې، آن د لویو، لویو حوصلو خاوندانو د حوصلې دښتې هم پای ته رسیږي. یو واري مې چیرې له نظره تیر شول چې څنګه د ثنا ساپۍ د حوصلې دښته د جهالت په غضب لړلو، ځینو خلکو پای ته رسولې وه. دا د ثنا ساپۍ د حوصلې د پای ته رسیدو یوه بېلګه ده:

«فېسبوک ته مې مسېج راغی. ټرنګ ته مې یې پام شو. د یوه افغان و. په اروپا کې اوسېږي نه سلام نه کلام، لیکي: نجلۍ ته دې ورځو کې ډېره آزاده شوې یې. تا ته نه ښایي چې د سړو په کارونو کې ګوتې ووهې. خپل سینګار کوه او ژاولې ژوه. ستا یې له نظر سره څه چې پر هر څه دې خوله را خلاصه کړې وي، کرتېرې مسېج مې بند کړ. ټوله کیسه د تېرې ورځې تبصرې وه. ما په خپل فېسبوک لیکلي و چې که کومه غوټه په لاس خلاصېږي، په خوله یې ولې خلاصوئ، جنګ بس کړئ. د فېسبوک نوي مسج غصه کړم. ځواب مې ورنه کړ. قهرېدلې په دې وم چې د ماشومې په سترګه یې را ته کتلې و او داسې یې لیکلې و لکه زه چې یې د کور له غړو څخه یم...»

په ژورنالیزم کې د ثنا زدکړې او په ژورنالیزم کې د دې فعالیتونه یو جلا او پراخ بحث ته اړتیا لري چې زه دلته نه ور باندې غږېږم.

دا چې څنګه ثنا د یوې مدنې فعالې په توګه له بیلابیلو لارو نه ټل هڅه کړې چې په خلکو کې د نوي نسل د روزلو له پاره د تعلیم عامېدلو نظریه رامنځ ته کړي، د دې بحث اصلي موضوع جوړوي.

ثنا ساپۍ د یوې مدنې فعالې او ژورنالستې په توګه په خپل هر پوست کې د بېلګو په وړاندې کولو سره د تعلیم پلوي کړې ده. د دې له لیکنو او پوستونو نه ښکاري چې دا هم د افغانانو د ستونزو د حل او د پر مختګ یوازینی حل لاره په تعلیم او زدکړو کې لټوي.

ثنا ساپۍ هر څه په تعلیم پورې تړي، چې ربښتیا هم همداسې ده. چې تعلیم نه وي نو، څوک څه نه شي تر لاسه کولی:

«اوس په ټوله نړۍ کې یو میلیارد خلک وټس اپ کاروي. که پر موبایل انټرنېټ ولرئ او دا اپ در سره وي نو د نړۍ هر ځای کې چې غواړئ له بل کس سره (چې وټس اپ ولري) وړیا خبرې کولی شئ#تعلیم .#علم #ساینس »

د ثنا ساپۍ هر پیام هم له اخطارونو ډک دی او هم له امیدونو. د هرې ستونزې ریښې په نه تعلیم کې ویني او د حل لاره یې هم تعلیم ګڼي، دغه لنډ پیام ته پام وکړئ:

«وایي "تر هغو چې دې ښځه، لور، زوی او لمسی کور کې لکه چرګان ساتلي وي او#تعلیم نه پرې کوې - خپلې ژبې، وطن او خلکو ته د خدمت ناري دې بې ځایه، بې مانا او بې ګټې دي".»

که د تاریخ پاڼو ته ښه ځير شو، ډیر ځلې زموږ سیاسي او ادبي تاریخ پردیو لیکلی دی، او پردي یې چې لیکي خپله یوه موخه خو به په کې لټوي او ځوانه ثنا همدا نیمګړتیا یوازې په دغو لنډو تورو کې نوي نسل ته په مخکې ږدي، وګورئ:

«که #تعلیم نه وي، خپله کیسه خپله نشئ لیکلی نو څکه یې نور درته لیکي او له خپلې اجنډا سره سم مو هر ډول چې غواړي رنګوي#افغانستان»

ثنا ساپۍ د یوې متمدنې محصلې او ژورنالستې په صفت هر څه چې ګوري، یا یې لولي، د هغو پایله په ډیر هنرمندانه ډول د یوه ډیر لنډ، خو با مانا پیام په ډول له خپلو هیواد والو سره په ټولنیزو رسنیو کې شریکوي.

ثنا کوم کتاب لوستی دی چې د فرانسې پرمختګ څنګه رامنځته شو او وروسته پاتې فرانسه څنګه په اوسنۍ پرمختللې فرانسې بدله شوه. ثنا له یوې خوا د لوی کتاب پیام په لنډ ډول له خپلو هیواد والو سره شریکوي او له بلې خوا بیا هم په عیني ډول ثابتوي چې هر ډول پرمختګ او نیکمرغي د تعلیم کولو په پایله کې را منځ ته کیـږي، د فرانسې د پرمختګ اوږد تاریخ یې په څو کرښو کې بیان کړی دی او په پای کې یې لیکلي دي: تعلیم او رښتیا هم چې د یو ملي پروګرام له مخې د پرمختک پلان په تعلیم سره تر لاسه کیدای شي. دا یې هغه لنډ مطلب:

«د یوه رومانیایي – امریکایي تاریخپوه، یوجین وبېر(Eugen Weber) کتاب لولم، نوم یې دی: د فرانسې له بزګرو فرانسویان جوړول (Peasants into Frenchmen) وایي له ۱۸۷۰ کاله وړاندې تر میلیون لږو فرانسویانو فرانسوي ژبه زده وه او هېڅ د یوه ملت په نامه څه نه و موجود. همدې، پاریس کې د ټولنې مشران مجبوره کړل چې لاس په کار شي او یوه واحده پېژندګلوي او یو ملت جوړ کړي. درې کاره یې وکړل:

**اول:** د هېواد په لر و بر (که ښار و او که لرې پراته او شاته پاتې کلي) کې یې وړیا لومړنی زده کړې (پر دواړو نر او ښځه)، هغه هم په سټنډرډ فرانسوی ژبه جبري کړلې. د حکومت اداري (پوځ، قانون، د پولو ساتل او د وګړو شمېرنه) یې په ټول هېواد کې فعالې کړې.

**دویم:** د اقتصاد ښه کولو لپاره یې، سړکونه، کاریزونه، ټیلیفوني، پوستي سیستمونه، یوه پیسه، یو بازار، او ګمرکونه جوړ کړل او له خلکو یې د مالیې ټولول ځان ته اسانه کړل.

**دریم:** کلتوري یوالی یې را منځته کړ. ادارو کې یوه رسمي ژبه، په سټنډرډ فرانسوی ژبې د کتابونو، او ورځپاڼو چاپول، ملي ګلرۍ، ملي اکاډمۍ، موزیمونه، او یو هنتونونه پرانیستل. د ملي خوښیو او غم ورځو لمانځل او یاد یې پیل کړ – داسې چې ټول ملت (که ښارۍ/ی و او که کلیوالهـ/ل) برخه پکې اخیستې شوی.

دا هر څه د حکومت، مدني ټولنو او ولس په همکارۍ وشول. نو پایله یې اوسنۍ فرانسه ده چې هر کال د نړۍ تر بل هر هېواد ډېر سېلانیان ورځي - ۲۰۱۴ کال کې یې د مېلمنو شمېر څه کم ۸۵ میلیونه و#افغانستان . #تعلیم»

ثنا ساپۍ په خپله فیسبوک پاڼه کې هره ورځ دې ته ور ته پیامونه آنلاین کوي چې شمیر یې ښایي سلګونو ته ورسیږي او ما یې دلته د بیلګې په ډول څو نمونې را واخیستې.

په هر صورت او هر حالت کې چې وي، ثنا خپله خبره په زړه کې او ککره کې نه ساتي، وايي يې او له ټولو سره يې شريکوي او په رښتيا هم هر پوست يې د يو کتاب په شان پيام لري. په لاندې پوست کې به وګورئ چې د يو پروفيسر د خولې خبرې را اخلي او نن ورځ دغه خبرې زموږ په وطن کې پر هغو خلکو عملي رواني دي چې ځان اکثريت ګڼي، خو په پوهه او تعليم کې يې ځان او خپل خلک داسې په اقليت کې ساتلی دی چې ښايي نسبت نورو ته په دوربين او ذره بين کې هم ښکاره نه شي، نو همدلته دی چې د پوهې او تعليم د نه تر لاسه کولو په صورت کې په تدريجي ډول د خپل ځان، خپلې کورنۍ، خپل قوم او خپلو خلکو د بربادۍ سند په خپله امضا کوي. دا هم د ثنا او د هغې د پروفيسر خبرې:

«د سياسي چارو له يوه انګرېز پروفېسر سره مې خبرې کولې – موضوع پر سياسي تاوتريخوالي، ټولنې او خلکو باندې وه. يوه خبره يې اشنا ښکاره شوه. ويل يې، "که#تعليم و نه کړي، سياسي تله يې نوره هم سپکه کېږي، خپله لويه ونډه له لاسه ورکوي ځکه د نفوس له پلوه به اکثريت وي خو د پوهې له پلوه به اقليت شي او هغه اقليت چې په سيستماتيک ډول يې له تعليمي پلوه ځان رسولی دی واکمن به وي. کلتور، ژبه او ارزښتونه به يې هېڅ وزن نلري او نه به څوک ری پرې وهي. نړيوال به هم هېڅ ليوالتيا ورسره نه لري ځکه هېچا سره دومره وخت نشته چې پر يو شاته پاتې قوم يا ولس يې ضايع کړي. که غواړي چې لکه رمه يې نور و نه پالي نو بايد له مشره نيولې تر کشره (دواړه ښځې او سړي) تعليم وکړي که نه کيسه يې مفته ده. دا کار بايد ډېر ژر پيل کړي ځکه ډېر وخت ورسره نشته".»

په ټولنه کې هيڅ داسې ستونزه او بد مرغي به نه وې چې د تعليم په نه شتون پورې اړه و نه لري، او ثنا ساپۍ د ټولنې ستونزې يو په يو په نښه کوي او له دلايلو سره يې وايي چې که تعليم نه وي ، نو همداسې ستونزو سره به لاس ګريوان يو، ځکه نو د هر پوسټ په پای کې وايي او ليکي: تعليم، وګورئ:

«د #پکتيکا دې حالت ته د انسان زړه ټوټه ټوټه شي. خو د ځينو دا دليل چې 'ته پر خپلې لور تعليم و نه کړې، داکتره به له کومه کوې؟' هم پر ځای دی. نو ځکه دغه حال دی#تعليم_فرض_دی»

د تعليم د عاملو په لاره کې ثنا ساپۍ د خپلې لارې د نورو ملګرو په فعاليتونو هم خبره ده او د هغو په فعاليتونو دومره خوشاله ده چې لا خپله ګټلې جايزه هم هغو ته ورکوي. دا خپله جايزه د «قلملار» ټولنې ويسا ورونو ته ډالۍ کوي چې هغوی هم د علم او مطالعې د عاملو له پاره د ګدايي کچکول په غاړه کور په کور، کلي په کلي او ښار په ښار ګرځي د کتابونو درويزه کوي او بيا يې اړو ماشومانو ځوانانو او د مطالعې اهل ته رسوي. ويسا ورونو ته ثنا داسې ليکي:

«په لندن کې د افغان غږ په نامه راډيو ۵مه کليزه وه. په اړه يې يوه غونډه وه او مشرانو يې دا جايزه را ډالۍ کړه... د افغان غږ راډيو د ټولو ملګرو او بنسټ اېښودونکي غرغښت غرغښت له پېرزوينې مننه. ژوندي دې وي. ما خپله ونشوی کړی غونډې ته ورشم نو همکار اسماعيل مياخېل مرسته وکړه او اوارډ يې زما پر ځای واخيست. زه غواړم دا جايزه هغه کس ته ډالۍ کړم چې په رېښتيا يې وړتيا لري او د قلم په برخه کې عملي کار کوي ـ مطيع الله ويسا. ښاغلی ويسا او کورنۍ يې عملاً د وطن بېلا بېلو سيمو ته ځي، د بندو ښوونځيو د پرانيستو هڅه کوي، کتابتونونه جوړوي او له تعليمه پاتې ماشومانو په غم کې دي. د هغه افغانستان په هيله چې ټول وګړي يې #تعليم ولري او قلم ورته نور نا اشنا نه وي.

«Matiullah Wesa

تر هغه ځايه چې ما ته مالوم وو، پر ځينو هغو اشخاصو مې مقالې ليکلې دي چې د نوي نسل د روزنې او د هغوی پر تعليم باندې يې ټينګار کړی دی، د تعليم د عاملو له پاره يې فکر او کار

کړې دی، خو پر تعلیم باندې د ثنا ساپۍ ټینګار او په دې لاري کې نظري او عملي کار بې جوړې دی. تر نن پورې مې هیڅ بل تن نه لیدلی او نه مې اوریدلی چې د ثنا غوندې دې پر تعلیم ټینګار وکړي او دومره تبلیغ دې ورته وکړي، ثنا د نوي ژوند او نوې ټولنې جوړول او د نوي انسان روزل په تعلیم پورې تړلي ګڼي او ټول ټینګار یې پر دې باندې دی چې هر څه په تعلیم سمیږي. پرته له استثنا هره ورځ یو دوه پوستونه داسې لیکي او تر ټولو یې رسوي چې اوس یې په غیاب کې د تعلیم مور ګڼي او څوک چې چیرې د تعلیم نوم واخلي نو ځینې غږ پسې کوي چې:

«ته اوس دې د ثنا ساپۍ بچې ته ګوره»

ثنا ساپۍ ډیره ځوانه ده خو څنګه چې له یوې خوا یې د تعلیم د عامیدو له پاره فعالیتونو او عملي هلو ځلو ته ګورم او له بل پلوه خلک هم غوښتي او نا غوښتي وایي چې د تعلیم له پاره مبلغین د ثنا ساپۍ زامن دي (ته اوس دې د ثنا ساپۍ بچې ته ګوره) نو زه یې اړینه ګڼم چې سر له همدې اوسه وویل شي:

**ثنا ساپۍ د تعلیم مور ده!**

**ثنا ساپۍ د تعلیم د لارې قهرمانه ده!**

لیدل شوي دي چې سیاسیون او د ټوپک او وژنو د لارې لارویان خپلو مشرانو ته د ټوپکوالۍ او وژنو په خاطر قهرماني ورکوي، زه خو هم حق لرم چې د یو ښونکي او قلموال په توګه، یو قلموال ته، د انسانیت او انسان روزنې په لاره کې د کړو خدمتونو په پار قهرمان ووایم، نو سر له همدا اوسه زه وایم چې:

ثنا ساپۍ د تعلیم د لارې قهرمانه او د اوسني تعلیم مور ده.

د مقالې د ښه پای له پاره د ثنا په تعلیم پورې اړوند څو خبرې:

«که زما خور بې تعلیمه وي زما ورور ارامه او خوشاله ژوند نشي کولی. ټل به یې کور وران، عزت تالا او ماغزه ناکراره وي. د نجونو او میرمنو #تعلیم د ټولې کورنۍ په ګټه دی نو خپله پښه په خپله په تبر مه وهئ.»

«وایي که ښه اقتصاد غواړې باید تعلیم کړي خلک ولرې چې پوه شي څه کار و بارونه پیل کړي. اقتصاد پوهانو ته اړ یئ چې پوه شي کومه اقتصادي تګلاره یې وطن ته ښه ده. او پوه خلک دې پکار دي چې سیستم جاري وساتي. دواړه نارینه او ښځینه باید کار وکړي چې هماغسې یې سیال وساتي. د بریتانیا ټول نفوس نژدې 64 میلیونه دی. ښځې تر سړو ډیرې دي. 38 میلیونه خلک یې کار کوي. که یې ښځې په کور کښېنې #اقصاد به یې هم ورسره خراب شي. بیا به نه د نرې پنځم اقتصاد وي او نه به له نړیوالو مشرانو یادیږي. سیالي داسې نه کیږي چې هغه بل دې شپه او ورځ خولې تویوي او نور دې کور کې بې #تعلیمه، بې مسولیته او بې کاره پښنه اړولې ناست وي. که څوک تعلیم نه کوي بیا دې شکایت هم نه کوي#تعلیم_فرض_دی» . «#تعلیم چې دې وکړ (لارې ګودرې دې ولیدې) د خپل حق غوښتلو په چل هم پوهیږې. #افغانستان»

«په #افغانستان کې که ماشوم ښوونځی نلري پره او حل یې دواړه له ما او تا سره دی. خپګان نه، کار غواړي#تعلیم_فرض_دی .»

«تر هغو چې مو ښځې پر خپلو پښو و نه دریږي ټولنه مو له روانو بدبختیو نه خلاصیږي. حل یې پر ښځه او نر #تعلیم دی.»

«وياړلي او د ستايلو سړي داسي وي. تر هغو چي مو ښځي پر خپلو پښو و نه دريږي ټولنه مو له روانو بدبختيو نه خلاصيږي. حل يې پر ښځه او نر #تعليم دی».

ثنا په ټولنيزو شبکو کي ډېره مثبته فعاله ده او هر پوست کي يې د يو کتاب په انداز مفاهيم نغښتي وي چي د نوي نسل په روزلو کي او د تعليم په عامېدو کي يې زه ډېر لوړ او مثبت ارزوم. د ثنا د ځو پوستونو بېلګې دا دي:

«په #افغانستان کي مي د څو تلويزيونونو اختريز پروګرامونه وليدل چي له پخوا د کيفيت، ستايل، او ټول جوړښت له پلوه ډېر ښه شوي دي. څو ټکو ته مي پام شو:

- عمده رول پکي ځوانان اجرا کوي چي دا ډېر ښه خبر دی .
- تر ډېره د يوالي هځه کېږي چي بيخي عالي کار دی .
- د موسيقی پروګرامونه دي، سندرغاړي هم مېرمني وي خو ورته ناست ټول 90 % سړي دي. دا بده خبره نه ده خو همدغه ښاغلي کولی شي چي خپل يوه خور، مور، مېرمن او يا لور هم ورسره ورولي. د دي کټه دا ده چي ورو ورو به د ټولني واکمن دوديز سيستم يو څه بدل شوی وي او هم به مو د کور ښځو ته يو څه تفريح شوی وي .
- د فارسی په پرتله په پښتو پروګرامونو کي ګډونوالي ښځي داسي راته ښکاره شوې چي نور هم ډېرې زړه وري کېدی شي. نجونو او مېرمنو که دا ليکنه لولئ، په چا ری مه وهئ!!هغومره چي د بل چا حق دی چي په ټولنه کي فعال واوسي، هماغومره حق ستاسي هم دی نو مه پرېږدئ چي د نورو د تاثير/ اغېز لاندې راشئ. زه دا خبر تل خپلو خوېندو ته هم کوم.

#تعليم_فرض_دی👩‍🎓 #LiterateAfg ☮️☮️ 👩‍🎓👨‍🎓👩‍🎓»

«که زه د ګ.#حکمتيار پر ځای وای نو ويل به مي چي پاره اشنا ښه ژوند دې وکړ، نړی دې وليده، خلک دې وپېژندل، بچي دې غټان دي، هر يو خپل ژوند لري، د پيسي مېسو غم دې هم نور نشته، جګړه او سوله دې هم وکړه. ژوند ډېر لنډ دی نو ايله ۳۰ کاله نور به دې پاتي وي. نه واک غواړم، نه سياست کوم. نه اولاد، بل کس يا ځان لپاره خپل ځان په عذابوم. را پاڅېږم او په ټول #افغانستان کي تعليم لپاره کار کوم چي هر افغانه ښځه او سړی تعليم وکړي. له دي سره به هم افغانستان له کړاونو خلاص شي او هم به مي داسي څه په ميراث پرې ايښي وي چي له مرګ وروسته به مي خلک په جګړه نه بلکي په سوله يادوي او وايي به چي هغه سړی چي سوله يې وکړه او بيا يې داسي يو کار وکړ چي زموږ ننني بريا يې ممکنه کړه. زموږ نسلونه يې له بربادی وژغورل. ښايي په همدې کار د سولي نوبل جايزه هم وګټم. تر هغو چي مو هر افغانه او #افغان تعليم و نه کړي ستونزې مو نه حل کېږي – ليکلي يې در واخلئ . #تعليم_فرض_دی#LiterateAfg☮️☮️

«پاکستان کي ۶۰ فيصده خلک ليک لوست کولی شي

افغانستان کي ۳۸ فيصده خلک ليک لوست کولی شي

ايران کي نژدې ۹۰ فيصده خلک ليک لوست کولی شي

نو له #پاکستان، #ايران او نورې نړی سره په سيالی کي موږ تر هغو ناکامه يو چي پر خپلو خلکو ليک لوست و نه کړو. راځئ له خبرو تېر شو او اصلي مبارزه، سيالي او وطنپالنه پيل کړو. هر داسي کس ته ليک لوست ور زده کړو چي اوس يې نه دی زده. په دې ډول به تاسي

هم خپلي دي دنیا او هم هغي دنیا ته کار کړی وي. #تعلیم_فرض_دی ☮
☮ #LiterateAfg»

«کله چي پاکستان لاري وتړلي او احساساتي خلکو د مظاهرو تکل وکړ، نو ټنا جاني داسئ ولیکل:

چي ډنګ شي وایي د #پاکستان او #ایران پر ضد مظاهره کوو. ښه و یی کړه خو دا لنډ مهالي کارونه

دي .حل نه دی. که غواړي سم اعتراض وکړي پر ښځه او نر دي تعلیم وکړه چي بیا په ټول عمر پورته درته و نه ګوري. هغوی ولي تر تا دومره مخکي دي؟ بل هېڅ کمال نلري، تش په تعلیم یي خپل خلک رسولي. دا مظاهره دي هر یو له خپل کوره پیل کړي، بیا یي نتیجه ګوره .#افغانستان او افغانان په اوسني حالت کي شتمني نه لري ځکه د هیچا سترګه نه تري سوځي. پیسي، تعلیم کړی ولس، لوړ کلتور، بل سمبولیک ارزښت لکه د بریتانیا شاهي کورنی او تاریخ یي، او په سیالی کي مخکي والي (لکه امریکا) ته شتمني وایي.

#تعلیم_فرض_دی ☮ ☮
#LiterateAfg»

د مورنی ژبي د ورځي خبري تر هغو بي مانا دي چي تعلیم و نه کړئ او پر ښځه او نر عام نشي. ژبه په

ویلو نه ساتل کېږي. په لیکلو ساتل کېږي او خلک هغه وخت لیکل کولی شي چي تعلیم وکړي .#پښتو مره ده. که خانان همداسي روان وي، دا څه سا چي لري هغه یي هم په دریډو ده .پښتو بل څوک نه وژني، موږ خپله پسي را اخیستي ده. #تعلیم_فرض_دی☮ ☮

#LiterateAfg

«په دې کي باید موږ مخکي وی ځکه کال ۱۲ میاشتي ښه پریمانه او ګرم لمر لرو خو غم دا دی چي د دې

شي چل نه راځي!! د بي تعلیمی نتیجه خو ګورئ! تر هغو چي د دي غاړي او هغي غاړي پښتانه پر ښځه او نر تعلیم و نه کړي همداسي به کړیږي، په خپله شتمنی کي به بي عزته، په خپل لویوالي کي پرېوتی، په خپل ژمي کي له یخنی مره، او خپل کور کي بي کوره وي .
#تعلیم_فرض_دی#LiterateAfg ☮ ☮

«دې پروګرام کي برخه واخلئ او نومونه ورسره ولیکئ لطفاً. که یي وړتیا ولرئ خامخا به دنده پیدا کړئ او که دا ځل ونشو پر ځان لا نور کار وکړئ چي شرایط یي پوره کړئ - اخر به وشي. نور ملګري هم خبر کړئ لطفاً خو پام مو وي چي بي تعلیمه هېڅ هم نه کېږي .

#تعلیم_فرض_دی ☮ ☮
#LiterateAfg»

## مریم امرخیله:

### مریم امرخیله

### د مریم امرخیلې غږ

«زه د هغو پیغلو دردیدلې چیغه یم، چې په ستوني کې خپ، خپ
ژاړي او چیغې یې هیڅوک نه اوري. غواړم د هغوی
پټه، پټه ژړا په داسې یاغي چیغې بدله کړم، چې
له شرقه تر غربه یې ناره د ټولې نړۍ تر
غوږونو پورې و رسیږي.»

(مریم امرخیل)



مریم امرخیل زما له نظره د تعلیم کار او زیار یوه داسې ژوندۍ بیلګه ده چې هر څوک باید ور باندې و ویاړي، ځکه چې زموږ د ټولنې په دې روان اړو و دوړ کې، د یوې کلیوالې نجلۍ له پاره د دومره ستومنزمنو کارونو تر سره کول ګران نه، بلکې نا شونې دي، خو مریم د هر راز ستړیاوو او خطرونو په منلو سره دا ویاړمن کارونه تر سره کړي دي، د تعلیم او نوي ژوند له پاره یې د بیلګې په ډول داسې لار آواره کړې چې په دې پسې راتلونکې نسلونه به په آرامۍ او پرته له کوم ډار نه ور باندې روان وي. د دومره خطرونو او زیارونو په ګاللو سره مریم امرخیل وښوده چې پر خپلو پښو د دریدو او پر ځان د بسیا کیدو یوه غوره او ژوندۍ بیلګه ده.

د مریم امرخیلې د لنډ ژوند لیک له لوستلو پوه شوم چې، مریم په تیارو بله شوې ډیوه ده، دا ډیوه په خپل استعداد او همت سره توانیدلې ده چې د زمانې له بادونو، طوفانونو او نادودو سره مبارزه وکړي او ځان د ژوند هغې پوړۍ ته ورسوي چې اکثریت خلک یې په ډیر اوږده عمر کې هم نه شي ور رسولای.

د مریم امرخیل بیوګرافي په ځینو آدرسونو کې په لنډه او اوږده بڼه خپره شوې ده، خو ما تر هر څه د مخه له دې سره د فیسبوک له لارې اړیکې ونیولې او د بیوګرافی د لا بشپړتیا په پار مې څو پوښتنې د دې په آدرس ور ولیږلې، زما د لیک او پوښتنو متن دا دی:

زما سلامونه او نیکې هیلې ومنئ!

هیله ده هر څه ښه وي.

ستړې مه شې، هر کله راشې!

تاسو له تورو تیارو څخه زدکړې او هلې ځلې را پیل کړې دي او اوس هر چا ته پته ده چې د خپل مزله لاره مو تر څو پټه پایو پوړې په بریالیتوب سره وهلې ده.

د تعلیم د نهضت د لا پراختیا او د زدکړو له پاره د نورو ځوانانو د ښه تشویق په پار، ما وغوښتل چې لکه د ثنا ساپۍ غونډې ستاسو پر کامیابو فعالیتونو باندې هم یو څه ولیکم او دا وښیم چې تاسو د تعلیم او کار تر ټولو ځوانه او کامیابه بیلګه یاست او د نورو ځوانانو او پیغلو له پاره به سر مشق هم شې. که د مقالې د لا غنا له پاره زما دغو پوښتنو ته لنډ ځوابونه راکړئ، مهرباني به مو وي:

ــ که مو چیرې بیوګرافي خپره شوې وي، لینک یې را ولیږئ او که نه، نو ډیره لنډه بیوګرافي مو را ته ولیکئ،

ــ څومره او څه مو تر اوسه د تخلیق یا تحقیق په برخه کې لیکلي او خپاره کړي دي؟ که مو کړي وي چیرې؟ لینک یې را ته ولیږئ،

ــ کله مو د لیسانس دوره پای ته ورسوله، د مونوګراف موضوع مو څه وه؟

ــ کوم مدني فعالیتونه مو تر سره کړي دي؟

ــ د زرتار کیسه هم لنډه راته ولیکئ،

ــ د سولې جایزې ته چې کاندیده وې، هغه څنګه شوه؟

ــ آیا اوس رسمي دنده لرئ؟ که یې لرئ، څه دنده تر سره کوئ؟

ــ په راتلونکې کې د نورو زدکړو او مدني فعالیتونو په برخه کې څه پلان لرئ؟

د اوس له پاره همدومره.

بریالیتوب مو غواړم،

تر بیا.

او مریم امرخیلې په ډېرې حوصلې او مهربانۍ سره د خپل ژوند، بیوګرافی، کارونو او زدکړو په باب زما په پته مالومات را ولېږه، زه یې په امانتدارۍ سره دلته ړدم:

«سلامونه!

بهاند صیب مننه کوم بیا هم،

د ویکي پیدیا په دغه لینک کې زما د لیکنو په اړه ټول معلومات شته،

په ۱۳۹۴ کال کې مې د لیسانس دوره پای ته ورسېدله.

کله چې مې ښوونځي له پاره درې کاله تېر کړل، زیاته به خفه کېدم خو دا هر څه مې د خپل راتلوونکي او د نورو هغو نجونو چې په کلي کې وې. ټولو به راته همدا خبره کوله چې ته یوازېنی کس زموږ له ډلی څخه یاست نو د همدې په خاطر به مې هره سختي زغمله او مور پلار ته به مې د خپل خفګان یا نور هیڅ نه ویل. کلي ته به چې لاړم د پخوا غوندې شوخه خندانه نه وم، خو مور پلار ته به مې ویل زما درسونه زیات دي ځکه له جسمي لحاظه زیاته کمزورې کېدمه، خو هیڅکله مې خپلې موخې په هیڅ قیمت نه غوښتل بې برخې شم او زه پوهېدم که غواړم د نورو سره مرسته وکړم نو یوازې تعلیم او علم حاصلول دي چې باید تر آخرې سلګۍ ورته زیار وباسم ښونځی مې د ماما کور کې پای ته ورساوه، نور مې غوښتل باید خپلې خویندې ورونه او د تره اولادونه لږ تر لږه کابل ته راولم، نو خیاطي مې فکر ته راغله او دغه کار مې ټول پلان جوړ کړ. پنځه سوه روپۍ مې له خپلوانو پور کړې او لومړنی عاید مې څلور زره افغانۍ او دغه شان وروسته، وروسته دومره په ځان بسیا سوم چې ما به د شل زرو زیات او کم میاشتنی عاید و، نو هغه ما وغوښتل دغه مسلک عام کړم او نورو ښځو سره مې دغې برخه کې مرسته وکړه. د هغوی له پاره مې لومړی خام مواد او نور واخیستل، بیا به ما ورته پلورل، تر څو دوی کابل کې پاتې شي. د دوی لوڼې او زامن باید له درس څخه بې برخې نه شي.

کله چې سږکال زه وپوهېدمه چې کولی شم یوه وړه کمپنۍ جوړه کړم، نو د زرتار په نوم شرکت مې جوړ کړ او دا مې د ننګرهار، کاپیسا، لغمان، غزني، پکتیا، میدان وردګ ولایت او خپله مرکز یې کابل کې و، چې د دغو ولایاتو نه ما تر خپلې وسې دېرش او څلوېښت میرمنې په کار کې ونیولې لومړی مې ورته خام مواد واخیستل او بیا مې د هر ولایت له پاره یو نماینده چې نجلۍ وه، ټاکلې وه. هلته مو دا مواد ورکول هغوی جوړول او موږ بازار کې ورته پلورل چې د هغې له برکته به هرې میرمنې د میاشتې درې تر شپږ زرو افغانیو معاش اخیسته چې د ټولو مجموع ۲۵۰ میرمنو ته رسیږي، خو اوس یې زیاتره میرمنو ته دهغوی خپل خاوند، ورور یا بل څوک پلوري او دغه شان زه کوښښ کوم د دې لاسي کارونو له پاره د نړیوال بازار پام را جلب کړم چې اوس په همدې کارونو بوخته یمه.

د سولې جایزې ته ځیني دوستانو نومانده کړم کمپاین هم ډېر ښه و، تر دې حده چې زما پروفایل د اوو ملکو په نمایندګانو کې زیاتو کسانو لوستی او خوښ کړی و؛ خو له بده مرغه چې زموږ د ګروپ نه یوه پاکستانۍ نجلۍ بریالۍ شوه چې دغې جایزې درې برخې لرلې چې له افغانستان څخه یوازې حبیبه سرابي وکړلی شول دغه جایزه تر لاسه کړي.

زه دومره پوهېږم چې تر آخره زیاته ډاډه وم او که د کمپاین خبره وه تر هر چا مخکې وم خو خیر دا هر څه ژوند کې راځي او د دې پایله واضح وي، یا به یې ګټې، یا به یې بایلې؛ نو دا

دومره ستونزمنه خبره نه ده راته. ځکه زما دريځ معلوم دی او زه تل غواړم يوازې خپلو خلکو او هېواد ته تر خپلې وسې، وسې زيات کار وکړم.

تر اوسه کومه رسمي دنده نه لرم او نه کوم پلان ورته لرم چې رسمي دنده تر سره کړم. زه غواړم ډېره آزاده و اوسم او وکولی شمه خپل پلانونه او کارونه په ښه او عالي توګه تر سره کړم.

خو بيا هم د چنار راډيو سره کار کوم تر څو لرې پرتو او نا امنو سيمو ته ښې خبرونې و رسيږي، چې د ښځو د ستونزو په حل کولو کې فعاله ونډه ولري.

زما ټول پلان د افغان ماشومانو په تعليم باندې را څرخي او دغه شان د ميرمنو د اقتصادي پياوړتيا له پاره نوې طرحې او پلانونه لرم، چې تطبيق يې کړم.

خدای دې وکړي بهاند صيب کوم څه چې تاسې پوښتلي وو، د هغو اړوند مې ځواب درکړی وي.

تاسې دې هم خدای آباد او خوشحاله لري.

مننه»

وروسته له هغې چې مريم امرخيل د سولې جايزې ته کانديده شوه، د ميډيا پام ډير ور وا وښت، په افغنستان کې د ننه او له افغانستان نه د باندې ليکنې ورباندې وشوې. هغه څه چې زما له نظره تېـر شوي دي او د مريم په باب زما د څو مياشتنيو څيړنو په ترڅ کې ما تر لاسه کړي دي د هغو په رڼا کې به د مريم په باب دا مقاله و ليکم.

هغومره چې ما له هيواد والو، په خپله له مريم امرخيل او ميډيا نه د مريم امرخيل په باب اوريدلي وو، دا مالومات ما ته د قناعت وړ ونه ګرځيد، نو ځکه مې د يوه څيړونکي په توګه د نوي نسل د روزنې د دې پياوړې غړې او لا سرلارې د ښې پيژندنې په موخه، نورو پتو ته هم سر ور ښکاره کړ. په نوو آدرسونو کې ډيری مالومات د دې په باب هماغه وو، چې د دې له لوري را ليږل شوي وو، خو په ځينو آدرسونو کې مې د دې په هکله دا نوي شيان و موندل:

دلته په اروپا کې د لومړي ځل له پاره د مريم امرخيل په باب کومه ليکنه او مالومات چې زما تر سترګو شول، هغه په «afghanasamai » وبپاڼه کې د ښاغلي حميد عبيدي په قلم په هنرمندانه ډول هغه ليکل شوې مقاله وه چې د مريم د ژوند ډيرو مهمو برخو ته يې اشاره کړې وه. ده په اروپا کې له هر چا مخکې د مريم امرخيل د ژوند، زدکړو، کارونو او ستونزو په باب، د مريم له عينې ژوندانه او بيوګرافی او ښايي انترپوګانو نه په استفادې سره يوه داسې مقاله برابره کړې ده چې هم حقيقت لري او هم په ماهرانه ډول د هنر توومنه وراضافه شوې ده.

ښاغلي عبيدي دا مقاله په افغان آسمايي ويبپاڼه کې خپره کړې ده. زه يې دلته د اړتيا له مخې ډيره برخه را اخلم:«

## مريم و کليد های جادويی اش:

کودکی و فرصت بازی های کودکانه را فقر از مريم ربوده بود. «از مکتب که ميآمدم و نان چاشت را ميخوردم با زنان و کودکان همسايه به قالينبافی می پرداختم. پس از آن ميرفتم و علف جمعآوری ميکردم. شب در نور چراغک تيلی دست ساخت مادرم درس هايم را ميخواندم».

او که در کمپ مهاجران افغان در پيشاور زنده گی می کرد از طريق مسجد با مکتب آشنا شد. «زمانی که پدرم مرا به مسجد نزديک خانه برد تا نزد ملا قرائت قران شريف را بياموزم با

زینب آشنا شدم. زینب به مکتب هم می رفت. او از مکتب قصه هایی میکرد که در دلم شوق رفتن به مکتب را بر انگیخت.

یک روز ملای مسجد از لیاقت و کوشش من نزد پدرم توصیف بسیار نموده بود. پدرم وقتی به خانه آمد برایم گفت هر تحفه یی که از او خواسته باشم برایم تهیه خواهد کرد. من گفتم که هیچ تحفه یی نمیخواهم و خواهش کردم که مرا به مکتب داخل کند. پدرم خواهشم را پذیرفت . در همان سال اول نه تنها اول نمرۀ صنف شدم ، بل چون هر متنی را میتوانستم روان بخوانم ، به نام بلبل شهرت یافتم».

وقتی خانواده تصمیم گرفت تا به افغانستان برگردد، ذهن مریم را این پرسش نیش میزد که در افغانستان مکتب وجود دارد یا خیر. هنگام وداع معلمانش او را در آغوش گرفته و گریسته بودند. و او خود نیز نگران بود. شش خانواده دار و ندار شان را در یک لاری بار کردند و در حالی که خود بر فراز بارها نشسته بودند، به سوی افغانستان حرکت کردند. مریم هفت ساله نیز در حالی که کتاب های مکتب و پارچۀ اول نمره گی فراغت از صنف اول را در آغوش میفشرد، در کنار خانواده اش نشسته بود. «هر جا که پولیس ها برای تفتیش به موتر بالا میشدند، من پشتی کتاب ها و پارچۀ مکتبم را برای شان نشان میدادم. در تمام راه ترانه هایی را که در مکتب یاد گرفته بودم میخواندم و گرچه عابرین کنار جاده را نمی شناختم با آنان خداحافظی میکردم. ما به وطن بر میگشتیم . آن وقت هنوز تعریفی برای وطن نداشتم. و اما این قدر میدانستم که ما چون افغان هستیم به افغانستان تعلق داریم و افغانستان به ما تعلق دارد».

وقتی به دهکدۀ آبایی اش در وردک رسیدند، مریم در جستجوی مکتب شد. «خوشبختانه در آن حوالی مکتب وجود داشت؛ و اما، بسیار دور از خانۀ ما. از سه قریه باید میگذشتم تا به مکتب برسم. فاصله یگانه مشکل رفتن دختران قریۀ ما به مکتب نبود. از قریۀ های همجوار یک تعداد دختران به مکتب می رفتند. و اما، از قریۀ ما هیچ دختری به مکتب نمی رفت. برخی افراد با نفوذ بر پدرم نیز فشار می آوردند تا نگذارد من به مکتب بروم. دلیل شان این بود که دختران اگر مکتب بروند ، چشم سفید خواهند شد. در این جا نیز مانند زمان مهاجرت به علاوۀ مکتب، به مسجد نیز می رفتم و علاوه از آوردن علف برای گاو مان، به کار بافنده گی نیز میپرداختم. ملای مسجد ما از این که میدید من نتنها قرآن شریف را درست قرائت میکنم ، بل همچنان کتاب های دیگر چون گلستان ، بوستان و پنج گنج را هم میخوانم، مرا مورد تشویق قرار داد.

ملا به مردان قریۀ ما میگفت که هیچ بچه یی- حتا آنانی که چند سال از او بزرگتر اند- در درس به مریم رسیده نمیتواند. همان بود که گپ های من و پدرم برای تشویق مردم به خاطر فرستادن دختران شان به مکتب گوش های شنوا یافت. به این ترتیب میان خانواده ها نوعی مسابقه و همچشمی برای فرستادن دختران شان به مکتب آغاز گردید- نتیجه این که همه دختران قریۀ ما شامل مکتب شدند.»

او در دنیای آرزوهای خود غرق بود که مصیبت دیگری سر راهش پدید آمد. «یک روز صبح که با دختران دیگر با شوخی و بازی و خوشی و خنده راهی مکتب بودم، در نیمۀ راه مرد بد خلقی با تندی به ما گفت : خوب شد که مکتب را برای تان سوختاندند . حالا پیش از این که برای خود تان هم چیزی واقع شود بروید به خانه های تان. دختران دیگر از ترس و وحشت به سوی خانه های شان رفتند. من با یک خواهرخوانده ام با دلهره راه مان را به طرف مکتب ادامه دادیم. به مکتب که رسیدیم دیدم که خیمه ها،سطرنجی ها ، تعمیر ادارۀ مکتب و تحویلخانه در کام آتش سوخته بودند. ما را نمی گذاشتند که داخل محوطۀ مکتب شویم . و اما من با سر معلم یک جا داخل مکتب گردیدم. آن جا کنار نل آب نشستم و تا میتوانستم گریه کردم». بلی در سال ۱۳۸۶ طالبان مکتب را به آتش کشیدند و خوشی و امید مریم و ۱۱۰۰ دختر دیگر هم مکتبی اش را به غم مبدل ساختند. پس از این حادثه اکثریت دختران از ترس دیگر به مکتب

نرفتند. به این ترتیب شمار شاگردان هر صنف از بیست تن به چهار تن کاهش یافت. مریم در صنف نهم بود که ریاست معارف دروازۀ مکتب را بست و گفت توانایی پرداخت معاشات معلمان را برای تعداد اندک شاگرد ندارد.

و اما، مریم تسلیم سرنوشت نشد، بل سعی کرد بار دیگر خود سرنوشت خویش را رقم بزند. او به کابل رفت تا در آن جا مکتب را تمام کند. ولی دخترک دهاتی با استعداد و عاشق درس و مکتب در کابل با دشواری های دیگری رو به رو گردید . «زمانی که به کابل آمدم ، دختران جرار و جسور کابلی ، جرأتم را نیز از من گرفتند- نه بر زبان دری تسلط داشتم ، نه لباس و بکس شیک و نه قلم و کتابچه های خوب و فیشنی.

در چپن کلان و کهنه یی که نمی دانم مادرم از کجا تهیه کرده بود، خودم هم خود را گم کرده بودم. از نظر سن و سال نیز نسبت به همصنفانم خوردسال تر بودم.

با آن ریخت و لباس ، من موضوع شوخی و ریشخند همصنفانم شدم. اذیت و آزار به حدی بود که مرا به جان آورد. و اما، در این جا معلمان نه وقت داشتند و نه علاقه تا به مشکلات شاگردان برسند. زمانی که در کابل شامل مکتب شدم، به امتحانات زمان کمی مانده بود. تصمیم گرفتم بروم نزد معلم زبان پشتو – زیرا فکر کردم کم از کم او گپم را بهتر خواهد فهمید. ولی از طالع بد، با سرمعلمه مواجه شدم. او بدون گپ و سخن یک سیلی بر رویم زد و گفت: تو این جا چی میکنی؟!

کوشیدم برایش بفهمانم که من تازۀ شامل این مکتب شده ام. او با حیرت پرسید که با این سن و سال کم چه گونه ممکن است من شاگرد آن مکتب باشم. خوب به هر رو، با هم صحبت کردیم ...».
و مریم که عادت نداشت در برابر مشکلات تسلیم شود، برای هر مشکلی راه حلی می یافت. او که در خامکدوزی و خیاطی مهارت داشت، میکوشید تا نیازمندی های مکتب – از لباس تا پول کتاب و کتابچه و نیازمندی های دیگر- را از فروش محصولات دستی خودش تأمین کند. زبان را هم یاد گرفت. «پیوسته جملات تازه یی را که از دیگران میشنیدم با خود تکرار میکردم: خوب استی، جور استی، کجا میروی، نام تو چیست، نام من مریم است... و چنین بود که بالاخره زبان را یاد گرفتم.»

آنچه در کابل میدید برایش تازه گی داشت. «این که دختران با پتلون گشت و گذار میکردند و کسی برای شان چیزی نمی گفت برایم بسیار جالب بود. آرایش موهای معلمان ما هم مرا حیرت زده میساخت. جالب ترین سرگرمی برایم دیدن تلویزیون بود...»

وقتی مریم مکتب را تمام کرد و با سپری کردن امتحان کانکور شامل پوهنتون شد، مشکل دیگری سر راهش قرار گرفت؛ و اما، او این مشکل را به چانسی برای تمام خانواده اش مبدل ساخت. «پدرم از این که من به جای طب شامل فاکولتۀ ادبیات شده بودم سخت ناراض بود. ادبیات انتخاب دلخواه خودم بود و به جای تسلیم شدن به خواهش پدرم، تسلیم خواست دل خودم شده بودم. پدرم نمی خواست به من اجازه بدهد که در کابل بمانم و به تحصیل در رشتۀ ادبیات بپردازم. من پیشنهاد غافلگیر کننده یی به پدرم کردم. گفتم در کابل خانه گکی را به کرایه خواهم گرفت تا او هم با مادرم و خواهران و برادرانم به کابل بیایند. این طرح از نظر پدرم بیخی غیر عملی بود. مسالۀ اصلی برای او این بود که پول کرایۀ خانه و مصارف خانواده را از چه مدرکی تهیه خواهیم کرد. پولی را که از فروش محصولات خیاطی به دست آورده بودم، پیشش نهادم و گفتم در آینده نیز میتوانیم از این راه و کارهای مناسب دیگر پول کرایۀ خانه و نیازمندی های دیگر را تهیه کنیم. او میدانست که گزافه گو و بی سنجش نیستم. بالاخره راضی شد. همه چیز را از صفر شروع کردیم و کم، کم توانستیم خانه گکی را که حالا داریم

بسازیم. در این میان پدرم نیز که مکتب را پس از صنف نهم در اثر مشکلات پیش آمده ترک کرده بود، دو باره درس خواند و بالاخره دارالمعلمین را تمام کرد و اکنون در مکتبی که به کوشش خودش تاسیس شده به حیث تحویدار کار میکند. خواهران و برادارانم نیز مصروف درس و تحصیل اند. میتوانم بگویم که ما یک خانوادۀ خوشبخت هستیم. خوب یگانه کمبودی که داریم دوری از پدر و مادر است. پدرم و مادرم به زنده گی دهاتی عادت دارند و در کابل دلتنگ میشوند. آنان ترجیح داده اند تا در همان دهکدۀ آبایی مان زنده گی کنند.»

مریم که بیست بهار را پس از بیست زمستان دیده، سال گذشته از فاکولتۀ ادبیات فارغ گردید. او اکنون در یک رادیوی محلی که در ولایات پکتیا، پکتیکا و خوست شنیده می‌شود، دو برنامه برای زنان دارد: یکی در مورد مشکلات خانواده گی و دیگری برای مصاحبه با فعالان حقوق زن و فعالان جامعۀ مدنی. او همچنان مالک و مدیر یک شرکت خیاطی است. «دستگاه خیاطی را با استفاده از قرضۀ کوچک یکی از خویشاوندانم زمانی که هنوز در مکتب بودم ایجاد کردم. حالا این شرکت خیاطی برای ۲۵۰ زن که در مناطق دور افتاده و نا امن زنده گی میکنند، زمینه کار را فراهم ساخته است. شرکت برای این زنان مواد خام تهیه کرده و محصولات معین خامکدوزی و خیاطی را فرمایش میدهد و این محصولات را در بازار به فروش می رساند. از پول فروش محصولات هم مزد کار این زنان پرداخت میگردد و هم برای شان مواد خام مورد نیاز تهیه و فرستاده میشود. اکنون تولیدات شرکت « زرتار» به علاوۀ بازار داخلی در یک پیمانۀ کوچک در هند، استرالیا، اوکراین و روسیه نیز به فروش میرسد. خوب امیدوارم با توسعۀ بازار فروش تولیدات شرکت، باز هم بتوانم برای تعداد بیشتر زنان زمینۀ کار را مساعد بسازم».

رنج و ناداری که مریم خود مزۀ آن را چشیده در او رویای کشور و جامعه یی را ایجاد کرد که همه در آن از رفاه برخوردار باشند. «در کودکی بزرگترین آرزویم این بود که پادشاه شوم و آن گاه برای مردم خانه بسازم. پیرامون خانه ها باغ ها و پارک های سبز بسازم که در وسط آن ها مکاتب باشند تا دختران و پسران بتوانند با جرأت و خوشی به مکتب بروند. در خیالاتم در باغ ها کشتزارهای شفتل نیز وجود داشتند تا گاوها در آن ها بچرند و کودکان و زنان برای آوردن علوفه برای گاوها به زحمت نشوند. ساختن فابریکات و فروشگاه ها و چیزهای دیگر که هم برای همه کار ایجاد شود و هم نیازمندی های مردم مرفوع گردند نیز شامل خیالاتم بودند. کوتاه این که آدم خیالپرداز و خوشبین بودم. حالا که بزرگ شدم ام میدانم که تنها در حد توانم میتوانم برای خودم و دیگران کار مفیدی انجام بدهم. میدانم که هیچ کس و حتا پادشاهان و زمامداران نیز به تنهایی نمی توانند همۀ این کارها را انجام بدهند. امروز رویاهای واقعبینانه تری دارم. آرزویم این است که زنان توانایی های خود را دریابند، این توانایی ها را به کار بیندازند و اطمینان به نفس کسب کنند. زنان باید این پنداشت نادرست را که آنان را «ناقص العقل» تعریف میکند از ذهن بزدایند. زنان با تبارز و اثبات توانایی های خود موفق خواهند شد این پنداشت نادرست را از ذهنیت جامعه نیز بزدایند. زنان میتوانند زنده گی خود، خانواده و جامعه را تغیر بدهند. من از روی تجربه خود اگر بگویم میتوانم بر آرزو، اراده، آموزش و استواری به حیث کلید باز کردن راه به سوی آینده تأکید ورزم...»

پاس مې د مریم امر خیلي په باب د ښاغلي حمید عبیدي د لیکنې یوه برخه را واخیسته چې د باندې له افغانستانه لیکل شوې او خپره شوې وه، اوس به وګورو چې په نورو آدرسونو کې د مریم په باب څه لیکل شوي او څومره مالومات وړاندې شوی دی:

په ویکیپیډیا کې هم د مریم امرخیل د ژوکړې، زدکړو، هڅو او کارونو په باب مالومات شته چې زه یې په لنډه توګه د دې څېړنې د بشپړتیا له پاره را اخلم:

د زدکړو په باب یې ویکیپیډیا داسې را ته وایي:

«اغلي مريم خپلي ابتدايه زده کړې په پيښور زاخيلو نومي سيمه کې د افغان کډوالو په يوه لومړني ښونځي کې پيل کړې.

په ۱۳۸۲ کال يي له پيښور څخه خپل هېواد ته کډه وکړه او دلته د ميدان ښار د ده افغانان د نسوان د ليسي په پنځم ټولګي کې شامله شوه. تر نهم ټولګي پورې يي په نوموړې ليسه کې درس ووايه، خو کله چې يي ليسه وسوځول شوه، کابل ښار ته کډه شوه او پاتې زده کړې يې د زرغونې په عالي ليسه کې تر بکلوريا پورې بشپړې کړې.

په ۱۳۹۱ کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګه کې شامله او په ۱۳۹۴ کال له دغه پوهنتون څخه په غوره درجه فارغ التحصيله شوه.»

د مريم د دندو په باب بايد ووايم چې مريم په خپلو تازه مالوماتو کې ليکلي دي چې اوس بيکاره ده، خو ميديا وايي چې پخوا يې دا دندې تر سره کړې دي:«

ــ په ۱۳۹۲ کال د قومونو او قبايلو چارو وزارت د دفتر په رياست کې ماموره،

ــ په ۱۳۹۳ کال  د ګوګل ژباړن پروګرام په انکشافي پروګرام کې د ايډيټرۍ په توګه،

ــ په ۱۹۹۳ کې د سرخط نومي ورځپاڼې د ښځو د برخې متصدۍ او ليکواله،

ــ په ۱۳۹۳ کال کې د چنار په نوم د راډيو د ښځو د پروګرامونو پروډيوسره او د خبرونو ايډيټره،

ــ د يوه شخصي سوداګريز شرکت مؤسسه او رئيسه.»

په مدني فعاليتونو کې د عملي ګام اوچتولو څو بيلګې يې دا دي:«

ــ د وردګو ولايت هغو ماشومانو سره په تعليمي بهير کې مرسته کول، چې ښونځي يې په جګړو کې سوځل شوي وو،

ــ په ۱۳۹۱ کال ۲۵ هغو کورنيو ته د کار زمينه برابرول چې غوښتل يې خپل ماشومان ښونځي ته ولېږي،

ــ له ميدان وردګ ولايت څخه بې وزله ماشومان کابل ته د تعليم د حصول په موخه انتقالول،

ــ د ۱۳۹۵ کال له پيل څخه هغو ۲۵۰ ميرمنو ته د لاسي صنايعو په برخه کې د کار زمينه مساعدول چې په بدل کې يې خپل ماشومان ښونځي ته ولېږي،

ــ د کابل ښار يو شمير له رواني ستونزو سره مخامخ ځوانان د ارواپوهنې ځانګړو تربيوي کورسونو ته معرفي کول،

ــ د ښځينه قشر د ذهني کچې د لوړولو په موخه په لرې او نا امنه سيمو کې د راډيويي تعليمي فيچرونو او پروګرامونو جوړول او خپرول،

ــ د ميرمنو د ادبي او فرهنګي فعاليتونو د تقويت په موخه په کابل ښار کې د (ميرمن ادبي بهير) په پروګرامونو کې هميشنی ګډون،

ــ د ښځو د حقونو له پاره په مختلفو ټولنيزو برخو کې دوامدار او هر اړخيز فعاليت.»

زه به د مريم امر خيلې د قلم او ليکنو په باب وروسته خپل مالومات او تبصرې وړاندې کړم، سمدلاسه ګورو چې د دې د ليکنو په هکله ويکيپيديا څه او څومره ليکلي دي:«

ـ په بدو کې د ښځو ورکړه،

ـ د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالي،

ـ د ښځینه تعلیمي بهیر د تنویر او د ښځو پر اقتصادي پیاوړتیا او د ځوان نسل د بیدارۍ په باب په لسګونومقالي،

ـ راډیویي خپروني،

ـ د سیمنارونو له پاره څېړنیزې لیکني،

او د ورځپاڼو له پاره د راپورونو جوړول د اغلې امرخیل د لیکنو تر ټولو ستره منځپانګه جوړوي.»

## له «غمي» راډیو سره د مریم امرخیلې یوه ځانګړې مرکه:

غمی، د بي بي سي روغتیایي راډیویي مجله ده، له بي بي سي نه خپرېږي، خو د یونیسف له خوا تمویلېږي چې په اونۍ کې څلور ځلې خپرېږي. اصلي موخه یې د کوچنیانو او د کورنۍ د غړو د ښې روغتیا او د ژوندانه د نېکمرغۍ اړوندې مشورې او عملي مهارتونه دي. مریم امرخیلې له غمي اونیزې راډیو سره په یوه مرکه کې د خپلو کارونو، ستونزو، بریالیتوبونو، لاسته راوړنو او نویو هیلو په باب څرګندونې کړې دي او دا خبرې د «غمي» راډیویي خپروني په ۲۳ مه ګڼه کې د ۲۰۱۶ کال د دسمبر په دیارلسمه نېټه ایښودل شوې وې چې د فیسبوک په پاڼو کې زما پاملرنه ور واوښته، هلته له غمي راډیو سره د مریم امر خیلې یاده انټریو په غږیزه بڼه ایښودل شوې وه، ما واوریدله، را ته په زړه پورې وه، ځکه ورته ولګیدم او له غږیزې بڼې نه مې لیکنی بڼې ته واړوله، دا یې د انټریو یوه برخه ده:

«... زما ژوند داسې یو ژوند و، چې له ډیرو کړاوونو سره مخ شوې یم، باور مې نه کیده چې زه به خپلې زدکړې پای ته ورسوم...

زما په لویو لاسته راوړنو کې، یوه هغه زما د لیسانس تر کچې زما زدکړې دي او بله لاسته راوړنه مې د «زرتار» کمپنۍ جوړول دي، چې زه یې خپله تر ټولو لویه لاسته راوړنه ګڼم.

کله چې په پاکستان کې وو، زما یادېږي چې زه شپږ کلنه وم، پلار به مې له ډیر کار سره، سره ډیر لږ مزد تر لاسه کاوه، نو ما به د خرما له پاڼو نه واړه ګلان جوړول او په دې ډول به مې د کور په اقتصاد کې مرسته کوله، کله چې افغانستان ته راغلو، زموږ په سیمه کې یوه نجلۍ هم ښوونځي ته نه پرېښودل کیده، زه لومړنی جلۍ وم چې ښونځي ته لاړم، ښونځي ته زما له تګ نه وروسته ښونځي ته د نورو نجونو تګ هم پیل شو. ښونځي ته د تګ په څنګ کې مې هم په کور کې او هم له کور نه د باندې له مور پلار سره په کارونو کې مرسته کوله، له ښونځي او تعلیم سره زما مینه د دې سبب شوه چې د پلار په مرسته مې په تعلیم پسې پښه کابل ته ورسیده.

لاسي کارونه هغه څه وو چې زه یې پر خپلو پښو ودرولم، په دې ډول و توانیدم چې په کابل کې ځانته کور په کرایه ونیسم او د تعلیم له پاره خپلې خویندې او خپل ورونه کابل ته راولم. ما نه غوښتل چې هغوی له تعلیم نه پاتې شي او له هغه نه مې وروسته د تره اولادونه هم د تعلیم له پاره کابل ته راوستل.

ژوند کې مې تر ټولو ښه خاطره دا ده چې د سولې جایزې ته نوماند کړای شوم. یو سهار مې د خپل فیسبوک ور پرانست، که ګورم چې لیکلي:

«مریم امر خیله به د سولې جایزې ته کاندیده کړو.»

زما باور نه کیده، ما ویل چې دا به څوک وي؟ ښایي کومه بله مریم امرخیله به وي، نو مې خپلې یوې ټولګیوالې ته ولیکل چې دا څوک ده؟ هغې را ته ولیکل چې همدا ته یې کنه!

نو زه په دې ډېره خوشاله ځکه شوم چې ما ویل دې جایزې ته به زما کاندیدیدل د نورو نجونو له پاره یو سر مشق شي، ځکه هغوی په داسې چاپېریال کې ژوند کړی او ژوند کوي چې فکر کوي دوی هېڅکله چیرته نه شي رسیدلای او زه خپل کاندیدیدل د هغوی له پاره یو مورال ګڼم.

یوه لویه هیله مې دا ده چې زما «زر تار» کمپنۍ، چې ما د میرمنو له پاره جوړه کړې ده، دومره لویه او پراخه شي چې د ټولو ولایتونو اړ میرمنې په کې کار وکړي او دا میرمنې له اقتصادي پلوه پر ځان بسیا شي او همدا «زرتار» مې د نړۍ په سطحه د افغاني کلتور د معرفی او غوړیدا یو لوی مرکز شي.

او له دې نه وړاندې زما د زدکړو مسأله ده، غواړم په تعلیم کې نور هم پرمختګ وکړم او خپله ماسترۍ او دوکتورا ډیپلوم هم تر لاسه کړم.»

د مریم امر خیل د همدې مصاحبې نه لاندې په کامنټ کې زموږ د اوسني نسل د تعلیم د نهضت د پلوي سر لارې ثنا ساپۍ داسې ور ته لیکلي دي:

«مریم جانه زموږ ټولو ویاړ ده. یو څو نورې مریمې که ولرو، کار مو جوړ دی.»

## زرتار:

زما له نظره د مریم امر خیلې په ژوند کې د «زرتار» جوړول او بیا د دې اقتصادي شرکت کامیابه پرمخ بیول به د مریم په اوسني او راتلونکي ژوند کې اساسي رول ولري. د مریم د کار او ژوند په باب مالومات دا ښیي چې دې د خپل ژوند په دې تانده ځواني کې د «زرتار» په نامه یوه اقتصادي موسسه جوړه کړې ده. د «زر تار» جوړونه او لاربښوونه په اوسنۍ زمانه کې، بیا د افغانستان غوندې یوې دودیزې ټولنې کې، داسې یو نوښت دی چې مریم که له یوې خوا له اقتصادي پلوه پر ځان بسیا کېږي، نو له بلې خوا په لسګونو او لا سلګونو نورو نجونو او میرمنو ته د کار او ژوند زمینه برابرولای شي. کله چې مریم غواړي د نوي نسل په روزنه کې دایمي مبارزه وکړي، ژوند وکړي او لا له نورو هیوادوالو او نورو انسانانو سره مادي او معنوي مرسته وکړي، دا خو یو ښه او پیاوړي اقتصاد ته اړتیا لري، نو زه داسې نظر لرم چې:

که پر «زرتار» باندې ډېر تمرکز وکړي او هر کال یې ښې ته او د کار کولو سیستم ته د زمان له غوښتنو سره سم بدلون ورکړي، دخل او خرچ یې تل تر نظر لاندې ولري، ډېر به ښه وي، بیا نو اقتصادي موانع او ستونزې د دې د نورو زدکړو، مطالعې، د نوي نسل په روزلو کې د مبارزې او نورو انساني پلانونو مخه نه شي ډبولای.

د مریم امر خیلې د قلم او لیکنو په باب، ما لږ مخکې د ویکیپیډیا مالومات را اخیستی و، اوس به خپل مالومات او تبصرې وړاندې کړم:

د مریم امرخیل لیکنې:

د مریم لیکنې په لومړي سر کې کیدای شي په دوو برخو و ویشل سي:

ــ په فیسبوک کې یې لیکلي او نظریات،

ــ مقالې او نورې لیکنې یې.

## په فیسبوک کې د مریم امرخیل نظریات:

مریم امر خیل وروسته له ډیرو ستونزو او مثبتو تجربو نه اوس کولای شي قلم وچلوي او ښه یې وچلوي او خپل نظریات د لنډو فیسبوکي مطالبو له لارې او د ښو علمي مقالو له لارې ولیکي او خپاره یې کړي.

په لومړي ګام کې د دې د لیکني فعالت په باب کوم څه چي ویکیپیدیا لیکلي وو، ما مخکې را نقل کړل او کیدای شي له هغي لیکني وروسته هم مریم په بیلابیلو ځایونو کې خپلې لیکني او تخلیقات خپاره کړي وي او زه به یې دلته په ځینو لیکنو باندې لړ تم شم:

په فیسبوک کې یې د نظریاتو ډیرې برخه کار، زیار ، ښوني روزني او د نوي نسل روزلو ته ځانګړې شوې ده. دلته به یې څو بیلګې راواخلم. پر افغاني او پښتني ټولنه باندې یې د ناوړو حاکمو دودونو د ځنځیرونو د ماتولو د مبارزې یو غوره بیلګه دا کیدای شي:

«اخ وروره خوړ دې کړم!

په چپ غوږ مې څه سم نه اورم

ستا ځپیرې او بې خوده وارونه

*****

د همدې له پاره د ځپیرو لایقه ده کنه!!

ځکه،

ستا خور له تا سره اوږه په اوږه روانه شوه

ستا خور د رواج ټول ځنځیرونه وشلول

هغه ستا د تعلیم له پاره

نن هرې دروازې ته ودریده

هغه بې کسه خور

ستا د مظلومیت حق

غواړي،

ستا را ویښول غواړي،

خو ته اوس هم په دې خور شرمیږې

ای وروره! په ربښتیا وواېه

دا حق د اسلام او که د قام له پاره را نه غواړې!؟

که مې اسلام، که مې حجاب، که مې ایمان تر تا

سپیڅلی او قوي نه وو، بیا و وایه

زه د زړه له صدقه د خدمت په نوم راوځم

ته مې د اسلام نه، بلکې قام د ننګ په نوم

د تعلیم حق را نه غواړې.

ستا دې بې شعورۍ شعور کې...

نن زما د خویندو عزت لوټ شو،

نن یې ښځې را نه غرونو ته پنا کړې،

نن یې ماشوم بچی را حلال کړل،

په واټونو کې سوالګرې مې

سرتورې شوې؛

خو ته اوس هم عبرت نه اخلې

ته په کوم خوب ویده یې

ته په کوم هوس کې مست یې

چې اوس هم په بې احساسه لاسو

زما په مخ څپېړو دې،

زما غږ ګونګی کړ

خو نور نه!

دا کیسه به یا زما په مرګ

او یا ستا په تعلیم او پوهولو ختمه شي.»

(مریم امرخېل)

مریم د خپل فیسبوک په پوستونو کې تل داسې څه لیکي او خپروي، چې د ماشومانو، کوچنیانو او د نوي نسل په روزلو کې خامخا رول لري. له هرې زاویې نه چې ورته وګورې، د دې ټینګار پر دې دی چې باید په هر ډول شرایطو کې د نوي نسل روزلو ته پاملرنه وشي، دا که د خپل ماشومتوب کیسه هم کوي، هغه په یو ډول له یادې موضوع سره غوټه کوي. دا یې څو ډېرې ښې بیلګې دي:

«زموږ ښوونځي کې یې د یاسین او د مینې په نوم د ماشومانو د کیسو کتابونه را کول چې دغو کتابونو لمرۍ، دوهمه او نورې برخې درلودلې. د هغو کتابونو بیا، بیا لوستلو سره هیڅ نه ستړې کېدو، ځکه د یاسین شاقه کارونه او بیا د کاکا مرستې چې هغو ظلمونو یې خلاصوي د موټر تیز چلول...

د مینې د ښوونځي د تګ مخنیوی او بیا د هغې ورتیا چې څنګه یې له خپلې کورنۍ سره مرسته کوله، خو د دې کیسو زیاته اغیزه هغه انځورونه کې وه چې موږ به زیات وخت یو بل ته تشریح کول چې غله څه ډول چرګان غلا کړل او مینه کوم کارونه کوي چې خلک دې ته مجبوروي ترڅو لوڼې مکتب کې داخلې کړي.

که موږ نور څه نشو کولی لږ تر لږه خپلو ماشومانو ته د کیسو کتابونه چې انځورونه لري، واخلو قیمت یې هم لوړ نه دی».

(مریم امرخېل)

## موږ هیڅ نه غوښتل بس تعلیم!

«زما د ښوونځي ماته تخته او سترنجیې، شلیدلي خیمي ته یې اور ورته کړ؛ خو موږ به بیا هم له کورونو ځان سره بوجې وړلې او د هغې له پاسه به کیناستو، زموږ چت آسمان و چې د لمر سوزنده شغلو به ځمکه لاندې لکه اور راته سره کړه، خو بیا هم مکتب ته تګ مو نه پرېښوده.

د علم دښمنانو موږ ته د مرګ ګواښونه وکړل، نجونو ته یې خط کې ولیکل ستاسو عزت به درنه واخلو، تاسې به بدنامې کړو، موږ هغه وسیزل، چې د چا پلار یې ونه کوري او ښوونځی را نه پاتې نه شي، دا خطونه د غیرت ټوټو پلرونو ته ورکړل نو بیا هیڅ نجلی د مکتب مخ ونه لیده. زما تعلیم ارمان پوره کېدل هم معجزه ده.»

«کلي ته ښایسته کابلی نجوني راغلي وې، ما غوا پټي کې ترلې وه، نورو نجونو به په پولو پوولې، خو ما به د دې له پاره چې د مکتب کتابونه سم ولولم، نو واښه به مې یوه کوټه ورته راوشکول او بیا به مې غوا هغه خوړل ما به خپل لیکل او لوستل کول چې هغه نجوني ما ته راغلي، عمرونه یې زما نه لوی وو، تر خوا مې کیناستې ما هم ښه راغلاست ورته وکړ. زما خط یې وکوت وایي دا خط تا کړی، حیران یې ورته کتل بیا یې را نه وپوښتل: څه غواړې چې مکتب دې ختم شي؟ نو ما ورته وویل: زه غواړم پاچا شمه. دوی ما ته ډېر وخندل، ما ورته ویل ولې خاندئ، ښځه نه شي کولی پاچا شي.

خو دوی را ته وویل: څه غوا دې وپیایه، دغه خوبونه دې هم کله چې ویالې نه اوبه راوړې، هلته و وایه.

خو د کانکور آزموینه مو په یوه ورځ شوه، کله چې پایلې اعلان شوې دواړه بې نتیجه وې. په هغې ورځ زه وپوهېدم چې د انسان ورتیا هیڅوک نه شي ورنه اخیستی او کوم خوبونه چې ویني که د هغه له پاره ریښتوني مبارزه د زړه له صدقه انسان وکړي، نو که ته شپنه وې که ملنګه، خو خدای پاک به تا له هغو خلکو هم څو چنده لویو هیلو ته ورسوي چې ان تا خپله یې په خوب کې فکر نه وي کړی.»

(مریم امرخېل)

او په پای کې د فیسبوک د ۲۰۱۶ کال یو وروستی پوست چې دا ډېره ور ته خوشاله ده چې په پکتیا کې له دولسم ټولګي نه د نجونو فراغت و. د داسې خوشالۍ څرګندول او په ټول کال کې یې د ښه خبر او زېری ګڼل، دا څرګندوي چې مریم له زدکړو سره، د نجونو له زدکړو سره او په پای کې د نوي نسل له روزلو سره څومره مینه لري. دا د پوست متن دی: د ۲۰۱۶ کال د دسمبر ۲۹ مه:

«زما لپاره د 2016 زیږدیز کال تر ټولو ښه خبر همدا وه. په پکتیکا ولایت کې لومړی ځل دی چې د دولسم ټولګي څخه نجوني فارغیږي.

زموږ دهېواد ځواني اوس پیلیږي ځکه چې زما هره پیغله اوس د پوهې په ګانه سمبالیږي او په خپل لوړ فکر ملي احساس به د یوې کورنۍ، ټولنې، هېواد پالنه وکړي.»

### د مریم امرخیل مقالې او نورې لیکنې:

د مریم امرخیل د مقالو او علمي لیکنو په برخه کې بابد و وایم چې ښایي مریم نورې علمي مقالې هم لیکلې او خپرې کړې وي، خو زما له نظره یې دوې وروستۍ مقالې چې په دوو معتبرو ویبپاڼو (بي بي سي پښتو او تاند) کې خپرې شوي دي، ډیرې درنې او علمي بڼه لري.

په دواړو مقالو کې مریم د ښځو په کار، زیار او روزنه باندې خبرې کړې دي. لومړنۍ مقاله په بی بی سي پښتو کې د « پټه صنعتګره!» تر سرلیک لاندې د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر په لومړۍ نیټه خپره شوې ده. په دې مقاله کې مریم د ښځو په کار زیار او زدکړو باندې داسي بحث کړی دی:

«تېر کې زموږ د صنعت برخه کې ډېره پام وړ برخه د هغو ده، چې نوم یې هم پټ پاتې دی.

تاریخ راښیي، چې هغه صنعت چې له کبله یې زموږ د هېواد نوم پېژندل کېده او تولیدات به یې د ورېښمو لارې په وسیله نړۍ ته لېږدول کېدل پام وړ برخه په کې د ښځو وه.

په دې برخه کې د ښځو نوښتونه او کار او زیار هم د تاریخ پاڼو کې ثبت دي.

هغه مهال چې پر افغانستان د عربانو واکمني وه د ابن حوقل د وینا له مخې د خراسان تر ټولو نومیالي صادرات د (د ابیوردونسا) یعنی د اوسنی میمني د ښځو نخي او ورېښمين صنايع وو.

د ګیډرو له پوستکیو څخه پوستینونه هم هلته جوړیدل او زغرې یې هم ډېرې مشهورې وې. په هرات کې تولید شوي ورېښمن ښځینه ټوکرانو هم ډېر شهرت درلود.

هغه مهال چې د جنګ جګړو زمانه وه، د جنګیالیو لپاره خواړه، اوبه او د اړتیا نورو توکو چمتو کولو تر څنګ د دغو جنګیالیو لپاره ځانګړي کالي چې د پسونو له وړیو او د نورو حیواناتو له پوستکو جوړېدل، د دوی د لاس کار و.

دغو ښځوبه وړی وینځلې، له وچولو وروسته به یې څرخی کولې او بیا به یې بیلولې.

... اوس چې ښځې غواړي په اقتصادي ډګر کې ځان ثابت کړي، نو له نورو ګڼو خنډونو سره له مالي بیوزلی سره هم مخامخ دي.

دوی چې د بهر وتلو زړورتیا له لاسه ورکړې، تر کورني او نړیوال بازاره د هغو لاسي صنايعو رسولو کې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي، چې په کور دننه یې چمتو کوي.

داسي شریکان نه مومي، چې سوداګریزې چارې ورسره په ګډه پرمخ بوځي.

دغه راز د تګ راتګ ستونزې هغه څه دي، چې د مېرمنو د لاسي صنعت پرمختګ پر وړاندې یې خنډونه او ځنډونه رامنځته کړي دي.

که د دغو ستونزو د حل لپاره جدي هڅه او هاند و نه شي، ښايي د صنعت میدان بیا هم د اوس په څېر له افغان مېرمنو تش پاتې شي.»

د مریم امر خیلي بله مقاله «مبارزه» نومېږي چې په تاند کې خپره شوې ده.  دا مقاله یې د زدکړو، کار او زیار په باب ډیره د پاملرنې او ارزښت وړه ده. د ټولنې د نادودو او د دې د مور پلار او د دې د مبارزو په پایله کې چې دا د تعلیم حق تر لاسه کوي د هغې پایله د همدغې مقالې اصلي موضوع جوړوي. د دې مقالې په یوه برخه کې یې داسي راغلي دي:

**«زه د هغو پیغلو دردیدلي چیغه یم، چي په ستوني کي خپ، خپ ژاړي او چیغي یې هیڅوک نه اوري. غواړم د هغوی پټه، پټه ژړا په داسي یاغي چیغي بدله کړم، چي له شرقه تر غربه یې ناره د ټولي نړی تر غوږونو پوري و رسېږي.»**

دا یې له تعلیم سره د میني وروستی پیام دی:

«یو ځل بیا ښوونځي د فکر او رڼا کور د هوسایني د پرمختګ د ښکلا کور ته اور ورته شو دا ښوونځی وسوځېده، خو خدای دي نکړي چي زما د ښوونځي د نجونو په شان دغه نجوني په کور کیني او د دوی هیلي هم ورسره وسوځېږي، دا له ولس او خلکو سره ښکاره دښمني ده چي درته وایي:

ستا لور، خور، مور او هیڅ میرمن پوه لیدلی نشي ځکه دوی پوهیږي د ټولني ربښه اساس او بنسټ میرمني دي دوی پوهیږي چي د دغو پوه او ځیرکو اعتمادي او باورمنو میندو به باوري، ځیرک او هوښیار زامن وي چي دوی به بیا نشي کولی خپلي ناوړې موخي او اهداف دلته پوره کړي د خپلو ګټو په خاطر یې وکاروي.

زما ولس دي خپله لور او زوی دواړو د تعلیم لپاره تر هر څه زیاته هڅه وکړي دا او نور سوځیدلي بند ښوونځي دي بیرته ورته فعال کړي»

د کار زیار او زدکړو او په تیره د نوي نسل د روزلو په برخه کي باید د نوي نسل د روزلو د نهضت د پیاوړتیا له پاره د هر چا هڅي وستایل شي او د امکان تر بریده مرسته ور سره وشي په تیره د مریم امرخیل او مریم ته ور ته استعدادونو ته د ودي له پاره او په علمي ډول د نوي نسل د روزلو په موخه، د تعلیم د نهضت د یو پلوي او یو فعال غړي استاد تنها نظریات را اخلم، چي څنګه دی د دې نهضت د پیاوړتیا له پاره کار او هڅي کوي او څنګه د هغو خلکو پر ضد مبارزه کوي چي په پټه او ښکاره د استعدادونو مخه نیسي او د نوي د نسل د علمي روزلو له پاره خندونه جوړوي.

د افغانستان د تعلیمي نهضت یو لوی پلوی استاد محمد تنها د ۲۰۱۶ کال د دسمبر په ۱۳مه، په خپله فیسبوک پاڼه کي داسي لیکلي وو:

«د کمپیوټر په ډیسکټاپ مي د یوه داسي ښوونځي انځور پروت دی چي زدکړیالان په سپېره بېدیا د یوې تختې مخي ته ناست او زدکړې کوي. نن مي یوې آلمانی همکارې ته په کمپیوټر کي د مطلب پروګرام یو کوډ ورښوول چي د ډیسکټاپ انځور ته یې پام شو. ول لېونیه! ټول خلک په ډیسکټاپ د نړی ښایسته ځایونو انځورونه لګوي تر څو د دمي په وخت کي ورته په کتلو انرژي واخلي او تا څه د بېدیا او دربدری انځور لګولی 😕

مال بس ماته همدا انځور انرژی راکوي، ول ولې؟ مال لمړی خو چي زدکړو ته په وچ ډاګ ناستو دغو ماشومانو همت ته وګورم، نو چي هر څومره تنبلی په مخه کړی یم، بېرته را بیدار سم، دوهم دا چي نغواړم دا مي هېر شي چي دا حالت بدلول غواړي او بدلول یې زما او نورو ځوانانو په اوږه دي نو باید سمه خواري وباسو...

او درییم دا چي د دې انځور په هر ځل لېدو مي د خیالي ښوونځیو په نامه اخیستل شویو او خوړول شویو پیسو څلورواکو ته د زړه له تله ښېرا له خولې را وزي، له وزیره تر پیاده چي هرچا د افغانستان معارف پیسي خوړلي او خیانت یې کړي وي رب دې اولاد د پولی ټک ته کېنوي چي د بل اولاد له درده خبر شي. تاسي وایاست آمین...!!!

زما میني زما ځانه، ښایسته افغانستانه 🇦🇫💔AF»

د استاد تنها دي ارزښتمن مطلب ته په پام سره باید و وایم چې مریم له همداسي یوه ځای نه، له همداسي یوه ښونځي نه او له همداسي یوې سیمي او ولایت نه را وتلی استعداد دی او نن یې په خپلو زحمتونو او خواریو داسي ځای ځایګی خپل کړی دی چې د نورو له پاره یوه بیلګه ده.

د نوي نسل د روزلو له پاره استاد تنها کله، کله له دي هم په تندو کلماتو او بربنډه توګه د علم پر لوري د نوي نسل د حرکت له پاره خپل افکار بیان کړي دي، دا یې یوه بیلګه ده:

«د سوریې او افغانستان مهاجر په غیر قانوني ډول اروپا ته راشي، اروپایان یې ډوډی، کالي او د ګلونو ګېډۍ په لاس، هرکلی ته لارو ته را ووځي، بلې خوا ته یو بې وزلې افغان د اسلام غوړېدا مرکز سعودي او نورو عربي هیوادونو ته په رسمي کاري ویزه ولاړ سي، خو عرب یې له سره د سړي زوی نه بولي، د یوې روپۍ انساني ارزښت نه ورکوي آن د س.پ.ي او .خ.ر.ه خطاب ورته کوي خو له کابله زما یارانو د اسلامي وروګلوي ډول غاړې ته اچولی او د اسلامي امُت په کې قصیدې وایي .

کوربان مو سم! د اسلامي امُت او اسلامي وروړګلوي په نامه ولاکه له سره څه موجود وي، که دې په ځان خوا بدبېږي نو له هر ممکن فرصت څخه په استفادې سره ځان په پیاوړي اقتصاد، ساینس او ټکنالوژي سمبال کړه، تر کله به د اسلامي وروړګلوي په نامه په خپل هیواد کې د عربو نیابتي جګړه کوو؟ په لیاز د خدای خپل افکار خو مو هسې وراسته دي، خو د نوي نسل افکار مه ورستوئ!!!»

او بیا په بل ځای کې هم په تندو الفاظو د هغو خلکو خواب وایي چې غواړي د لوړو زدکړو مخه ډب کړي:

«نوې ځېړنې ښیي چې که څوک مازي لیږ خاشه کوښښ وکړئ، نو کولای شي ښه شین خر له ځانه جوړ کړي. نن مې د دغو څېړنو یو ژوندی مثال ولید، ځوان راته ویل چې ستا دا زدکړې هیڅ ګټه نلري ځکه ته په کفري ملک کې زدکړې کوې.»

څه موده مخکې مې د تعلیم د نهضت د یوې بلې سر لارې (ثنا ساپۍ) د فعالیتونو د ځلولو له پاره د «د تعلیم ډیوه» تر سر لیک لاندې مقاله کې لیکلي وه، د هغې مقالې په یوه برخه کې مې داسې لیکلي وو:

«ثنا ساپۍ ډیره ځوانه ده خو، ښځګه چې له یوې خوا یې د تعلیم د عامیدو له پاره فعالیتونو او عملي هلو ځلو ته ګورم او له بل پلوه خلک هم غوښتي او نا غوښتي وایي چې د تعلیم له پاره مبلغین د ثنا ساپۍ زامن دي (ته اوس دې د ثنا ساپۍ بچې ته ګوره) نو زه یې اړینه ګڼم چې سر له همدې اوسه وویل شي:

ثنا ساپۍ د تعلیم مور ده!

ثنا ساپۍ د تعلیم د لارې قهرمانه ده!

لیدل شوي دي چې سیاسیون او د ټوپک او وژنو د لارې لارویان خپلو مشرانو ته د ټوپکوالی او وژنو په خاطر قهرماني ورکوي، زه خو هم حق لرم چې د یو ښونکي او قلموال په توګه، یو قلموال ته، د انسانیت او انسان روزنې په لاره کې د کړو خدمتونو په پار قهرمان و وایم، نو سر له همدا اوسه زه وایم چې:

ثنا ساپۍ د تعلیم د لارې قهرمانه او د اوسني تعلیم مور ده.»

د تعلیم د تر لاسه کولو، د مثبت ژوند پر لوري نه یوازې خپله حرکت، بلکې نور ځوانان هم ور ته تشویقول او عملاً یې د تعلیم کار او ژوند دایرې ته شاملول او په زیاتو خواریو سره د ژوند

پرمخ بیولو تر څنګ د لوړو زدکړو لړۍ هم تعقیبول او... ته چې ګورم، زما له پاره مریم امر خیله هم زما د زماني او د خپل نسل او زما د وطن د ټولو ځوانانو او نوي نسل له پاره یوه نمونه قهرمانه ده.

تاسو په پاسنیو کرښو کې ولوستل چې په راتلونکو کې مریم امرخیله څه هیلې او پلانونه لري، د دې له هیلو سره څنګ کې، زما هیله دا ده چې مریم خپلو دغو سترو انساني هیلو ته ورسېږي او د نوي ژوندانه، نوې تکنالوژۍ په دایره کې د خپلو هیلو د تر سره کېدو لړۍ تعقیب کړي او د نوي ژوند له نویو غوښتنو سره هم ځان او هم خپل نور هملاري عیار او برابر کړي.

د مریم امرخیل همدې لړو لیکنو ته هم که ځوک ځیر شي، دا به په کې و مومي چې مریم له خپل عمر او تجربې نه وړاندې قدم ږدي او داسې نظریات وړاندې کوي چې د لویو سیاسي مشرانو لا ور ته پام نه وي.

دا لاندې یوه جمله یې یوه وړه بیلګه ده چې لنډ په لنډه، د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ په څلورمه نېټه یې په خپله پاڼه کې له لاندې عکس سره پوست کړه:

**«یو خروار نظر نه یو مثقال عمل ښه دی.»**



**له قلم سره د مریم امرخیلې مرکه:**

دا د مریم خپل لیکلې توري دي:

«دېرې ملګرې مسنجر کې رانه پوښتي چې تا څه کړي؟ نو هغوی قدرمن کولی شي زما په اړه د قلم له خوا په شوو پوښتنو کې خپل کړې ځوابونه ومومي.



ما قُدري ویله زموږ د ماجت ملا په جار ویل مریم ته هیڅ څوان نه رسېږي – مرکه

مریم امرخېل هغه پېغله چې تر پوهنتون ووته، خو لا هم پښتنه پاتې ده، ان خپل لباس یې هم ساتلی دی، قلم ورسره د ژوند او ښځینه فعالیتونه په اړه مرکه کړې، دلته یې لوستلی شئ!

قلم: مریم جانې ستړې مه شې، خدای دې مه خواروه چې زموږ بلنه دې ومنله، د ښوونځي د پیل کیسه راته وکړه؟

ځواب: کور ودان! زه تل د خپل هېواد او خلکو په خدمت کې یمه بیا په ځانګړې توګه د کتاب، قلم او تعلیم برخه کې خو هیڅکله خپل وخت نه سپموم.

ښوونځی مې د پاکستان یوه کمپ زاخیلو کې پیل کړ هغه وخت زما عمر شپږ کاله وه وړاندې له دې مې پلار نه غوښتل زه دې مکتب ته لاړه سم لکه د هر پښتون زما پلار ته د نجلی تګ ننګ او بې غیرتي ښکاریدله خو پردی ملک او زما ووړ عمر کې پلار ته لاس ورکول د دې لامل سول چې پلار خپل ټول دود او د خلکو خبرې یوې خوا او زما تعلیم یا زما ژوند اهمیت ورته مهم شي.

په ښوونځي کې مې د خرما د پانو نه په خپل لاس جوړ ګلان پلورل او د ګاونډیانو سره به مې غالی اوبدلي له دښتو وابښه راوړل او نور کارونو زه هغو خلکو ته یوه معجزه غونډې نجلی ورپیژندلي وم،

اوس مې هم یادیږي ما قرانکریم تر ټولو ژر ختم کړ مور مې وایي ستا کارونه هغه وخت د یوه څلویښت کلن سړي وه.

خو یو کال وروسته هر څه بدل شول موږ افغانستان ته راغلو او خپل غم راسره وه بس.

کډه مو لارۍ کې بار کړې وه موږ یې په سر کې ناست وو ما خپل کتابونه په غېږ کې ایښي وه چیرته به چې تلاشي کیدله نو ما به خپل کتابونه او ستاینلیک ورښودل چې افغانستان کې مکتب شته هغوی به وخندل او د لاسایني تر څنګ به یې شاباسی راته ووایه،

همدا چې کلي ته ورسیدو میاشت لا تیره نه وه چې ما د کلا نور ماشوماني زما ترلې ځان سره کړې او مکتب لټول مو پیل کړل وروسته موږ دري کلي اخوا یو د نسوان مکتب وموند، لاړم مدیر صیب سره کیناستم خبرې مې ورسره وکړې هغه زه باید دویم کې شامله کړې وم مګر زه یې په څلورم کې کینولم کور ته چې لاړم پلار راته غوسه وکړه اول یې نه پریښودلم بیا یې وویل زه تر شپږم لاړه سه نور نه، ما وویل سمه ده خو ویل یې دویم کې به کینې زموږ مدیر مې پلار ته وویل تر پنځم ټولګي زموږ زده کوونکي یوازې الف با وایي او دا خو روان کتابونه ویلی شي انګلش یې هم روان لوستل زده دي نو باید چې ددې استعداد ونه سوزول شي نو پلار وویل ښه ده.

هغه کال ما د کلا نه پیل بیا تر کلي یوه نجلۍ هم پرینښودله ټولې مې ملګرې کړلې او بیا به مې د هغوی پلرونو سره خبرې کولې چې کاکا جانه خیر ده دوی پریږده اول کې زیاتو ستونزو سره مخ سوم خو پلار راسره ودریده او بل مهمه خبره دا وه چې ما قرانکریم ختم کړی وه زه ماجت کې د کلا له ټولو هغو چې زلمي وه مخکې وم ما قدري ویله زموږ د ماجت ملا په جار ویل مریم ته هیڅ څوان نه رسیږي هغه ویل دا خلک زیات ظالم دي څنګه د یوې اوه کلنې ماشومې په اړه بد او ناوړه پریکړې کوي زموږ ور باندې به خلکو زما نوم سره فحش کلمات لیکل چې پلار به مې خفه کیده خو وروسته زموږ کلي کې یوه نجلۍ هم بې مکتبه پاتې نشوه تر لرې لرې کلو زما د بابا کلی چې بیخي زیات لرې دی د هغوی ماجت کې د منو تجارانو او یو ځل د اسلام تبلیغانو زما صفتونه کړي وه چې لایقه او پوه نجلۍ ده ښایسته تلاوت کوي نو هماغه وه چې نورو کلو کې هم خلکو لوڼې ښوونځیو ته واستولې دغه وخت چې زما پلار تر نهم ښوونځی لوستی وه ما له خپل پلار وغوښتل هغه وړې نجونې چې زموږ تر مکتب نشوې تللی هغوی ته یو ښوونځی په کلي کې جوړ کړي نو هماغه وه چې موږ ملي کې وړو نجونو او هلکانو ګډ ښوونځی جوړ کړ چې تر ۴۰۰ پورې یې تعداد رسیده.

قلم: ته د کلي نجلۍ یې، خو کلیو کې لا هم څوک دې ته زړه نه ښه کوي چې خپلې نجونې تعلیمي بنسټونو ته پرېږدي، ته دوی ته څنګه قناعت ورکولی شې؟

ځواب: داسې پوښتنې ته ځواب ویل سخت او هم اسانه دي زه ددې خبرې مخالف یمه چې خلک وایي پښتانه یا افغانان خپلې لوڼې ښوونځیو ته نه پرېږدي تاسې ته به ښه معلومه وي د ولسمشر حامد کرزي په لومړۍ دوره کې د ټول افغانستان ښوونځي فعال وو باور وکړئ هغه وخت زموږ ښوونځي ته د ولسوالی چې لرې ده نجونې چادریو کې راتللې مګر یو دم ۱۳۸۶ کال کې هر څه بدل شول دا د پردیو لاس دی چې ډول هر ډول ډنګوي افغانان هماغه شان ورته ګډیږي.

بله مسله زموږ کلتور، پخواني دودونه او نور دي چې موږ د یوه اصل په ښه منلي ماتول یې راته مطلق کفر ښکاري، ما خپلو کلیوالو ته وویل چې الله ج لومړني نازل کړي ایتونه په اقرا – ولوله- پیل شوي او دا یوازې انسان ته راجع دي، بل خدای ج تعلیم په هر نارینه او ښځینه فرض کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي تاسې علم وکړئ که په چین کې هم وي.

زه خپلو خلکو ته وایمه تاسې دا هر څه ددې لپاره کوئ چې رب ته ګنهګار نشئ نو بیا ولې د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه فرمان او امر پر ځمکه غورځوئ چې په چین ته تللو امر کوي، ټولنه د ښو او بدو خلکو یا انسانانو مجموعه ده نو ولې باید د یوه یا دوه بدو لپاره ټول بد وګڼل شي؟

سره له دې چې نجونې پیغلې ښځې بیرون پټیو کې کار کوي تر غرونو خیرې بوټې راوړي وابنه او مالونه پیایي نو دغلته ولې اسلام نه یادونه نه کیږي چې د مکتب تګ دوی ته غیرت او اسلام پیغور وریادوي.

قلم: زموږ له خلکو سره یوه اندېښنه داده، چې کله نجلۍ لوستي شي نو هغه زموږ د کلتور او دودونو پر ضد دربېږي، مثالونه يې ښايي فيسبوک کې ډېر وي، ته دې اندېښنې ته ځواب ويلی شې؟

ځواب: د فیسبوک په اړه نه! بلکې زه د يوې کليوالې باسواده نجلۍ په حيث دې خبرې سره مطلق مخالفه يمه دا ځکه چې په یوه سنتي، پخوانيو دودونو ته مات او بل نر واکي ټولنه يو، نو داسې ذهنيت او ويره د هر سړي سره شته چې ښځې تر دوی هوښياري شي بيا به له دوی واک واخلي زه غواړم درته يې واضح کړلی سمه د کور بې سواده ښځه کله چې ماشوم د ورځې هر کار کوي دا ورته وايي صبر مازديګر دې پلار راشي تاسره به ګوري دا د يوه ماشوم د کرارولو صلاحيت نه لري زموږ کلي کې درې غټې ويالې او واړه لښتي خو بې شماره دي لوی سيند هم لرو په داسې يوه کلي کې يوه مور وګوری نه يې ماشوم نه يې د ميړه کور او نه يې ځان نه يې خاوند پاک ساتلی نو دغه ښځه د کور نشوه ګور ته بايد دا له نيک عمل سره لاړه شي. د دې ګور خو هم وران شو د دې ښځې ميړه له پټي راځي هر امر يې چې وکړ ښځه يې پر ځای کوي د داسې ښځې ستره غوښتنه د خاوند څخه دا وي چې يوه ورځ يې د پلانکی کره پرېږدي، خو بر عکس هغه ښځه يا مور چې تعليم يې کړی وي د هغې کور، کالی، سليقه هر څه بيا فرق لري غوښتنې يې دا وي چې دا هم کار وکړي د ماشومانو پرمختګ د کورنۍ پورته کول لاس ورکول په هر څه کې نظر ورکول د هر څه خوښول نه خوښول دا سړي ته ننګ او عار ښکاري چې يوه ښځه ولې دومره هوښياره ده چې سړي ته عقل ورښيي او که هغه بيسواد ميرمن يوه خبره هم وکړي خاوند يې ورته وايي ځه د ليونې لورې ته سړي ته عقل ورښيې کمعقلې!

قلم: ته د يوې لوستې پېغلې په حيث، د ښځو لپاره د ښځو له لوري په رسنيو، حکومت او مدني بنسټونو کې اوسنۍ مبارزه څنګه ارزوې؟

ځواب: زه داسې فعالانې نه پيژنم چې هغوی دې واقيعت هم د نجونو يا د ښځو په وړاندې د ظلم لپاره غږ اوچت کړی وي ډېرې به وي خو زما تر کليوالو نجونو او ميرمنو نه دي رسيدلي زما هغه مظلومه ښځه چې کلونه کلونه د بندو دروازو شاته فرياد انګولا کوي وهل ډبول ټپروي د تناره د دوخړو د نغري تر غاړې د دود په بهانه ترخې اوښکې څڅوي د هغوی اه او غږ يې نه دی اوريدلی.

مثلاً د فرخندې يا هغو ظلمونو په وړاندې چې ګونګيان هم په خبرو راځي نو دوی خو د ښځو د حقوق ګټيالی ځان ګڼي او په ميليونونو پيسې له بهرنيانو اخلي بايد دومره خو وکړي چې د خپلو هغو پيسو لپاره يوه پلمه ولري.

قلم: په ژوند کې ايډيال لرې، چې زړه دې وي ځان هغسې کړې، که هو نو څوک دی او ولې مو ټاکلی که نه نو ته بايد څنګه څوک شې؟

ځواب: داسې څوک چې ووايم دغه مې ايډيال دی نشته ،خو هر څوک چې انسانيت او بشريت ته کار کوي زما خوښيږي زه غواړم تل مريم امرخيل واوسم تل مې همدغسې د پاک او سپيڅلي احساس نه معصومو مظلومو خلکو ته لاس ورکړم تل داسې يوه مريم واوسمه چې يمه.

قلم: فيسبوک کې لنډې تبصرې کوې، خو مقالې مو دې نه دي ليدلي، کتابونه خو ډېر لولې ليکنې کوې کنه؟

ځواب: کله نا کله بي بي سي يا نوروسايټونو، ورځپانو کې خپلې ليکلې مقالې خپروم زه عادت لرم د خپلې خوښې کار کوم که مرم هم چې ووايم دا پټی دې شين شي نو بيا تر هغو چې شين نشي نه يې پرېږدم. له عملي کار کولو خوند اخلم کله چې بايد ليکل وکړم هغه هم د مطالعې نه

جار کړم، هو ربښتیا لنډې کیسي مي زياتي ليکلي خو تر اوسه مي چاته نه دي ښودلي او نه مي خپرې کړي.

قلم: ځيني ښځينه فعالاني له هېواده د باندې د افغان ښځو په اړه داسي څرګندوني کوي چي په لوی لاس د خلکو حساسيتونه را پاروي او مېرمنو ته لا قيودات زېږوي ته يې په اړه څه وايې؟

ځواب: هغه ښځې چي له هېواده بهر فعاليت کړي هغوی نړۍ وليدله يا يې ليدلي تاسي ته معلومه ده څومره چي يو څوک زيات وخت ټولنه کې وي همغومره زيات خلک او ټولنه ښه پيژني نو دوی چي نړۍ وليدله زموږ د ميرمنو يا په ټوله کې د افغانانو ژوند ورته دننګ او عار پيغورونو ډک ژوند ښکاري ښايي ډېري يې له ښه احساس غواړي د افغانانو ذهنيت ته وده ورکړي تر څو د حساسيتونو تير شي خو دوی چي د بدلون يا د مبارزې کومه لاره غوره کړې دا زما نه ده خوښه کله چي غواړي افغاني ښځې د مظلوميت او بندو دروازو څخه ازادې کړې په زور او سختو الفاظو خلکو ته خطاب کول يا خپل ټول خلک بد ګڼل دا مبارزه نه ده بلکې مبارزه طريقه لري دوی داسې تيزو او تندو خبرو باندې زموږ د ټولني هغه نارينه چي د ښځې فعاليت کول ورته پيغور او ننګ ښکاري د تندو او بدو خبرو په کولو نور هم د هغوی عقده د ښځو د تعليم او فعاليت په اړوند راپاروي چي زه دداسې مبارزې طرفداره نه يمه.

قلم: کور ودان.

ځواب: مننه

۱۳۹۶-۲-۲۷

مريم امرخيله اوس هم د نجونو د تعليم او د ميرمنو له پاره د کار د پيدا کولو په برخه کې ښه فعاله ده. څه موده پخوا يې د خپلو همدې هڅو په لړ کې د کابل له والي سره وکتل او هغه هم ورسره د مرستي وعده وکړه. دا لنډکی ريوټ دی:

«د تعليم، سولي او د ښځو د اقتصادي بسياينې پروګرامونو اړوندو مسايلو مې نن د کابل ولايت له والي ښاغلي محمد يعقوب "حيدري" صاحب سره وليدل، ښاغلي حيدري صاحب زما د کارونو د تقدير اوهڅوني تر څنګ د هر راز مرستو ژمنه وکړه په ځانګړې توګه د نجونو د تعليم برخه کې چي اوس هم د کابل د ولسواليو نجونه له زده کړو بې برخي دي خپله ليوالتيا څرګنده کړه چي دې برخه کې به پوره مرسته د کابل ولايت کې وکړي اوهيله يې وښوده چي زموږکارونه د هېواد د ابادۍ لپاره ګټور تمام شي.

مريم امرخيل

محمد يعقوب"حيدری" والی کابل با شماری از فعالين جامعه مدنی و خبرنگاران زن در دفتر کار شان ديدار و ملاقات نمود:

19 جوزا 1397

در اين ديدار منيره يوسفزاده معاون امور اجتماعی ولايت کابل نيز حضور داشت.

نماينده گان فعالين جامعه مدنی ضمن تبريکی به منيره يوسفزاده معاون امور اجتماعی برای شان آرزو موفقيت نمود، ازتلاش های والی کابل برای ايجاد پست معاونيت امور اجتماعی و تقرر يک خانم در آن پست اظهار سپاس و قدردانی کردند.

همچنان در یک دیدار جداگانه محمد یعقوب حیدری والی کابل با مریم امرخیل که برای تعلیم دختران و شغل یابی زنان فعالیت می نماید ملاقات نمود، از فعالیت های ایشان در این راستا اظهار سپاس و قدردانی نموده به ایشان وعده هر نوع همکاری را سپرد.

#کابل

#اداره_مستقل_ارگانهای_محلي

#دسیمه_ئیزو_ارگانونو_خپلواکه_اداره

«#IDLG

و ګورئ د مریم امرخیلي له نظره د تعلیم ارزښت:

«بدلون:

هغه کوټه چې زه په کې لویه شوم، هماغه کوټه چې د لس کلن ماشوم سر به یې هم په دروازه لږېده، هماغه کوټه چې یوې وړې دریڅې به یو ولیشت رڼا ترې رادننه کېدله، هماغه کوټه، چې نیمه سترنجۍ او نیم ګیلم په کې هوار وه خو تاخچه یې زما له کتابونو او کتابچو ډکه ما به لوړ اواز په کې کتاب لوست، لیکل به مې په کې کول، قرانکریم به مې تلاوت کاوه، خپلو همځولو نجونو ته به مې سبق په کې ورکاوه، راډیو به مې اورېدله سندرو ته به نڅیدلمه، د څراغ ماتې ښیښې درز مې د خپل کمیس په خالونه ورسریښاوه چې د شپې سبق ورته ووایم ما په ځان باور درلوده په خپلو خیالونو او خوبونو مې باور درلوده نن چې هر څه یم او څومره نیکمرغه ځان ګڼم ټول مې د علم او تعلیم برکت دی دا ټول سهولتونه چې زما دي دا ماته زما همغو د څراغ بلې رڼا ته د شپې تر ناوخته لیکل او لوستل وه هغه کیسې چې مابه اسمان ته د ستورو په لیدو کولې او هر روڼ ستوری به مې ځان ګاڼه. زما تر باور او خیالاتو زیات الله ماته زما د تعلیم په برکت راکړل

مریم امرخیل

*****

هیله ده زموږ ټول هېوادوال خپلې لوڼې او زامن زده کړو ته ولیږي ویې هڅوي او هر حالت کې د هغوی تعلیم ملاتړ وکړي تر څو راتلونکي کې نه یوازې ستاسې مسولیت ادا شوی وي بلکې د هغوی د پرمختګونو او هغو نیکمرغیو چې لري یې تاسې هم هوسا او په دروند نوم غوره پلار، ورور او کورنی یاده شئ.

#تعلیم_سوله_راولي»

## د مهسا وژنه:

## او پر «مهسا» هم و نه رحمېدل

## «کله چې ورغلم، ورتوبه وایم»



د تنظیمي او ټوپکي واکدارۍ په دایره کې او د همدې خلکو د رواني پالیسۍ له مخې، ټولنه له وحشت نه داسې مالامال شوې چې اوس پر یو ګل غوندې ماشوم هم رحم نه کوي. د همدې پالیسۍ پیروانو او لارویانو، د «همسا» په نامه یوه وړه ماشومه د خپل وحشت نه قرباني کړې ده او نه یوازې یې د دې ماشومې کورنۍ، بلکې زموږ د ټولنې ټول با احساسه وګړي او ټول انسانیت د یو ستر ویر پر تغر کینولی دی. زموږ د ټولنې انسانان دومره وحشي شوي دي چې هیڅ ډول عذر، زارۍ او غږ نه اوري. اوس د مجبوریت له مخې باید ځارویو ته د مرستې غږونه وکړو:

**«د دې معصومې شهیدې عکسونه د ځنګل پر ونو سرېښ کړئ، داده یم چې حیوانات به یې ملاتړ ته را ودانګي او په خپلو تیرو منګولو به اختطافچیان ټوټه، ټوټه کړي. دلته عدلي پروسیجر ډېر ورو او د مصلحتونو ښکار دی.**

**د ځنګل ښاغلو حیواناتو!**

راوځئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئئ!»

زه فکر کوم چې زموږ خوږې «مهسا» به هم د مرګ شیبه کې، د سوریایي وړوکې ماشومې هغه خبره تکرار کړې وي چې کوم ژورنالست ته یې کړې وه:

**«زه چې خدای ته ورغلم، هر څه به ورته ووایم.»**

ما د سوریایي ماشومې همدا خبره د یوه شعر په قالب کې انځور او خپره کړې وه، اوس یې یو ځل بیا د «مهسا» په خاطر خپروم:

## کله چې ورغلم، ورتوبه وایم

**کله چې ورغلم، ورتوبه وایم**

**چې لاندې مځکه کې دې**

**هغه موجود چې تا اشرف المخلوقات بللی**

**هلته سور اور بل کړی**

**ستا د رسول، ستا د کتاب او بیا د تا په نامه**

**هغه کوي چې تا ویلي نه دي**

۲۰۱۸/۱۱/۲۲
هېدرسلیف
ډنمارک

# د «مهسا» تېنتونه او وژنه



په اوسنۍ زمانه کې له کوچنیانو سره د تاوتریخوالي څو غوره بیلګې چې د بشریت نامه ته يي تور داغ ګڼلی شو:

۱ ـ د سوريې په جګړه کې يو ماشوم په زخمي حالات کې ډاکټر ته وايي: زه به خدای ته ټولې خبرې وکړم چې څه روان دي.

۲ ـ د موصل په ښار کې يوه عراقي جینۍ په زخمي حالات کې منډې وهي کمره مین ته وايي: کاکا زما ویډیو مه کوه بې حجابه یم.

۳ ـ یو فلسطیني ماشوم د ډېرې لوږې په وخت کې خدای ته سوال کوي: ما ژر واخله که جنت ته لاړم لږ څه خو به وخورم.

۴ ـ د افغانستان په جګړه کې د یو ماشوم لاس شدید زخمي وو، ډاکټر سره د لاس له پرې کیدو پرته بله لار نه وه. ماشوم ډاکټر ته وايي: ډاکټر صاحب د لاس پرې کیدو په وخت کې مې لستوڼی مه پرې کوه نوی جامې نلرم.

۵ ـ او په پای کې زموږ «مهسا»، چې د اسارت او مرګ شیبو کې به زموږ «مهسا» څه ویلي وي؟

«له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه» تر سرلیک لاندې د مقالو د خپرولو په پیل کې ما دې موضوع ته اشاره کړې وه چې:

زموږ په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی د یوې داسې سونامي حیثیت لري، چې زموږ د ټولنې په یوې محسوسې او عیني ستونزې بدله شوې ده. دا سونامي هر نسل، هره لسیزه، هر کال، هره میاشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقیقه او هره شیبه د سل ګونو او زرګونو ماشومانو او کوچنیانو اوسنی او راتلونکی ژوند ځپي او د تباهۍ کندې ته یې سر له اوسه ور پورې وهي.

خو اوس خبره نوره هم خرابه او داسې برید ته رسېدلې ده چې زموږ د ټولنې له پاره د لمنې او تندي د تور داغ حثیت لرلای شي.

د کوچنیانو او ماشومانو د ژوند د خوندیتوب او هر اړخیز ښه کېدو په برخه کې چې په هېوادنۍ، سیمه ایزې او نړیوالې کچې څه ویل شوي او یا کوم قوانین وضع شوي دي؛ یوه سلنه هم د افغانستان د ماشومانو او کوچنیانو له پاره نه په پام کې نه نیول شوي دي او نه تطبیق شوي دي. کله، کله به چې ما د ځینو مقالو په پیل کې، د مقالو په ترڅ کې او یا د مقالو په پای کې لیکل:

د ماشوم د حقونو په رڼا کې،
که د افغانستان ټولنه، په ټول کې
و ارزول شي، داسې باید و ویل شي
چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له
پاره د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.

نو ځینو دوستانو به راته ویل چې:

«ته یو څه افراط کوې!»

ما به بیا ورو ورته وویل چې:

«ور به شي، خبر به شې!»

چې درباندې راشي، بیا به پوه شې.

اوس د «مهسا» د ژوند په بیه، د دې د کورنۍ د تلپاتي ویر په بیه او د افغان ټولنې د هر ماشوم او د هغوی د کورنیو د دایمي ډار په بیه دا ثابته شوه چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د څه شي حیثیت لري؟

ــ د عادي نړۍ،

ــ د جنت،

ــ د برزخ،

ــ که د دوزخ.

د «مهسا» تښتوني او بیا وژنې ته چې له هره اړخه وکتل شي، پایله به یې دا وي چې په ریښتیا زموږ ټولنه د ماشوم د حقونو په رڼا کې، په ټول کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.

د وژنې تر بریده پورې تاوتریخوالي د څه ډول حالت زېږنده ده او له کومو خلکو سره او له کوم ډول رژیم سره دا تاوتریخوالی راغی او پسې باب شو؟

د سرو، شنو، سپینو او تورو بدلونونو په پایله کې د افغانستان په نامه ټولنه بې څښتنه نغری شو او بې سرپوښه دیګی شو، هر ځوک راغلل او د خپل دیګي د پخولو په پار یې په دې نغري کې د خپلې خوښې سون توکي کېښودل، په خپل دیګي کې چونچه وښوروله، د خپلې خوښې خواړه یې پاخه کړل، ځوک یې په خپله مخه ولاړل او ځوک یې اوس هم د خپلې سپین سترګی او زموږ د ناپوهۍ پر اساس لا همدلته زموږ د وطن په ورانو کوڅو او زموږ د فکرونو په بویونو باغونو کې د حاکمانو په څېر چکر وهي.

موږ ته که له خپلو رارسېدلي دي او که له پردیو؛ ټول مو له خپلې ناپوهۍ، بېسوادۍ او په زړو ځنځیرو کې د پاتې کېدو په وجه رارسیدلي دي.

په دې را رسېدلو تاوانونو کې یو د «باور» د نشتوالي مساله ده. زر ځلې چې چا ته ووایې چې سبق، درس، تعلیم هغه هسې په رنګارنګ غیر علمي او نامنلو الفاظو داسې ځواب درکوي چې هم دې خندا ورته راځي او هم به ورته وژاړې.

له بده مرغه چې د سیاسیونو د عمدي او غیر عمدي منفي عملونو او د استفاده جو خلکو د دایمي غولونو په وجه، زموږ په ټولنه کې بارو وژل شوی دی. دوی په دې نه پوهېدل او نه پوهېږي چې د باور وژل، د انسانیت وژل دي او پایله یې دغه حالات دي چې اوس یې خلک د ژوند په بیه پور ادا کوي. هیله ده چې باور ونه وژنئ، باور د ژوند مالګه او د وړاندې تګ یوه مهمه وسیله ده.

او په پای کې د جګړې سونامي او له هغې نه رازېږدلې په لسګونو نورې سونامیګانې چې یوه په کې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه ده.

په کابل کې صرافانو کاربندیز کړی و، هغوی سره که له یوې خوا د «مهسا» غم دی، له بلې خوا د خپلو بچو د تښتونې او وژنې وېره هم ورسره ده. په همدې اړوند دا د یو هېوادوال د زړه خواله ده:

«پرونیو خبرونو کې مې د هغو صرافانو ژړا اوریدله چې اولادونه یې کابل کې غلو اختطاف کړي او وژلي وو.

نږدې هره ورځ د ښار په بیلابیلو برخو کې د مجرمینو لخوا خلک وژل کېږي او اختطافیږي. هغه حکومت چې رعیت یې آن په پلازمینه کې خوندي نه وي، څنګه پرې خلک باور وکړي؟

له ګڼو خلکو مې اوریدلي چې دغه جنایتکاران په لوړه کچه ملاتړي لري. د سختو ورځو ولسمشر په دوره کې خو د پارلمان یوه غړي له اختطافچیانو سره د لاس لرلو په تور تورنه شوه، خو خدای خبر د کوم مصلحت له مخې خبره غلې شوه.

دا مصلحتونه دې ستاسو سر وخوري، ولس مو له سترې پریشانۍ سره مخ کړی.»

له ماشومانو سره د تاوتریخوالي په اړوند ما په لسګونو مقالې لیکلي او خبرې کړې دي؛ خو دا ستونزه په داسې نه تمامېدونکې خواشینۍ باندې اوښتې چې هره ورځ نوې غوټۍ کوي او نوي ازغي ټوکوي چې تر ټولو تازه، چوخېدونکی او زورونکی ازغی یې د ماشومې شپږکلنې «مهسا» تښتونه او بیا وژنه ده.

د «مهسا» تښتونه او وژنه، زموږ په ټولنه کې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي تر ټولو ظالمانه او وحشیانه بېلګه ده. د دې تاوتریخوالي تاثیرات خورا ژور او منفي دي. دومره

یې ټپونه ژور دي چې درملنه یې ښایي لسیزې وخت ونیسي او یا یې هیڅ درملنې ته امید نه وي.

د دې ماشومې د تښتونې او بیا وژنې منفي تاثیرات لومړی د دې پر مور پلار، بیا پر کورنۍ او بیا د ټول افغانستان په کچه پر ټولنه باندې یو ځل بیا د ډار او وحشت ځپې غالبوي.

اوس درسته ټولنه او په ټولنه کې بیا ټولې میندې او ټول پلرونه ډارېږي چې څه وخت به یې ځوک ماشوم او کوچنی تښتوي، له دوی نه به څه غواړي او د نه ورکړې په صورت کې به یې وژني او که هیڅ هم نه وي یا هیڅ هم پېښ نه شي، له رواني پلوه ټول خلک ناارامه دي، ډار یې په زړونو کې ځالې کړې دي او همدا ډار پر دوی حکومت کوي، چې ډار خپله د تاوتریخوالي یو ډېر لوی او خطرناکه ډول دی، خلاصه: «آبې، ټوله بې»

ما «**د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي**» تر سرلیک لاندې د خپلو لیکلو او خپرو کړو مقالو په ترڅ کې ویلي او لیکلي دي چې زموږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په دریو برخو باید و ویشلای شو:

۱ ــ رواني تاوتریخوالی:

(ژبنی تاو تریخوالی، ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول، ډول نور رواني فشارونه)،

۲ ــ جسمي تاوتریخوالی:

(وهل ټکول، شاقه کارونه،ځګړو ته اړایستل)،

۳ ــ جنسي تاوتریخوال.

زه فکر کوم چې د «مهسا» په دې لنډ شپږ کلن عمر کې، زموږ ټولنې او پر ټولنه باندې حاکمو قوانینو د پاسنیو یادو تاوتریخوالو د ډولونو ډېره سلنه پر دې باندې د وژنې تر بریده پورې تطبیق کړه.

د «مهسا» تښتونې او وژنې ته په کتو سره نه یوازې د دې کورنۍ په زړونو کې ډار او ترهې ځاله کړې، بلکې دا ډار اوس د ډېرو خلکو او کورنیو ملګرتیا کوي.

وېره خپرول خپله یو ډول تاوتریخوالي دی او دا وژونکی تاوتریخوالي له همداسي پېښنو سره په ټولنه کې خپرېږي. دا خپله لوی او وژونکی تاوتریخوالي دی چې د خلکو او ماشومانو ـ کوچنیانو په زړونو کې ویره خپره کړای شي او د «مهسا» تښتونې او وژنې د ټول افغان ولس په زړونو او فکرونو کې همدا وژونکې ویره خپره کړه.

د «مهسا» د تښتونې او بیا وژنې په برخه کې د ټولنې د هر قشر د زړه سوي او همدردی غږ جګ شو. له رئیس جمهور نه نیولې تر قلموالو او استادانو پورې. دغو دوو بېلګو ته یې وګورئ:

«پینځه ځلوېښت کاله یې پرلپسې زموږ غوږونو کې همدا ویلې: چې د افغانانو وژنه غزا ده او ثواب لري.

د دغې ګلورینې نانځکې قصاب قاتل ( قاتلین) هم د هغو وژونکیو دویم یا دریېم نسل دی، چې خامخا یې هم د کتې او هم د غزا نیت درلودلی دی .

زه، چي تر هرڅا زيات ځان پر هيومانيزم ګروهمن ګڼم، هم د دې ښکلي ماشومي تثبيت شويو قاتلانو ته اعدام غواړم. او د دې لپاره به هرځای او هرچاته خپل غږ خامخا رسوم.»

«#زه بيا بل شي ته چورت وړی يممهسا شهيده سوه او هغه دوه به اشد مجازات او اعدام سي. مګر ايا موږ تر هغو دوو نور بدتره قاتلان نه لمانځو؟، لاسونه يې نه مچو او وياړ نه په کو؟ پر ځانو او مغزو مو حاکم کړي نه دي؟

زه دې ته چورت وړی يم چي قاتل فکر او د قاتل د احترام فکر څنګه په ټولنه کي پای ته و رسيږي. د مهسا قاتلين خو دوه لوچکه ځوانان وه و نيول سول اعدام به سي.

مګر هغه پوخ فکر چي په دې ټولنه کي حاکم دئ د قاتل د لاسونو د مچېدلو او د قاتل د درناوي د هغه د له منځه وړلو له پاره بايد را پورته سو.»

په پاسنيو نظرياتو کي هم درد شته او هم د ليکوالو له لوري د حل لارو ته د دوی له نظره اشارې شوې دي.

ګوره که سرکار ته خدای دا وس او جرأت ورکړ چي د «مهسا» قاتلين يې اعدام کړل، تاسو يې داسي مه ګڼئ چي حق حقدار ته ورسيد، عدالت پر ځای شو او د کوچنيانو او مشرانو نړۍ هم ګل ګلزار شوه. خبره دا ده چي زموږ پر ټولني باندې لکه خيسه يو لوی تور وېرونکی قانون حکومت کوي، چي همدا قاتلين يې تر تور څادر لاندې داسي وژونکي عملونه تر سره کوي؛ د قاتلينو تر اعدام مخکي بايد د قاتلينو د راليږونکو او ساتونکو لاسونه غوڅ او ريښي او فکرونه يې وچ کړای شي؛ وروسته تر هغه د توري خيسي په شان دا تور حاکم قانون د خلکو له ذهنونو څخه د سولې په فضا کي، د ارامي ټولني په لمن کي د عصري تعليم په وسيله لرې کېدای شي.

دا کار د يوه قانوني دولت او نوې منل شوي قانون په چوکاټ کي کېدونکی دی، نه د خيال پلونو له لارې.

خو په ياد ولرئ چي په خپل دولت او ټولنه کي همدا اوس برحاله داسي ښاغلي؟ لرو چي په زرګونو ځلي يې نه يوازې له ماشومانو سره، بلکي له ټولو خلکو او وطن سره د «مهسا» تر بيلګي هم تاو تريخوالي ترسره کړی دی، او همدا اوس هم په ډېرو ځايونو کي د درناوي؟ وړ دي.

آيا په دې کار سره د «مهسا» او د «مهسا» په خير د ټللو متضررو، ارواوې به په موږ پورې تو لعنت نه وايي چي کله ځيني خلک، دولت او ځيني کړی د تاوتريخوالي د اصلي عاملينو درناوی کوي؟

زما له نظره اساسي پوښتنه دا ده چي پر ټولنه او ماشومانو باندې دا حاکم کړای شوي قوانين او د تاوتريخوالي دا راوړل شوی کلتور چا راوړ او دا **«هر څوک په خپل سر»** قانون له کوم رژيم او کوم سيستم او کومو خلکو سره زموږ وطن ته راغی؟

زما له نظره دا انارشي له تنظيمي او ټوپکي واکدارۍ سره يو ځای راوړل شوي، تقويه شوي او نوره هم باب شوې ده او پر ټولنه باندې د دې له پاره حاکمه کړای شوې ده چي دې او دې ته ورته د نورو قوانينو په چوکاټ کي د ګډوډۍ او تاوتريخوالي عاملين وکولای شي خپل غير قانوني او غير انساني حاکميت او نا روا ژوند نور هم وغځوي او تر دې هم زياتې مادي ګټې تر لاسه کړي.

دا چي څوک څنګه او چېرې متضرره کيږي، څوک وژل کيږي او څوک د تباهۍ کندې ته ورلويږي؛ دا په دوی پورې هيڅ اړه نه لري.«مسته دې تازه ګرځي، غم دی د لالي پر سر.»

دو دې مست، تازه او خندانه ګرځي، د دوی د منفي عملونو او کړو ګناهونو پیټی د خلکو پر اوږو بار دی.



**«زه اوس نه یم، چې تاسو هر څه کوئ، هغه مو خوښه؛ خو په یاد ولرئ: هر څه چې پر ما شوي دي او هر څه چې ما لیدلي دي، هغه به ټکي په ټکي خدای ته ووایم.»**

(د مور او پلار سپینه سپوږمۍ)

## ریزه ګل:

## د ریزه ګل په حق کې څه وشول؟

## مونږ څومره وحشي یو؟



دا چې دا کیسه له کومه ځایه را پیل او چېرې پایته ورسیده، زه بحث نه پرې کوم. تریخ حقیقت دا دی چې دا کیسه پېښه شوې او زمونږ د زمانې د ټولو ژوندیو دوو پښو لرونکو له پاره چې د

«اشرف المخلوقات» په دايره کې ځان شامل ګڼي؛ د درانه شرم، پېغور او تورمخوالي وړ کيسه ده چې پور به يې هيڅکله ادا نه شي.

د ريزه ګل کيسي ته چې له هرې زاويې وکتل شي او د هر دين د قانون په تله کې وتلل شي، د توجه وړ نه کڼل کېږي. زموږ پر ټولنه باندې انارشيزم دومره غالب شوی چې د ويلو او انځورولو له پاره يې توري د هيڅ ککرې په دکشنرۍ کې نه ميندل کېږي او په پای کې کېدای شي وويل شي چې:

**ـ زموږ د ټولنې انسان په دې کچه وحشي کېدای هم شي،**

**ـ موږ څومره بدوي، وحشي او ځناور شوي يو.**



دا څو ورځې د قرباني شوې ريزه ګل عکسونه په فيسبوک کې له ډېرو افسوسونو سره وړاندې وروسته کېدل، خو په پای کې مې نن د ريزه ګل کيسه د ښاغلی سرور ستانکزی په پاڼه کې ولوستله او اړ شوم چې په دې غميزه باندې زه هم يو څو کرښې وليکم.

سرور ستانکزی يو تحصيل کړی، پوه، دراک او با احساسه ځوان دی، په سويډن هېواد کې ژوند او لوړې زدکړې کوي، له خبرو، پوستونو او کارونو نه يې ښکاري چې له انسان سره، له ژوند سره، له تمدن او پرمختګ سره، له خپل هېواد او هېوادوالو سره سخته مينه لري.

د مظلوم په رنځ، رنځېږي او د حل لارې ورته لټوي که هېڅ يې له لاسه نه کېږي، خپل غږ خو باسي او تر ټولو پورې يې رسوي. د مظلومې رېزه ګل کيسه يې يوه بېلګه ده چې ده په کندوز کې د خپلو اوسېدونکو دوستانو نه اورېدلي، بيا يې ليکلي او پر خپله پاڼه باندې يې خپره کړېده. ښاغلي ستانکزي تر کيسي مخکې دوې لنډې جملې ليکلي دي او بيا
سرورستانکزی
يې کيسه ليکلي ده:

«ای خلکو!

د دې ښځې د ژوند کيسي بيخي ډېر وځورولم. زما سر را خلاص کړئ، ايا يو مسلمان افغان هم په دې حد وحشي کېدلی شي؟ 😔 😠

يو ځوان کيسه کړي:

"نوم يې ريزه ګل و، د کندز ولايت د خان اباد ولسوالۍ اوسېدونکې وه، هغه د دماغي ستونزو له امله خپلې کورنۍ له کوره ايستلې او شړلې وه. دې ښځې وروسته د کندز ښار ته پناه يوړه، د ښار په کوڅو، دوکانو، يو ځای او بل ځای به يې شپې تېرولې.

په دې ليونتوب کې هم د وحشت او دهشت په لوی ښار کې ورباندې نږدې سلګونه ځله جنسي تيری کيږي، له همدې امله ۵ ځله حامله شوې ده، چې درې ماشومان يې مخکې له وخت څخه دنيا ته مړه راوړي او دوه اولادونه يې ژوندي او پر خپل وخت پيدا سوي دي.

په ژوندیو اولادونو کې یې یو ورڅخه اوبو غرق کړ او له خپلې لیونۍ مور څخه بیل سو او بل زوی یې له لوږې په یوه خونه کې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

وایي چې د خپل زوی مړ جسد یې نږدې یوه اونۍ له ځانه سره ساتلی و او چاته یې نه ورکاوه چې خاورو ته یې وسپاري.
بالاخره ریزه ګل د خوب په حالت کې ده او د زوی مړ جسد یې په پټه خلک ورڅخه وړي او د ښخولو بندوبست یې کوي، کله چې ریزه ګل له خوبه ویښیږي، نو چیغې وهي، په لارو او کوڅو کې د خپل مړ ماشوم لټون پیلوي خو، بیا یې نه ویني.

هغه د خپل ژوند (۱۱) نور کلونه هم د انسانانو په شکل کې د وحشي ځناورو په منځ کې تېروي، ماشومان یې په لارو کوڅو کې په تیږو او ډبرو ولي او یوه ورځ یې د کوم ماشوم لخوا د ډبرې په ویشتلو سره یوه سترګه هم له منځه ځي او د تل لپاره ړندیږي.

بالاخره ریزه ګل د زیات یخ او ناروغۍ له امله مړه کیږي او د تل لپاره د دې نامرده، بې رحمه او ناځوانه دنیا او خلکو څخه د حق داعي ته لبیک وایي.

د ریزه ګل د ښخولو لپاره د کندز له ښاروالۍ څخه مرسته غوښتل کیږي تر څو د تکفین بندوبست ورته برابر کړي، خو ښاروالۍ له دې کاره په شا کیږي.

وروسته د سیمې یو غیر مسؤل قوماندان د هغې د جنازې او تکفین کار په غاړه اخلي او خاورو ته یې سپاري.

دا مو د ټولنې هغه دردونکې کیسه ده چې، موږ ټول ورباندې باید خجالت ووسو او د یوې بېوزلې او لیونۍ خور په حق کې باید ځانونه پړ وګڼو."

**«... خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو!»**

# د ستونزو او تیارو په منځ کې یوه رڼا

## د یوه پلار هیله

د نـوي نسل د روزلو له پاره هـر پل چي اوچـتـیږي، زه یـې داسي انګیرم چي د نـوي ژوند د کلا پر دیواله یوه نـوې او زریـنه خښته ایښودل کیږي.

*****

د هغو خلکو او قوم تباهي ډیره نږدې ده چي له سواد، کتاب، مطالعي، تعلیم، ښونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

آصف بهاند

میډیا داسي وایی چي د افغانستان په جنوب، ښرنه کې یو نالوستی پلار خپلو دریو لونو سره ښوونځي ته د تګ په برخه کې تر اټکل وتلې مرسته کوي. دا پلار هره ورځ له خپل کور نه دولس کیلومتره واټن پر موټرسیکل وهي او خپلې درې واړه لوڼي د تعلیم له پاره بیایي، څلور ساعته هغوی ته انتظار وي چي له ښوونځي را خلاصي شي، بېرته یې کور ته بیایي.



«د دې سرې پر سر په صحیح مانا شمله لګه ده، میاخان کاکا لاسونه دې مچوم»
(نثار صالح)

دي کار ته په کتو سره ویلای شم چې: اوس که خدای کول زموږ د مشرانو قلموالو او د اوسني نسل روڼ اندو د بې پایه هلو ځلو او خواريو ثمر په ښکاريدو دی او نور به زموږ کوچنیان د زدکړو وخت په شپني، فزیکي کارونو، جګړو او... باندې نه تېروي او د ښوونځي او زدکړو چیغه او رڼا به تر هر کور پورې رسېږي.

زموږ د هېواد افغانستان پر فضا او فکري قلمرو باندې له ډېر پخوا نه یو ډول غیر مربي فکر حاکم و اوس هم تر یوې اندازې پورې حکومت پرې کوي، چې له تعلیم، ښوونځي، پوهنځي او د مدرنو پوهنو له زدکړې سره ــ چې د اوسني ژوند له اساسي ارکانو څخه شمېرل کېږي ــ د مخالفت او حساسیت غږ اوربدل کېده او ډېر ځلي يې د سواد، ښوونځي، پوهنځي او مدرنو زدکړو په لمن پورې د کفر ټاپې لګولي دي او رنګارنګ نور تورونه يې ورپورې نښلولي دی، خو اوس که خدای کول د دې تیاره فکر لمن په ټولېدو ده چې ډېره غوره بېلګه يې له تعلیم سره د همدې نالوستي پلار مینه ده.

د دې پلار دې کار ته که د یو مثال په ډول وګورو، باید وویل شي چې: دا پلار یوازې د خپلو لوڼو ـ کورنۍ ـ کلي او ولایت له پاره نه، بلکې د ټول افغانستان له پاره او د ټولو افغانانو له پاره ګام اوچتوي او د دې زحمتونو په ګاللو سره، ټولو هېوادوالو او نړیوالو ته دا ښیي چې افغانان له پوهې او تعلیم سره څومره مینه لري او دا په ډاګه کوي چې دوی د راتلونکي ژوند په فکر کې دي.

د دې پلار دې نیک عمل ته په میډیا کې په پراخه پیمانه عکس العملونه ښودل شوي دي چې زه به يې دلته څو بېلګې راواخلم:

ښاغلی سرور ستانکزي داسې لیکلي دي:

«داسې خلک باید وستایل شي، تر څو نور پلرونه هم وهڅیږي.

دا سړی میاخان نومېږي. د پکتیکا ولایت مرکز ښرنې اوسېدونکی دی. هره ورځ پر خپل موټر سایکل باندې لوڼې ۱۲ کیلو میتره لېرې ښوونځي ته بیايي او څو ساعته دباندې انتظار ورته کوي، تر څو بیا يې کور ته راورسوي. ارمان يې دا دی، چې لوڼې يې لوستې شي او د هېواد ملالې شي.

ښاغلي نثار صالح خیل نظر داسې څرګند کړی دی:

«زه پوهیږم چې تاسو به فکر کوی چې بیا به یو لوی سپړن مَلَک یوه پېغلوټې په شل لکه رانیولې وي، خو دا وار داسې نده. دا سړی په پوره مانا انسان دئ، څکه څنګ ته ولاړه يې لور ده او په ټول افتخار يې روزمره دولس کیلومتره لیرې یوې ښوونځي ته پر موټرسیکل بیايي او راولي.

په دې وطن کې ناوړه رواجونه دومره په اوج کې دي، چې د یو عادي او فردي مکلفیت تر سره کول هم موږ ته لایتناهي خوښۍ را اهداء کوي.

د دې سړي پر سر په صحیح مانا شمله لکه ده،

میاخان کاکا لاسونه دې مچوم!

وطن دې زنده باد وي»

په دوی پسې زموږ بل وطنوال Masihullah Noori بیا داسې لیکلي دي:

«خبر دی چې د پکتیکا دغه اوسېدونکی میاخان، خپلي لوني هر ورځ ۱۲ کیلومتره پر موټرسایکل ښوونځي ته رسوی او بیا تر رخصتی پوري هماغلته ورته تم کېږي، تر څو یې بېرته کور ته راورسوي، په داسي حال کي چي خپله بېسواده دی.

زمونږ رسنیو او د سوشل مېډیا فعالانو ته پکار ده چي دغسي خبرونو ته ښه په درز کي انعکاس ورکړي. پر ټویټر او فېسبوک دي ټرېنډونه ورته جوړ شي او دغه شان اتلولی دي نړیوالو ته وروښودل شي. ګټه یې دا ده چي نړیواله ټولنه به په خپلو مرستو نه پښېمانه کېږي او د تعلیم په برخه کي چي دغسي لېوالتیا ووینې، ښایي مرستي زیاتي هم کړي. دغسي خبرونه د بهرنیانو غوږونو ته رسول، مونږ سره مرسته کوي چي د نړی د سترګو پر وړاندي خپل موجوده تصویر (د تروریزم ځاله) اپډېټ کړو، او مونږ هم مدنیت او پرمختګ ته لېواله ملت ثابت شو. په هېواد دننه هم د دغسي اتلانو تشهیر، ډېرو خلکو ته د تعلیم د لېوالتیا یو سمبول کېدای شي.
خو بدمرغي دا ده چي مونږ د منفي خبرونو خپراوي ته تږي یو. د لوګر د ښوونځیو قضیه، د ښوونځیو سوځېدل او ترل کېدل په نړیواله کچه مطرح کوو، خو دغسي حماسي رانه د فېسبوک د یوې ورځي سوژه پاتي شي او بس!»

د دي کار په کولو سره په لوړه کچه باید د درانه میا خان کاکا ښه پوره درناوی وشي. زه یې په زړورتیا سره ویلی شم چي ما (آصف بهاند) په دي لاره کي د نورو قلموالو تر ځنګ خپله دنده او مسؤلیت په پوره اندازه تر سره کړې دی او نه غواړم چي د ځینو تېرو مقالو په څېر د خپلو لیکلو مقالو فهرست او لینکونه دلته وړاندي کړم؛ یوازې به د تعلیم د عامېدو په برخه کي د خپل یوه کار یادونه وکړم:

د ۲۰۱۹ کال په فبروری مي «د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه» تر سر لیک لاندي خپل یو کتاب ټولو لوستونکو ته د رسېدو په پار په انلاین ډول خپور کړ. د دي کتاب په مقدمه کي د تعلیم د مهموالي په باب ما لنډي خبري کړي دي چي د دي بحث د ښه پای له پاره به بې ګټي نه وي:

«پر افغانستان باندي د جګړي له سونامي نه رازېږېدلي، ګڼي نوري سونامي ګاني راغلي، زمونږ ټولنه او خلک یې له هره اړخه ځپلي دي. زمونږ د ټولني او هیواد د ټولو برخو بنسټونه یې ویجاړ کړي، په تېره ښوونه او روزنه او د نوي نسل د روزلو لړی، چي پایله یې زمونږ د هیواد د څلورو نسلونو له تعلیمه سره مروربدل، بې سواده یا کم سواده پاتي کېدل دي؛ خو له دې ټولو نا خوالو سره، سره زمونږ نوی نسل زدکړو ته لیوال و او دی، هر کله او هر چیرې چي ډیر لږ امکانات هم ورته برابر شوي دي، له هغو نه په استفادې سره یې، پر ځان هر رنګ زحمتونه ګاللي دي او د نوي عصر نویو زدکړو ته یې د خپل ټېټر او ذهن کتاب پرانستی دی او زدکړي یې کړي دي.

ما څو ځلي په ټینګار سره ویلي دي:

**ـ د هغو خلکو او قوم تباهي ډیره نږدې ده چي له سواد، کتاب، مطالعي، تعلیم، ښونځي او پوهنځي نه ځان لري ساتي!**

**ـ دا ښه په یاد ولرئ: تر څو نوی نسل په نوې او مدرنه بڼه په سمه توګه و نه روزل شي، هیڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغیو سره لاس ګریوان اوسئ!**

**ـ د نـوي نسل د روزلو له پاره هـر پل چي اوچـتـیږي، زه یـې داسي انګیرم چي د نـوي ژوند د کلا پر دیواله یوه نـوې او زریـنه خښته ایښودل کیږي.**

**ـ که په یوه ټولنه کي زدکړي لږ او د ګوتو په شمېر وي یا هیڅ نه وي، هغه ټولنه او هغه خلک هره ورځ لا هر ساعت له لسګونو ستونزو سره په عملي ډول لاس ګریوان وي.**

**ـ په ټوله نړۍ کې دا یوه منل شوې خبره ده چې: چیرې چې ښونکی وي، هلته ډیوې وي، هلته رڼا وي او چیرې چې ښونکی نه وي، هلته نه ډیوې وي او نه د رڼا څرک.**

**ـ زه په دې عقیده یم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نیالګي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنی زماني له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چینه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ!**

په افغانستان کې د ورستیو څلورو لسیزو د ستونزو هر اړخ ته چې نظر واچول شي، د رامنځ ته کیدو عوامل او منفي پایلې یې موږ ته وایي چې د تعلیم نشتوالی د ټولو ستونزو د رامنځ ته کیدو مور او لامل ده. نو پر دې بنا د هر ډول تحلیل پایله دا وایي چې په افغانستان کې یو ژور تعلیمي بدلون ته اړتیا لیدل کیږي.

ډیری روڼ اندي په دې فکر دی چې څو په ټولنه او خلکو کې بنیادي فکري بدلون رامنځته نه شي، په ټولنه او عیني عملي ژوند کې د مثبت بدلون تمه یو نا سم کار دی. په مثبت لوري د خلکو د ژوند د هر اړخیز بدلون له پاره یوازینۍ لار تعلیم دی، د همدې دلیل له مخې باید په تعلیم او زدکړه باندې ډیر ټینګار وشي، که ډیر په ابتدایي بڼه هم وي، څو د تعلیم د نهضت کارکونکي او لارویان نور هم تشویق او وپالل شي.

ما د همدې نیک کار د یو لاروي په توګه له ډېرې مودې را په دېخوا د تعلیم د نهضت ملا ترلې، عملي او تبلیغي کار مې ورته کړی دی او د دې عملي کار په لړ کې مې د مطالعې د کلتور د عامېدو له پاره د خپل عملي کار په لړ کې لسګونه مقالې لیکلې او خپرې کړېدي.

د تعلیم د نهضت د پیاوړو او مخکښو غړو د زدکړو او عملي کارونو د معرفی له پاره مې ګڼې مقالې د هغوی او نورو د لا تشویق په پار لیکلې دي او په وار ـ وار سره مې پر دې خبره ټینګار کړی دی چې:

**زه ټوپکوال، وژونکی او قاتل قهرمان نه ګڼم، زما له پاره قهرمان هغه څوک دی چې د خرافاتو پر ځای د علم پلوي او لاروی وي، د سواد زدکړې ـ ښوونځي او پوهنځي پلوی وي، د پوهې د تر لاسه کولو او نوي نسل په روزلو کې عملي کار وکړي، زما قهرمانان هغه څوک دي چې د راکټونو په ځای کتابونه ویشي، ښونځي پرانیزي، په نوې بڼه د نوي نسل د روزلو په فکر کې وي او عملي کار ورته کوي.**

**«که یو کلن ثمر غواړئ، غنم وکرئ،**
**که مو لس کلن ثمر په کار وي، ونه کینوئ**
**او که غواړئ د سلو کلنو له پاره حاصل ولرئ، نوی نسل وروزئ!»**
**(کنفوسیوس)**



## یوه بله نیکنامي؟

## «افغانستان د نجونو تعلیم لپاره ځلورم ناوړه هېواد»

**«...د دوی ډیوې دې خدای ولګوي،**

**موږ به د زیارت ډیوې بلوو.»**

(استاد الفت)




څو ورځې مخکې (۱۱/۱۰/۲۰۱۷) د «نجونو نړیواله ورځ» ورځ ولمانځل شوه او زمو میډیا هم لږ و ډیر ونډه په کې واخیسته. ځینو هسې یاده کړه، ځینو په ښو تورو سره د نجونو د قدر داني له پاره یو څه ولیکل، یوه نیمه مقاله خپره شوه، د نجونو د ژوند د خرابوالي په باب ګزارشونه... او ځینو لا ولیکل چې دا ورځ بیا له کومه شوه.

په هر ډول چې و، د نجونو په باب یو غږ اوچت شو او یو ځل بیا د هیوادوالو او نړیوالو تر غوږونو پورې دا خبر او دا چیغه ورسول شوه چې په افغانستان کې د نجونو ژوند له هره اړخه خراب او تریخ دی او ډیره سلنه له تعلیم، ښوونځي او پوهنځي نه لرې دي.

د نجونو د ورځې د لمانځلو په لړ کې داسې تایید شوي او نا تایید شوي ارقام هم وړاندې شول چې د دوو میلیونو په شا و خوا کې نجونې ښونځې ته د تګ له حق نه محرومې دي او د دې محرومیت تر څنګه د تاوتریخوالي له ظالمانه ډولونو سره هم مخ دي. که ښوونځي ته لاړې هم شي، اویا سلنه نجونې په لږ لوړ سن او لږ جګ ټولګي کې نه پرېښودل کېږي چې ښوونځي ته ادامه ورکړي؛ د دغو عینې ستونزو سره، سره د ښوونې او روزنې وزارت هم په ټاکلي وخت د نجونو ورځ ولمانځله.

وروسته له دې چې په میدیا کې د نجونو د ورځې درز دروز لږ غلی شو، بي بي سي داسې یو رپوټ خپور کړ چې هر بادرکه او با احساسه انسان ته ټکان ورکوي. د یاد رپوټ سرلیک داسې وو:

«افغانستان د نجونو تعلیم لپاره څلورم ناوړه هېواد»

د بي بي سي په یاد راپور کې افغانستان د هغو هیوادونو په ډله کې څلورم ښودل شوی دی چې نجونې په کې د تعلیم نا وړه حالت لري. د رپوټ په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«په هغه ورځ چې ملګرو ملتونو د "نجونو ورځ" اعلان کړه، د one په نوم یوې پراختیایي مؤسسې د هغو هېوادونو یو لیست او رپوټ خپور کړ چې د نجونو تعلیم پکې ډېر ګران دی.

**د شخړو سیمې:**

په هغو لسو هېوادونو کې چې د وسله والو شخړو شاهدان دي، نجونې په ښوونځیو کې د زده کړو له نعمته بې برخې ګڼل کېږي.

په دغو هېوادونو کې چې کورنۍ د کورنیو جګړو او شخړو له کبله له بې وزلۍ، خوارځواکۍ او په کور د ننه له کډوالۍ کړېږي، حکومتونه یې هم په ځېځپانده حالت کې دي.

په دې هېوادونو کې له نجونو نه ښوونځیو ته د تګ پر ځای د کار کولو تمه ډېره کېږي. ډېری یې په کم عمر کې ودېږي، چې له تعلیم نه د پاتې کېدو او د خپلو هیلو پوره کولو مخنیوي کې یې یو ستر لامل همدا هم ګڼل کېږي.

د ملګرو ملتونو شمېرې په ډاګه کوي چې هغه نجونې چې د تعلیم فرصت له لاسه ورکوي، په کورنیو شخړو کې د ښکېلو هېوادونو له زده کړو نه د پاتې ماشومانو پرتله ډېرې دي.

ملګرو ملتونو په ترتیب له تعلیم نه د نجونو د پاتې کېدو لاملونه په نښه کړي:

- په لومړنیو ښوونځیو کې د محرومو نجونو کچه ډېرېدل،
- په منځنیو ښوونځیو کې د محروومو نجونو د شمېر ډېرېدل،
- یوازې کمې نجونې ابتداییه ښوونځی بشپړولی شي،
- په ښځو کې د لوستو هغو ډېروالی،
- د وړ ښوونکو کمښت،
- حکومت پر تعلیم سم لګښت نه کوي.

هغه لس هېوادونه چې نجونو ته پکې تعلیم کول ګران دي:

1. جنوبي سودان

2. منځنۍ افریقا،
3. نیجر،
4. افغانستان،
5. چاډ،
6. مالي،
7. ګیني،
8. بورکینا فاسو،
9. لایبیریا،
10. یتوپیا»

د نړۍ په هر ګوټ کې چې یو منفي لست خپرېږي، له بده مرغه چې افغانستان په کې وي او دا دی اوس مو په دې لست کې هم توره کړې، څلورم یو او دا په هیڅ وجه پټیدای هم نه شي.

ملامتیا چا ته ورله غاړې ده، دا هم څوک نه مني، که ثابته هم شي چې ډیره سلنه موږ خپله افغانان ملامت یو، بیا خو جنګ او د جګړې نوم شته چې پړه ورله غاړې کړو او ځانونه سپینې کوترې معرفي کړو، خو هغه شیبه مو هیره وي چې د غیرت، شرم او ځینو نورو دلایلو له مخې خور، لور وهو ټکوو او دې ته یې اړ باسو چې له ښونځي څخه لاس په سر او د کور بندیوانه شي، ښونځي ته د هغې (نجلۍ) په نه تګ چې څومره نورې ستونزې را ولاړېږي، هغه موهیرې وي.

پخوا ما په خپلو مقالو کې د نورو ولایتونو مثالونه ورکړي و، خو همدا اوس په میډیا کې داسې خبرونه راځي چې لا د ننګرهار غوندې فرهنګپاله ولایت کې هم په څلورو ولسوالیو کې یوه ښځینه فارغه نه شته. دغه رپوټ ته پاملرنه وکړئ:

«د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست چارواکي وايي، چې د دغه ولایت په څلورو ولسوالیو کې تر اوسه یوه جلۍ هم له دولسم ټولګي فارغه شوې نه ده.

د پوهنې ځای ناستي رییس سید عیسی سادات سلام وطندار ته وویل، چې په یو شمېر ولسوالیو کې ان ځینې کورنۍ خپلې لونې له شپږم ټولګي پورته زدکړو ته نه پرېږدي.

د پوهنې رییس وايي، چې **دور بابا، اچین، نازیان او لالپوره** ولسوالیو کې د دولسم ټولګي یوه فارغه هم نه لري.»

دا چې په نړیواله کچه د افغانستان نوم  په هغه لست کې په څلورمه شمیره کې درول شوی چې د نجونو د تعلیم له پاره نا وړه حالت لري، اصلي لامل یې د تاوتریخوالي هغه ډولونه دي چې له کورنۍ او کور نه نیولې تر کوڅې، کلي، ښار او بیا په ټول هیواد کې، په هر ګام کې ماشومان، کوچنیان، په ځانګړې ډول نجونې ورسره مخ دي او په رنګارنګ ډولونو تاوتریخوالی ورباندې تطبیقېږي. له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر ستونزو باندې، ما (آصف بهاند) تر لسو ډیرې مقالې لیکلې او خپرې کړې دي.

ما د خپلو مقالو دې لړۍ ته «له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه» سر لیک ټاکلی دی او د هغو په ترڅ کې مې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر ستونزو

خبرې کړي، په تيره له نجونو سره د تاوتريخوالي ډولونه په نښه کړي دي او په دې ډول مې د دوی د حقونو نه د دفاع له پاره خپل غږ اوچت کړی دی.

په دې باب زما وروستی خپره شوې مقاله «له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي نوی باب» نومېږي.

دغه مقاله ما يوه مياشت مخکې خپره کړه هلته ما په عام ډول له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي پر نوي باب خبرې کړې دي او دا مې په نښه کړي دي چې د دې تاوتريخوالي پايلې به دې ماشوم يا کوچني او کورنی او ټولنې ته يې څه وي. دا يې څو کرښې دي:

«په جګړه ځپلو ټولنو کې، چيرته چې د قانون د حکم پر ځای د ټوپک د شپيلی غږ او شپيلی غږونکی حکومت کوي، د ټولنې له هر قشر سره د هرڅه کيدو امکانات شته، په تيره له ماشومانو او کوچنيانو سره.

د افغانستان په نامه ټولنه کې د ناروااوو او ظلمونو ډير ډولونه آزميل شوي، تطبيق شوي او اوس هم جريان لري؛ خو تر ټولو ناروا او ظلم د ماشومانو او کوچنيانو په حق کې شوی او اوس هم په پټه او ښکاره روان دی.

دا په حقيقت کې نه يوازې د هغه ماشوم او کوچني په حق کې ظلم دی چې د ناروااوو، ظلمونو او تاوتريخوالي ښکار کېږي، بلکې د راتلونکي نسل او راتلونکي ټولنې په حق کې ستره جفا ده، داسې جفا چې بيا نه جبرانېږي، نه يې پور ادا کيدای شي او د اوس له پاره يې د مخنيوي او اصلاح کومه اميد هم نه شي کيدای.»

او دا دی نن مو، له ماشومانو او کوچنيانو سره د همغو تر سره شويو تاو تريخوالي د منفي پايلو ثمر تر لاسه کړ او له بده شامته چې دا منفي پايلې د يو تن يا يوې کورنی له پاره نه، بلکې د ټول افغانستان له نامه سره غوټه شو او په دې ډول مو په لوی لاس په دې تور لست کې هم د افغانستان نوم ور درج کړ.

مور پند، پند پټکي ترو د لويې پکتيا، لوی ننګرهار، لوی کندهار او لوی... کيسې کوو، که مو ماشومان، کوچنيان او لونې په اور کې نيني شول، خير دی، خو چې زمونږ غيرت؟ داغداره نه شي او نوم ته مو څوک کاږه و نه ګوري.

**«... د دوی ډيوې دې خدای ولګوي،**

**مونږ به د زيارت ډيوې بلوو.»**

(استاد الفت)

# کم سنه انتحاري، د ستونزې جرړې او حللارې

د ټولو تلويزيونونو، راديوګانو، ويبپاڼو، ورځپاڼو او... مخونه او خولې په همدې يوه خبر تور دي، ښورې او سترې دي چې:

- يوه لس کلنه نجلۍ له ځانمرګي بريد نه مخکې نيول شوې،

- دا نجلۍ غوليدلې ده، بايد بيرته مور او پلارته وسپارل شي،

- حامد کرزی ځانمرګي خوشې کوي،

او...

دا کومه نوې خبره نه ده چې جنګي ډلې له انسانانو نه، له زړونه، له ځوانانو نه له... او په پای کې له پاکو ماشومانو نه هم خپل هدف ته د رسيدو له پاره استفاده کوي.

دا د حل لاره نه ده چې اوس له دې نيول شوې ماشوم سره څه وشي، بنديخانې ته وسپارل شي، نور تاوتيرخوالې ورسره وشي، انعام ورکړل شي، بهر ته دې ولېږل شي... او که دې وبښل شي؟

دا جلۍ يې ورور اړ ايستلې وه چې ځانمرګی بريد وکړي. که يې ورور د يوه نسل نماينده ومنو او دا جلۍ د ورپسې نسل، نو ويلای شم چې دواړه د تيرې، جګړې، دود او باروتو نسلونه دي. په دې توپير چې ورور يې ښايي د ژوند له لومړني تنفس سره د روسانو د سلاح او ټانکونو دودونه تنفس کړي وي او دې جلۍ له زيږيدو سره سم د امريکايي ټانک او باروتو دود تنفس کړی وي. اوس ويلای شو چې دا دواړه نسلونه د تيرې کونکو د ټانوکونو د دودونو، وژنو، وينو او نفرتونو نسلونه دي، هغه هم په وړې نس لوڅ بدن او د ناسمې لارښوونې په دايره کې، له دوی نه به اوس د تمدن په اوسنۍ دايره کې د اروا پوهنې د اصولو له مخې څه هيله ولرو؟

زه خو وايم چې په دې باندې بايد فکر وشي چې: چا دا ماشوم دې کار ته اړ ايستلی دی او ولې؟

له دې پوښتنې سره سم دا درې نورې پوښتنې هم مطرح کېږي:

۱- آيا د لوږې د مجبوريت له پاره دا کار کوي؟

۲- آيا د عقيدې او جنت ته د تګ په خاطر ماشوم قانع شوی دی چې دا عمل ترسره کړي؟

۳- او که ماشوم د تهديد او ډارولو له لارې دې کار ته اړ ايستل شوی دی؟

که د لوږې او پيسو د لاسته راوړلو مسأله مطرح وي، بايد په دې سوچ وشي چې دا خلک، دا کورنۍ او دا ماشوم چا وږې کړل؟

او که د عقيدې او جنت ته د تګ په خاطر يې دې کار ته غاړه ايښې وي، نو چا دا فکر ورکړ؟

چا يې ماغزه له ټولو شيانو پاک کړل او يوازې يې د ذهن په پاکه دړه ورته جنت وليکه او ماشوم يې پوه کړ چې دا د جنت ښيګڼې، امتيازات او دا هم جنت ته د رسيدو لار. او که د تهديد له لارې وي، نو تهديد کونکی ولې دا کارکوي؟

او دغه ټول چا پر دغې ټولنې کورنيو او خلکو باندې راوستل؟

د دغو ټولو خبرو لکۍ او سر بيرته ورګرځي هغو خلکو، سيستم او حاکم نظام ته چې دا ډيره موده کېږي له عسکري بوټانو سره د خلکو پرستوني باندې سپاره دي. د همدې حاکمو خلکو د روابطو، ظوابطو او قوانينو په چوکاټ کې بهرنيو استخباراتو، په تيره د دوو نا اهله ګاونډيو (ايران او پاکستان) استخباراتو زموږ په ټولنه او حاکم نظام کې داسې نفوذ کړی دی چې د ماشومانو، ځوانانو او ښځو د ځانمرګو بريدونو د ترسره کولو پلان څه چې آن د پارلمان، وزيرانو او رئيس جمهور د کار اجندا هم همدوی جوړوي او د تطبيق له پاره يې په مستقيم او غير مستقيم ډول لارښوونه ورته کوي.

دغه او دې ته ورته نورې ستونزې هره ورځ زموږ خلکو او ټولنې ته په زرګونه او لکونه نورې ستونزې زيږوي او هره ورځ زموږ په لسګونه بې ګناه هيواد وال د مرګ خولې ته ورپورې وهي؛ نو دلته دی چې بايد په جديت سره وويل شي:

څنګه چې په ټولنه کې د هرې ستونزې ريښه په حاکم نظام او د نظام په چلونکو کې ده، بايد د نظام د بدلون فکر وشي، نه د شخص د بدلون.

د يوه هيواد اساس او تهداب د هغه هيواد نوی نسل جوړوي او د نوي نسل سمه جوړونه او روزنه د هغه هيواد په ښوونيز نظام او سيستم پورې اړه لري. زموږ د هيواد په ښوونيز نظام کې په سل ګونو او زرګونو نيمګړتياوې شته. د هرې ټولنې او هرهيواد په تعليمي سيستم کې دا نيمګړتياوې شته، خو زموږ تعليمي نظام ته راشه کينه (پک مې ليدلی و، نه ماغزه وتلی) دا تعليمي نظام لکه د حلوا د ديګي مواد هر رژيم چې راغلی، پرته له دې چې د نړيوالو منل شوو علمي مسايلو او ملي او وطني مثبتو مسايلو په باب فکر وکړي، په خپله خوښه يې يو خوا بل خوا اړولي دی، ځکه سم شی او ښه شی نه په کې پيدا کيږي، کوم يو نيم ټکی ښه شی که له پخوا نه په کې پاتې و، هغه هم په دې اړودوړ کې داسې سوی دی چې اوس يې لکه سوی ديګی بوی خيژي او ګټه نه شي ورنه اخستل کيدای.

د ښونځيو په تعليمي نصاب کې داسې شی نه شته چې زده کوونکي ته دې د دې هيواد د ريښتيني تاريخ او هويت په باب حقايق وړاندې کړي او يا دې ماشوم ته مينه ورزده کړي، له وطن سره مينه او له خلکو سره مينه او له پرمختګ سره مينه ورزده کړي. زموږ تعليمي نظام زموږ د وطن د تاريخ او زموږ د هويت ريښتيني هنداره نه ده؛ نو ځکه مو ماشوم د بل چا له پاره د خپل وطن او خپلوخلکو د تباه کولو له پاره، تش په نامه جنت ته د تګ له پاره، ځان الوزولو ته چمتو کوي.

زموږ مهاجر هيواد وال په هر هيواد کې چې څو ورځې د هغه هيواد د تعليمي نظام په دايره کې په ټولګي کې کيناست، بيا يې د خپل هيواد تاريخ، جغرافيه او هرڅه هير وي او د کوربه هيواد ترانې يې پر ژبه جاري وي. د پاکستاني ښوونځي په چوکۍ يې چې کونه ولګيده، پاکستاني يوه دړه مخ کې ورته نيولي وي چې: «چوده اګست» هير نه کړې، ايرانی بيا د اسلامي انقلاب، حيسن، خميني او... ريښکی له سره ورتاووي او غوږ کې يې پو کوي چې: «افغانستان جز از خاک ايران زمين ميباشد» او په خپل هيواد کې ملا جان؟ ورته وايي چې د اسلام د دفاع اصلي وياړ خدای افغانانو ته ور په برخه کړی دی. منډې ځان والوزوه او جنت ته ځان ورسوه چې نا وخته نه شي.

دا هغه ترخه واقعیتونه دي چې همدا اوس زموږ په هیواد کې په عیني ډول لیدل کېږي، روان دي او زموږ د هیوادوالو غوښې او هډوکي سوځوي.

ما دا خبره څوځلي کړې ده: زموږ تعلمي نصاب کې کرکټ په ویاړ سره شاملیږي، خو لومړنی طبي مرستي، ترافیکي نښې، مدني نړیوال قوانین، اساسي قانون، له وطن او خلکو سره مینه او د ژوند نور اړین مسایل اصلاً ماشوم نه پیژني. کله چې څوک خپل ملي هویت، اصلي تاریخ، د خپل هېواد جغرافیه او ملي ګټو باندې پوه نه شي او د زېږېدو له ورځې له آذان سره سم یې په غوږ کې هماغه یو شی یعنې جنت ور پوه کړای شي، بیا به خود بهرني استخبارات او جنګي ډلې جنت ته د تګ په نامه زموږ له پاکو ماشومانو او خلکو نه همداسې استفاده کوي.

زما د پوهې او عقیدې له مخې جنت ته تګ یوازې د خدای د صلاحیت په دایره کې دی، خو اوس زموږ د خلکو د ناپوهۍ او بېسوادۍ نه په استفادې سره، بهرنیو استخباراتو، ځینو په اصطلاح مذهبي رهبرانو او د جنګي ډلو مشرانو له خدای سره سمه سیالي پیل کړې ده. جنت ته د تګ لیسنس او سندونه همدوی ورکوي او له دې نه هم حیرانونکي چې زما هېواد وال یې مني او د جنت له پاره خلک او ځان هم قربانوي او د جنت په نامه تورو خاورو ته ځي، ګټه یې هم مالومه ده چې د چا ده.

له عقیدې چې ورتیر شو، د نورو مجبوریتونو مسأله ده چې یو په کې لوړه ده. ډېرځلې همدې لوږې لوی او واړه اړایستلي دي چې دا کار وکړي. په بی بی سی ویبپاڼه کې مې څو کاله مخکې دا مضمون ولوست: «طالبان ده دالري» یو نفر توپک په لاس، پوز تاو کړی ولاړ و، ویل یې چې وروره زه نه طالب یم او نه هم مالب، زما بچیان وږي دي، دغه خلک د ورځې لس ډالره راکوي او زه هم ورسره روان یم.

په همدې نږدې څو ورځو کې مې په کوم تلویزیون کې ولیدل چې په عراق کې همداسې چا ځان الوزولی و. بل تن سره یې د چاودنې په باب مصاحبه کوله، هغه د نورو ګنو دلایلو په ترڅ کې دا په جدي ډول وویل چې:

د خدای پار دی خلک مه وږي کوئ چې هر کار ته بیا غاړه ږدي.

اوس د همدغه فاسد رژیم په راتګ سره، په پیل کې د خلکو ټول مادي او معنوي شیان تالا شول، یا د غنمیت په نامه ورنه یوړل شول او یا د تنظیمي توپکوالو د خپلمنځي شخړو په ترڅ کې ایري شول؛ اوس ځینې کسان ښایي د خپلې کورنۍ د لوږې له پاره هم دې کار ته غاړه کېږدي.

زموږ تعلیمي نظام باید هغه څه ماشوم ته ورزده کړي چې د زدکړې له ورځې یې د عمر ترپایه په درد وخوري، نه دا چې زموږ مډیا تعلیمي سیستم او قلموال، ماشوم، نوی نسل او دا نور خلک، په خامو تارونو وتړي او ورته ووایي:

که ځان دې وښوراوه، په دوزخ کې یې!

اوسني رژیم له پیل نه ترنن پورې هغه کار کړی دی چې باید نه یې وای کړی. نه خلکو ته څه کولای شي او نه څه ورکولای شي او نه نور ورته پرېږدي. هغه د دري ژبې ډېر له مانا ډک متل دی چې وایي:

**«دور نرو که شیر میخوریت، پیش نه بیا که بوی میتي»**

دا خلک به ترڅه وخت پورې د خوف و رجا پر پوله کې ساتل کېږي، دا خلک به ترڅو پورې په دې منځ کې سوځي.

زموږ نیم عمر د پنځه زره کلن تاریخ د افتخاراتو په هغه تکرار تیرشو، چې هیڅ شی په لاس نه شي راکولای، نس مو وږی دی، خلک بیسواده له تمدن او هرڅه بې خبره او د جګړې په اورکې سوځي، خو موږ د پنځه زره کلن تاریخ ترانې غږوو، پنځه زره کلن تاریخ ویاړ دی، خو په دې باید پوه شو چې د دې ترانو بې ځایه او بې وخته تکرار نه نس مړوي او نه هم خلک هوښیاروي او نه د جګړې اور وژلای شي، بلکې نور یې هم په تورو تیارو کې بې خبره ساتي.

زه په جدي ډول دا وایم چې پنځه زره کلن تاریخ مو له ویاړونو او د درناوي نه ډک دی، د بابا ګانو او شاعرانو شعرونه او د توریالیو تورې او ویاړونه دې پرځا ی وي او احترام دې یې وشي، خو موږ باید دا پوښتنه مخې ته کېږدو چې:

موږ چیرې یو؟

په کوم وخت کې ژوند کوو؟

چیرې روان یو او ولې روان یو؟

اوڅه باید وکړو؟

ځکه د نورو خلکو د تمدن کاروان د برېښنا په څیر چټک روان دی او زموږ پښې د ناپوهۍ په خامو تارونو تړلې همداسې پراته یو. «مړه ـ مړه دي، د خدای پار دی د ژوندیو غم وخورئ»

موږ هغه څه چې باید وکړو، نه یې کوو؛ که یې کوو هم، ډیر ناوخته یې کوو. ټول هغه څه چې حاکمه ډله اوس کوي، باید دیارلس کاله مخکې یې کړي وای. ښوونه روزنه، د ملي ترمینالوژی د کارولو او ساتلو مسآله، امنیتي تړون او...

په ټولنه او خلکو کې د پوهي سطحه دومره ټیټه ده چې که په یو ځای کې دوه لوحې لیکلي وي، یوه د یوه طبي ډاکتر او بله د فالبین. په دې ډول:

ــ پوهاند دوکتور... متخصص...

ــ آغای جن ګیر، زهر خور و مارګیر، دیدن روی طالع، درد کمر، درد جګر... بې اولادي، بې زني... وغیره.

تجربې ښودلې ده چې تحصیل کړی پوهاند دکتور خپل ډیر وخت په بیکارۍ سره په خپله معاینه خانه کې تیروي، خو آغای جن ګیر ته به د هغو مریضانو لیکه ولاړه وي چې باید همدې ډاکتر ته د تداوي له پاره ورغلي وای.

اوس په دې ټول پوهېږي چې د افغانانو په وجود کې چاړه له غوښې تیره او هډوکو ته رسیدلې ده. اوس خبره دې ته رسیدلې ده چې بهرنیان په ځانمرګو دومره وخت او پیسې نه مصرفوي، هر کور ته یې ځان وژنو ته د چمتو کیدولارښود کتاب لیږلی دی. ما دا مسآله په خپله «زموږ تعلیمي نظام او د جهادي کتابونو لړۍ» نومې مقاله کې له مآخذونو او اسنادو سره وړاندې کړه چې اوس هم په ځینو ویبپاڼو کې ترلاسه کیدای شي. چې یوازې جنت ته د تګ عقیده، او خیال ورسره وي، نور شي ته حاجت نه شته، کتا ب دې ولولي ځان دې وژلو ته چمتو کړي، بس خبره جوړه ده، د هماغې ورځې په پای کې به جنت کې وي. او د پردې شاته د ډرامې اصلي لوبغاړي د خیر پر غونډۍ ناست دي او خاندي.

او دا ټول له نشت یا غلط تعلیمي نظام څخه، ناسمو ټولنیزو اړیکو څخه او د ناقابله او فاسد رژیم د حاکمیت له کبله. د همدې له پاره یې زه بیا تکراروم چې ترڅو دا سیستم، رژیم او پالیسي بدله نه شي همدغه به موحال وي.

# د افغانستان ښوونيز نظام

## جامعة الصالحات، اشرف المدارس

## يا

## د نوي نسل...؟



په افغانستان باندې له جګړې نه د رازيږېدلو سوناميګانو ناوړه او منفي تاثيرات زموږ د ټولنيز ژوند د هرې پاڼې، په هره کرښه کې تر سترګو کيداى شي. دلته خبره د افغانستان په ښوونيز نظام او په دې نظام کې پر شته مرضونو او ستونزو باندې ده. بحث مو د ښوونيز نظام په دايره کې د اشرف المدارس (جامعة الصالحات) په نامه د يوه بل ګل؟ په غوړيدو دى. داسي ګل او داسي مدرسي چې هرڅه د افراطيت او تشدد په خم کې رنګوي.

په اسلام کې د راغلو اصولو له مخې، پرته له شکه چې اسلام د تشدد دين نه دى؛ خو کله چې دين له سياست سره غوټه کړاى شي او له هغه نه سياسي موخو ته د رسيدو له پاره استفاده وشي، نو دين نه د ناوړه استفادې زمينه برابرېږي، چې دا کار له بده مرغه اوس ښه په مزه روان دى او زموږ په هيواد افغانستان کې د ډيرو ډلو پاليسي همداسې ده.

د افغانستان په کندوز ولايت کې د اشرف المدارس (جامعة الصالحات ) په نامه د نجونو ښوونځى يا ديني مدرسه، د ښوونې او روزنې وزارت له اجازې پرته، په جلا پروګرام سره زده کوونکي روزي، سپينه به يې وايو پايله يې بنسټ پالنه او ځانوژنه ده. همدا اوس دا لړۍ د بهرنيو کړيو د اهدافو د ترسره کولو له پاره د خامو موادو د توليد د يوې فابريکې حيثيت لري.

که د دغو ديني مدرسو تاريخ ته که لږه پاملرنه وشي دا هم د بهرنيانو سوغات دى چې په زوره يې مسلمانان او بيا په ځانګړې ډول افغانان ورپورې وهلي دي، داسې يې ورپورې وهلي دي چې استماليدونکي يې په ښه سترګه ورته ګوري او حتی ثواب يې ګڼي او په دې ډول ځان، خلک او هيواد د بربادۍ کندې ته ورپورې وهي.

يو نظر داسي دی چي د دغو ديني مدرسو ريښي د هندوستان له ديوبند نه راپيل کېږي، چي دا هم د بهرنيانو يعني انګريزانو سوغات دی. اوس چي د هرځانمرګي ريښه تعقيب شي، سر يې مدرسي ته رسېږي او دا ټول د مدرسي توليدات دي. دغه مدرسي څه ډول رامنځ ته شوې؟

د انګريزاونو په مقابل کې د هند د خلکو د آزادئ غوښتنو د مبارزو په لړ کي له ۱۸۵۷م کال نه تر ۱۸۶۷م کال پوري په هند کې مسلمانان د انګريزانو له خوا دومره وځپل شول چي قتل عام يي کړل او له جوماتونو نه يي نظامي بارکونه جوړکړل، چي د ډهلي جامع جومات هم په کې شامل و. همدا وخت د هند مسلمانان ډير ضعيف شول او په دوو ډلو وويشل شول.

دوارو ډلو زدکړې ته مخه کړه. لومړنی ډلي د عليګړ پوهنتون بنسټ کيښود، دويمي ډلي د ديوبند مدرسي بنياد پيل کړ. ديوبنديانو په افراطي ډول وپتيله چي نوي نسل ته داسي مذهبي زدکړې وښيي چي د غربي او هندو رسم و رواج څخه پاک وي.(۱)

د وخت په تيريدو سره د تشدد په لمن کي د دغو مدرسو دايره دومره پراخه شوه چي په سيمه کي په يوه لوی قوت باندې تبديله شوه. بيا وروسته انګريزانو، امريکايانو اوعربانو په دې موخه مرستې ته ور ودانګل چي د همدې مدرسه اي افکارو له خاوندانو نه د کفر د راپرزولو په نامه د خپلو اهدافو د ترسره کولو له پاره استفاده وکړي چي هغه د شوروي په نامه د يوه قوت په ګوندو کول و.

او دا دی اوس حالات داسي بدل شوي چي په سيمه او جهان کي ځيني سياسي ـ نظامي کړی خپلو اهدافو ته د رسيدو په غرض همدا ـ امريکا او اروپا تقويه کړي – مدرسه والا بيرته د دوی (امريکا، اروپا) پرضد استعمالوي او د استعمال ميدان يې ورته بې صاحبه افغانستان ټاکلی دی. اوس د دې اور لمبې دومره مرګوني شوې دي چي دا دی ټوله نړۍ ورنه په ويره کي ده.

زموږ په هيواد افغانستان کې، زموږ د اولس د بيسوادۍ او ناپوهۍ نه په استفادې سره د همدې مدرسو ځپې د نوي ټوپکي نظام په راتګ سره، د ديني تعليماتو په نامه، دومره ډيرې شوې دي چې د افغانستان راتلونکو نسلونو ته د يو لوی خطر بنه لري. د دې زمينه چا برابره کړه؟

دا د امريکايي او غربي ديموکراسی ترچتر لاندې، د اسلامي دولت په دايره کې د بربادۍ هغه پروګرام دی چي له ديارلس کلونو را په دې خوا پيل شوی دی. اوس يې کنترول د دولت؟ له واکه هم وتلي دی، پرې خبر هم نه وي چي چيرې او څه وخت او څوک داسي مدرسي جوړوي. بڼه مثال يې په کندوزکي «جامعة الصالحات» نومي مدرسه ده.

**اوس دلته دا پوښتني مطرح کيږي چي:**

**ـ ولې يې جوړه کړه؟**

**ـ چا د څه له پاره جوړه کړ؟**

**ـ څوک يې تمويلوي؟**

**ـ مسوليت يې د چا پرغاړه دی؟**

**ـ پايلې يې څه دي؟**

**ـ له دې مدرسي خلاصيدونکي چيرې جذبېږي او څه کوي د کارساحه يې کومه ده ؟**

دا او دې ته ورته نورې داسي پوښتني چې زموږ په وطن کې د نوي نسل د روزنې په برخه کې د جدي پاملرنې او پوښتنې وړ دي.

څو ورځې کېږي چې په میډیا کې په کندوز ولایت کې د یوې خپلسرې مدرسې د رامنځته کېدو او پروګرامونو، هلته تلونکو زده کوونکو، درسي موادو، څه حلال او څه حرام ګڼلو او یو لړ نورو هغو خبرو باندې بحثونه او تبصرې رواني دي چې په رښتیا هم زموږ د وطن د نوي نسل په آبادۍ او بربادۍ کې د پاملرنې وړ رول لوبولای شي.

ما په خپلو مقالو او لکچرونوکې په تکرار سره ویلي دي: تر هغه ځایه چې زه په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه دباندې د افغان ماشومانو په ښوونه او روزنه باندې خبر یم، د دې ښوونې او روزنې منفي اړخونه، تر مثبتو دا ډیر دي، په تیره په افغانستان کې دننه. د همدې دلیل له مخې ما ټینګار کړی دی او ټینګار کوم چې زموږ ښوونه او روزنه معیوبه ده، باید سمه او جدي پاملرنه ورته وشي.

ډیر خلک ښایي ووایي چې:

ښه کاکا یا ښه صاحبه! دغه ستونزې خو شته، موږ یې هم وینو، د دې د حل له پاره کومه لارښوولای شې که نه؟ څ ولارې زموږ په مخ کې پرتې دي، پرکومه لار باندې ولاړ شو چې له دې جنجالونو او ستونزو نه خلاص شو؟

زه خپله ځکه ځواب ورته لرم چې ما په خپلو ټولو هغو مقالو او بحثونو کې دې ستونزو ته د حللارې پیدا کول په نښه کړي دي چې ما د نوي نسل د ښوونې او روزنې په برخه کې لیکلي دي او اوس هم په ویبپاڼو کې پرتې دي. د دې مقاولو سرلیک دي:

«پردی چاپیریال او د مهاجرو کوچنیانو او ځوانانود زدکړې مسأله» چې اوه برخې یې خپرې شوې دي او اوس هم د افغان جرمن او ټول افغان په ویبپاڼوکې زما په نامه (آصف بهاند) په بیل کړای شویو آرشیفونو کې پرتې دي.

بله مقاله چې ما پر همدې ستونزو بحث ورباندې کړی دی هغه «زموږتعلیمي نظام اود جهادي کتابونولړۍ » نومبړې چې د۲۰۱۳ کال د پنځمي میاشتې په نیمای کې چاپ شوه (۲)

پردې موضوع باندې چې د نوي نسل او نوي افغانستان له پاره ډیره جدي ده، له نورالبشرنوید(۳) او آصف بهاند نه پرته، بل هیڅ چا غوږ ونه ګراوه.

«د جهاد کتاب» داسي ترتیب شوی چې نوی نسل د بربادی یعني انتحار له پاره باید داسي آماده شي چې مصرف او وخت ورباندې ضایع نه شي، کتاب یې چې ولوست، په هرځای کې چې وي، ځان الوزلو ته چمتو کوي او په اصطلاح جنت ته د تګ لاره ورته پرانستل کېږي، ماشوم د جهاد په کتاب پسې لیواله ګرځي چې وېلولي، ځان والوزوي او ژر ځان جنت ته ورسوي.

چې د دې پروګرام چلونکو به څومره کوچنیان، ځوانان او خلک تباه کړي وي، څوک نه پوهېږي؛ او اوس دا دی د هغې ډرامې بله برخه ستیژ ته راوړل شوه: (جامعة الصالحات).

پخوا به د ښوونې روزنې لارویانو او ځینو سیاسي اشخاصو د حل لاره دا ګڼله چې انتحاریان له پاکستان څخه رالېږل کېږي، په پاکستان کې باید دیني مدرسې وتړل شي، اوس دا دی نه یوازې هغه مدرسې و نه تړل شوې او لکه د لړم بچې هره ورځ یې زېږوي او رالېږي یې، بلکې له رواني دیموکراسی نه په استفادې سره ستاسو په خپل کور کلي او ښار کې یې همدغه مدرسه داسي درته جوړه کړه چې عام خلک خو لا څه کوې چې په خپله دولت له استخباراتو سره ـ سره ورباندې خبر نه دی او داسي یې وده کړې چې یوازې په کندوزکې په یوه مدرسه کې شپږ زره نجونې ور رواني دي.

د اشرف المدارس خبر د لومړي ځل له پاره ما په بي بي سي کې په انځوریزه بڼه ولید (۴) او په رښتیا ورته حیران شوم چې: یا پاکه ربه په دې وطن کې څه روان دي او پایله به یې څه وي. وروسته له هغه بیا هم په بي بي سي فارسی کې په لیکلې بڼه د اشرف المدارس په باب مالومات راغی (۵) او بیا له کابل نه خپریدونکي«هشت صبح» (۶) ورځپاڼي د بي بي سي په حواله له خپلو تبصرو سره خپور کړ، چې لنډیز یې داسې دی:

«داشرف المدارس په نامه مدرسه څلور کاله مخکې په کندوز کې د مولوي عبدالخالق او مفتي سراج الدین په نامه د دې ولایت د با نفوذه ملایانو له خوا جوړه شوې ده او اوس شپږ زره نجوني په هغه کې درس وایي. د دین او سیاست ګډوله کومه ښوونه او روزنه چې د کندوز په اشرف المدارس مدرسه کې روانه ده، د افغانستان له فرهنګ او په افغانستان کې له رایجو دودونو سره په مغایرت کې ده. په دې ښوونه او روزنه کې زده کوونکو ته ویل کېږي چې د رادیو اوریدل، د تلویزیون لیدل، عکس اخستل حرام دي؛ د ځینو ورځو لکه: د مور ورځ، د ښوونکي ورځ، د نوی کال ورځ، د زیږیدو ورځ او له کوره د باندې د ښځو کار کول حرام دي. اشرف المدارس د اوس له پاره په کندوز، تخار او بغلان کې څانګې لري. چلونکي یې په نظر کې لري چې ورته مدرسې د افغانستان په نورو نهو ولایتونو کې پرانیزي.

هغه زده کوونکي چې د دې مدرسې له نظامي ډوله اصولو سرغړونه وکړي، تنبه کېږي. په تعلیمي نصاب کې د شاملو مضامینو اصلي مآخذونه او سرچینې هغه کتابونه یاد شوي دي چې یوازې د مرګ زیری ورکوي او د انسان وجود له ډاره سره نښلوي. د ځینو نومونه یې دا دي:

ـ د قبرعذاب،

ـ د مرګ منظر،

ـ د بهشت ګانه،

او... (۷)

پاسني یاد کتابونه په زرګوني ځلې زموږ د خلکو د تیرایستلو او له ژوند څخه د منحرفولو او ډارولو له پاره په ګاونډیو هیوادونو کې یا په عمدي ډول او یا په تجارتي بڼه چاپ شوي او افغانستان ته راوړل شوي دي. د آخرت د ښه کیدو په نیت او د ثوا ب د ګټلو په نامه څومره چې خرڅ شوي هغه خرڅ شوي، نور بیا وړیا هم ویشل شوي دي. ما په خپله یې په کابل کې په بیلابیلو سایزونو، بیلابیل چاپونه لیدلي دي، خو وروسته له نولس سوه دوه نویم (۱۹۹۲) کال نه دا لړۍ نوره هم تنده شوه او د دې کتابونو او دې ته ورته نورو کتابونو بازار تود شو.

د دې مدرسې مسولین په دې ویاړي چې زده کوونکي خپلې ګانې خرڅوي او پیسې یې ښوونځي ته ورکوي. مدني فعالانو او د دولتي ښوونځیو زده کوونکو بي بي سي ته ویلي دي چې د دې مدرسې زده کوونکي له نورو خلکو سره په چلند کې یوازې لاندې دوې جملې تکراروي:

ـ ته کافرشوی،

ـ دا حرام دي. (۵)

د بي بي سي د رپوټ له مخې په افغانستان کې ۱۳۰۰ نا ثبت شوې دیني مدرسې فعالې دي چې دولت وربانديې کنټرول نه لري (۴) ټول هغه شاګردان چې په دې مدرسې یا دې ته ورته نوروهغومدرسوکې د دغسې درسي نصاب په دایره کې د زدکړو له پاره ناست دي، د دوی په غوږونو کې څه شی ورپوف کېږي. دا هغه څه دي چې په عمدي ډول د بهرنیانو له خوا زموږ د نوي نسل او په نږدې راتلونکې کې د ټولو افغانانو او ټول افغانستان د بربادۍ د بنسټ د ډبرې حثیت لري ، او دښمن داسې هوښیار دی چې لکه د لستوڼي مار په خپل کور کاله کې او د دین

په جامه کې خپل هدف داسې پرمخ بيايي چې زموږ ځيني خلک يې د ديني خدمت په نامه هرکلی کوي، جامې (حجاب) يې د خپل کلتور په نامه مني او وياړ پرې کوي او په دفاعيه کې يې نيغ ولاړ هم وي.

کله چې دغه زده کوونکي له دې مدرسې څخه فارغ شي، نو مسولين يې په وياړ سره خپلو کلو او ښارونو ته لېږي . د هغو اهداف مالوم دي چې زموږ د خلکو، په تيره نوي نسل بربادي ده، که يې مخه ونه نيول شي نو...

د دې کار پايلې به ډيرې منفي او تباه کوونکې وي. داسې تباه کوونکې څپې لري لکه سونامي چې په اندونيزيا او جاپان باندې راغله، هغوی خو به يې په خپل پياوړي اقتصاد بيرته ورغوي، خو که زموږ په خلکو او په تيره نوي نسل کې که دا مرض بيخي عام شو، بيا ورنه خلاصېدل مشکل نه، بلکې نا ممکن کار دی. د افراطيت په دغه مرض باندې زموږ د نوي نسل اخته کېدل زه يوه تباه کوونکې سونامي بولم. هيله ده په هره بڼه چې کېږي، مخه يې ونيول شي.

زه د افغانستان د ښووني او روزنې په برخه کې ځان مسؤل ګنم او د دې برخې د يو مسؤل په توګه په زغرده وايم چې د وطن، خلکو او ښوونيز نظام د لا نه فاسديدو او لا نه بربادیدو په خاطر بايد خپل غږ اوچت کړم او ووايم چې: د ټولنيز ژوند په هيڅ برخه کې افراطيت ښه نه دی، په تيره د نوي نسل په ښوونه او روزنه کې. هيله ده چې نور بادرده فرهنګيان، سياسيون او په ځانګړي ډول د ښووني او روزنې د ډګر مسولين په هر ممکن ډول چې وي، زما د غږ ملتيا وکړي، څو د دغه افراط مخه ونيول شي.

موږ افغانانو د ژوند په هره برخه کې دومره افراط کړی دی چې اوس کار له کاره تير دی، هر څه مو بد نامه کړي دي. موږ د خپلې ژبې حتی توري بد نامه کړي دي: رفيق، ملګری، برادر، ورور، انډيوال، بريت، ږيره، خولی، پکول، انقلاب او...

د همدې دليل پراساس زه د خود سانسورۍ په دايره کې د «مترقي ښوونې او روزنې» توري نه شم کارولی. که زه ووايم چې مترقي ښوونه او روزنه، منظور به دا وي چې هغه ښوونه او روزنه چې په ورځني ژوند کې، په پرمختګ کې، له نورې دنيا سره د تمدن په کاروان کې د يوځای کيدو او سيال کيدو کې په درد وخوري. که مې دا وويل، سمدلاسه کمونست او سور کافر ګڼل کېږم او سرمې هم د وهلو دی.

دا ښکاره خبره ده چې هيڅ مسلمان د اسلام د پيروۍ او د اسلام د زدکړې مخالف نه دی، خو د ديني تعليماتو ترنامه لاندې دا ډول افراطيت چې د دښمن د پروګرامونو له پلې کولوسره مرسته کوي، نوی نسل او وطن بربادوي، زه يې په کلکه مخالف يم. د ديني مدرسو داسې پروګرامونه چې انسان دې له ټول ژوند نه لاس پرسر شي، دا هم سم نه دي. ديندارې به کو، خو نه داسې چې زموږ ديندارې زموږ د ځان او وطن د بربادۍ په بيه تمام شي.

په بی بی سی کې د دې مدرسې د عکسونو او ګزارش په خپريدو سره دا موضوع د ډيرو قلموالو د پام وړ وګرځيده، هشت صبح د بي بي سي د خپرو شوو اسناد پر بنسټ خپله سياسي مسأله ورسره ګډه کړه او دا يې د آی اس ای کار وباله چې تر ډيره حده له امکانه لرې نه ده.

يو زيات شمر زړه سواندو قلموالو په بيلابيلو آدرسونو کې خپل غږ اوچت کړ. له هغې ډلې نه پياوړي او پرکاره مورخ، اکاديمسين کانديد اعظم سيستاني، ډاکترعبدالله کاظم، ملالۍ موسی نظام په افغان جرمن ويبپانه کې، په ډير زړه سوي سره دا د ښځو د حقونو تر پښو لاندې کول وګڼل. له دې سره ـ سره چې زه د يادو ښاغلو او آغلوله خبرو سره موافق يم، خو زما له پاره دا مسأله د ښځو د حقونو تر پښو لاندې کيدو نه ورآخوا بله لويه مسآله هم ده. دا د يو وطن د ښوونيز نظام فاسديدل او بربادېدل دي. د داسې مدرسو جوړول چې په خلکو کې په ځانګړي

ډول په ځوانانو کې د افراطیت تباه کونکي تخم شیندي، چې هر چا کړی وي، که خپل وي که پردي، دا زه د افغانستان د ښوونې او روزنې په کرونده کې د یوه زهرجن تباه کونکي بوټي کرل او وده ګڼم.

قلموال کومه اجرایه قوا په لاس کې نه لري چې پرخلاف یې څه وکړي. ټول هغه سیاسیون او اداري مسولین (په تیره د معارف وزارت) چې اوس عملاً د کارونو واګې په لاس کې لري، باید د دې پروسې د درولو له پاره عملي اقدام وکړي.

البته دا مدرسه ځینې مدافعین هم لري چې د دې مدرسې درسونه او د دغو شاګردانو د جامو آغوستل خپل کلتور ګڼي. ښاغلي مدافع په یوه مقاله کې د بي بي سي دا کار تیروتنه بللې ده او ویلي یې دي چې ولې یې د دې ښاغلي کلتور؟ ته په بده سترګه کتلي دي (۸) زه د دې ښاغلي (ک.رنځور، چې په اغلب ګومان مستعار نوم به وي) د مقالې او دفاعیې په برخه کې څه نه وایم چې خبره اوږده نه شي، یوازې په ډیرې عاجزی سره عرض ورته کوم چې زه نه د بي بي سي کارکونکی یم او نه دفاع ورنه کوم، یوازینی مقصد مې دا دی چې نور زموږ هیوادوال له افراطیت نه راواړول شي، نور زموږ نوی نسل د افراطیت او تشدد د لارې لارویان نه شي. بیا زه دې ښاغلي ته د کلتور په باب یوه لنډه یادونه کوم او د کلتور د ښې پیژندنې له پاره یو مآخذ ورته ښیم، ځکه چې دی کلتور یوازې په جامو او عقایدو پورې راخلاصه کوي.

د کلتور یا فرهنګ یو تت شانتې انځور داسې ښوولای شو:

د انسان د پیدایښت له پیل نه تر نن پورې، د ژوند په ټولو مادي او معنوي برخو کې د بشریت لاس ته راوړنو ته کلتور ویل کېږي، چې د نړۍ او ژوند د پیژندنې په برخه کې کارول کېږي. زه دې ښاغلي نه هیله کوم چې د کلتور د سمې پیژندنې له پاره د«کلتورپوهنه» ترسرلیک لاندې اثرحتماً ولولي. (۹)

بیا هم وایم چې زه نه له بي بي سي دفاع کوم او نه بل کوم مقصد لرم، زما پرداسې خلکو زړه سوځي چې دا جامې خپل کلتور ګڼي، دغه کلتور له کومه راغی؟ دغسې کالي چې څوک یې خپل کلتور او اسلامي حجا ب بولې، داسې چې یو خوځنده موجود اوه، اته متره ټوټه پر سر اچولې وي،



هیڅ ځای یې نه ښکارېږي، څوک څه پوهېږي چې تردې پردې لاندې دا متحرک موجود څوک دی؟ دا خپل دی که پردی؟ دوست دی که دښمن؟ نارینه دی که ښځینه؟ کورنی دی که بهرنی؟ په داسې حال کې چې په همدې روانه ورانونکې جګړه کې یو وار نه، دوه وارې هم نه، بلکې

په لسهاوو ځلي تر ښځينه جامو او په اصطلاح اسلامي حجاب لاندې نارينه ګان او بهرنيان د عامو خلکو د وژنې او زمور د وطن د ورانولو له پاره رالېږل شوي دي. د جګړې دا ناروا ډرامه به ترڅه وخته روانه وي او د اسلام د دفاع په نامه به د بهرنيانو له شومو اهدافو نه افغانان قربانېږي؟

هغه ښاغلي چې دا ډول کلتورغواړي، بايد په دې پوه شي چې دغه ډول کالي او حجاب نه اسلامي کلتور دی او نه د افغانانو رواج سره اړخ لګوي. داسې حجاب يا کالي چې د يو انسان هيڅ ځای دې ښکاره نه شي، هغه وخت د بهرنيانو له خوا زمور پر ټولنې باندې وتپل شول چې خپل جاسوسان يې په کې پټول. يعنې دا حجاب او دا ډول کالي زمور نه، بلکې وارداتي کلتور دی. د لومړي ځل له پاره له ۱۸۳۹م کال نه وروسته انګريزانو د هغو کسانو له پاره جوړ او ور واغوستل چې د عامو وګړو له منځه يې د دوی له پاره جاسوسي کوله. د دې له پاره چې هغه جاسوس و نه پيژندل شي، نو بوقري يا همداسې حجابونه به يې اغوستل (۱۰)

هغه څوک چې دغسې حجاب خپل کلتور ګڼي او دفاع ورنه کوي، د دغو کړښو له لوستلو نه وروسته که په کور کې قرآن شريف لري، پاک الله دې حاضر او حضور وګڼي او په مقدس قرآن دې لاس کېږدي او ودې وايي چې د ده په کور، کلي او مالت کې او په خاص ډول د ده د پلار په کور کې د ده مور چې دی ورنه پيدا دی او د لوموړي ځل له پاره يې سترګي په همدې مقدس او پاک موجود (د ده مور) لګيدلي دي، د هغې همداسې جامې په تن وې او هيڅ ځای يې نه ښکاريده؟

د دغسې کلتور او افراطيت نه دفاع کول او د افراطي افکارو پلوي کول او د هغو دودول، اسلام ته، انسان ته، افغان ته، افغانستان ته، کلتور ته او جهان ته جفا او خيانت نه دی؟ تر څو پورې به د نورو ډولونو ته ښې اړوو او روا ناروا پروګرامونه به يې د خپلو هيواد والو او د خپل وطن د بربادی په بيه تطبيقوو. د خدای پار دی له دې کاروانو لاس واخلئ، خپل کور، کلی وطن او عقيده مه خرابوئ!

په څو نورو مقالو کې ما د حل لارې له پاره د نورو لازمو شيانو تر څنګه د نظام بدليدل غوښتي وو. دا افراطيت له همدې ټوپکي حکومت سره راغلی دی، اوس خپل اوج ته رسيدلی دی، دغه شان مدرسې يې زمور ټولنې ته يوه له زهرو ډکه ډالی ده، ټولنه او خلک يې تباه کړي دي، د هرې ستونزې لکی همدې ته رسېږي؛ ځکه نو زه د نظام د بدلون وړانديز بيا تکراروم، په تيره په افغانستان کې ښووونيز او روزنيز نظام بايد بدل شي، له سره جوړ شي، داسې جوړ شي چې د نوې نړۍ د پرمختګ د کاروان ټول اړين مسايل يې په لمن کې موجود وي.

**مآخذونه:**


۱-کريستيانا ليمب،دافغانستان يادښتونه،ژباړن:محمدزبيرشفيقى،ميوندخپرندويه ټولنه،۱۳۸۳ کال،۱۱۳-۱۱۲ مخونه.

2http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_as_zemonj_talimi_nezam_ao_jehadi_ketaboona.pdf_

3_ http:/www.bbc.co.uk/Pashto/interactivity/3512/50/125013_ss-nawed-jihad-book.shtml

-4http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2014/03/140301_k02-kunduz-madrasa-photo.shtml

-5 http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2014/02/140228_k05_fundamentalism_girl_are_growing.shtml

-6http://8am.af/1392/12/12/denger-ashraf-almadares-rigid/

-7http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2014/03/140301_k02-kunduz-madrasa-photo.shtml

-8http://tolafghan.com/posts/28951

٩- (کلتور پوهنه، لیکوال: ب، ی، کانونینکه اوم . ګ بلدریوا، ژباړه دوکتور لطیف بهاند، د ۲۰۰۰م کال چاپ، ناشر: د افغانستان علمي تحقیقاتي مرکز،)

١٠- نعیمي محمد ابراهیم، او لاګلونه سوځي، چاپ ځای: دانش خپرندویه ټولنه،۲۰۱۲م کال،۲۲۲مخ

دا پاسنۍ مقاله ما په هغه وخت (۲۰۱۴/۰۳/۱۰) کې په ځو پتو کې خپره کړه چې یو په کې د «ټاند» ویبپاڼه وه. ټاند د هرې مقالې په پای کې د خلکو د نظریاتو له پاره د کامنتونو برخه هم لري. ما ته هم د دې مقالې په پای کې ځو نظرونه ابښودل شوي و او بیا ما هم خپل ځواب ولیکه. زه یې ټول نظریات او په پای کې خپل ځواب هم دلته را اخلم:

1. KamawalMarch 9, 2014په 08:16 تبصره:

اشرف المدارس تر (ستاره افغان) زر ځله غوره دی

اشرف المدارس تر (صدای افغانستان) سل ځله بهتره ده

اشرف المدارس همدا ستا او زما تر بیسواده کورنیو لس ځله غوره ده. تر اوسه دي اویا فیصده ښځې الف ب نه پیژني، بیا د غرب دول ته مست شوي او پدې توګه د علم د ترویج مخه نیسي؟ بس کړی.

که غربیان فحاشۍ پرانیزي او تاسو خوله پرې پټه ساتئ، پدې اړه چې ټولنه د علم او رڼایی خواته ځي، غندنه خو مه کوئ.

2. دکتور بصیرت شیرزاد March 9, 2014په 09:28 تبصره :

دیني مدرسي د افراطیت او تشدد ځاي نه پلکه دربیتوني اسلام دخپرولو ځایونه دي بهاند صاحب ! داللہ تعالی ښخه وویریږه اوداللہ دحقیقي دوستانو پرخلاف لیکني مه کوه دهغه کسانو پرخلاف چي شپه اوورځ يي پي له کومو مادي امتیازاتو دخپل متدين اولس په مالي همکارۍ ددین خدمت ته ملاترلي ده او زمونږخویندو ته يي داسلامي حجاب په چوکاټ کي دهند دستري علمي مدرسي دارالعلوم دیوبند په طرز اوطریقه د زده کړي زمینه برابره کړي .اوداسلام ددښمنانو دشومو اهدافو اوپلانونو ښخه چي دمسلمانوښځو بي حجابه کول او دیومخلوط تعلیمي نظام له لاري دهغوي بي دینه کول دي خپلي مسلماني خویندي ژغوري . دلیکني دمحتویااتو ښخه داسي معلومیږي چي یا خو پخپله دمارکس ،لینن او ستالین ګوډاکي يي او یا دمسیحیت اودیموکراسي حلقه بګوش اودین فروش غلام .هیله ده چي زمالیکني دربانديي سختي تمامي نشي

مونږ له تاخخه ډیر پخپل وطن او دین مېین یو اودهمدي مقصد لپاره مو یونیم میلیون شهیدان ورکړي او په میلونونو معیوبین . دبي بي سي شیطاني راډیو اونوردین اووطن پلورونکي څيري یوه حقیقي دیني مدرسه نشي زغملاي .که دداسي دیني مدرسي پرخلاف کوم عکس العمل ترسره شي نو بیابه په دي وطن کي دکنړي سیند په څيروینی وبهیږي چي په نتیجه کي به یي بیاټول مسئولیت ستاسي په شان ددین اووطن پلورونکو پرغاړه وي . دیو ازاد ،خپلواک، اسلامي افغانستان په هیله .

پوهندوی آصف بهاند March 9, 2014په 16:30 تبصره :

ښاغلی کامه وال صاحب! تاسو ته له ټول احترام سره باید عرض وکړم چې:

د «ستاره افغان» او«صدای افغانستان» مسؤل زه او زما د کورنۍ کوم بل غړی نه دی چې د ښیګڼي یا بد ګڼي غږ يې زه واورم.

ستا له کورنۍ نه زه خبر نه یم چې با سواده ده که بېسواده ده، خو ستا په پلار او مور دې رحمت شي چې تا ته یې لیک لوست در زده کړی دی. ستا د معلوماتو د زیات والي له پاره باید عرض وکړم چې:

زما په کورنۍ کې حتی پنځه کلن ماشوم هم بېسواده نه دی.

دوه تنه (شریف بهاند، لطیف بهاند) د پي اِچ ډي تر پورې پورې زدکړې کړي دي، زه خپله او د کورنۍ څو تنه نور غړي مې د ماسترۍ ډګري لرو، نور ټول یا لیسانس لري یا حد اقل د لیسې د فراغت سند لري.

که ځان ستاینه کبرږي هم ودې شي، د ټول افغانستان، ټولې کورنۍ ولټوه چې په یوه وخت کې د یوه مور او پلار دري اولادونه (ستر افغان اقتصاد پوه شریف بهاند د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد او د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی، لیکوال، ژباړن، شاعر، ژورنالست، منتقد لطیف بهاند د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي استاد، آصف بهاند د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي استاد) د پوهنتون استادان پیدا کولای شئ؟

په ټینګار سره یې تکراروم چې د اشرف المدارس د درسي پروګرام لار د علم نه، بلکې د تیارې لارده. که دغې مدرسې ته له دغو شپږ زره تلونکو نجونو نه یوازې شپېته نجونې د نرس قابله ګۍ کورسونه ویلی وای، د کندوز په هرکلي کې به یوه نرس قابله موجوده وای.

زه د غرب دول ته مست نه یم، زه د غرب ترقي او پرمختګ ته په لېدو سره د خپل وطن د اولادونو په تیارو کې د پاتې کېدو په اور کې سوځم. په دغه کمپیوتر چې ته لیکل کوې او کوم موبایل نه چې استفاده کوې، دغه هم د غربیانو اختراع او تولید دی.

**زه یي چا لـره وهم قدر یي چا زده**
**پــه اور وسېـځه دا توري قلمونـه**

که ځانستاینه او ښیرا هم کبرږي، ودې شي او لالاکان دې ما وبښي، دا خپل یو بیت به هم ور اضافه کړم:

پـښتنو یي قــدر نــه زده خــدایه څه کړم
رب دې وچ کړي دا بهاند، بهاند سیندونه

## برازیلۍ او کابلۍ:




دا د دوو بيلابيلو هيوادونو نجوني دي، يوه افغانه ده، دا بله برازيلۍ ده. برازيلۍ هم ژاړي او کابلۍ هم اوښکي تويوي. دوی دواړه په رښتيا د زړه له کومې ژاړي، ژړاوې يې د تمثيل له مخې نه دي. د دوی زړونه درديدلي، ځکه يې له سترګو نه د اوښکو اميل شليدلی او مخ ښکته روان دی.

د دوی د هيوادونو  مشرانو هم ځو کاله پخوا دوی ته ورته اوښکې تويې کړې وې.

د ارجنتاينی رييس جمهور په کوپنهاګن کې ځکه اوښکي تويې کړې چې له نورو هيوادونو نه يې د ۲۰۱۴ کال د فوتبال د سياليو کوربه توب وګاټه. هغه په دې پوهيده چې په دې کوربه توب سره د ده هيواد ځومره آباديږي، ځومره پيسې ورته راځي او ځومره په ښو سره يادېږي. د افغاني نجلی رييس جمهور هم پر يوه ستيژ باندې د ګڼو خلکو مخکې اوښکې تويې کړې، د څه شي له پاره...؟

د برازيلۍ او کابلۍ په منځ کې لوی، لوی توپيرونه شته دی، خو ژړاوې يې سره ورته او له يوه آدرسه دي. دا ژړاوې يو شانته دي، نجوني هم تقريباً يو شانته او د يوه عمر خاوندانې دي او له خپلو سره ورته سترګو نه، سره ورته اوښکې تويوي.

بل لوی ورته والی يې دا دی چې دوی دواړه د توپ له لاسه ژاړي او دواړه د خپلو زلميو هيواد والو له لاسه ژاړي، خو توپير يې په دې کې دی چې دا يوه نجلۍ د دې له پاره ژاړي چې ولې يې وطنوال زلمی توپ سم او رسا نه ولې؟ دا ارجنتاينی ده.

دا بله بيا بر عکس د دې له پاره ژاړي چې ولې يې وطنوال زلمی توپ سم او رسا ولې او داسې يې ولې چې نه سمه ګوري نه غر، نه ژوندی پيژنی نه مړی، داسې توپ ولې چې هرڅه له

مخي ایسته کوي او بربادوي یي، داسي سم او رسا یي ولي چي ستن نه ورنه خطا کېږي. دا افغانه کابلی ده.

هوکي! برازیلی او کابلی دواړه د خپل وطن او خلکو له پاره ژاړي.

برازیلی د دې له پاره چي وطنوال زلمي یې نښه خطا کړې، ولي یې توپ خطا شو، ولي په نښه ونه لګید، د وطن زلمي و نه شو کړای چي خپل وطن او خلک سرلوړي کړي.

او کابلی د دې له پاره اوښکي تویوي چي د دې د وطنوال زلمی هیڅ نښه نه خطا کوي. دا پنځه دیرش کاله وشول چي د ده ټول وار کړی توپونه په نښه لګېږي. د کابلی له سترګو نه د اوښکو امیل شلیدلی او مخ ښکته روان دی چي د وطنوال زلمي د توپ د هر وار مزد یې د دې وطن او وطنوالو ته له اوښکو سره، بربادي، تباهي او سر ټیټوالی مخ کې ږدي.

دواړه پیغلي ژاړي او د خپلو ژړاوو په څپو کې خدای ته عرضونه کوي، خو دا عرضونه زښته ډیر واټن او توپیر سره لري. یوه نجلی د توپ د ویشتلو د نه خطا کیدو عرض او دعا کوي او دا بله نجلی د توپ د ویشتلو د خطا کیدو له پاره پاس د خدای در بار ته لاسونه لپه کړي دي.

برازیلی نجلی دعا کوي چي خدایه زما زلمي هیوادوال ته نور هم توان ورکړې چي سم توپ وولي، خپله نښه وولي، چي وطن او خلکو ته مي ویاړ ور په برخه شي.

کابلی افغانه نجلی د دې له پاره په ژړا ـ ژړا دعا کوي چي خدایه زما د زلمي وطنوال نښه یا په ټپه ودروي اوکه یې نه دروې نو خطا خو یې کړه! چي نور زموږ خلک مړه نه شي، وطن وران نه شي او هیوادوال مو دنیا والو ته سر زوړندي نه شي.

څنګه چي د برازیلي او کابلی په دعا ګانو کي توپیر شته دی، دغسي د برازیلي او کابلي د ځوانانو په توپونو کي هم توپیر دی.

د برازیلي ځوان توپ چرمي دی او له هوا ډک دی،

خو د افغان زلمي توپ له فولادو جوړ او له وژونکو مرمیو نه ډک دی.

**عقل دې وي همدومره،**

**توپیر دې وي همدومره.**

## نظیره رسولي:

### یوه بریا، یوه مبارکي

### او څو کامنټونه



د ۲۰۱۷ کال د دسمبر په شلمه نیټه، د سواد او لوړو زدکړو په ریښتیني مانا، د وطن یوې پیغلې د خپلې بریا زیری په دې تورو سره په خپله فیسبوک پاڼه کې ولیکه:

«په ژوند کې مو د هر ګام پورته کول خپلو موخو ته تر پخوا ډېر نږدې کوي، موږ هم د ژوند ډګر کې یو بل ګام پورته کړ، ستونزې، خوښۍ او خفګان مو یو ځای سره تېر کړل.

مننه!

مننه له هغو ټولو لاربښوونکو نه چې په دې څلورو کلونو کې يې موږ ته په رښتينولۍ سره لاربښوونه وکړه.

ټولګيوالو ته مې د لويو غرونو په څېر، د اسمان د ستورو په شمېر برياوې غواړم.»

په کامنټ کې هم له دود سره سم:

د مبارک شه!،

بريا درته غواړم!،

او...

توري وليکل شول، خو د خپلې لويې کورنۍ، د لوڼو زدکړو درلودونکې يوې غړې داسې جملې هم ورته وليکلې:

«ګرانۍ! نن چې ته د فراغت په جامو کې راننوتې، ما ته هغه ټولې ستا ستونزې، ستا خوارۍ، ستا بې خوبۍ، او ستا... هر هغه څه چې پر تا تير شوي وو، يو ــ يو زما له نظر نه، ستا قدمو سره تيريدل. تا د خوښۍ احساس درلود او له خپلو همزولو سره د سټيژ پر لوري روانه وې، خو زما له سترګو دانه، دانه اوښکې را تويې شوې، هر څه مې چې کول، نه مې شوای درولی؛ خو بيا هم را تويدلې.

هر څه تير شول، هره ستونزه تا تر پښو لاندې کړه او بريا ته ورسيدې.

اوس نو د زړه له تله درته مبارکي وايم او غبرګ کې دې کلکه نيسم او په وار، وار سره درته وايم چې:

مبارک دې شه!

مبارک دې شه!

هره تياره پای لري❤️♥❤️♥❤️♥❤️♥❤️.»

دا زما او زما د لويې کورنۍ د دريم نسل يوه غړې ده، د خور لور مې ده، نظيره رسولي نومېږي د ميدانښار د لرو کلو له تيارو راوتلې او د جهل له چاپيريال څخه يې د پوهې د رڼايي پر لوري نه ستړې کيدونکې منډې کړې دي. د منډو او زحمتونو پايله يې له پوهنتونه د ليسانس ډګرۍ تر لاسه کول او په رښتيني توګه د قلم چلول دي. دا په تخليقي ادبياتو کې د لنډو کيسو ليکواله ده او د نورو ليکنو تر څنګه يې څو لنډې کيسې هم خپرې کړې دي.

د فيسبوک په پاڼه کې مې د دې د بريا د خبر په لوستلو سره په کامنټ کې دا څو جملې ورته وليکلې:

«فراغت او بريا دې مبارک!

دا بريا تاسو ته،

ورې او لويې کورنۍ ته دې،

ستا همځولي نسل ته او تا پسې را روان نسل ته،

هېواد او خلکو ته،

او په پای کې ما ته،

ډیره مهمه او د قدر وړ ده.

په دې چې:

ته له تیارو را ووتې، د راتګ لاره دې اغزنه او شګلنه وه، له اغزو او شګو نه هم ور وړاندې په لاره کې د وخت او چاپیریال لیوه ډولو نظرونو له څلورو خواوو خولې در اچولې؛ خو تا هر څه په خپل وجود او ذهن باندې ومنل او د همدې ورځې او همدې بریا په هیله دې قدم پورته کړ، خپلې سترګې دې او خپل ذهن دې د کتاب له پاڼو او پوهې سره ملګرې کړل، د پوهې په ګاڼه دې سینګار کړل او د قلم چلولو هنر دې زده کړ.

زما له پاره د ویاړ ځای دی چې زما د وطن د نورو پیغلو او زلمیانو تر څنګ، تاسو هم اوس ټولنې او خلکو ته د خدمت او د نوي نسل د روزلو د رسالت فکر په سر کې لرئ.

زما د کورنی او په ځانګړي ډول زما له پاره د ویاړ ځای دی چې زما د لویې کورنی د پوهنتوني زکړو په بڼ کې یوې بلې با ثمرې ونې سر جګ کړ او زموږ د کورنی پوهنتوني لښکر یو بل قلم په لاس غړی هم پیدا کړ.

ستا ټولنه او چاپیریال له بکرو سوژو ډک دي او ته هم قلم په لاس او د لیکلو په هنر سمباله یې، اوس یې ولیکه او د خپلې ټولنې دردونه را وسپړه او حللارې ور ته پیدا کړه.

زما د زړه ټوټې،

زما خورځې،

بریا دې مبارک!

پام دې وې چې اوس دې مسؤلیت سل چنده زیات شو او په هر پل کې دې خلک، هیواد، د نوي نسل روزنه او خپله کورنی هیره نه شي.

ښکلوم دې!»

دلته له موقع نه په استفادې سره د نظیرې ټولو ټولګیوالو ته، ټولو همدوره فارغانو ته او د وطن ټولو هغو پیغلو او زلمیانو ته د فراغت مبارکي وایم چې په همدې وخت کې یې د بریا سندونه او ډیپلومونه ترلاسه کړیدي.

اوس نو له دوی سره ښایي چې د رسالتمندو پیغلو او ځوانانو په ډول، هم په تخلیقي ډګر کې قلم وچلوي او هم په څېړنیزه برخه کې او تر ټولو ډیر یې باید پام، په نوې بڼه د وطن د نوي نسل روزلو ته ور واوړي.

**بریا مو مبارک شه!**

# د لیکوال بیوګرافي:



پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نیټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د کابل د علاوالدین په تجربوي ښوونځي کې کړي دي، بیا یې د کابل په محمود طرزي لیسه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولګی یې د میدان ښار د نرخ په لیسه کې پای ته ورساوه.

د ۱۳۵۵ کال د حمل په میاشت کې یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې لوړې زده کړې پیل کړې او په ۱۳۵۸ کال یې د لیسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمین کې د ښوونکي په توګه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کې ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کې یې د استاد صدیق روهي په لارښوونې د ماسترۍ د تیزس دفاع وکړه.

آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهیسې شعر وایي، نوی شعر ډیر لیکي، کله، کله یوه نیمه غزله او قصیده هم لیکي. په سل ګونو علمي تحقیقي مقالې، شعرونه او کتابونه یې په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او بریښنایي خپرونو کې نشر شوي دي.

د هجري شمسي نېټې په شپېتمه لسیزه کې د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستیالی دنده ورله غاړې وه.

دغه راز د هجري شمسي نیټې په شپیتمه لسیزه کې د اوږدې مودې له پاره د رادیو افغانستان د روزنې اداري د علمي پروګرام «موږ او اوریدونکي» لیکوال پاتې شوی دی.

آصف بهاند د افغانستان د لیکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی و.

په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې یې په لسګونو علمي او فرهنګي سمینارونو کې ګډون کړی، مقالې یې ورته لیکلې دي او په یادو سیمینارونو کې یې لوستې دي.

په ماسکو کې د اوږدې مودې له پاره د افغانستان د فرهنګ ټولنې د منشیتوب او د یادې ټولنې د ادبیاتو د څانګې مسولیتونه ورله غاړې وو.

د سویدن په بیلابیلو ښارونو کې، د سویدن هیواد او په سویدن کې د میشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له خوا د مورنۍ ژبې سیمینارونو ته بلل شوی او د یو لکچرر په صفت یې کارنده او فعاله برخه په کې اخیستې، مقالې یې ورته لیکلې دي او له سکندنویایي هیوادونو څخه د مورنۍ ژبې له راغلو ښوونکو سره یې د مورنۍ ژبې پر ستونزو او په پردې چاپیریال کې د مورنۍ ژبې د

زده کړې او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږیدلی، مشورې یې ورسره کړې او د سویدن په ستاکهولم، یوتیبوري او مالمو ښارونو کې یې ګڼ لکچرونه وړاندې کړي دي.

**آصف بهاند د خپل ادبي فعالیت په اوږدوکې دغه علمي کارونه تر سره کړې دي:**

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پورې (د لیسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره (د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخیل مسأ له (د پوهندویۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پـښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دویم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دریم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې منظوم متون، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې منظوم متون، د پښتوځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو د دولتي کومیټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دویمه درجه مطبوعاتي جایزه یې ګټلې ده،

۱۲ ـ مروره مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا خپره شوې ده،

۱۳ ـ لارورکي لارویان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې خپور کړی دی او دویم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۶ ــ لنډۍ او د ښتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۷ ــ د کوچنيانو ادبيات،(د کوچنيانو ادبيات، تاريخي پس منظر، اوسنی حالت) دويم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاين پورټال کې پر ليکه شوی دی،

۱۸ ــ د باران سيوری (د شعرونو ټولګه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر مياشت کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی ده،

۱۹ ــ د تعليم ډيوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ کال په فبروری مياشت کې، په افغان جرمن آنلاين پورټال کې پر ليکه شوی دی،

۲۰ ــ د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کيسې، ليکوال: هانس کريستين اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۹ کال په مې مياشت کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۲۱ ــ د افغانستان له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي ستونزه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ م کال په سپتمبر مياشت کې، په افغان انلاين پورټال کې پر ليکه شوی دی.

۲۲ ــ د ډنمارکي فرهنګ څو غوره بېلګې (د ډنمارک او ډنمارکيانو په باب د مقالو ټولګه)، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جنوری مياشت کې، په افغان انلاين پورټال کې پر ليکه شوی دی.

۲۳ ــ يو ځل مې د لاس ورغوی وګوره! (شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ م کال په مارچ مياشت کې، په افغان انلاين پورټال کې پر ليکه شوی دی.

۲۴ ــ ژوندي يادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په اپريل مياشت کې، په افغان انلاين پورټال کې پر ليکه شوی دی.

۲۵ ــ د تللو يادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جولای مياشت کې، په افغان انلاين پورټال کې پر ليکه شوی دی.

۲۶ ــ راشه! چې سترګې مې له مخکې نه راټولې کړمه، (ځلورمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر مياشت کې، په افغان انلاين پورټال کې پر ليکه شوی دی،

۲۷ ــ بنـځـګـلي، همدا اثر.

## چاپ يا آنلاين کولو ته تيار:

ــ د شعرونو دوې ټولګې،

ــ او درې عنوانه څيړنيز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال په ډنمارک کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنګي کارونو کې فعال دی، خپلو څيړنيزو او تخليقي کارونو ته دوام ور کوي.

پای